
# انسان او تکامل

**لیکوال: جان لیویس**
**ژباړن: انور نومیالی**



انسان او تکامل
لیکوال: جان لیویس
ژباړن: انور نومیالی

...انسان د تمدن د ایجاد او انکشاف په وسیله بقاء لري او د تکامل جریان ته ادامه ورکوي. دغه جریان دئ، چې د بشري تاریخ په حیث لیدل کیږي.په دې جریان کې انسان ورو ورو پر طبیعت غلبه پیدا کوي او بشري قواوي انکشاف کوي. پر رنځونو، لوږي او هر مادي کمبود باندې ورځ په ورځ غلبه ډیریږي، فراغت مخ پر زیاتیدو دئ او د هنرونو په ساحه کې موفقیتونه زیاتیږي. د دې جریان په وروستنیو مرحلو کې هغه دښمني ورکیږي، چې د جنګ او یا اقتصادي رقابت په سلسله منځ ته راځي؛ دا زمانه نو د سولې نړۍ جوړیږي. په دې نړۍ کې زمینې ساحه پراخیږي او ټوله خلک کولای سي، چې له ژونده خوند واخلي او خپلې ارزوګانې پوره کړي...

**د کتاب له متن څخه...**

# انسان او تکامل

لیکوال: جان لیویس

مترجم: انور نومیالی

# د مترجم خبري

دا کتاب چې له انګرېزي ژبي څخه مي پښتو کړی دئ، انسان د تکامل په ساحه کي څېړي او هغه ارزښتونه بیانوي، چې د مترقي مبارزو په نتیجه کي د انساني ټولنو په برخه کي کېدای سي. همدارنګه هغه بربادۍ څېړي، چې په بشري ټولنو کي له اجتماعي غفلت او فساد څخه منځ ته را ځي او یا د اخلاقي احساس له کمېدو سره پر ټولنه تحمیل کیږي. دې کتاب د انسان په تاریخي دوران کي دا خبره څېړلې ده، چې تر یو وخته بشري تکامل بیولوجیکي جنبه درلوده او په غیرشعوري یا طبیعي ډول سر ته رسېدی، خو وروسته چې د پرله پسې انکشاف په سلسله کي اجتماعي او تاریخي تکامل شروع سو، نو انسان د خپل ژوند د انکشاف واګي په خپل لاس کي واخیستې او په شعوري توګه ګامونه اخلي. البته په دې شعوري تکامل کي د اجتماعي قدرتو او پالیسیو حساب ډېر مهم دئ؛ ځکه چیري چې د ټولني واکمن قدرتونه خپل چاروکي سي او د ټولني غم ئې له سره ووځي، نو جامعه ئې مخ پر فساد او ړنګېدو روانیږي، لکه دا حقیقت چې زموږ د هیواد په پرونۍ وضعه کي پوره لیدل کیدی؛ خو کله چې بیا انقلابي قیادت د تاریخي مسؤلیتو په احساس را وپاځي او اجتماعي غم ور سره ملګری وي، نو ټولنه له تاریخي بربادۍ څخه را ګرځولای سي او د سمون خوا ته ئې بیایي، [چې] همدا حقیقت بیا د ځوان ډیموکراټیک جمهوریت په اقداماتو کي پوره محسوس دئ. زموږ د ټولني تاریخي تحول د هغو علمي څېړنو دپاره یو ژوندی مثال کیږي، چې په دې کتاب کي بیانونه پر سوي دي.

د «انسـان او تکامل» انګلیسي نسخه چي وار د واره په لندن کي د «لارنس اینډو یشارټ» د خپروني مؤسسې له چاپه ایستلې ده، دا ډول تبصره ئې ور سره لیکلې ده:

«د ډاروین نظریاتو یو وخت مذهبي احسـاسـات را پاروله او یا د نفرت سـبب ګرځېدله؛ نن ورځ داسـي اصـطلاحات، لکه: «ورکه رابطه» یا «تکړه پایښـت کوي» د ورځنیو خبرو جز ګرځېـدلی دئ او اسـتعمالېده ئې له هغه حالته څخه وتلي دي، چي پـه لومړي سـر کي پـه خورا محـدود مفهوم ویـل کېدله. ډاکټر لیویس په دې برخه کي ډېر زیار کښلی دئ، چي د عادي لوستونکي دپاره هغه خبري سـاده کړي، چي پرته د بیالوجۍ له متخصـصـه بل څوک چنداني نه په پوهیږي. ده هڅه کړې ده، چي د ډاروین د نظریې اساسي مفهوم په تازه او نوې بڼه کي څرګند کړي. همدارنګه ئې هغه علمي پلټني ور زیاتي کړي دي، چي د ډاروین له وخته راهیسـي «د وراثت د علم» او «انسـان پېژندني» په څانګو کي منځ ته راغلي دي.

د «عاقل انسان» له ظهور سره نو د تکامل جریان پای ته نه رسیږي. ډاکټر لیویس د انسان تاریخ د تکامل د ادامې په توګه ښوولی دئ. دا تکامل د طبیعي انتخاب له لاري سر ته نه رسیږي، بلکي له کښته څخه و لوړي ته یو ارتقایي جریان دئ، چي په واقعي او علمي توګه د یو عیني پرمختګ په توګه تعریف کېدلای سـي. کـه څـه هم د دې پرمختګ او تکامل په جریان کي ډېر ناکامۍ او غلطۍ هم د بشـري تاریخ په دوران کي پرله پسـې پېښي سوي دي. لیویس د هغو لیکوالو او پوهانو د نظریاتو په مقابل کي کلک دلایل وایي، چي انسـان ته بدبینه دي او یا د انسـان سـرنوشـت تاریک ګڼي. همدارنګه هغه کسـان تر شـدید انتقاد لاندي

نیسي، چي د ډاروین له نظریې څخه بده استفاده کوي او یا د نژاد او نژادپرستۍ او نورو غیربشري افکارو په گټه ئې استعمالوي.»

باید وویل سـي، چي دغه کتاب د نړۍ په زیاترو مترقي هیوادو کي په یو شـمېر ژبو خپور سوی دئ. **د دې کتاب د لیکونکي لنډه سوانح دا ده:**

جان لیویس په کابل ۱۸۸۹ کي په لندن کي زوکړی دئ. د انگلستان په یو شمېر پـوهنتونو کي ئې تحصـیـل کړی دئ. کلـه چي ئې د لومړي پلا دپـاره پـه بیالوجیکي علومو کي درجه واخیسـته، نو د عصـبي سـیسـتم د فیزیولوجۍ په څـانگـه کي ئې پـه یو طبي پوهنځي کي نور تحصـیلات شـروع کړه. تر هغـه وروسـتـه ئې پرلـه پسـې پنځـه کاله د روحیاتو تحصـیل وکړ، څه وخت چي کېمبریج ته راغی، دلته ئې د «انسان پېژندني» او «د دین او فلسفې» په مقایسوي څانگه کي تحصیلات وکړه.

د برمنگهم په پوهنتون کي ئې د فلسفې په څانگه کي تحصیلاتو ته ادامه ور کړه او د فلسـفې ډوکټوره ئې واخیسته. ډاکټر لیویس د ځوانۍ په دوره کي په مترقي مبارزو شـروع وکړه، په ۱۹۰۸م. کال کي ئې په سـوسـیالیسـتي نهضـتو کي فعاله برخه درلوده. د زیاترو کارگري جرگو مشـري ئې څو واره پر غاړه اخیستې ده. د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۱م. کلونو په اقتصـادي بحرانو کي ئې د بېکارانو نهضتونه تاسیس کړل. لـه ۱۹۳٦م. کـال څخـه تر ۱۹۴۰م. کال پوري د مترقي کتابونو د کلوپ یو ملي لارښـوونکی وو. د عمومي جنگ په دوران کي د شـرقي اروپا او شـوروي اتحاد او د بین المللي چارو په موضـوعاتو کي ئې نظامي خلگو ته لکچرونه ور کول. ده د کېمبریج، اکسـفورډ او لندن په پوهنتونو کي ډېر کلونه تدریس کړی دئ. لیویس زیاتره سـوسـیالیسـتي هیوادونه لیدلي دي او هلته ئې ویناوي کړي

دي. شوروي اتحاد ته څو واره تللی دئ او آثار ئې په ټولو سوسیالیستي هیوادو کي چاپ ســـوي دي. تر دېرش بـالا تـالیفـات لري، چي زیاتره خارجي ژبو ته اوښتي دي.

# د ځينو کلماتو او اصطلاحاتو توضيح[1]:

**۱- ورکه رابطه (The missing link)**: هره کړۍ چې دوې خواوي سره پيوندوي، په دغه نامه بلل کيږي. دغه اصطلاح په زولوجۍ کې د هغه فرضي شکل د نوم په حيث استعمال سوې ده، چې له بيرو څخه تر انسانه پوري د تکامل سلسله سره وموښلوي. يو وخت چې د تکامل سلسله تدوين کېدله، نو يو داسي شکل، چې د انسان او بيزو په منځ کي د وصل کړۍ وبلل سي، په تاريخي آثارو کي نه موندل کېدی او نو ځکه پر دغه شکل، چې فرضي تصور ئې کېدی، د «ورکي رابطې» نوم کښېښوول سو، خو وروسته دغسي يوه بيزو په جنوبي افريقا کي کشف سوه، چې استرالوپيتکس نوميږي. اوس نو د ورکي رابطې نوم د «بيزو وزمه انسان» يا «انسانوزمه بيزو» دپاره هم استعمالېدای سي.

**۲- عاقل انسان (Homo sapiens)**: اوسني علوم موږ ته را ښيي، چې انسان هر وخت د مځکي پر مخ نه وو، بلکي د حياتي تکامل په يوه ټاکلې مرحله کي د نورو انواعو په شان منځ ته راغی. هغه نوعه چې د متفکر او عاقل انسان لومړنی شکل تمثيلوي، د «هومو سپينز» په نامه ياديږي. تر دې نامه لاندي د هر نژاد او توکم انسانان بې لهتوپيره شامل دي.

**۳- اجتماعي ډاروينيزم**: چارلس ډاروين (۱۸۰۹- ۱۸۸۲م.) انگليسي عالم وو، چې د تکامل تيوري ئې تدوين کړه. د ده د تيورۍ اساس له دې خبري څخه را شروع کيږي، چې د ژونديو موجوداتو ټوله شکلونه د ژوند له يو ساده شکله

[1] د مترجم له خوا

ځخه را پیدا سوي دي، هغه څېړني او پلټني چي د ډاروین اساساتو ته ځان رسوي او د هغه لار تعقیبوي، د ډاروینیزم په نامه یادیږي.
ډاروین دا خبره وڅېړله، چي د حیات په طبیعي ساحه کي جریان داسي راغلی دئ، چي هر کله د ژوندیو موجوداتو تر منځ د خپلي ساتني او بقاء دپاره مجادلې او مبارزې سوي دي، د پایښت دپاره لاس و پښه وهل او یا هلي ځلي کول، هغه جریان دئ، چي د «تنازع للبقاء» (Struggle for existence) په اصطلاح ښوول سوی دئ. ځوک چي په دغه هلو ځلو او منازعو کي ژوندی پاته سوی دئ او پایښت ئې کړی دئ، دا نو ګویا د طبیعت له خوا غوره ټاکل سوی دئ. د دغه راز طبیعي بقاء سبب د «طبیعي انتخاب» ( Natural selection) په نامه یاد سوی دئ. دا اصل چي د طبیعت په ډګر کي تکړه موجوداتو پایښت کړی دئ او ژوندي پاته سوي دي، د «بقای اصلح» ( the survival of the fittest) یا په پښتو کي «تکړه پایښت کوي» په اصطلاح کي ښوول سوی دئ.
دا ټوله بیالوجیکي اساسات وه، چي د طبیعت په ډګر کي ډاروین څېړلي وه، ځینو سیاسي جریاناتو وغوښته، له دغو بیالوجیکي اساساتو ځخه د اجتماعیاتو په حصه کي استفاده وکړي؛ په دې اساس ئې نو د ټولني ډګر د انسانانو تر منځ د پایښت دپاره د هلو ځلو ډګر وباله او هغه طبقات یا وګړي ئې تکړه وګڼل، چي پایښت کوي او د رقابت په میدان کي غښتلي را وځي. دغه راز مسلک د اجتماعي ډاروینیزم په نامه یاد سوی دئ. دا مسلک په خپله ډاروین ته منسوب نه دئ، بلکي د هغه چا مسلک دئ، چي د ده طبیعي اساسات ئې د اجتماعیاتو په برخه کي په کار اچولي دي.

**۴- تخصـص، اختصاصي، متخصص:** دغه کلمې د دې کتاب په متن کي زياتره د حيوانـاتو او انواعو لـه نومو ســره د صـــفـت او يـا کيفيـت د افـاده کولو دپاره اسـتعمال سـوي دي. په دغســي ځايو کي ئې مفهوم دا دئ، چي ځيني حيواني انواعو د تکامل په دوران کي داســـي ثابت شــکل پيدا کړی دئ، چي په ځينو خاصــو شــرايطو کي خورا ډېر ښــه ګنړل کيږي. دوی نو د ژوندون د ي، ټاکلي ډول دپاره پوره مسـاعد او ورته جوړ دي، لاکن دغه شکل ئې پوخ سوی دئ او نور تغير نه سي کولای.

دغه راز تـخصـــص او د شــکل پوخوالی نو که څه هم په ټاکلو شــرايطو کي د ژوندون يو برياليتوب دئ، خو څنګه چي د نورو شـــرايطو په نســبت بيا د نوي توافق مخه نيسي، نو د فنا کېدو سبب کيږي.

**۵- ليســه فر (Laissez Faire):** ســر ته ايله سـياســت بولي، چي حکومت په تجارتي او صنعتي چارو کي هيڅ لاس نه وهي او خلګ ئې ايله کړي وي، چي هر څه غواړي، هغه وکړي.

**٦- ډُکترين (Doctrine):** ځيني کســـان ئې «دوکتورين» تلفظ کوي. د هغو اســاسـاتو او تعليماتو نوم دئ، چي د کوم ټاکلي مسـلک يا فلسـفې سـره ارتباط لري.

**۷- جِـن (Gene):** مـا د «نوعي ذرې» پـه نوم ترجمـه کړی او بللی دئ. د کروموزوم يوه کوچنوټې ذره ده، چي ارثي خاصـيتونه او صـفتونه د دې ذرې په وســيله له يوه نســله بل ته انتقاليږي. هغه «نوعي ذرې» چي له مور و پلاره څخه منځ تـه راغلي وي، د يو حيوان او يـا نبـات په نســـلي حجره کي دا جريان اداره کوي، چي څه ډول حيوان او نبات له څه راز خصوصياتو سره له هغي څخه منځ

ته را سي. په جِن پوري مربوط کیفیت د «جینتیکي» په کلمه ښوول سوی دئ. مفهوم ئې هغه ارثي نوعیت دئ، چي له یوه نســـله بل ته د جِن پر لار انتقالیږي. دا هـم بـایـد ووایو، چي پـه جِن پوري مربوطي څېړني «د وراثـت علم» یـا Genetics یادیږي.

**۸-** هغه تغیرات چي په نســـلي حجرو کي را ســـي او د ارث له لاري په حیوان یا نبات کي ځان څرګندوي، د Mutations په نامه یادیږي. ما په دې کتاب کي دغه کلمه د «تحولاتو» په کلمه ترجمه کړې ده. د بیالوجی ځیني اســـتادان دغه راز تغیر د «تناسخ» په لغت ترجمه کوي.

**۹-** په دې کتاب کي د جیولوجیکي دورو نومونه، لکه: سینوزویک، میسوزویک او داســـي نور ذکر ســـوي دي. کـه لوســـتونکي وغواړي، دغـه راز نومونـه او اصـطلاحات په تفصـیل زده کړي، نو کولای سي، چي د لېسې د لسم ټولګي د جیولوجی د درسي کتاب آخره برخه وګوري.

**۱۰- ملامـت اوزګړی:** د هغـه اوزګړي نوم دئ، چي پـه لرغونې زمـانـه کي به د یهودو ملایـانو د دې دپـاره وټـاکی، چي د خلګو ګنـاوي بـه ئې پر واچولې او مجروم به ئې وګاڼه. بیا به ئې نو په بیابان کي ایله کړ. دغه اصـــطلاح اوس د هر هغه بې ګناه دپاره اســتعمالېدلای ســي، چي هر وخت خلګ د خپلو ملامتیو بار پر هغه ور اچوي او ټوله پړه هغه ته منسوبوي.

# فهرست


د مترجم خبري ........................................................................٣
د ځينو کلماتو او اصطلاحاتو توضيح: ..............................................٧
د ډاروين نظريه .......................................................................١٧
لومړۍ خبري:...................................................................... ١٧
د ډاروين Darwin نظريه: ........................................................... ٢٠
د پېړيو په دوران کي د ژوند پرله‌پسې سلسله: .................................... ٢٠
طبيعت يا بل څوک؟................................................................ ٢٥
ډاروين ښيي، چي دغه جريان څنگه پېښ سو؟...................................... ٢٥
ډاروينيزم او ټولنه:.................................................................. ٢٦
بدلون او توارث: ..................................................................... ٢٩
جينيټيکي استحاله (Genetic Assimilation):.................................... ٣٥
تکامل او پرمختگ ..................................................................... ٣٩
آيا تکامل يو ارتقايي جريان دئ؟ .................................................... ٣٩
د نور پرمختگ استعداد:............................................................... ٤٢
د تکامل مهم هدفونه: .................................................................. ٤٤
د تي‌لرونکو ژويو تکامل:.............................................................. ٤٦
الف- اختصاصي انواع:................................................................ ٤٦
ب- انسان متخصص نه دئ:............................................................ ٤٨
انسان تکامل ته ادامه ور کوي، خو څه ډول؟........................................ ٥٠
انسان ساری نه لري! .................................................................. ٥٣
تکامل د هغه نسلي سلسلې په حيث، چي تغير ئې مل دئ:.......................... ٥٣
د انسان پخواني اجداد:................................................................ ٥٥
له بيزو «ايپ» څخه تر انسانه: ....................................................... ٥٨
د انسان مميزات: ...................................................................... ٦٠

انسان له افزاره کار اخلي: ........................................................ ٦٥
زیاتېدونکی توپیر: ........................................................ ٦٦
افزارونه او ټولنه: ........................................................ ٦٧
بشر شیان جوړولای سي! ........................................................ ٦٩
افزارونه او فکر: ........................................................ ٧٠
افزارونه، فکر او بیان: ........................................................ ٧٣
د ټولني پیدایښت: ........................................................ ٧٥
د یو ځایي ژوند زده‌کړه: ........................................................ ٧٧
د پوهني میراث: ........................................................ ٧٨
د پرمختګ اساس: ........................................................ ٧٩
د بشري تحول چټکي: ........................................................ ٨٣
اوس نو د انسان تاریخ شروع کیږي: ........................................................ ٨٥
انسان اخلاقي حیوان دئ! ........................................................ ٨٧
یو نوی تکاملي نظام منځ ته راغی: ........................................................ ٨٧
اخلاق او ټولنه: ........................................................ ٨٩
د محیط اداره: ........................................................ ٩١
د همکارۍ اخلاق: ........................................................ ٩٢
د سوله‌ییز ژوند دایره پراخیږي: ........................................................ ٩٤
طبقاتي مبارزه او اجتماعي پرمختګ: ........................................................ ٩٧
ولي جنګ؟ ........................................................ ١٠١
ولي غلامي؟ ........................................................ ١٠٢
د ټولني رنګېده: ........................................................ ١٠٤
د اخلاقو علم او اجتماعي پرمختګ: ........................................................ ١١٤
د اخلاقي قانون ظهور: ........................................................ ١١٥
د اکتسابي صفاتو توارث: ........................................................ ١١٨
انسان او طبیعت ........................................................ ١٢٢

د محدودیت غلطي:........................................................ ۱۲۲
پوهنه د اجتماعي میراث په حیث: .......................................... ۱۲۳
پوهه د تکامل پیدا ده!................................................ ۱۲٤
د بشري پوهي ساحه:.................................................... ۱۲٥
انسان د یو فکر کوونکي په حیث: ........................................ ۱۲٦
انسان او اخلاق: ........................................................ ۱۲۷
انسان او طبیعت:........................................................ ۱۲۸
آیا طبیعت د انساني ارمانو دښمن دئ؟ ..................................... ۱۳۰
د طبیعت یاغي زوی:..................................................... ۱۳۱
فطري گناه:.............................................................. ۱۳۲
د انسان فنا کېده: ........................................................ ۱۳٤
آیا انسان د طبیعت سره مغایرت لري؟ ..................................... ۱۳٥
طبیعت د انسان په مرحله کي: ............................................. ۱۳٦
ساینس د انسان په خدمت کي:............................................. ۱۳۸
تکړه پایښت کوي (بقای اصلح)!........................................... ۱٤۰
د ژوند بقاء د همکارۍ له لاري: ........................................... ۱٤۳
مالتوس:................................................................ ۱٤٦
اجتماعي ډاروینیزم:...................................................... ۱٤۹
د سرمایه‌داري نظام اخلاق د غالبو اخلاقو په حیث:......................... ۱٥۲
اوسنی اجتماعي ډاروینیزم:................................................ ۱٥٤
اجتماعي ډاروینیزم او اجتماعي سعادت ..................................... ۱٥۸
سلوک او بقاء: ........................................................... ۱٥۹
داړه‌مار صنفونه مخ پر ورکېدو دي! ........................................ ۱٦۰
بقای افسد:.............................................................. ۱٦۱
متحول شرایط او متحول انسانان:.......................................... ۱٦۲
د سعادت په حال کي تکړه‌والی: ........................................... ۱٦٤

رنځونه او د هغو مخنیوی: ........................................................ ۱۶۶
**د سیکل (Sickle) ناروغي او ملاريا:** ........................................................ ۱۶۸
**نژاد او نژادپرستي** ........................................................ ۱۷۱
**آيا لوړ نژادونه سته؟** ........................................................ ۱۷۱
**انساني نژادونه:** ........................................................ ۱۷۵
**د مشترکو صفاتو مسئله:** ........................................................ ۱۷۶
**نژادي فرقونه بې اهميته دي!** ........................................................ ۱۷۸
**طبيعت يا تربيت:** ........................................................ ۱۷۹
**اجتماعي تحول په تاريخي زمانو کې:** ........................................................ ۱۷۹
**ولې ځيني ملتونه تر شا پاته دي؟** ........................................................ ۱۸۱
**جينيټيکي عوامل اجتماعي نظامونه نه ټاکي!** ........................................................ ۱۸۲
**نامتوازن اجتماعي او اقتصادي انکشاف:** ........................................................ ۱۸۶
**انسان متحول دئ او تربيه اخلي!** ........................................................ ۱۸۷
**نژادپرستي او استدلال:** ........................................................ ۱۸۸
**ملامت اوزګړی:** ........................................................ ۱۸۹
**نژادپرستي او استثمار:** ........................................................ ۱۹۱
**عقلي استدلال او نژادي تعصبات:** ........................................................ ۱۹۱
**څوک لوړ دئ؟** ........................................................ ۱۹۳
**د پياوړو کسانو د حکومت تيوري:** ........................................................ ۱۹۳
**تکامل او لوړ سړی:** ........................................................ ۱۹۴
**د پوه انتخاب:** ........................................................ ۱۹۶
**د ماغزو اندازه:** ........................................................ ۱۹۶
**د پوهي درجې:** ........................................................ ۱۹۷
**پوهه او طبقاتي وېشونه:** ........................................................ ۲۰۰
**آيا نژادي پوهه مخ پر ځوړه ځي؟** ........................................................ ۲۰۲
**د طبقاتي تبعيض نتائج:** ........................................................ ۲۰۴

جګړه او د وګړو د ډېرښت مسئله ........................................ ۲۰۶
په محیط کې تحول را وستل: ........................................ ۲۰۶
مالتوس یوپلابیا:........................................ ۲۰۷
آیا د وګړو د ډېرښت پرابلم وجود لري؟ ........................................ ۲۰۹
جنګ او سوله:........................................ ۲۱۲
د انسان تجاوزي غریزه: ........................................ ۲۱۳
د تعرض علاج باید څنګه وسي؟ ........................................ ۲۱۷
علاج سم تشخیص غواړي!........................................ ۲۱۹
آیا محیط تغیر نه خوري؟ ........................................ ۲۱۹
آیا موږ د ټولني نظام ته تحول ور کولای سو؟........................................ ۲۲۱
انسان او تاریخ ........................................ ۲۲۳
اجتماعي تحول او بقاء:........................................ ۲۲۵
اجتماعي پرمختګ او ډاروینیزم:........................................ ۲۲۸
پرمختګ ارثي شی نه دئ! ........................................ ۲۳۰
د اجتماعي تحولاتو چټکي:........................................ ۲۳۱
ارومرو والی: ........................................ ۲۳۲
فرد او تکامل ........................................ ۲۳۶
په اجتماعي انکشاف کي د فکر او پلان تاثیر: ........................................ ۲۳۶
د نظریاتو رول:........................................ ۲۳۷
ایډیالوجیکي شخړي: ........................................ ۲۳۸
ایډیالوجي‌ګاني او طبقات: ........................................ ۲۴۰
د شخصیت بشپړتوب: ........................................ ۲۴۲
فرد او تکامل: ........................................ ۲۴۳
نوي طریقې او نوي انسانان: ........................................ ۲۴۴

# د ډاروین نظریه

## لومړی خبري:

د تکامل ماهیت یوازي تسلسل (Continuity) نه دئ، یعني د تکامل مفهوم تش دا خبره نه ده، چي پورته شی له کښته څخه سلسله پر سلسله را پیدا سوی دئ، بلکي بېلوالی (Difference) هم د دې ماهیت جزء دئ؛ یعني دا خبره هم پکښې ده، چي د تکاملي جریان هره وروستنی مرحله له دمخنی مرحلې سره اساسي فرق لري، څکه په وروستنی مرحله کي ئې نسبت دمخنی مرحلې ته حقیقي او اصلي پرمختگ لیدل کیږي. داسي نه ده چي یو حیوان صرف د کېمیاوي موادو د هغسي تعاملاتو مجموعه وگڼل سي، لکه د لابراتوار د ازمویني په لوښي کي چي جریان ولري، بلکي د ده وجود ژوندی دئ او داسي خواص لري، چي د فزیکي او کېمیاوي ساحې په دایره کي نه موندل کیږي. همدا شاني انسان بیا یوازي په دې خبره نه تعریف کیږي، چي دی یو ژوندی موجود دئ، بلکي دا هم ور سره ده، چي دی فکر کوونکی او افزار جوړوونکی ژوی دئ. د تکامل مفهوم نو دا خبره کښېباسي، چي «بېلوالی» داسي یو شی نه بلل کیږي، چي د وجود کښتني شکل ته له بلي خوا څخه ور زیات سوی او د اعجاز په ډول د ده په ذات کي ترزیق کیږي، بلکي «بېلوالی» د سلوک (Behavior) یو نوی طرز دئ، چي د متشکلي مادې د عالي شکل په نتیجه کي منځ ته را ځي.
په دې اساس نو انسان یو نوی ډول حیوان بلل کیږي، خو که موږ یوازي د انسان حیواني اصل او نسب را په زړه کړو او د حیوان او انسان په منځ کي دا «بېلوالی» له یاده وباسو، نو به له سپینگلر (Spengler) سره په دې خبره کي شریکان

سو، چي وايي: «انسان يو ښکارکوونکی حيوان دئ!». د دې عقيدې نتيجه به خورا ناوړه وي. لاکن که مو د «بېلوالي» په باب کي علم درلودی، نو به وغواړو، چي د دې بېلوالي محتويات هم وپلټو. په دې محتوياتو کي د انساني پوهي، د انسان د تکنالوجيکي قابليت او د انسان د اجتماعيتوب خاصيتونه شامل دي.
په نن ورځ کي لازمه ده، چي دغه «بېلوالي» ته زياته توجه را وگرځوو، ځکه دا کار، چي انسان د خپل ماهيت او سرنوشت په باره کي خبر سي، د اجتماعي پرمختگ، سولي او بين‌المللي تفاهم دپاره قطعي عامل گڼل کيږي.
نو را سئ دا خبره را په زړه کړو، چي د حيواني انواعو د جمعيت په منځ کي انسان هغه يوازنی حيوان دئ، چي په دې پوهيږي، «چي دی يو حيوان دئ» او همدارنگه دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي بيالوجيست هم دئ. د دې خبري مفهوم خورا پراخ دئ او ډېري خبري تر لاندي کيږي؛ په دې لړ کي نو ويل کېدای سي، چي انسان هغه يوازنی حيوان دئ، چي «تاريخ» لري؛ يعني مطلب دا چي، دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي نن ورځ د هغو تجربو په رڼا کي ژوند کوي، چي د ده «نوعي» پښت پر پښت را ټولي کړي دي. دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي «ساينس» لري؛ يعنی دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي اوسنی حالت د هغو حقايقو په رڼا کي تر نظر ايستلای سي، چي د زمان او مکان په لحاظ خورا ليري واقع وي. دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي د ده په باره کي په صحيح توگه دا خبره کېدای سي، چي د «ټولني» خاوند دئ؛ يعني دی هغه يوازنی حيوان دئ، چي د ده په باب دا تصور کېدلای سي، چي هر کله د خپلي ټولني د ملگرو سره، که څه هم ده ته نژدې حاضر نه وي، د معلومي رابطې په رڼا کي فعاليت کوي. لنډه ئې دا چي، انسان له کښتو حيواناتو څخه يوازي پ

دې سـبب امتیاز نه لري، چې زیات «انکشـاف» ئې کړی دئ یا د ډېر «قابلیت» خـاوند دئ او یا یوه بله داســـي خبره ده، بلکي له نورو ټولو انواعو څخه په دې وجه اسـاسـي فرق لري، چې د «کلتور» خاوند دئ؛ یعني دا چې په حیواني نړۍ کي یوازي انسـان د دې حقیقت مثال دئ، چې د ژوند جریانات ئې د اجتماعي ارتباط په ســاحه کي خپل تر منځ اداره کیږي او انتقادیږي. له دې خبري څخه مطلب دا دئ، چې دی هغه یوازنی حیوان دئ، چې د ده په شان کي د «اخلاقي» کلمه په هره مهمه معنی استعمالېدای سي.

آیـا دا کـار نو یو ډول مـاوراء الطبیعه مداخله غواړي، چې اخلاقي ارزښـــتونه د یوې غیراخلاقي نړۍ اوســـېدونکو تـه ابلاغ ســـي؟ یا، خبره بل راز ده. داســـي مداخلې ته ضرورت نه سته، ځکه د «طبیعي انتخاب» (Natural selection) نظریه دا ښـیي، چې د طبیعي اصـولو له مخي هغه ټولني باقي پاته کېدای سـي، چې د اخلاقي مسـؤلیت احسـاس او عمل په زیاته اندازه پکښـي موجود وي. د بشـري طبیعت د اخلاقي او اجتماعي او همدارنگه فکري اسـتعدادونو د را پیدا کېدو دپاره اسـاسـي او کافي علت «انتخاب» دئ او همدا «انتخاب» ئې د نهایي انکشـاف سـبب گرځېدای سـي. خو هغه انسـان بیا، چې د ښـکاري حیوان په صـــفـت پېژنـدل ســـوی دئ، د طبیعي تاریخ په موزیم کي د هغو مهیب‌الخلقه حیواناتو په منځ کي ځان پیدا کولای ســـي، چې د وخته د مځکي له ســـره ټول سوي دي.

## د ډاروين Darwin نظريه:

بيالوجي‌پوهان وايي: «انســان يو داســي بيزو ده، چي قامت ئې ســمدم دئ، له وژغنو پاکه ده، د مځکي پر مخ ژوند کوي، سر ئې غټ دئ، ماغزه ئې ډېر دي، وربوز نه لري، غاښــونه ئې نســبتاً کمزوري دي، د شــامې حس ئې کم دئ، د ســترگو ديد ئې زيات دئ، مهارت ئې فوق‌العاده دئ او د بيان قوه هم لري.» د بيالوجي پوهان غواړي، په ځينو دغه راز الفاظو کي بشــري نوعه وښــيي. په دې ډول نو انسـان د حيواني انواعو په لړ کي را ولي، خو په عين زمان کي ئې پر دې خوا باندي هم ږغيږي، چي دی بې‌جوړې او بې‌سارى حيوان دئ.

## د پېړيو په دوران کي د ژوند پرله‌پسې سلسله:

د نجومو د علم په برخه کي د کوپرنيک Copernic نظريې انسانانو ته څرگنده کړه، چي مځکه د نړۍ مرکز نه دئ، بلکي يو وړوکی گرځنده ستورى دئ، چي پر يو بـل کوچنوټي ســتوري را څرخي، لکـه دغي نظريې چي پر بشــري فکر بـانـدي خورا ژوره غېزه وکړه، د ډاروين نظريـه هم د تـاثير لـه مخکي تر دې په کمـه نـه وه. دا خبره ډېرو مفکرينو تـه پـه زړه کي ور گرځېدلې وه، چي حيواني نړۍ د يو مسـتقيم پيدايښـت محصـول نه ده، بلکي له داسـي انکشـافي تحولاتو څخه را پيدا سوې ده، چي د هغو په سلسله کي دمخني انواع په وروستنيو انواعو اوښـتي دي او وروسـتني انواع ئې نسبت دمخنيو ته د وجود له پلوه خورا مرکب گڼل کيږي، خو ډاروين دغه خبره د منلو وړ وگرځوله او په قاطع ډول ئې اثبات ته ورسوله.

ډاروین دا کار وار د واره له دې ځایه څخه را ومښلاوه، چې د یوې ډېرې کاملې او جامعې طریقې په اساس ئې د هغو مدارکو یوه بېخي لویه مجموعه را غونډه کړه، چې د تکاملي جریان واقعیت اثبات ته ورسوي. د دې مدارکو له جملې څخه البته فوسیلونه Fossil Records (پرښه سوي آثار)، چې له ډېرې قدیمې زمانې څخه پاته دي، خورا مهم شواهد ګڼل کیږي. دا مدارک د مځکې پر اوږده عمر دلالت کوي او هم دا ښیي، چې د ژوند مبادي په لومړنیو غیرذیفقاریه حیواناتو کې تقریباً پنځه سوه میلیونه کاله دمخه تاریخ لري. تر دغې نېټې را په هیسته نو د پرله پسې رسوبي طبقاتو په هره طبقه کې د حیواناتو عالي او تر هغو عالي انواع مومو، چې د یو څو استثنایي اقسامو په پرته، لکه سیلوکانټ Coelacanths غونډي، چې لا ژوندي او باقي پاته دي، نور ټوله معدوم او د مځکې له سره اخیستل سوي دي، چې دا سلسله پسې را واخلو، نو هغو عالي اصنافو ته را رسیږو، چې یو شمېر داسې تي‌لرونکي حیوانات پکښې داخل دي، چې د اوس وخت له موجودو اقسامو سره یو څه شباهت لري. د دې اصنافو بقایا بېخي د را نژدې پېړیو په رسوبي طبقاتو کې موندل کیږي.

څه رنګه چې له ساده او کښتو موجوداتو څخه ډېر مرکب او عالي موجودات منځ ته راتلای سي، نو موږ باید په میلیونو کلونه دمخه نړۍ ته په دې سترګو وګورو، چې د حیواني ژوند یوازې ابتدایي اشکال ور پکښې وه او تر هغه را وروسته پر له پسې د پېړیو په دوران کې ډېر مرکب چنجي‌وزمه موجودات را پیدا سوه، بیا پوستبدنه (Mollusks) ژوي او ستارفیش Starfish منځ ته راغلل او تر هغو پسې، هغه ابتدایي ماهی را موجود سو، چې ډېر مترقي ماهي ته ئې تکامل کاوه، څو بالآخره چونګښه یا د اوبو د شرموښکۍ (Newt) په شاني

ذوحیاتین حیوانات منځ ته راغلل، چي هم پر وچه او هم په اوبو کي خپل ژوند کولای سي. کله چي د دې حیواناتو له جملې څخه ځیني په ځکېدونکو (Reptile) حیواناتو واوښته، نو د دې تحول په نتیجه کي په زرو بېل بېل ډولونه ځکېدونکي حیوانات را پیدا سوه. دا ځکېدونکي حیوانات چي د ځینو د بدن پوست کلک وو او دېرش فوټه جګوالی ئې درلودی، د مځکي د مخ غالب مخلوقات وګرځېده. په دې جریان کي له یو ډول ځکېدونکي ژوي څخه یو کوچنوټی او ناقصي تی لرونکی حیوان وجود ته راغی. د دې حیوان له را پیدا کېدو سره نو هغه صنف انکشاف وکی، چي زموږ ځانونه هم د هغه په دایره کي شامل دي.

هغه ځکېدونکي ژوي چي تي لرونکو ژویو ته ورته دي، وار د واره د سکرو په عصر (Carboniferous age) کي ظهور کوي؛ دا نو هغه زمانه ده، چي دس کرو طبقات کښته کښیني او ۳۰۰ میلیونه کاله دمخه اټکل کېدای سي. خو د تباشیرو په عصر (Cretaceous period) کي؛ یعني کله چي په اوقیانوس کي د تباشیرو طبقات تشکیلېدله، هغه لومړني رشتیاني تي لرونکي حیوانات منځ ته راغلل، چي د ډایناسور Dinosaur معاصر دي. دا تي لرونکي حیوانات تر مږو غټ نه وه. د دوی ماغزه که څه هم ډېر نه وه، خو د ځکېدونکو حیواناتو تر هغې بیا هم ډېر ښه وه. د تباشیري عصر اواخر وه، چي د تي لرونکو حیواناتو په تکاملي لړۍ کي دوه لوی ژوندي صنفونه را پیدا سوه؛ یوې خوا ته کڅوړه‌لورنکي تي‌والا حیوانات، لکه کانګرو Kangaroo غوندي منځ ته راغلل او بلي خوا ته پیروان‌والا را پیدا سوه، چي زموږ ځانونه او نور ګرده عالي تي‌لرونکي حیوانات په همدغه صنف کي شامل ګڼل کیږي. کله چي دې

مترقي صنف په تي‌لرونكو حيواناتو پوري مربوط تړوله تكاملي انكشافات په سر ورسـول، نو پـه نتيجه كي تي‌والا حيوانات خورا ډېر سـوه او د راتلونكو سـل ميليونـه كـالو په دوران كي ئې زيات مختلف ډولونه منځ ته راغلل، لكه: فيلان، غټ موږكان، نهنگان، هوسياني، بېزوگاني او داسي نور. تي‌لرونكي حيوانات تر دې اندازې موفق سوه، چي د غالب صنف په حيث ئې د ځكېدونكو ژوو ځاى ونيوى. ځكېـدونكي ژوي اكثره ورك سـوه او د دوى لـه جملې څخـه يوازي شـرموښـكياني، كروكوډايلان Crocodile، اليگېټران Alligator، كشـپان او ماران لا تر اوسه پاته دي.

كلـه چي د حيوانـاتو يوه بېخي موفقـه نوعـه ظهور وكړي، مثلاً لكـه پـه ډېووني عصـر (Devonian age) كي د ماهيانو نوعه، په پرمي عصـر ( Permian age) كي د ځكېـدونكو ژويو نوعـه او تقريبـاً دوه سـوه ميليونـه كـاله دمخه د تي‌لرونكو حيواناتو نوعه. نو دا نوعه وار د واره د غالبي نوعي په حيث د دمخنيو موفقو انواعو ځاى نيسي او بيا نو زيات ډېروالى كوي، څو بالآخره خورا بېلو بېلو ټـاټوبو تـه داخليږي او د هر ټـاټوبي سـره توافق كوي. دغـه سـبب دئ، چي تي‌لرونكي حيوانات تر خپلي غلبې وروسـته بېلو بېلو سـيمو ته خپاره سـوه او د توافق پـه نتيجـه كي نو اوس يو ډول تي‌لرونكي حيوانات وينو، چي په اوبو كي دننـه ژونـد كوي، لكـه د اوبو خوگـان (Seal)، ځيني بيـا پـه هوا الوزي، لكـه شـوپركـان او ځيني بيـا پـه مځكـه كي دننـه نغمونـه كاږي، لكه مولان Mole. همـدارنگـه د دوى خوراكي مواد او د ژونـد عمومي طرز يو لـه بلـه څخه توپير لري، دغـه جريـان تـه چي يوه غالبه نوعه د توافق له مخي انكشـاف وكړي، په علمي ژبه «توافقي خپرېده» (Adaptive Radiation) ويل كيږي.

**انسان ته ورته بيزوگاني (Anthropoids):** په دې پــــــــسي نو د تي‌لرونکو حيواناتو تکاملي جريان دې ته مخه کوي، چي راز په راز عالي اختصاصي انواع منځ ته را ولي. د دې انواعو له جملې څخه نو ځيني د الوتو دپاره اختصاصيږي، لکه شــوپرکان، ځيني تر مځکه لاندي د نغم کنبــلو دپاره اختصــاصــيږي، لکه مولان، له ځينو څخه هغه ښــکاري حيوانان جوړيږي، چي غوښــي خوري او له ځينو نورو څخه داسي حيوانات په وجود را ځي، چي په تيښته کي ډېر تکړه او چټک غورځېدای سي.

د تي لرونکو حيوانـاتو لـه ټلـه څخـه، چي موږ ډېر پـه حيرت کي اچوي، هغـه عمومي بيزوگاني او په تېزه بيا هغه انســان ته ورته بيزوگاني دي، چي د چمپانزي Chimpanzee، اورانــگ Orang او گوريلا Gorilla پـه نومونو يــاديږي؛ ځکه دوی په زياترو شيانو کي زموږ په شان دي او رشتيا هم، تر کومه ځايه چي خبره په سکليټ اړه لري، نو د انسان او بيزو د سکليټو تر منځ هډوکي په هډوکي خورا نژدې شباهت ليدلای سو. دغه د شباهت خبره وه، چي د ډاروين د نظريې له ابتدايي تدوينه سره دا نتيجه په ډېر قوت را څرگنده سوه، چي د انسان نسب له بيزو غوندي اجدادو څخه را شروع سوی دئ او دا هغه نتيجه ده، چي څوک سترگي نه سي ځني پټولای.

لکـه څنگه چي دې پوهني، چي له يو ســلول والا بســيطو موجوداتو څخه ډېر زيات مرکب موجودات، مثلاً تي‌لرونکي حيوانات را پيدا ســوي دي؛ په بشــري فکر کي انقلاب را وستی، همدغه شان د انسان د تکامل په باب کي معلومات، يعني له دې پلوه د ده پېژندني، چي يو متفکر موجود دئ، د تخصـصـي الاتو له جوړولو، د مدنيت د ودانولو، د هنري آثارو د ابداع کولو او د اخلاقي ښېگڼو او

اخلاقي بديو د ايجادولو قابليت لري؛ د دې مقتضـــي ســـوه، چې زموږ افکار تر ډېره حده پر سربښته برابر سي.

## طبيعت يا بل څوک؟

په دې بيانو کې دوې خبري ښېخي پاروونکې وې؛ يوه دا چي «انســـان يو حيوان دئ»، که څه هم دا خبره ور سره وي، چې دی يو کمال ته رسېدلی حيوان دئ. بله دا چې «**د تغيراتو او تحولاتو ټوله ســـلســـله د انســـان د را پيدا کېدو په شـمول يوه طبيعي سلسله ده**»، نو دا مختلف انواع، لکه څنگه چي ئې نن موږ وينو، په دغه اوسـني ډول له لومړي سـره څخه نه دي پيدا سـوي، بلکي دوی له خورا بسـيطو اشـکالو څخه تکامل را کړی دئ او دغه نني حال ته را رسـېدلي دي. انسـان په خپله هم داسـي موجود نه دئ، چې پيدايښـت ئې په خاصه توگه سر ته رسېدلی دئ، بلکي دی هم د تکامل يو محصول دئ.
د تکـامـل نظريې د پيـدايښـــت او خلقت په باب نه يوازې هغه خيالات پســـي واخيســـتلو چې ماوراءالطبيعه ته ئې ځان رســـاوه، بلکي همدارنگه ئې د هغو پر ځای يو داسـي طبيعي جريان وښووی، چې په واقعي ډول ډېر نوی دئ او سړی هک پک ورته پاتېږي.

## ډاروين ښيي، چې دغه جريان څنگه پېښ سو؟

رشتيا هم د ډاروين مهارت په دې باب کې خبره روښانه کړه او دغه جريان چې د ده د نظريې خورا مهمه برخه تشـکيلوي، د پوره څېړنو په اسـاس ئې وښووی،

چي ځنګه په سر رسېدلی دئ. ځینو خلګو پخوا هم دا ګومان کاوه، چي دا جریان به یو تکاملي جریان وي، لاکن دغه خبره په عمومي ډول نه سوای منل کېدلای، ځکه داسي یوه توضیح په منځ کي نه وه، چي دا ئې ښوولی وای، چي دغه جریان نو ځنګه او له کومي لاري باید په سر رسېدلی وي. د ډاروین نظریې دا خبره څرګنده کړه، چي د یو حیوان په نسل کي هر ډول نافع او ګټور بدلون د هغه نسل د بقاء باعث ګرځي. څه رنګه چي هر کله د ژوندیو موجوداتو تر منځ پر خوراکي موادو باندي، چي مقدار ئې لږ وو، رقابتي فعالیتو جریان درلودی، نو هغه حیوان چي دغه د بدلون مزیت ور پکښې وو، د دې دپاره مساعد وو، چي له منځه ولاړ نه سي او باقي پاته سي. نو چي بدلون ارثي او فطري سي، باید چي د حیوان یو نوی او کامل صنف ورو ورو منځ ته را سي. د مثال دپاره نو له همدې لاري څخه پړانګ دا استعداد پیدا کی، چي ځان خپ نیولای سي، د غره د اوزګړي پښې اوږدې سوې او اوښ دا قابلیت پیدا کی، چي اوبه په ځان کي د ذخیرې په توګه وساتي.

## ډاروینیزم او ټولنه:

دغه په مخ کي بیان د ډاروین د نظریې لنډیز وو. د دې نظریې اهمیت یوازي بیالوجیکي نه وو، بلکي دې نظریې په یوه پلا یو شمېر مسئلې را پیدا کړې، چي سمدستي ئې د یوه او بل انسان له هغې رابطې سره ټکر وخوړی، چي د ټولني په دایره کي را پیدا کیږي. دغي نظریې د اقتصادي رقابت هغه نظریات نور هم پسې تقویه کړه، چي دا رقابت د بشري نوعي د اکمال دپاره یوه طبیعي لاره ګڼي. له دې خبرو څخه نو دا نتیجه را ووته، چي د اجتماعي انکشاف طبیعي او

خودکاره جریان د هغي تنازع للبقاء په سبب ادامه مومي، چي مخ ئې نه را گرځول کیږي. په دې اساس نو د اجتماعي اصلاحاتو سره مخالفت شروع سو، ځکه په خپله د انسانانو فطرت د دې مسؤل وگڼل سو، چي د شدید رقابت اخلاق ئې منځ ته راوړي دي. د دې حرکت په اثر نو هغه کارونه، چي په دمخنیو پېړیو کي د اجتماعي فسادونو په حیث ناوړه بلل کېده، اوس د عامه ښېگڼو په شاني رواج سوه.

له دې نظریې څخه د اجتماعي ژوند په نسبت نوري مهمي نتیجې هم را ووتلې، مثلاً دا نتیجه:

څه رنگه چي انسان له نورو حیواناتو څخه په وجود راغلی دئ، نو دی هم صرف یو بیالوجیکي جهاز (مېکانیزم) دئ، چي د بدني غړو په کېمیاوي فعالیت سره چلیږي. د دې مېکانیکي نظریې منل اسانه وه، چي انسان یوازي له هغو کېمیاوي او فزیکي جریاناتو څخه عبارت بولي، چي د فزیولوجی Physiology (د اعضاوو د وظایفو علم) اساسي موضوعات دي. اما دا نظریه بریالۍ نه سوه، چي د ژوندیو شیانو بېلوونکي مشخصات، لکه د دوی تشکیل، انکشاف او رشد په کافي اندازه تشریح کړي، ځکه رشتیا هم حقیقت خو دا دئ، چي ژوندی موجود صرف د څو عناصرو مجموعه نه ده، بلکي یوه جامع او په ځان پوره هستي ده، چي خاصیتونه ئې تر خپلو اجزاوو ډېر دي. دا ټیک خبره ده، چي د ژوندي موجود ټولي چاري د ده په کېمیاوي جریان اړه لري، لاکن د ده بې‌ساري او اختصاصي کارونه د ده مرکب تشکیل او هغه نوو قوانینو ته منسوب گڼل کیږي، چي د دغه تشکیل سره ارتباط لري. د دې خبري مطلب دا نه دئ، چي ژوند یوه داسي خاصه ده، چي مادې ته له بلي خوا څخه ور

زياته سوې ده، بلکي مقصد يوازي دا شی دئ، چي ژوند يوه نوې وظيفه ده او هغه وخت ئې په ماده پوري ارتباط پيدا کی، چي د ژونديو شيانو په شکل د مرکبو طريقو په سلسله تشکيل سو.

بله دسته مهمي مسئلې، چي د انساني تکامل د لاري او لوري په باره کي منځ ته راغلې، دا وې:

آيا انسان و يوه نوي حيوان ته تکامل کوي؟ آيا د بقاء اصلح قانون اوس هم د ارتقاء قانون ګڼل کيږي؟ آيا د تکامل قوانين څه ډول ټولنه ايجابوي؟ آخره دا چي د تنازع للبقاء حتمي جريان د بشري ورورولۍ د طلايي عصر په باب زموږ پر اميدونو لاندي څه ډول رڼا اچوي؟

د دې پوښتنو جوابونه تر هر څه لومړی دا غواړي، چي سړی د تکامل د لاري او طريقې په برخه کي پوره واقعي معلومات لاس ته راولي. دوهم دا غواړي، چي سړی د بشري طرز البقاء د مخصوص نوعيت په باره کي، چي د انسان د لاسو او ماغزو په وسيله ئې امکان پيدا کړی دئ، پوره پلټني وکړي. همدارنګه دا ايجابوي، چي په تېره بيا د انسان د اجتماعي تشکيل هغه بې‌ساری شکل تر کتني لاندي ونيول سي، چي دغه بشري طرزالبقاء پکښي تأمين کيږي. دريم دا غواړي، چي موږ بايد د ارتقاء مفهوم په کامله توګه تر نظر وباسو، څو دا حقيقت را معلوم سي، چي د انسان تر حده پوري پرمختګ او د انسان بې‌ساري‌والی او تفوق ټوله د حيواني تکامل د اوج نقطه ګڼل کيږي. بالآخره نو موږ بايد په دې هم وپوهيږو، چي د تکامل نظريه په خپله د انسان د ارتقايي انکشاف د لاري په خصوص کي څه بايد ووايي.

که دغســــــي پلټني وسي، نو به پر هغو اجتماعي او اخلاقي مسئلو باندي رڼا واچوي، چي د تکامل نظر ئې منځ ته راوړی دئ.

## بدلون او توارث:

لومړی د تکـامـل د طريقې خبره ده. پـه خپلـه د ډاروين نظريـه، کـه څـه هم د اساسـي اصـولو له پلوه صـحيح نظريه وه، خو سـره له دې ئې يو شـمېر مسـئلې لاينحلـه او يو شـــمېر نتـايج کړکيچن پرېښـــوول. يو لوی گام هغه وخت مخ ته واخيســـتـل ســـو، چي نوي جينيټيکي نظريـاتو پـه دې پيل وکی، چي د توارث اســـاس او د بدلون علت (چي يو ئې لا هم ډاروين ته نه وو معلوم) تر کشـــف لاندي را ولي.

**بدلون دوه ډوله دئ؛ يو هغه بدلون دئ، چي د محيط په تغيراتو اړه لري،** لکـه د اقليم، خـاوري، رطوبت، غذا او نورو دغســـي شـــيانو تبديلي، چي په يو موجود کي د توافق پر اســـاس باندي د ده د خپل ژوند په ســـاحه کي تغيرات را ولي. اوس عمومي عقيـده داســـي ده، چي دغـه راز تبـديلات ارثي نه دي او په تکامل کي هيڅ رول نه لوبوي[٢]. **بل هغه بدلون دئ، چي د ارثي مېکانيزم له تـغـيـراتـو ســـره اړه لري؛ دغـه تغيرات پـه بيـالوجی کي د «تحولاتو» (Mutations) په نامه يادېږي.** دا تحولات چي د موجود پر بدن باندي کومه اغېزه اچوي، د هغې څرنگوالی د محيط له اوضاعو سره څه ارتباط نه لري؛ يعني

---

[٢] دا نظريه د ټولو هغو کسانو تر منځ، چي په دې لار کي پلټني کوي، په گډه نه ده منل سوې، ځکه ځيني د داسي شواهدو گومان کوي، چي په بعضي شرايطو کي هغه تبدلات، چي د توافق په اثر منځ ته راغلي وي، له يوه نسله بل ته انتقال کوي او ارثي شکل اخلي.

دغـه اغېزه کوم يو داســـي عکس العمـل نه دئ، چي د هغه په ذريعه موجود له خپلـه محيطه ســره زيات کاميابه توافق کوي. هغه تبدلات چي د ارثي موادو له فرقه را پيدا کيږي، د لومړي رقم تبدلاتو په شـان نه دي، بلکي دوی ارثي شـکل لري او د تکامل دپاره مهم ګڼل کيږي.

ارثي مواد هغه ذرې دي، چي د نوعي ذراتو (جِن Gene) په نامه ياديږي. دوی د نسلي حجرو (Cell) پر کروموزومو (Chromosome) باندي ځای نيسي او نو ځکـه د هغو ټولو حجرو پر کروموزو باندي موندل کيږي، چي د يوې نســـل ور کوونکي حجروي هګۍ له انکشـافه څخه را وتلي وي او ټوله ســره يو ځای په ځان پوره رســېدلی موجود جوړولای ســي. اوس دا خبره څرګنده ســوې ده، چي دغه مواد «ډي‌اوکســي‌ريبو نيوکليک [اســيډ][3]»، چي مخفف ئې ډي. اين. اې. DNA دئ، د تېزاب اوږده ځنځير ډولـه مـاليکولونـه دي. د دغـه ځنځير د شـــمزۍ پـه امتـداد کي پر بېلو فـاصـــلو بـانـدي څلور ډوله نايتروجني بېســـونه (Bases) پـه جلا جلا ترتيـب موندل کيږي. څه رنګه چي د دې ترتيبونو زيات شـــمېر ډولونـه امکـان لري، نو هم دغه وجه ده، چي د مختلفو ترتيبونو په اثر د ماليکولي شـکلو راز په راز اقســام وجود ته را ځي. د ارثي مشـخصـاتو تعين د هســـتې (Nucleus) په ډي. اين. اې DNA پوري اړه لري. نوعي ذرات له دې پلوه اثر ښــنـدي، چي ټاکلي پروتينونه (Proteins) يا انزايمونه (Enzymes) توليدوي او هر انزايم هغه کېمياوي جريانونه تقويه کوي، چي د ژوندي موجود مخصوص اعضاء او انساج تياروي. دا پخوا لا څرګنده سوې ده، چي ټوله نوعي

[3] Deoxyribonucleic Acid

ذرات په هستـه کي نه وي؛ ځيني ډولونه ئې د واحدالحجروي موجوداتو په سايتوپلازم (Cytoplasm) کي مونـدل کيږي او ځيني ئې د نباتاتو په غيرتوليدي او عقيمو حجراتو کي پيدا کيږي. يوه بله پېښه هم بايد ياده سي او هغه دا ده، چي ځيني باکتيرياوي (Bacteria) او ځيني پروتوزوني (Protozoan) موجودات داسي استعداد لري، چي دوی د نوي غذا يا زهرو سره توافق کوي او دغه توافق خپل نسل ته انتقالوي. خو خبره داسي مالوميږي، چي د وراثت دغسي اشکال د هغو ارثي بدلونو په را پيدا کېدو کي چنداني رول نه لري، چي تر ايله شرايطو لاندي د طبيعي انتخاب د مؤثرو عملياتو دپاره لازم دي.

دا نوعي ذرات امکان ري، چي نابېره تغير وکړي، که څه هم دغه شان تغيرات ډېر نه پېښيږي. د هر نسل د کروموزوم په هره حصه کي يوه نوعي ذره نيم ميليون ډوله تغيرات يا تحولات کولای سي. دغه جريان نو کافي دئ، چي هغه بدلونونه وجود ته را ولي، چي د تکامل دپاره ضروري وي. نوعي ذرات په دې سبب تحول کوي، چي دوی ثابت کېمياوي مرکبات نه دي او کېدای سي، چي د ډېربښت کېمياوي فعاليت او نورو داسي عواملو له لاري تغير وکړي، خو دغه عوامل چي تغير را ولي، يو ئې لا هم داسي نه مالوميږي، چي د محيط سره د توافق په جريان څه اړه لري. له دې بابه تغيرات د ژوندي موجود پر مشخصاتو ځرګند تاثير لري او همدغسي بدلونونه ارثي بلل کيږي.

هغه نسلي حجره چي هم له موره څخه او هم له پلاره څخه په وجود را ځي او د يوه نوي فرد د جوړولو دپاره سره يو ځای کيږي، هره يوه ئې زيات کروموزونه لري. که د تحولاتو امکان له حسانه وباسو، خو بيا هم په عادي حال کي د نوعي

ذراتو ترکیبونه په دایمي توګه تر تغیر لاندي وي؛ نو د انســـان په مورد کي، چي نسـلي حجره ئې ۲۳ کروموزومونه لري، د همدې تغیراتو له پلوه خبره داسي ده، چي د برالبېدو په هره قضـیه کي هغه فرد، چي د مور په نس وي، دې ته مسـاعد دئ، چي ۱٦ میلیونـه ډولـه اشـــکال واخلي. د دې جریان ســـره چي د تحولاتو پېښـېده هم حسـاب کړو، نو په دې پوهېدای سـو، چي څه رنګه په هر نسل کي هغه نوي مشخصات ظهور کوي، چي ځیني خورا ګټور او د بقاء ارزښت لري.
د دې خبـري زده کړه مهمـه ده، چي نوعي ذرات د مفردو یونټو پـه حیـث مشخصات نه اداره کوي، بلکي په دې مشخصاتو کي هغه ارتباط ډېر تاثیر لري، چي د دوی او نورو نوعي ذراتو تر منځ د کروموزوم په ســـاحه کي موجود وي.
له دې څخه نو دا نتیجه را وځي، چي کله د مشـخصـاتو له جملې څخه یو نوی خصـوصـیت د نوعي ذرې په اثر وجود ته را ســي، کېدلای ســي، چي د هغې نوعي ذرې او نورو نوعي ذراتو تر منځ د مخصـوص ترکیب او ارتباط په سلسله هغه خصوصیت خپل اساسي شکل ځان ته ونیسي.
کله چي دغه راز ترکیب او ارتباط منځ ته را ســي، نو ښـایي د «طبیعي انتخاب» جریـان همـدا ترکیـب او ارتباط غوره کړي او و ئې ســاتي. په دې دلیل نو د یو خصـوصـیت ګټوره تبدیلي داسـي کار نه دئ، چي د یوې مفردي نوعي ذرې د تحول په نتیجه کي منځ ته را ځي، بلکي دا کار ورو ورو سر ته رسیږي.
همدا تحولات چي هر کله بې شـمېره نوي ترکیبونه ور سـره ملګري وي، د دې خبري سـبب ایسي، چي هغه بادوامه تدریجي تغیرات را پیدا کوي، چي موجود تـه پـه زیاته اندازه د خپل محیط او د ژوند له طرزه ســره پوره توافق ور کوي. د دې تحولاتو زیاته برخه ښـایي داسـي نه وي، چي سـمدستي څه ګټه ور باندي

بناء سـي، دوی په دغسـي حالت کي باقي پاته وي، خو کله چي د يوه محيطي تغير پـه نتيجـه کي ارزښـت پيـدا کړي، نو هغـه وخـت ژر تر ژره خپـل مزيـت څرګندوي او ځان ښـه ښيګوي. دغه جريان ته «تر وخت دمخه توافق» (Pre-adaptation) ويل کيږي.

«د مرچو د وني اوينه [وينه]» (Pepper Moth) د دغه جريان خورا ښـه مثال دئ او هم د دې خبري څرګند مثال ګڼل کيږي، چي د طبيعي انتخاب د جريان لـه مخي هغـه ګټور تحول غوره کيږي، چي پـه نتيجـه کي ئې نوی رقم موجود منځ ته را ځي. د دې اوينو رنګ پخوا خړ وو، څه رنګه چي دوی د خړو ونو پر پوســت باندي کورونه جوړول، نو په دې ســبب چي د دوی جامه د درختي له جامې سـره يو شـی وه، چندانې به ښـه نه ليدل کېدله، لاکن کله کله چي به دانه مـانـه تور رنګي پکښـي پيـدا ســوه، نو بـه ژر مرغانو له منځه يووړه او و به ئې خوړله؛ ځکه دا به د تور رنګ په سـبب له ورايه مالومېدله. خو تقريباً سـل کاله دمخـه، چي د ميډلېنډ (Midland) په سـيمو کي صـنايع منځ ته راغله او په همدې نسـبت د هغه ځای د ونو رنګ تور واوښـتی، نو اوس بيا تور رنګي اوينه پر ونو ښـه نه معلومېده او خړ رنګي له ورايه څخه ښـکارېدله. د دې پېښـي په نتيجه کي نو اوس د تور رنګو اوينو شمېر په سلو کي ۹۹ ته رسېدلی دئ.

دلته يوه بله مهمه خبره هم را پيدا کيږي، چي په غور ارزي. موږ دمخه وښوولـه، چي هر راز مخصـوصـه اغېزه د يوې نوعي ذرې نتيجه نه ده، بلکي د څو نوعي ذراتو د ګـډ تفـاعل نتيجه ګڼل کيږي. نوعي ذرات هر کله تحول کوي او تل تر تلـه ئې نوي نوي ترکيبونـه منځ تـه را ځي. دا نو خاص يو ترکيب وي، چي هغه

زيات ګټور خصوصيت په وجود را ولي، چې د انتخاب دپاره ارو مرو مساعد دي.
دا خبره هم د مرچو د وني د اوينو او هم د نورو اوينو په مورد کي ثابته ده، څکه هلته ګټور رنګ هغه اغېزه ده، چې د نوعي ذراتو د يو خاص ترکيب په وسيله را پيدا کيږي. په دې اساس نو د تغير علت د نوعي ذراتو هغه ترکيب دئ، چې د محيط په نسبت اکثر حد د بقاء ارزښت وجود ته را ولي. مشخصات او خاصيتونه يوازي په نوعي ذراتو اړه نه لري، بلکي دوی هغه وخت ظهور کوي، چې نوعي ذرات د مخصوصو محيطي شرايطو سره د تفاعل په جريان کي داخل سي. په دې ډول نو د هماليې سويان نوعي ذرې ته منسوب يو تشکيل لري، چې د هوا د عادي درجې په وخت کي ئې پوست سپين ور اړوي او د هوا د کښتي درجې په موسم کي ئې د پوست رنګ تور ور اړوي. له دې سببه چې د دوی غوږونه او پښې هر کله نسبت تر نور بدن يخ ته مخامخ وي، نو اوس ئې د بدن دغه برخي توري اوښتي دي.
نور زيات شمېر داسي تحولات هم سته، چې څه وخت د نوعي ذرې د يوه يا بل ډول ترکيب يا د نوعي ذرې له مخلوط سره يو ځای سي، نو هر کله په بېلو بېلو اشکالو او بېلو بېلو درجو سره ځان څرګندي. د دې موجودو تحولاتو شمېر خورا ډېر دئ؛ که فرضاً اوس د نوو تحولاتو سلسله نوره بس سي، نو موجود تحولات په دونه کافي اندازه سته، چې د تکامل جريان ته په راتلونکې زمانه کي نوره دونه هم ادامه ور کولای سي، لکه تر اوسه پوري چې ئې کړې ده. کله چې د هغو شرايطو په نسبت، چې د تغير په حالت کي وي، يو بېخي ګټور ترکيب ورو ورو منځ ته را ځي، نو دغه جريان ته «د جينيتيکي نظامونو يا

ترکیبونو تکامل[٤]» وایي او دا هغه جریان دئ، چي د تکامل د اوســنیو نظریاتو دپاره ئې زده کړه لازمه ده.

## جینیټیکي استحاله (Genetic Assimilation):

ننني ازموینو یوه بله لار هم پیدا کړې ده، چي په هغه کي د انتخاب پر اساس یو ګټور توافق وجود تـه راتلای ســي. ټول ژونـدي موجودات تر محیطي فشـــار لاندي له یوه حاله بل حال ته اوړي، مثلاً لکه دا چي عضــلات انکشـاف کوي، مېخکان (زخي) پر اورغوو را خیژي او انسانان له اقلیم سره آموخت نیسي. دا د عکس العمل اســتداد په وجود کي جوړ ســوی یو ارثي خاصـیت دئ او په بېلو بېلو افرادو کي خورا ډېر فرق ســره لري، ځیني خورا ژر او پوره توافق کوي، خو ځیني نور بیا خورا کرار او لږ توافق کولای سي. اوس نو که یو حیوان کوم داسي محیط تـه داخلیږي، چي لـه ده څخـه تغیر غواړي، نو یوازي دا خبره نه ده، چي ژر او پوره توافق د ده د بقاء وســایل را غونډوي، بلکي دا اســتعداد ئې، چي د هغه په وسـیله په ځان کي همدغه مطلوب تغیرات واردولای ســي، باید د نوعي ذرې د یو داسي ترکیب د انتخاب په اساس تقویه سي، چي هغه دغه شان اثرات په وجود را وستلای سي. په دې ترتیب نو انتخاب یو داسـي استعداد منځ ته را ولي، چي چټـک تغیر کولای ســـي او ځونـه ئې چي تغیر چابک او کامل وي، هغونه ئې د بقاء ارزښـــت هم زیات وي؛ په نتیجه کي نو د تغیر اســتعداد ئې په خورا اســـانۍ فعالیت کولای ســـي او که ئې د نوعي ذرې په ترکیب کي یوه بله

---

[٤] The evolution of genetic system

تبديلي را سـي، نو د هغه په سـبب کېدای سـي، چي دا حيوان په متغير شـکل وزېږي.

دا ټوله جريان په وارو وارو د ازمويني له لاري ثابت سوی دئ او له دې پلوه خو په زړه پوري دئ، چي د لامارک (Lamark) هغه نظريه را په يادوي، چي وايي اکتسـابي خاصـيتونه ارثي شـکل اخلي. که يو حيوان د مهاجرت په نسـبت خپل محيط اليش (بدل) کړي او يا تر مځکه لاندي ژوند غوره کړي، نو د خپل ژوند د نوي طرز تر فشـار بـانـدي ورو ورو تغير کوي او د ده ارثي تشـکيل دا ډول انتخابيږي، چي هغه لازم تغير په آسانۍ سره په ده کي سر ته ورسيږي؛ دغه تغير نو په نتيجه کي د ده يو ذاتي شـی گرځي او په خټه کي ئې اخښـل کيږي. «په دې ترتيـب نو د ده د اعضـاوو د فـايـدې او نـه فـايدې خاصـيتونه، که څه هم مسـتقيماً د ارث له لاري نه وي راغلي، خو طبيعي انتخاب دا ډول کار ور باندي کوي، چي دوی هغسـي يوه مرحله تشـکيل کړي، چي د هغې پر اسـاس باندي نوي بدلونونه را پيدا کېدای سـي. د دې مرحلې تشـکيل ښـايي داسـي وي، چي ځيني بـدلونونـه ئې د ژونـد لـه ايجاباتو سـره برابر وي[٥]». گومان نه کيږي، چي ډاروين به دونه پر غلطه وو، لکه اکثره کسـان چي د ده په باب کي فکر کوي او وايي: ډاروين عقيده درلوده، چي د لامارک په نظرياتو کي يو څه سـته (که څه هم د هغه «څه» په باره کي په يقيني توگه نه پوهېدی).

دا خبره ارو مرو بايد وسي، چي دغه نظريات که څه هم نن په عمومي توگه منل سـوي دي او د ډېرو تجربوي شـواهدو له مخي تائيد سـوي دي، خو بيا هم لکه

---

[٥] C. H. Waddington, Theories of evolution “A century of Darwinism”
همدارنگه د ده (Strategy of the Geneses) اثر وگورئ.

نور گرده علمي نظرياتو غونډي ارو مرو نواقص لري او تل تر تله د تعديل او نوي نظر دپاره امکانات پکښې دي.
د دې بيان له مخي دا بايد روښانه سي، چي دغه بدلونونه تصادفي نه دي، چي د تکاملي پرمختګ لوي ته لارښوونه کوي. تصادفي بدلونونه دا کار نه سي کولای، دا کار د انتخاب په سلسله سر ته رسيږي او انتخاب د تصادف مقابله نقطه ګڼل کيږي. سربېره پر دې انتخاب د نوعي ذرې په ترکيب باندي کار نه کوي، بلکي د حيوان پر بدن او د ده پر مشخصاتو او استعدادونو باندي هغه وخت کار کوي، چي دوی ټوله د خپل محيط سره د فعالو روابطو په ساحه کي واقع سي؛ نو ځکه خبره يوازي دا نه ده، چي د توافق جريان تکامل کي، بلکي د توافق استعداد تکامل کوي. دا استعداد هم په فرد کي مخ پر تکامل رهي وي، چي هغه د فشارونو او اغېزو په مقابل کي ژر ژر عکس‌العملونه کوي او هم ئې د نوعي ذرې په ترتيب کي پرورښت کوي، چي هغه هر کله تر تغير لاندي وي. هر څونه چي د نوعي ذرې په ترتيب کي د بدلون ساحه زياته وي، هغونه د توافق استعداد هم ډېر وي.
دغه دلته چي په لنډ او ساده ډول بيان سوه، هغه نوي نظريات دي، چي د جينيتيکي مسايلو په باب منځ ته راغلي دي. دا نظريات په بريالی توګه هغه مشکلات حلوي، چي د لامارک او منډيل پخواني نظريات ئې تر عُهده نه سوای وتلای. د مطلب اساسي ټکی دا دئ، چي د نوعي ذراتو انفرادي فعاليت د دوی د ذاتي او ارثي خواصو له پلوه يو مطلق فعاليت نه ګڼل کيږي، بلکي د دوی فعاليت د نورو نوعي ذراتو او هم خارجي محيط سره د ګډ تفاعل پر اساس باندي يو نسبتي فعاليت بلل کيږي. سربېره پر دې هغه محيطي تقاضا،

چي هر کله تر تغير لاندي وي، يو داسـي مخصـوص ترکيب ايجابوي، چي په هغه کي يوه متحوله نوعي ذره وجود لري. د دې نوعي ذرې خصوصيت دا وي، چي تر دې وخته کومه فايده ور باندي نه وي بنا، خو کله چي د هغه مخصوص ترکيب ضـرورت منځ تـه را ســي، نو گټوره او البتـه يوه ترکيبي نتيجه بـاندي مرتبېږي. دا ترکيب نو ارو مرو دغه نوعي ذره انتخابوي[٦].

اوس موږ هغه پخواني جينيتيکي نظريات پر يوه مخ باندي پرې ايښي دي، چي عوامـل بـه ئې يو له بله جلا مطالعه کوله. په نن زمانه کي موږ متشــکل نظامونه څېړو، چي په هغو کي عوامل يو د بل اساسي مشخصات ټاکي او د ډياليکټيکي تفاعل پر اساس يو د بله او هم له محيطه سره يو مرکب جريان لري.

د دې انتخابي جريان په باب حيرانوونکی شــی دا دئ، چي دی په اتومات ډول د حيواني اصنافو ارتقايي تکامل سر ته رسوي يا په بل عبارت؛ دا يو خودکاره او خودانتقاله جريان دئ، چي تل تر تله د موجوداتو د تشـکيل لوړ قسمونه وجود ته را ولي.

[٦] د جينيټيکي مسائلو په باب نني تحقيقات په دغه اندازه نور ډېر مهم اړخونه هم لري؛ د مثال دپاره يو له دغو مباحثو څخه هغه دئ، چي د ثبات او بدلون په منځ کي د گټوري موازنې پر تکامل باندي رونا اچوي. که بدلون وجود و نه لري، نو تکامل سر ته نه رسيږي، خو که ثبات بيا نه وي، نو بدلون دا وخت نه سئ پيدا کولای، چي د بقاء له پلوه خپل ارزښت څرگند کړي او هم ځان د نوعي ذرې په خپل نوي ترکيب کي ځای کړي. دا خورا يوه گټوره موازنه ده، چي د ثبات او بدلون تر منځ پيدا کيږي.

# تکامل او پرمختګ

تکـاملي جريـان پـه خپـل ذات او مـاهيت کي څنګه دئ؟ د تکامل اســـاســـي تمايلات څه شي دي؟
دا خبره حقيقت لري، چي رشـتيا هم د دې کُرې پر مخ د ژوند په انکشـاف کي يو پرمختګ موجود دئ. اوس نو لومړی مســئله دا ده، چي دغه حقيقت بايد د حيواني نړۍ په مورد کي اثبات ته ورسول سي، خو دغه کار بايد يو داسي اقدام و نـه ګڼـل ســـي، چي هغه دا غواړي، چي موږ بايد د پرمختګ معيارونه وټاکو. دوهمه مسئله د دې خبري تثبيت دئ، چي د عاقل انسان (Homo Sapiens) تر ظهور را په هيسته د تکامل جريان کوم لوري ته مخ نيولی دئ.

## آيا تکامل يو ارتقايي جريان دئ؟

د دې خبري د تائيد په مورد کي اکثره ويل کيږي، چي تکامل يو ارتقايي جريان دئ. ښـايي موږ په يوه طبيعي اشتباه کي ځان اچولی وي او په همدې نسبت مو يوې تاريخي واقعې ته صـرف د خپل ګومان په اساس د ارزښت په سترګه کتلي وي؛ يعني هغـه څـه چي واقع وي، داســـي مو ګڼلي وي، چي بايد واقع وي. آيا موږ ګرده مســئله له دې ټکي څخه نه ده را مېنــولې، چي د تکاملي ســلســلې آخرينـه مرحله مو را اخيســـتې ده او بيا نو وايو، چي دغه مرحله تر ټولو دمخنيو مرحلو عالي بلل کيږي؟

څوک چي د تکامل د اصـــولو پالونکی وي، هغه دغه راز کار نه کوي، ځکه د تکامل په اصولو خبر سړی د حاضرو موجوداتو تر منځ تمیز سره کوي. دا تمیز تر دې اندازې کیږي، چي د حیواناتو مؤفق صـــنفونه، چي همدارنګه عالي وي، له هغو اقسامو څخه جلا ګڼل کیږي، چي د مداومي بقاء له موفقیت سره سره کښته حییت لري. داسي ژوي چي د بقاء له مؤفقیته سره سره کښته بلل کیږي، یو ډول مثال ئې قهقهرایي طفیلي (Regressive parasites) ژوي دي او بل مثال ئې هغه د توقف په حال کي ولاړ حیوانات دي، چي د ســـوو میلیونو کلو راهیسي، لکه د براکیوپاد (Brachiopod) له اقسامو څخه لنګولا (Lingula) نومی حیوان؛ پر یوه حال پایي. د دې خبري مفهوم نو دا دئ، چي بیالوجي پوهان د بقاء او پایېدلو تر معیار علاوه نور معیارونه هم لري. اوس نو دا پوښتنه منځ ته را ځي، چي دغه معیارونه څه شي دي؟

د بیالوجي علم تکاملي پرمختګ داسي تعریفوي، چي: «د حیاتي تشکیل هغه رشد دئ، چي د ده په وسیله پر محیط باندي کنټرول او له محیطي تغیراتو څخه استقلال زیاتیږي. دا هم ور سره، چي دغه تشکیل به په دغه ارتقایي لار کي د نور تکامل د ادامې استعداد هم لري. همدارنګه تکامل دا خبره کښېباسي، چي د ده په اثر باید د یو موجود داخلي توازن او فردي شـــخصـــیت د کمال حد ته ورسیږي؛ یعني هغه درجه ئې زیاته سي، چي ژوندۍ ماده د ښه مشخص او ښه پـه ځان پوره فرد د جوړېدو پـه ســـلســـلـه ور رســـېدلې ده. دا هم د تکامل له

خصـــوصـــياتو څخه ده، چي د موجوداتو د پوهني ســـاحه پراخه ســـي او ذهني فعاليتونه ئې ډېر سي[۷].»

که په عمومي توګه د وجود استعداد او کفايت په نظر کي ونيول سي، نو د دغه زياتوب مثالونه په دې برخه کي ليدل کيږي، چي د تکامل په سلسله د سکلېټ جوړښت رشد کړی دئ؛ د چټکو حرکاتو قابليت زيات سوی دئ، د زړه او په عام ډول وعايي نظام او البته د تنفسي جهاز په مورد کي زيات پرمختګ راغلی دئ. دا هم د يو ستر پرمختګ مثال دئ، چي تې‌لرونکي حيوانات د تودېويني څښـتنان دي او په همدې سـبب کله چي د حرارت درجه کښـته سـي، دوی نه بې‌ســده کيږي. همدا راز تې‌لرونکي حيوانات د دې دپاره يو پوره منظم اتومات جهاز لري، چي د سږو د تهويې کار، عضلاتو ته د دموي بورې د رسېدو مقدار، د دموي بورې د اندازې ساته او داسي نوري چاري په ښه توګه اداره کړي. هم تې‌لرونکي حيوانات او هم څکېدونکي حيوانات د خپل تکامل په نسبت له دې څخه مستغني سوه، چي د خپل اولاد زېږول او لويول په اوبړين محيط کي سر ته ورسوي. د دوی د ژوند ګرده سلسله په خاورين محيط کي سر ته رسيږي. د مځکي دا ډول فتح يو خورا لوی پرمختګ ګڼل کيږي.

د پرمختګ يو بل معيار د حيوان د وجودي تشکيل درجه ده؛ يعني په هره اندازه چي د حيوان وجود ښـه مشـخص جوړ سوی وي او په ځان پوره فرد تشکيلوي او د حسـي آلاتو د کار ساحه ئې پراخه وي او دماغ ئې له تجربو څخه د زياتي زده‌کړي قوه لري او د دې پـه نتيجه کي نو د مســـايلو د حل دپاره د فکري قوې خـاونـد وي، په هغه انداره د ده د پرمختګ درجه ټاکل کيږي. په عالي حيواناتو

---

[۷] J. S. Huxley, New Bottles for old wine.

کي دا هم يو ستر پرمختګ دئ، چي حسي آلات او عصبي جهاز ئې خورا تېز کار کوي او د همدی په مرسته د خارجي نړۍ او د هغې د حوادثو او مواقعو په مخ کي مؤثر عکس‌العملونه سر ته رسوي. همدارنګه د اولاد د روزني او تغذيې په سلسله کي ئې ثابت پرمختګ ليدل کيږي؛ ځکه د هغو نسلي هګيو له مرحلې څخه، چي په ميليونو ژوي ئې اچوي، لومړی د ځکېدونکو يا الوتونکو حيواناتو هغو کلکو هګيو ته انکشاف راغی، چي د شاربل کېدو له لاري اولاد زېږوي او په دې پسې د پيروان‌والا تي‌لرونکو حيواناتو تر درجې پوري انکشاف را ورسېدی، چي اولاد ئې په محفوظ ډول د مور په نس کي غټيږي او د وړکتوب او مورنۍ پاملرني چاري ئې اوږد وخت نيسي.

## د نور پرمختګ استعداد:

بيالوجي پوهان د يوې نوعي داسي استعداد ته هم د واقعي پرمختګ په سترګه ګوري، چي هغه د خپل پرمختګ په عمومي لار کي نور تکامل ته هم ادامه ور کولای سي. هغه انواع چي د ځينو خاصو چارو په سر ته رسولو کي د لوړ تخصص مرحلې ته رسېدلي وي او تر خپلي اختصاصي دايرې دباندي بالا انکشاف نه سي کولای، نو په دې کار کي چي د نور تکامل دپاره استعداد نه لري، ناکامه بلل کيږي. دا نقيصه هغه ټوله حيوانات لري، چي د ژوند له يو خاص طرزه سره ئې ډېر ټينګ توافق کړی دئ. د دې ډول حيواناتو په باب دا خبره مهمه نه سي ګڼل کېدای، چي دوی په خپله محدوده اختصاصي دايره کي خورا ډېر لياقت لري. انسان دغه راز تخصصي ژوی نه دئ او نه ده د ده اجداد اختصاصي حيوانات وه. همدغه سبب وو، چي يوازي د ده اجدادو ته دا امکان

برابر وو، چي لوړو مرحلو ته وړاندي ولاړ سـي، ځکه دا اختصـاصـيت په دايره کي بند نه وو.
په دغه ترتيب تکاملي جريان تر انسـانه را ورسـېدی. په دې سبب چي دماغ ئې زيات اسـتعداد درلودی او عضـوي سـاختمان ئې هم پر سرښته برابر وو، نو دې عواملو د ده دپـاره دا ممکنـه کړه، چي افزارونه هم جوړ کړي او هم ئې په توگه اسـتعمال کړي. په دې سلسله کي ئې اور کشف کی، زراعت ئې را وايستی او د رمو روزنه ئې رواج کړه. د همدغو اکتشـــافاتو په نتيجه کي ئې د تمدن ښتـــه کښېښوولي. دلته نو وينو، چي انسان د آبياری، معماری، کرهنې، حمل و نقل او نورو وسايلو له پلوه پوره واک پيدا کی، چي پر محيط باداري وکړي او د هغه له سلطې څخه ازاد سي.
دا خبره چي د بيالوجيکي پرمختگ دپاره ډېر شواهد سته، يوه داسي ادعا نه ده، چي پرمختـگ نو بايد يو کُلي او اجباري جريان وگڼل ســـي، بلکي خبره دا ده، چي د ژونـد پـه نړۍ کي د مترقي انکشـــاف يوه ليکـه موجوده ده، چي پوهه په رســـېدای ســـي. تکامل پرمختگ منځ ته را ولي، خو دا شـــرط نه ده، چي دغه پرمختگ به په کلي ډول او له يوه مخه ارتقايي وي.
گرده بيـالوجي پوهـان، چي نهايي مســـايل ئې په نظر کي نه وي نيولي، دا خبره مني، چي سـړی دغه بيان سوی رقم يو حقيقي پرمختگ ليدلای سي او هم هغه معيارونه، چي د پرمختگ دپاره تدوين سـوي دي، پوره د ډاډ وړ دي. انســان اړ نـه دئ، چي د دې معيارو اعتبار د ماوراءالطبيعه مقياس په وســـيله معلوم کړي. انســـان خپـل معيـارونـه پـه خپلـه جوړوي او د دې معيـارو اعتبـار لـه دې څخه معلوميږي، چي په کومه اندازه د ډاډ وړ اســـتفاده ځني کېدای ســـي او په کومه

انـدازه د دوی عملي جنبـه پـه عمومي توگـه منـل کېـدای ســـي. همـدغه راز دا معیارونه له دې پلوه اصـــلاح کيږي، چي هر کله د انتقاد او پر له پســـې پلټنو او پراخو آزموینو پـه معرض کي پـه معرض کي واقع دي. پـه دې اســـاس نو دا پـه عمومي ډول منل کېدای سي، چي پـه تکاملي جريان کي يو خودکاره او پـه خپله تحول کوونکی جريـان موجود دئ، چي د خپـل دوران پـه ســـاحه کي ئې هم خورا ډېر انواع او هم د بدني ساختمان لوړ اقسام وجود ته را وستلی دئ.

خو پر همدې ټکي خبره پای ته نه ســو رســولای، ځکه اوس نو يوه بله پوښــتنه منځ ته را ځي، چي لومړۍ درجه اهمیت لري؛ پوښــتنه پر دې خبره بناء ده، چي تکاملي جريان د تي‌لرونکو حيواناتو د انکشــاف پـه لوړه ســطحه کي يوه لار پـه مخه نه اخلي، بلکي دوو لارو ته جلا کيږي؛ يوې خوا ته موږ هغه زيات کامیابه اختصـاصي انواع وينو، چي د مخصوصو فعالیتو دپاره ئې تخصص ښکاره دئ، لکه شوپرک د الوتو دپاره، مول د نغم کښلو دپاره، نهنگ يا ډولپین (Dolphin) پـه اوبو کي د ژونـد کولو دپاره. خو بلي خوا ته بیا هغه عالي تي‌لرونکي ژوي پـه مخـه را ځي، لکه بيزو او انســـان، چي انکشــاف ئې پر يوه مخ د تخصــص له محدوديته خلاص دي. دلته نو اوس سوال دا دئ، چي آيا پـه دغو دوو لارو کي کوم لوری واقعي پرمختگ گڼل کيږي او پـه څه دليل؟

## د تکامل مهم هدفونه:

د ژونـد پـه تکـاملي تـاريخ کي يو ښېخي څرگند حقیقت دا خبره ده، چي «غالبو انواعو» (Dominant types) هر کلـه د دمخنيو انواعو ځـای نيولی دئ. پـه

دې لړ کي چي څه وخت يوه نوې او د رشـــد له پلوه پرمختللې نوعه را ښـــکاره سـوې ده او دا ظهور ئې هم په يوه زمانه او يوه ټاټوبي کي په سـر رسـېدلی دئ، نو دې نوعي نه يوازې پخواني انواع له ځايه پســي اخيســتي دي، بلکي په خپله ئې هم د تکامل په سـلسله راز راز شکلونه پيدا کړي دي. که فکر ورته وکړو، نو هغـه کـاميـابـه بنـدلرونکي حشـــرات، چي خورا ډېر انواع لري، زموږ د خبري د اثبـات دپـاره ډېر ښــه مثـال گڼـل کيږي. هغه خبره چي موږ ئې توافقي خپرېده بولو، يو بل ښه مثال ئې هم هغه انکشاف دئ، چي په تي‌لرونکو ژويو کي ليدل کيږي، ځکـه د دې ژويو خورا زيـات راز په راز ډولونه له خپلو پخوانيو اجدادو څخه را پيدا سوي دي او هر يوه ئې د توافق په اساس د ژوند يو مخصوص طرز د ځان دپاره اختيار کړی دئ، مثلاً غوښي خوړونکو ژويو د ښکاري حيواناتو په شان ژوند غوره کړی دئ او د درختو موږکانو بيا دا لار په مخه اخيستې ده، چي درختو ته د ختلو ســره توافق وکړي او همدا راز نور. نتيجه دا ده، چي د تکامل په جريان کي له يوې نوي او کاميابه نوعي څخه غالبه نوعه جوړيږي او دا نوعه تر هغه وخته باقي وي، څو د يوې بلي داســي نوعي په راتلو ســره له منځه ولاړه سي، چي د رشد او انکشاف له پلوه تر دې زيات وي. په دې ډول نو په سيلوري (Silurian) عصر کي او تر هغه را وروسته په ديووني (Devonian) عصر کي د مـاهي نوعـه غـالبه وه او د پيلوزويک (Paleozoic) عصـــر په اخيره کي بيا حشراتو او ذوحياتين حيواناتو د غالبو انواعو لقب گټلای سوای. کلک پوستکي څکېـدونکي حيوانـات، چي خوَر لرونکي هگۍ اچوي، پـه بريـاليتوب ئې د مځکي مخ فتح کی او په ميليونو کلونه د غالبو انواعو په شـان پاته سوه. دا انواع پر خورا مختلفو لارو ســره ولاړل او ډول ډول شــکلونه ئې واخيســتل، مثلاً لکه

ډاینـاســور، الوتونکی ټیروډاکټـل (Pterodactyl) او د اوبو پلیزیوســـاري (Plesiosauruses) حیوانات.

په داسـي حال کي چي د اوبو د حیواناتو په جمله کي ماهی ممتاز پاته سـو او د تکامل په سـلسـله ډېر کامل اقسـام پکښـي را پیدا سـوه، د ماهیانو نور تکامل د میسـوزویک (Mesozoic) تر دورې وروسته پای ته ورسېدی. له هغه وروسته د ســینوزویـک (Cenozoic) پـه دوره کي تي‌لرونکي ژوي غـالـب ســوه او ځکېدونکي ژوي نه یوازي دا چي شا ته ووهل سوه، بلکي پرته له کروکوډیلانو، شـرموښـکیانو، مارانو او کیشـپانو څخه، نور د مځکي له سـره واخیسـتل سوه او یوازي د فوسـیل له مخي پېژندل سـوي دي. ځیني گروپونه چي یو وخت غالب وه، لکه اکټیوســار (Ichthyosaur) او ماهي‌غوندي شــرموښــکیاني (Fish-Lizards) رشتیا هم پر یوه مخ ورک سوه.

## د تي‌لرونکو ژویو تکامل:

### الف- اختصاصي انواع:

تي‌لرونکي ژوي لـه هره پلوه هم پـه فیزیولوجیکي لحـاظ او هم پـه مېکـانیکي لحـاظ پر مخ تللی یو صــنف دئ. دا صــنف همدا ډول اســتعداد لري، چي د ممارسـت په اسـاس باندي په خپل سـلوک کي ډېر تغییرات را وسـتلای سي. دا صــنف زده کړه کوي، خو له دې گردو خبرو ســره پرته، له هغه تي‌لرونکي ډلي، چي د پرامیتیز (Primates) په نامه یادیږي او په هغه کي انسانان او د بېزوگانو

انواع شـامل دي، په نورو ټولو کي هغه تخصـصـي جريان منځ ته را ځي، چي د پرمختګ مخه نيسي او نور انکشاف را ګرځوي.
چي خبره پوره سي، نو بايد دا ووايو، چي حتى د پراميتيز په دايره کي دننه لا هم يوه اندازه تخصص ليدل کيږي، که څه هم دا تخصص د سلوک او توافق په يوه ټاکلې لار کي د ډېر قابليت او کفايت سـبب ګرځي او په همدې اندازه ارتقايي حيثيت لري، لاکن نهايي غلبه ئې خورا بده ده، ځکه متخصــص حيوان نو پرته له خپل اختصـاصـي فعاليته بل کار نه سـي کولای او د ده دپاره د سـاختمان په لحـاظ د دې خبري امکـان يو ډېر پرله پېچلى او سـخت کار وي، چي په ځينو نوو شرايطوکي شا ته ولاړ سي او يوې بلي خوا ته مخ ګرځوي، څو بېخي يو بل راز نوی حيوان ځني جوړ ســي. دا هم بـايـد را په زړه کړو، چي دې کار تقريباً شــپېتـه ميليونـه کاله زمانه ونيوله، چي يوه داســي خاصــه نوعه، مثلاً لکه آس غوندي د تکامل په سلسله وجود ته را سي. په دې دليل نو تخصـصـي جريان بيرته پر شـا نه ګرځي، د مثال دپاره هغه غړي وګورئ، چي په ځينو حيواناتو کي د کامل‌والي او ساده‌توب آخرينۍ درجې ته د انکشـاف له لاري رسـېدلي وي؛ هغه د ښکرانو ځنګل ته پام وکړئ، چي د ګوزن پر سر ليدل کيږي؛ هغه د غره د پســو عجيب ښــکران وګورئ، چي د دوی پر تندي باندي په ډول ډول شــکلو واقع وي؛ هغه داړي تر کتني لاندي ونيسئ، چي د فيل په اوربُز کي ليدل کيږي او د غوښــو خوړونکو هغه قوي غاښــونه وګورئ، چي راز راز مثالونه ئې ليدل کيږي. داســي ټوله انکشــافات او برياليتوبونه خو بايد دا کار وکړي، چي د دې

مهمو حیواناتو آینده محکومه کړي، ځکه دا اختصــاصــي اعضــا ئې د نژدې مړیني عوامل دي[۸].

د دې خبري سابقه چیري نه سته، چي کله یو حیوان د تخصص لوړي درجې ته رسېدلی وي او بیا دي نو له هغه څخه نوی صنف وجود ته راغلی وي؛ ټوله نوي صـنفونه نسبتاً له غیراختصاصي انواعو څخه را پیدا سوي دي. د دې قسم انواعو اســاســي خاصــه دا ده، چي د دوی رشــد او انکشــاف یواړخیزه نه دئ، بلکي څواړخیزه او اساسي شکل لري، مثلاً له اقلیسمه سره توازن ساتي او د پیروان په سـلسـله تناسـل کوي، خو هر څه چي تخصـصـي دي، هر کله دا نتیجه منځ ته راوړي، چي ځیني اعضاء یا وظایف د نورو اعضاوو یا وظایفو د زیات انکشاف دپاره قربان کړي. په دې سـبب نو د تکامل جریان په ټولو تيلرونکو ژویو کي، چي د عالي تخصــص درجې ته رســېدلي دي، د هغه جریان حیثیت لري، چي لار ئې نه ده وتلې او د نور انکشاف مخ ئې بند دئ.

**ب- انسان متخصص نه دئ:**

عالي متخصص حیواناتباید سړی دا راز تعریف کړي، چي دوی یو ډول ژوندي آلات یا ماشینان دي، چي د یو مخصوص طرز ژوندون دپاره جوړ سوي دي او په مخصـوص محیط کي کار کولای سـي؛ یعني دوی هغه شـکل ځان ته غوره کړی دئ، چي نور نو دا اسـتعداد نه لري، چي بل راز واوړي او یا بل ډول توافق وکړي. د دې دپـاره خورا ښــه مثال مول نومی حیوان دئ، ځکه د هغه اندامونه

---

۸ دا بیان په دغه کتاب کي راغلی دئ:

Chardin, The phenomenon of Man.

خاص دي ته جوړ سوي دي، چي په مځکه کي غارونه وکيني. دا حيوان نه يوازي دا چي پر دغو اندامو باندي د ده موجوديت ولاړ دئ، بلکي له دې راز اندامو سره خورا ټينګه رابطه لري، ځکه که شرايط تغير وکړي، له دې اعضاوو څخه نور کار نه سي اخيستل کېدلای؛ نو هغه وخت دی او هم ئې اعضاء دواړه د مځکي له سره ورکيږي. خو هر څه چي انسان دئ، هغه دغه راز د يوې ثابتي آلې حيثيت نه لري، بلکي دی په خپله آلات جوړوي او ټوله رنګارنګ وظايف د بېلو بېلو آلاتو او ماشينانو په وسيله سر ته رسوي. د ده عکس العمل يو اختصاصي شکل نه لري؛ دی افزارونه جوړوي، افزارونه استعمالوي، ځيني افزارونه غوره کوي او له ځينو څخه لاس اخلي. په دې ترتيب نو کله چي شرايطو تغير وخوري، انسان نه ور سره ورکيږي، بلکي د هغو شرايطو د مقابلې دپاره نوي افزارونه او نوي لاري او چاري را باسي. د دې کار سبب دا دئ، چي دی هغه بې تخصصه (پراميت) دئ، چي لاسو او دماغ ئې په لوړه سويه انکشاف کړی دئ.

يوه عضوه چي ټاکلی شکل ځان ته ونيسي او يوازي د اختصاص وظايفو دپاره ځان خاص کړي، مثلاً لکه د مرغومو څخه چي وزرونه جوړ سوه، داسي تغير او تخصص خو دم په دمه د يو تفوق عامل ګڼل کيږي، لاکن څه رنګه چي دا انکشاف پر شا نه را ګرځي، نو هغه حيوان چي اعضاء ئې تر دغسي جريان لاندي راغلي وي، په يوه محدوده لار کي بنديږي، څو په پای کي لکه د تاريخ بې ډوله حيوانات، نسل ئې پر يوه مخ کوره کيږي. د دې حيواناتو يو مثال هغه ايرلنډی ګوزن دئ، چي د انکشاف په سلسله ئې ښکران بېخي درانه سوه او نسل ئې له منځه ووت. «تخصص د تکاملي جريان مخ بندوي او زيات

تخصص بیا نسل کوره کوي. هغه پوهنه چي په مختلفو جیولوجیکي دورو کي د ژوند جریانونه څېړني، د دغه شان کوره‌سوي نسلو ډېر حوادث ئې تثبیت کړي دي. څه رنګه چي بالکل د پلای‌اوسین (Pliocene) تر عصره پوري پرامیټ نومي حیوانات د اعضاوو له مخي کټ مټ د ابتدایي تي‌لرونکو په شان پاته دي، نو ځکه د تکامل د جریان له پلوه هم دوی خورا آزاد لیدل کیږي. له دې آزادۍ څخه نو دوی څه کار واخیستی؟ جواب دا دئ، چي د دغي آزادۍ څخه په استفاده سره دا زمینه ورته برابره وه، چي د پرله پسې پرمختګ په سلسله د پوهي عالي درجو ته ځان ورسوي[۹]».

## انسان تکامل ته ادامه ور کوي، خو څه ډول؟

پرمختګ او د هغه راتلونکي امکانات یوازي په یوازي د انسان په برخه کي ادامه لري. که انسان د مځکي له سره واخیستل سي، نو دا بېخي ناممکنه ده، چي بیا د متفکر موجود د را پیدا کېدو دپاره بل ګام واخیستل سي. په نورو تي‌لرونکو حیواناتو، حتی په بیزوګانو کي دا امکان ختم دئ، چي متفکر انواع دي ځني را پیدا سي، ځکه دوی ټوله د پرمختګ له جریانه څخه را وتلي دي او د تخصص خوا ته ئې تمرکز کړی دئ، مثلاً آس یا زمری د خپلو ډېرو مستعدو اعضاوو، غاښو او شامې حس په واسطه د پرمختګ په مقابل کي مسلح دئ او د دوی له ټله څخه هر یو د عضوي دستګاه یوه محدوده هستي ګڼل کیږي[۱۰].

---

[۹] دا بیان هم د Chardin له کتاب څخه دئ.

[۱۰] J. S. Huxley, Evolution, The modern Synthesis.

د انسان ظهور د حيواني ژوند يوه ډېره لوړه سطحه معرفي کوي. په دې سطحه کي خبره تر هغه بدني رشد اوړي، چي په بيالوجيکي ساختمان کي ليدل کيږي. بشري نوع نو د محيط په نسبت او هم د زيات تکامل دپاره د عضوي بقاء خورا نوي قوانين منځ ته راوړي، ځکه بشري تکامل لکه وينو چي ئې، نور نو د بدني ساختمان په اوښتو کي سر ته نه رسيږي، بلکي په تکنالوجي او تشکيلاتي ساحو کي د تحولاتو له لاري روان دئ. په دې اساس نو د انسان د تاريخ په برخه کي د بدني تنوع، انتخاب، بقاء او تحول اصول نه تطبيق کيږي او نه هم د حيواني تکامل قوانين او طريقې دلته کار کولای سي، بلکي د دې تاريخ پرمختګ او انکشاف د خپلو مستقلو قوانينو له خوا څخه اداره کيږي.

دا خورا چټي خبره ده، چي د انسان تکاملي ادامه په ايله او بې‌قيده توګه سر ته رسېدای سي او هم د دغي خبري د اثبات تلاښ يو بې‌معنی کار ګڼل کيږي! اينګلس وايي: «دا خبره د انساني نړۍ په باره کي يوه ډېره ترخه هجوه ده، چي وايي آزاد رقابت او د بقاء دپاره تنازع د اجتماعي بقاء سره پوره سر خوړلای سي، ځکه ايله رقابت او د بقاء دپاره تنازع، چي اقتصاديون د يو ستر تاريخي مؤفقيت په سترګه ورته ګوري، تر انسان را لاندي د حيواني نړۍ يو عادي حالت ګڼل کيږي.

دا بېخي يوه طفلانه آرزو ده، چي سړی د تاريخي تکامل او ترکيب ګرده څو اړخيزه هستي د تنازع للبقاء په يو اړخيزه عبارت کي خلاصه کړي؛ دغسي يو بيان څه مفهوم نه سي افاده کولای. د تنازع للبقاء دغه راز ډاروينې نظريه کټ مټ لکه د هابز (Hobbes) نظريه چي وايي: «ژوند د ټولو جنګ دئ د ټولو په مقابل کي». يا د اقتصادي رقابت بورژوازي نظريه او د يا د مالتوس

(Malthus) د نفوسو نظریه د ټولني له شرایطو څخه را پیدا سوې ده او بیا نو د عضـوي طبیعت په مورد کي په کار اچول سـوې ده. کله چي دغه کارنامه په سر ورســیده، نو بیـا دا خورا آســانـه وه، چي دغه نظریات بیرته د طبیعي تاریخ په ســاحې څخه ټولني ته را انتقال ســي او په همدې ســبب د ټولني ابدي قوانین وګڼل سي[11].

که انســان پوره مطالعه ســي او د ده بې‌ســاری بدني او ذهني موجودیت په غور وکتل سي، نو دا ثابتیږي، چي دغه شان قوانین د بشري ژوند په باره کي نه تطبیق کیږي.

[11] دا بیان د اینګلس په هغه کتاب کي راغلی دئ، چي Dialectic of Nature نومیږي.

# انسان ساری نه لري!

## تکامل د هغه نسلي سلسلې په حیث، چي تغیر ئې مل دئ:

انسان په خپله تکاملي سلسله کي صرف داسي شی نه بلل کیږي، چي یو حیوان دئ او تش په بل حیوان اوښتی دئ، بلکي تر هغه چا چي، تکامل ئې ځني را کړی دئ، هم زیات او لوړ دئ. که څه هم د ده نسل د حیواناتو له نسله وجود ته راغلی دئ، لاکن له هغو څخه اساسي توپیر لري. د تکامل ټوله اهمیت پر دې خبره ولاړ دئ، چي «تغیر سره یوه نسلي سلسله» گڼل کیږي. په دې اساس نو توپیر او تغیر صرف داسي شی نه دئ، چي له دباندي څخه وجود تشکیل ته ور زیات سوی دئ، بلکي یو نوی کیفیت دئ، چي د بیالوجیکي تشکیل د یو مخصوص شکل پر بناء باندي په یوه خاصه مرحله کي منځ ته راغلی دئ. دا یو راز غلطي ده، که سړی ووایي څه رنگه چي انسان له واحدالحجروي نیکه څخه منځ ته راغلی دئ، نو هم ځکه صرف له واحدالحجروي حیواناتو څخه یوه مخصوصه نوعه گڼل کیږي. همدا راز اشتباه ده، که څوک ووایي، څه رنگه چي انسان د ختې له پلوه یو کېمیاوي او فزیکي موجود دئ، نو په همدې وجه د کاربون، هایدروجن، اکسېجن، نایتروجن، گوگړو او فاسفورس تر مجموعې پورته شی نه بلل کیږي. دا هم غټه خطا ده، چي سړی ووایي، څه رنگه چي انسان له څاروو څخه بېل دئ، نو دا بېلوالی ئې داسي شی گڼل کیږي، چي د ده له حیواني ساختمانه څخه دي را پیدا سوي، بلکي یوه روحاني عطیه ده، چي له ماوراءالطبیعه یا بل چا څخه ئې منشا اخیستې ده.

بیالوجي پوهان او روحیات پوهان چې له دغه شان غلطیو او اشتباهاتو ځان ساتي، نو داسې وايي، چې تکامل هغو تبدلاتو او تغیراتو ویل کیږي، چې په دمخنۍ مرحله کې جریان لري او دې ته ئې مخه وي، چې په وروستۍ مرحله کې نوي او بې سابقې خواص په وجود راولي. کله چې له هگۍ څخه چیچی را پیدا کیږي، نو دا چیچی داسې نه گڼل کیږي، چې د هگۍ یو مخصوص قسم دئ او نه هم دا کار یو معجزه بلل کیږي، ځکه د چیچي ټوله په ځان پوره غړي، بڼې، مشوکه، سبزي او نور ټوله د یو شمېر مراحلو په سلسله وجود ته را ځي، چې دا گرده مراحل د بیالوجیکي علتونو معلول دي او هم په علمي ډول تعقیب کېدای سي. دلته نو نوي او بې سابقې خواص منځ ته را ځي، ځکه د ده ترکیبي عناصر او هغه کېمیاوي-فزیکي قواوي چې حسابېدای سي او مېکانیکي نتایج ئې اټکل کېدای سي او په هگۍ کې دننه فعالیتونه ئې تر مخ معلومېدای سي. که ټوله وکتل سي، خو بیا هم د ده نوي کیفیتونه او خاصیتونه تر دوی بالا کیږي. دا نوې عضوي مجموعه نو د کیفیت له پلوه بې ساري والی لري. دلته داسې شی نه سته، چې له اسرارو څخه وگڼل سي او نه هم داسې شی سته، چې تر پوهنې لاندې نه سي راتلای او د روحاني یا ماوراءالطبیعه قوې مداخله غواړي. څه رنگه چې کیفي بې ساري والی له دمخنیو مراحلو څخه وجود ته را ځي، نو په ځان کې ټوله پخواني عناصر کښېباسي او هغو ته د یوه نوي نظام په چوکاټ کې سر و صورت ور کوي.

د بیالوجي پوهانو دپاره اساسي مسئله دا ده، چې د هر فزیکي-کېمیاوي جریان مخصوص اهمیت تر خاصو بیالوجیکي شرایطو لاندې وگوري او دا معلومه کړي، چې څه راز نوي نتایج به منځ ته را سي. اینگلس دغه بیان په دې ډول

راوړي: «بیالوجي نو په همدې لحاظ کټ مټ کېمیا نه ده او نه هم په عین زمان کي لـه هغې څخـه پر یوه مخ جلا ده. کله چي موږ ژوند تحلیلوو، نو وینو، چي ټـاکلي کېمیـاوي جریـانـات پـه دې زمینه کي موجود دي. لاکن دا جریانات په خپلـه اصـــلي معنی کېمیـاوي جریـانات نه دي. د دې دپاره چي دغه جریانات ځان ته معلوم کړو، باید عادي کېمیاوي فعالیتونه و نه ګورو، بلکي د پروتوپلازم (Protoplasm) کېمیـاوي جریـانونـه، چي ژونـد ئې بولو، تر پلټنې لانـدي را ولو[۱۲]».

اوس نو باید د تکامل دغه عمومي پرنســیپ په دې خاصــه موضــوع کي، چي انســـان له مشـــابه‌بیزوګانو څخه تکامل را کړی دئ، په کار واچوو او تطبیق ئې کړو. دلته هم نسـلي ادامه او هم نسبي سلسله موجوده ده، لاکن همداسي د بېلو بېلو مرحلو تر منځ ئې خورا زیات توپیر لیدل کیږي.

## د انسان پخواني اجداد:

انســـان د هغو تي‌لرونکو ژویو په دایره کي را ځي، چي پرامیټیز نومیږي. تر دې نامه لاندي لیموران (Lemurs)، بیزوګاني، انسان ته ورته بیزوګاني او همدارنګه هومینید (Hominids) یا انســانان ټوله را کښـېوځي. د هومینید له جملې څخه ډېر رقمونه د مځکي له سره اخیستل سوي دي او یوازي پاته نوعه ئې هوموسپینز (عاقل انسان) ده، چي هغه موږ په خپله یو. پخواني پرامیټیز کوچني موږک‌وزمه حیوانـان او بېـل بېـل لېموریـد (Lemuroid) او تـارســیوډ (Tarsioid) ډولـه

[۱۲] دغه بیان اینګلس د Anti During د کتاب په یوه حاشیه کي لیکلی دئ.

موجودات وه، چي لـه دوی څخه پخواني رقم بيزوګانو انکشـــاف را وکی. دلته باید دا خبره وســـي، چي اوســـنی بيزوګاني نســـبتاً تخصـــصـــي دي او له لومړنی بیزو ډولـه اجـدادو څخـه ئې فرق کړی دئ. کلـه چي په یوه نوعي مبداء پســـي تلاښ کیږي، نو دا مهم اصـل باید په نظر کي ونیول سي، چي د نوعي سلسلې د پلټني په مورد کي باید هر کله په داسـي اجدادو پسي وکتل سي، چي تخصصي جنبـه ئې لږ وي، ځکـه یوازي هم دا د تخصـــص لږوالی ئې د دې دپـاره زمینـه مسـاعده پریږدي، چي نور پرمختګ وکړای سـي. هغه بیزوګاني چي انســان ور ځني انکشـاف را کړی دئ، تر اوسـنیو ټولو بیزوګانو ئې تخصـصـي جنبه لږ وه. همـدارنګـه د بیزوګـانو هغـه اجـداد چي لیمور او ټـارســـیر (Tarsier) غوندي شکلونه ئې درلوده، تر اوسنیو لیمورانو او ټارسیرانو ئې تخصص کم وو.
کوم حیوان چي د بې تخصصه بیزو سره خورا نژدې شباهت لري، هغه یو مصری حیـوان دئ، چي پراپي‌تیکس (Paranihecus) نومیږي. دا حیوان کوچنی داړي لري او بېخي ممکنه ده، هغه وروســتني اشـکال له ده څخه را پیدا ســوي وي، چي یوه ډله اوسـنی بیزوګاني، انسان ته ورته بیزوګاني او هم په خپله انسان په هغو کي شــامل دئ. پراپي‌تیکس د مصــر په هغو تحت‌الارضـــي طبقاتو کي پیدا سـو، چي څلوېښـت میلیونه کاله عمر لري او د اولیکوسین (Oligocene) د دورې پـه نـامه یادیږي. دا طبقات چي کوم وخت شـــنل کېده، مطلب دا وو، چي د فیلاتو د پخوانیو اجـداد بقـایـا پیـدا کړي، نو ځکه په هغه ترڅ کي چي د کوچنوټي پراپي‌تیکس هډوکي پیدا ســوه، چنداني پام چا ورته و نه کی، خو نن ورځ د انســان ددغه پخوانیو اجدادو په باره کي نوي پلټني خورا ډېري ضــروري دي.

دوهم گام هغه دئ، چي د تکامل په سلسله، له عمومي بيزو څخه انسان ته ورته بيزو را پيدا سـوه. دا ډول بيزو د ايپ (Ape) په نامه ياديږي. د پخوانيو ايپانو په ټل کي چي ئې مومو، هغه د اسـيا او اروپا هغه مشـهوره ځنگلي بيزو ده، چي د مـای‌اوسـين (Miocene) پـه بيالوجيکي دوره اړه لري او د ډرای‌اوپي‌تيکس (Dryopithecs) پـه نامه ياديږي. دا بيزو تقريباً دېرش ميليونه کاله تاريخ لري او وختي ئې له يو داسـي بې‌تخصصه صنف څخه انکشاف را کړی دئ، چي د هغه سـره د شـرقي افريقا پروکونسل (Proconsul) نومې مشهوره بيزو، چي تر چمپانزئ کوچني ده، پوره شـباهت لري. پروکونسـل چي په ۱۹۴۸م. کال کي د ويکتوريـا د جهيـل د روســنگـا (Rusinga) په جزيره د مېرمين ليکي ( .Mrs Leakey) له خوا کشـف سـوه، له ډېرو پلوو څخه تر ايپ انسـان ته زياته نژدې وه؛ مثلاً پر سـترگو بـاندي سـربېره د هډوکي تېغه نه لري او ژوند ئې په درختو پوري تړلی نه دئ.

دا ډېره په زړه پوري ده، چي په افريقا کي د پخواني ايپ ډېر اقسـام پيدا سـوي دي. د مای‌اوسـين د دورې انسـان ته ورته بيزوگاني ډېر رقمونه لري او داسـي معلوميږي، لکه هغه وخت چي د مختلفو اشـکالو د تکاملي تخصـص د جريان دپـاره يو ښــه مســاعـد محيط موجود وو. پـه دې وروسـتيو وختو کي د استرالوپي‌تيسين (Australopithecine) له کشفېدو سره بيا دا نظريه منځ ته راغله ،چي د انسـان اجداد او غالباً په خپله انسـان له افريقايي مبداء څخه را پيدا سوی دئ.

سـر له اوسـه نو د ايپ د انکشـاف په سـلسله کي د درختو ختل را کښېوزي او د دې دپاره چي د درختو ختلو ته پوره چمتو سـي، نو زيات تحول کوي؛ يعني د

مخ پښې ئې اوږديږي او د شا دا ئې لنډيږي. په دغو گردو شيانو کي که څه هم انسـان ته ورته بيزوگانو لوړ انکشـاف کړی دئ، خو د اسـاسـي اړخو له پلوه تر هغې بيزو انسان ته نه دئ نژدې، چي د پروکونسل په نامه بلل کيږي. هيڅوک دا نه وايي، چي پروکونسـل صـرف يوه پخوانۍ او انسـان ته ورته بيزو وه، بلکي د دې بيزو بې‌تخصـصه ابتدايي‌والی دا خبره منځ ته راوړي، چي لا اقل د انسان او نورو ايپانو تر منځ د گډي مبداء يو مثال وگڼل سي.

## له بيزو «ايپ» څخه تر انسانه:

لومړنۍ قسـم بيزو، د دې دپاره چي انسـان ځني جوړ سـي، کوم لوري ته ئې انـکشــاف وکـی؟ د جـنوبي افريقـا د هغې بيزو لـه کشـفيـدو سـره، چي اسـترالوپي‌تيکس (Australopithecine) نوميږي. پر دې مسـئله باندي روڼا واچول سوه. دې بيزو يو يا دوه ميليونه کاله پخوا وجود درلودی. دا بيزو د انسان مبدأ نه ده، ځکه يو ميليون کاله دمخه په خپله حقيقي انسـان (هومينيډ)، چي د دغې بيزو معـاصـر دئ، وجود لري او دې ئې مـاغزه دوچنـده دي او اور هم بلولای سـي. خو سره له دې هم د يو انتقالي قسم نمايندگي کولای سي، چي يو وخت دغه قسـم «ورکه رابطه» (Missing link) گڼل کېدله. د دې بيزو په باره کي مهم شـی دا دئ، چي قامت ئې سيده دئ؛ د لگن خاصرې او ورنو هډوکي ئې د انسان له هغې سره زيات شباهت هم لري، خو د غاښو ترتيب ئې کټ مټ د انسان دئ.

د حقيقي انسان پخواني فوسيلونه که وګورو، نو پرته له استرالوپي‌تيکس څخه، څکه چې دماغ ئې کوچنی دئ، نور نو کټ مټ د جاوا او پيکن د پي‌تيک‌انتروپس (Pithecanthropus) بيزوګانو سره پوره شباهت لري. دې بيزوګانو تقريباً پنځه سوه زره کاله پخوا ژوند کاوه. دغه راز بيزوګاني هغه د پيکن انسان ته نژدې ورته دي، چې پخوا د سين‌انتروپس (Sinanthropus) په نامه پېژندل کېدې. د کلې ظرفيت ئې ۱۰۰۰سي.سي. ته رسيږي. دې ډول بيزوګانو له پخوا څخه لا د افزارو استعمالېدو ته لاس اچولی وو؛ ځکه په هغو حفرياتي مغازو کې چې د دوی د فوسيلونو بقايا کشف سوي دي، يو شمېر افزارونه هم لاس ته راغلي دي. اکثره کلې چې ماتي پيدا سوي دي، هغه د لاندې خوا څخه ماتي سوي دي، غالباً دا کار به د ماغزو د را ايستل کېدو دپاره کېدی، ځکه زموږ په ګومان په هغه زمانه کې ئې دا ماغزه خوړله. په همدې دليل نو معقوله کېدای سي، چې په دوی پوري د ادم‌خورئ تور وتړل سي. سين‌انتروپس اوربلوونکی، افزار استعمالوونکی او مستقيم‌القامته حيوان وو، لاکن اخلاقي صفات ئې نه درلوده. دا صنف هم ورک سوی دئ، خو افزارونه او د اور پاته آثار ئې موږ په لاس راوړي دي. د يخي د وروستني عصر په لومړي سر کې يو صنف موجود وو، چې د نيندرتال انسان (Neanderthal) په نامه پېژندل سوی دئ، خو د زماني د تېرېدو په دوران کې ئې له اوسني انسان سره شباهت لږ سوی دئ او د بڼې له پلوه بېخي ابتدايي دئ. داسې معلوميږي، چې په اخر کې نو پر يوه مخ له منځه تللی دئ. د دې صنف ځای نو د (۱۰۰۰۰۰) او (۷۰۰۰۰) کلونو په دوران کې د اوسني صنف؛ يعني هوموسپينز بېلو بېلو اقسامو نيولی دئ.

## د انسان ممیزات:

تېر بیان د انسان د مبادیو په باره کې یوه لنډه قصه وه. اوس خبره له پې‌تیک انتروپس او یا البته استرالوپې‌تیکس څخه را نیسو او ګورو چې له کومه پلوه انسان په اساسي توګه له عالي بیزوګانو څخه فرق لري. په خورا ساده ډول موږ دا خبره کولای سو، چې د ایپ اوږده لاسونه او لنډې پښې، چې خپرې غوندې قدمونه لري، د انسان په مورد کې په لنډو لاسو او اوږدو ولاړو پښو تبدیل سوي دي، چې هواري تلې او غټې بټې ګوتې لري. دا د پښو بټې ګوتې ئې داسې نه دي، لکه د بیزو هغې، چې د لاس د بټو ګوتو په شان ئې له نورو ګوتو جلا کېدای سي. د انسان مخ کوچنی او لنډ دئ، اوربز هم نه لري. د ګوریلا د ماغزو تر کاسې ئې د ماغزو کاسه خورا لویه او بلکې دوه چنده ده. غاښونه ئې د آس د نال په شاني ترتیب لري. د مخ داړې ئې تر نورو غاښو اوږدې نه دي، زنه ئې پر مخ ښېخې ښکاره ده.

انسان د ونو اوسېدونکی نه دئ، لاکن بیزوګاني پکښې اوسي. انسان پر خپلو پښو، چې تلې ئې هواري دي، په خورا آسانی درېدلای سي. د ولاړې په حال کې ئې لاسونه فارغه وي او کارونه هم په کولای سي، خو بیزوګاني صرف هغه وخت ښې سمې درېدلای سي، چې ځان سره کش کړي او پورته په یو ښاخ پورې لاسونه ونیسي. بیزوګاني په واقعي ډول د چارپایانو په ټل کې حسابیږي.

د انسان خپرې د ایپ تر خپرو ډېرې تکړه معلومیږي. د انسان د خپرو بټې ګوتې زیات حرکتونه کولای سي او نورو ګوتو ته ور څېرمه دي، په داسې حال کې چې د ایپ بټې ګوتې د لاس تر بند کښته واقع دي. د انسان پښې یو مخیزه بل

راز دي او د پښو بته ګوته ئې د پښې د نورو ګوتو سره په يوه رابطه تړلې ده، خو د ايـپ د پښــو بته ګوته کټ مټ لکه د لاس هغې، له نورو ګوتو څخه ئې جلا ده. د انسـان پښـې تر لاسـو اوږدې دي، خو د بيزوګانو لاسـونه د ولاړي په حال کي په ډېره آسانۍ مځکي ته رسيږي.

د انســان د پزي هډوکی را پورته دئ، چي دپزي پل ئې تکيه کړی دئ. زنه ئې پر مخ ښخي ښـکاره او د فقراتو سـتون ئې، چي مخصوصه انساني انحناً لري، په داسـي ډول واقع دي، چي د سـمي ولاړي په حال کي ئې د نخاع شوکي تناو له لانـدي څخـه ســر تـه ور ننوځي او نو ځکه پر مخ وړاندي غوندي معلوميږي، لاکن په سپي کي بيا، چي د نخاع شوکي تناو د سر د شا له خوا څخه کلې ته ور ننوزي، نو که د ده سـر مځکي ته کښـته نه وي او د سـمي ولاړي په حالت کي سي، مثلاً په داسي ډول چي د شا پر دوو پښو رهي سي، نو د ده سر سيده انسان ته مخامخ کيږي.

د انسـان غاښـونه او زامي په دې ډول دي، چي لاسونه ئې دې ته ايله کړي دي، چي شـيان په ونيول سـي او په جنګ او يا ښـکار کي کار څني واخيسـتل سـي. همدې سبب دا امکانات برابر کړي دي، چي خوله د خبرو دپاره زيات استعداد او فرصت پيدا کړي.

انســاني ديد (ليدنه) هم ډېره اورشــو نيســي او د ماغزو بصــري مرکزونه تر هغو مرکزو ډېر لوی دي، چي د شامې له اعضاوو سره ارتباط لري.

اوس نو د انســان د مـاغزو مقـدار پـه زياته اندازه بالا کيږي، څو چي د لاســي مهارتونو او افزار جوړولو او اسـتعمالولو له اسـتعداده سـره ئې برابري پيدا کړي. دغه خبره د ډېر اهميت وړ هم ده، ځکه هغه ښخي غته بيزو، چي وسـله او افزار

نــه اســتعمــالوي، له بيالوجيکي نقطه‌نظره د ماغزو په مقدار کي تر شــا پاته ده. لومړی انسان بايد لږ تر لږه (۸۰۰ سي.سي.) ماغزه درلودلي وي. د گوريلا ماغزه (٦٥٠ ســي.ســي.) ته رســيږي. د اســترالوپي‌تيکس ماغزه هم دغونه دي او د پي‌تيک‌انتروپس د ماغزو مقدار د (۱۰۰۰ســي.ســي.) په حدود کي دئ. دا ټوله د اوسـني انســان د ماغزو تر حد اوسـط مقدار ډېر لږ دي، ځکه د اوسـني انسان ماغزه د (۱۲۰۰ او ۱۵۰۰سي.سي.) تر منځ ليدل کيږي.

د دې خبرو په رڼا کي نو معلوميږي، چي انســان له هغو انســان‌ته‌ورته بيزوگانو څخه په وجود نه دئ راغلی، چي نن ئې موږ وينو. انســان‌ته‌ورته بيزوگاني چي اوس ليدل کيږي، نسـبتاً اختصـاصي ژوند لري. د دې بيزوگانو د اوږو برخي ډېر انکشــاف کړی دئ؛ يعني غړي او ســينه ئې دايروي حرکاتو او لوړو شــيانو ته د ختلو دپاره پوره مســاعدت لري، خو د لېنگيو انکشــاف ئې خورا کمزوری دئ. هر څه چي ئې لاسـونه، گوتي، پښې او غاښونه دي، گرده د انسان له هغې څخه اسـاسـي فرق لري. د دې دپاره چي د انساني مبادي پيدا کړو، بايد ښه ډېر شا ته يوه پخوانۍ نوعه ايپ تر څېړني لاندي ونيسو، چي د اختصاصي ژوند ساحه ئې لږ وي. رشتيا هم په هره اندازه چي يوې بيرو له پخواني شکله څخه لږ تغير کړی دئ، هغونه بشـري خصـوصـيات ډېر پکښې ليدل کيږي. چمپانزۍ او گوريلا تر زياتي اندازې خپل هغه ابتدايي خصــوصــيات بايللي دي، چي تر اوســه لا د بشري تکامل په سلسله کي پاته دي.

اوس نو لومړی انســان بايد څه ډول وښــوول ســي؟ د دې ښــووني غټ ټکي دا دي، چي انســان پر دوو پښو دريږي او لاسونه ئې بالکل هر کار ته ايله او فارغه دي. ټولــه گوتي ئې داســـي حرکــاتو او فعــاليتو تــه امــاده دي، چي د بيزو دپاره

امکان نه لري. د ده بصـري ساحه دونه ده، چې د عادي کتلو په حال کې د یوه فوټ په اندازه لوړه فاصـله هم لیدلای سـي. له دې گردو خبره سره سره، انسان د یو داسې دماغ خاوند دئ، چې سربېره پر غټوالي د هغو ذهني فعالیتو دپاره هم استعداد لري، چې د ده د میموني اجدادو دپاره ئې امکان نه درلودی. دا یوازې د انســان په وس پوره ده، چې خپلې سـترگې د لاســو فعالیت ته متوجه کړي او دواړه د یوه کار په اجراء کې متمرکز کړي. د بیزو برخلاف انسـان کولای سي، د دخپلو متحرکو لاســو په ســاحه کې د بدني وضــع په هر راز حالت کې شــیان ولیدلای سـي. بیزوگاني چې ناسـتي وي، نو ځیني لاسـي فعالیتونه اجراء کولای سي، خو انسان داسې ټوله کارونه پر ولاړو پښو هم کولای سي. په بشري مهارتو کې دا خبره هم شـامله ده، چې کوم وخت د انسان سترگې په کتلو بل ځای اړې وي، نو په دې وخت کې دا ضـرورت نه لري، چې پر خپلو پښو باندې د موازنې د ساتلو په کار ئې هم توجه بنده وي.

د دې دپاره چې د افزار د جوړېدو او اسـتعمالېدو امکانات منځ ته را سـي، نو په کار وه، چې دواړې سـترگې توحید نظر ولري. دغه خاصـیت د هغو بیزوگانو او لیمورانو په وسـیله سر ته رسېدلی دئ، چې اکثره په درختو کې خیژي او لویږي، ځکه بې له توحید نظره د دې امکان نه سـوای پیدا کېدلای، چې په صحیح ډول له یوه ښـاخه بل ښـاخ ته وغورځي. همدارنگه په کار وه، چې سـمدم ودرېدای سـي، څو د افزار جوړېدو او اسـتعمالېدو ته ئې په پوره توگه لاسـونه ایله وي. د لمس ډېره حساسه قوه، چې د هغې دپاره د لاسو گوتې او په زیاته د گوتو سرونه په مخصوص ډول تیار سوي دي. همدا ډول ضروري وه، د انسان د لمس حسي قوه، چې تر بل هر حیوان ډېر زیاته ده.

د شمزۍ د مرکزي ناوې په سر کي دماغ لويېده وکړه او د ماغزو د قشر پراخي سلسلې له عضلاتي فعاليتونو سره ارتباط پيدا کړی. معلوميږي، چي د دغو جرياناتو په نتيجه کي نو د انسان عضوي استعداد د پيش‌بينۍ او پلان سنحولو دپاره را پيدا سو او هم دې جرياناتو پر هغو دماغي مرکزو تاثير واچاوه، چي د سترګو انسجام او د کلماتو تلفظ اداره کوي. اوس نو د زامو دپاره دا وظيفه نه سوه پاته، چي شيان په ونيول سي او يا د جنګ په حال کي کار ځني واخيستل سي. دمخه چي د خولې د غښتلو عضلاتو په نسبت په اوربُز کي ډېري غتمي او را وتلي برخي ليدل کيږي؛ هغه له منځه ووتلې او خوله د حرکاتو له پلوه ډېره دې ته اماده سوه، چي خبري په وسي.

د انسان په سترو خصوصياتو کي بل شی دا دئ، چي د زنکيتوب (صباوت) دوره ئې ډېره اوږده ده؛ يعني د هغه راز توافق دپاره د ده قابليت، چي د زنکيتوب په دوره کي ادامه لري، تر شل دېرش کاله پوري پر خپل حال پاته وي او د دماغ د لويېدو او تحولاتو تر اخرنيو مرحلو پوري دوام کوي. هر څونه چي دماغ په ځنډ او اوږده زمانه کي خپلي اخيرنۍ مرحلې ته رسيږي، هغونه د استعداد له مخي ښه ګنل کيږي. دا هم د دماغ له ښو خصوصياتو څخه ګڼل کيږي، چي د معلوماتو ځايولو ته تيار وي او د مهارتونو په زده‌کړه او د عاداتو په قبلولو مجهز سي او تاريخي پوهنه واخيستلای سي. انسان دا استعداد لري، چي ډېر کلونه ژوند وکړي، لاکن زوړ نه سي او هر کله د خپل تجربوي عقل په روڼا کي د ځوانۍ د دورې په شان د توافق او تحول مظاهر ښکاره کړي. په دې اساس نو د انسان د دايمي کورني تکامل، چي مترقي ډول همکارۍ او مسوليت ته تمايل لري، د انسان د ډېرښت او پايښت د خورا کاميابه طريقې په حيث

هغسي اولاد منځ ته را ولي او روزي ئې، چي هم ډېر تکړه او هم يو د بله سره د همکارۍ احساس لري.

## انسان له افزاره کار اخلي:

د انسان بدني او ذهني استعدادو دا امکانات برابر کړه، چي هم افزارونه استعمال کړي او هم ئې تيار کړي. په لومړي سر کي ئې د ډبري افزارونه درلوده، وروسته ئې بيا د هډوکي ستني را وايستلې او داسي چاکوگان ئې هم تيار کړه، چي د اورټک د ډبرو تېره تېغونه به ئې د لرگي په لاسو کي ټينگ کړه او د چاکو په شان کار به ئې ځني اخيستی.

د افزارو استعمالېدو دا هم غوښته، چي تر هر څه لومړی بايد انسان يو داسي خاص ډول ذهني انکشاف هم کړی ويو چي د هغه په اثر پر دې خبره قدرت ولري، چي د خپل افزار د فعاليت په باره کي د پيش‌بينۍ خاوند وي، سربېره پر دې په خپله د افزار د جوړېدو دپاره بيا دغه راز پيش‌بيني بېخي ضروري وه، ځکه يوازي د دغسي استعداد په وسيله د شيانو د استعمال ډولونه تر جوړېدو دمخه تصور کېدلای سي.

افزار د غايې لوري ته يوه غيرمستقيمه لاره گڼل کيږي، ځکه افزار وسيله ده. دغه خبره دا مفهوم هم کښېباسي، چي دماغ کومي غايې ته د رسېدو دپاره په فراغت چورت وهي، څو يوه وسيله ايجاد کړي او داسي نه کوي، چي د خارجي نړۍ له اغېزو څخه د را پاڅېدلو احساساتو په مقابل کي په تش يو فوري عضلاتي عکس‌العمل سره موازنه برابره کړي. انسان فراغت لټوي، چي په کوم شي کي چورت ووهي. د احساس او عمل تر مابين افکارو ته ځای ور پيدا

کوي او دا افکار نو د کومي آلې، افزار، تدبیز او کوي نخشې په باره کي وي.
خو د حیوان د تکامل لاره بیا بل راز ده؛ حیوان افزار نه جوړوي، لاکن د ثابت توافق پر اساس ئې د عکس العمل له ټاکلو او خاصو ډولو سره خوی نیولی دئ، چي د مخصوص محیط او د ژوند د مخصوص طرز سره ارتباط لري؛ مثلاً مول نومی حیوان چي تر مځکه لاندي غارونه جوړوي، د ده هډوکي، پوست، سترگي، ټول غړي په دې راز جوړ سوي دي، چي د نغمونو د کښلو دپاره مساعد دي او بې‌له دې کاره څخه بل راز استعداد نه لري. نو کوم چي یو پلا دغه راز ثابت توافق ته ورسیږي، هغه بیا نه سي کولای، چي تغیر وکړي او بل شی ځني جوړ سي. دغسي حیوان بې‌له خپل ټاکلي اختصاصي کاره څخه نور څه نه سي کولای او له هره حیثه د ده کارونه اختصاصي جنبه لري. که شرایط تغیر وخوري او دی له نوو ایجاباتو سره توافق و نه لري، نو دی په خپله او د ده د وجود مرکب ساختمان پر یوه مخ له منځه وځي.
خو انسان دغه راز محدودیتونه نه لري، علاوه پر دې په خپلو افزارو سره هغه ټوله کارونه سر ته رسولای سي، چي اختصاصي حیوانات ئې د قطري توافق پر اساس اجراء کوي. دا لا هم کولای سي، چي د نوو شرایطو د مقابلې دپاره له ناکاره او بې‌کاره افزارو څخه لاس اخلي او پر ځای ئې خورا مؤثر او نوي افزارونه را باسي.

## زیاتېدونکی توپیر:

د دې عبارت معنی دا ده، چي اوس نو د انسان او د ده د اجدادو تر منځ توپیر را ښکاره کیږي او دا توپیر په خورا چټکی زیاتیږي، څو په نتیجه کي انسان دا

توان پیدا کوي، چې تر هغو لوړنیو ابتدایي مرحلو ډېر مخ ته ولاړ ســـي، چې د هغو په ســلســله ئې وار د واره خپل توپیر را شــروع کړی وو. اکثره موږ ته هغه تاریخي زمانه، چې تکنالوجیکي انکشــاف ســرته پکښــي رســېدلی دئ، خورا اوږده معلومېږي، خو پــه حقیقــت کي دا دوره لنــډه ده، ځکــه د انســـاني بــدن تحولات که له تکنالوجیکي انکشـافاتو سره مقایسه سي، نو لیدل کیږي، چې په خورا لنډه زمانه کي ډېر تکنالوجیکي انکشــاف منځ راغلی دئ؛ په داســي حال کي چې په دغه اندازه زمانه کي د بدن د تکاملي تحولاتو مقدار نسبتاً بېخي کم دئ. دلته مطلب له تکنالوجیکي انکشـــافه څخه د نوو افزارو اختراع او د ټولني هغه پرله‌پســې تشــکیلاتي تحولات دي، چې د تکنالوجیکي پرمختګ په حکم هم ممکن او هم حتمي ګرځېدلي دي. سر له اوسه نو پرمختګ او ارتقاء د دماغ په کار اچولو، د افزارو په انکشــاف، د بشــري ابتکار او انتخاب په اســتعداد په بشري فعالیتونو او بشري اهدافو پوري اړه لري. بشري تکامل نو اوس بیالوجیکي تکامل نه دئ. د تحول او بقاء ټوله پخواني شکلونه نو اوس چنداني مهم نه دي، بلکي یوازنی شـــی چې د تحول او تغیر لــه پلوه لوی اهمیــت پیــدا کوي، هغــه کلتوري، تکنالوجیکي او تشــکیلاتي مؤســســات دي، چې تل تر تله د انســان د نخشې او ارادې سره سم له یوه حاله بل حال ته اوړي.

## افزارونه او ټولنه:

د افزارو اســتعمال او د هغو زیات انکشــاف یوازي په ټولنه کي په ســر رســېدای ســـي، ځکه له افزارو څخه کار اخیســـتل یو فطري امر نه دئ، بلکي باید ځوان نســـل ئې لــه زاړه نســـلــه څخــه زده کړي. کــه افراد جلا جلا وای او ټولنه ئې نه

درلوداى، نو د هر يوه د مړيني سره به ئې هر راز زده‌کړي کمالات هم له مابينه وتلاى. لاکن په ټولنه کي هره اختراع او هر کمال هم ساتل کيږي او هم له يوه نسله بل ته پاتيږي. دغه اجتماعي ژوند چي د افزارو د انکشاف اساسي شرط ګڼل کيږي او هم د دې افزارو په سويه د ټولني د انکشاف زمينه برابروي، وار د واره په حيواني نړۍ کي را شروع سو، لاکن د انسان پر لاس ئې د ډېري زياتي توسعې او تکميل مراحل ووهل. دې ګرده جريان بې‌له هغي قوې څخه امکان نه درلودی، چي هغه بايد د افزارو له اختراع سره ملګرې او هم د افزارو د استعمال او انکشاف له پاره لازمه ده؛ دا قوه د بيان قوه ده.

په داسي حال کي چي دماغ خپل فعاليتونه اداره کول او خپل فوائد ئې څرګندول او د قامت سموالی د ده د اجراآتو ساحې ته تر ډېري اندازې د توسعې امکانات برابر کړي وه او د بيان له لاري ګرده کمالات په ټولنه کي خپرېده او همکارۍ ګټې منځ ته راتلې. نو د دې شرايطو په جريان کي له لاسه څخه هغه اساسي کيلي جوړه سوه، چي د بشري سلوک نوي او پراخي اورشو ته ټولي وتلي لاري پرانيزي.

# بشر شيان جوړولای سي!

تر دوه زره کاله لا ډېر دمخه یونانیان په دې وپوهېده، چي انسان یو بې‌ساری مخلوق دئ او لوی قوت لري. هغه زمانه د لومړي پلا دپاره انساني نوعي خپل ځان وپېژندی. دغه د انسان پېژندني فکر په خورا ښه توگه په هغه گډه بدله کي راغلی دئ، چي سوفوکلیس (Sophocles) د انتي‌گوني (Antigone) په ډرامه کي راوړې ده. د هغې بدلي ترجمه داسي ده:

«عجائبات خورا ډېر دي، لاکن د انسان بچی تر هر شي عجیب دئ. دی د سپین دریاب پر مخ صفونه تړي، د ژمي په باد کي خپل پلانونه تعقیبوي؛ په چمو کي استاد دئ.

خبري ئې زده دي او فکر ئې تر باد چټک دئ. دی استعداد لري، چي د ښار کلا جوړوي. ټوله شیان ئې په خپله زده کړي دي. کله چي د غشي په شان بارانونه اوري، کله چي سخت یخونه شروع وي، د ژمي تر لوی اسمان لاندي دی د ټولو دپاره خوري لري.»

د یوناني فلسفې په زړه کي داسي یوه نظریه موجوده ده، چي دغه ټوله بیان یو ځای په هغه نظریه کي راغلی دئ. هغه نظریه چي د دغه بیان مفهوم ډېر ښه روښانه کولای هم سي، پر دې خبره بنا وه، چي د انسان ماهیت او د انسان موقعیت د نړۍ د ټولو شیانو په منځ کي وښیي. یونانیان تر بل هر شي په دې برخه کي هم د زیات جرئت او هم د ډېر معقولیت خاوندان وه، چي بشري موجودیت ئې وښووی او د بشري استعدادونو او ارزښتونو په باب کي ئې ډېري خبري روښانه کړې. دوی هم دې خبري ته قایل وه، چي انسانان په خپل ځان

کي د احترام وړ دئ او هم ئې دا منلې وه، چې انسـانان باید هغه ژوند لاس ته را ولي، لکه نن چې موږ تر یوې اندازې په پوهیږو.

## افزارونه او فکر:

انسان پر طبیعت غښتلی سو. د مدني ژوند له ایجاده سره ئې مدني کلتور منځ ته را وســتی. د فکر او عمـل د انکشــاف لویه تانســته ئې د فکر او عمل د ذاتي وحـدت پر اســاس بـانـدي را پیدا کړه. همدارنګه ئې ډېر پرله پېچلي اجتماعي شــکلونه او متشــکل ذات‌البیني روابط، چې د دې انکشــافاتو دپاره لازم وه، په وجود را وسـته. داسي ټوله شیان په دوی کي شامل د اخلاقي ژوند جریانات ور ســره لـه هغو مبـادیو څخـه را وپـاځېـده، چې د یو عامل په حیث ئې د حیواني اشـکالو په سـلسله کي بنیادي تغیر منځ ته را وستی او همدغه عامل د دې سبب سـو، چې انسـان ته پر نور طبیعت باندي په داسي حال کي تفوق ور کړي، چي په خپله هم د طبیعت جزء ګڼل کیږي. دا تحول نو له صـفره را شـروع سو او هر شی ځني جوړیږي.

ماغزه هغه اورګانونه دي، چې د حسي معلوماتو او حافظې په اساس باندي خپل فعالیتونه سـمبالوي او اداره ئې کوي. همدا اورګانونه دي، چې د افزارو او اسبابو د اسـتعمال بېلي بېلي لاري انتخابوي او د خپلو نخشـو په باره کي، چې یو په بل پسـي تر څو مرحلو تېریږي، له مقایسې او سنجشه څخه کار اخلي. ماغزه داسي نه کوي، چې تش د انعکاسـي عمل په شـاني او یا د مېخانیکي عادت په سـایقه یو فوري عکس‌العمل صادر کړي، بلکي غور، فکر او سنجش د ده خصوصیات ګڼل کیږي. دماغ هغه جهاز دئ، چې کله د څو شـیانو په منځ کي یو شـی غوره

کوي، نو د تعقل او تېري تجربې په رڼا کي د یو شمېر شیانو تر منځ د مقایسې او مقابلې او انتخاب وظیفه اجراء کوي. په دې اساس نو پرمختګ یو اوتوماتیکي جریان نه دئ اونه هم د طبیعي انتخاب یوه مسئله ده، چي د ګڼورو تحولاتو په سلسله منځ ته را ځي. دا نه ده ممکنه، چي پرمختګ پرته له بشري انتخابه، پرته له بشري زیاره او پرته له بشري هدفه، چي د تکامل معنوي اړخ ګڼل کیږي، سر ته ورسیږي.

لکه احتمال چي ئې لیدل کیږي، د دماغ تر انکشاف دمخه وار د واره لاسونه او خپڼي دې ته اماده سوه، چي آزادانه فعالیتونه وکړي او همدې جریان زمینه برابره کړه، چي د طبیعي انتخاب په اثر داسي قوي عوامل منځ ته را سي، چي د سر د کاسې د غټېدو او د عصبي نظام د انکشاف په برخه کي هر راز تکاملي جریانونه مخ ته بوځي او هم په دماغ کي داسي تحولات او استعدادونه را پیدا کړي، چي د افزارو د جوړولو او استعمالولو په کار کي مرسته وکړي. دغه یوه بیالوجیکي څېړنه ده او هغه فرضیه له مابینه وړي، چي وایي: بشري فکر وار د واره په خپله د دماغ د وړي په اثر منځ ته راغلی او بیا نو وروسته د ده په وسیله افزارونه را وایستل سول او تر استفادې لاندي ولوېدل.

پوهه یوه داسي ملکه نه ده، چي تر مخ یو چیري په عاطل حالت کي پرته وي او بیا نو غونډه پر یوه ځای په یوه پلا انسان ته ور کړه سي؛ بلکي له هغو افکارو څخه جوړیږي، چي د ژوند د اغېزو او اړتیاوو سره برابر بېل بېل شکلونه نیسي او له یوه حاله بل ته اوړي. حیواني عکس‌العملونه د غرایزو او عاداتو په وسیله سر ته رسیږي. دا عکس العملونه په اصل کي د حیوان د هغه اختصاصي ساختمان وظایف دي، چي د یوې سلسلې تحولاتو په نتیجه کي را پیدا سوي

دي. خو د انســان عكس العملونـه لـه دغو ســره بېخي توپير لري، ځكه دی د ضــرورت په وخت كي مناســب افزارونه را اخلي او اســتفاده څني كوي. د دې افزارو ســره نو انســان لكـه يو نوی موجود غونـدي، چي په نوي اورگان مجهز سـوی وي، د خارجي نړۍ په جرياناتو كي تصـرفات كوي. د انسـان فعاليتونه په مستقيم ډول كوم شي ته متوجه نه وي، بلكي د ده اكثره كارونه د افزارو په وسيله اجراء كيږي او غيرمســتقيم گڼل كيږي. بشــري فكر په خپله د خارجي اغېزو په مقابل كي يو غيرمستقيم فعاليت بلل كيږي، ځكه همدا فكر انسان دې ته واداره كوي، چي له افزارو څخه كار واخلي. د فكر جريان دا شــكلونه پيدا كوي، چي يو شــي ته قصــد وســي، يوه خبره له بلي څخه اســتنباط ســي او يوه نخشــه تر سـنجش لاندي ونيول سـي. د دې تحولاتو په اثر نو د دماغي جرياناتو عضـوي سـلسـله همدا رنگه بايد تغير ولري. د انسـان په مورد كي نو داسـي نه ده، چي د اغېزې او د دمـاغ د عكس العمـل د مركز (motor response) پـه منځ كي مســتقيمه رابطه واقع ده، بلكي د ماغزو له نورو قشــري (Cortex) ســاحو ســره نوي پيونـدونـه او نوي موازنې هم لري. څـه رنگـه چي افزارونه ډول ډول دي او هم د اســتعمال بېلي بېلي طريقې لري او هم د يوه شــي دپاره څو رازه نخشــې سـنجول كېدلای سـي، نو لازمه ده، چي دوی يو د بله سـره مقايسـه سـي او هغه پكښــي غوره ســي، چي ښــه معلوميږي. په دې ترتيب نو د فكر جريان ځان ته اســتقلال پيدا كي، ځكه د كارونو په باب كي پيش‌بيني د دې ســبب كيږي، چي هم د افزارو د ساختمان په حصه كي او هم د هغو د راز راز استعمالېدو په برخه كي تر وخـت دمخه تياری ونيول ســي. په دې اســاس نو افزارونه د دې خبري

لوی عامل سوه، چې زموږ د حیوان‌وزمه اجدادو له ذهني جریاناتو څخه بشري‌فکر انکشاف را وکړي.

نو د افزارو د استعمال سلسله لکه څنګه چې ئې د ژوند احتیاجات ایجابوي، نسبت د حسي تاثیراتو تر سلسلې، چې انفعالي شکل لري، ډېره مؤثره او زیاته فعاله ده، ځکه افزاردونه چې تر استعمال لاندي وي او د عملي جریان په حالت کي زموږ پوښتنو ته د نړی له خوا جوابونه را کوي، نو دا کار د نړی تر تشي تشاهدې خورا ډېر اغېزناک بلل کیږي. فکري سلوک د شرطي انعکاس او حیواني عادت سره ډېر توپیر لري، ځکه دغه سلوک نه یوازي دا چې د سمدستي حسي ادارک له خوا څخه اداره کیږي، بلکي د یوې داسي پیش‌بینی په اساس باندي کار کوي، چې د کومي غایې د پوره کولو دپاره تر وخت دمخه لا د تخیلي ادراک له لاري د کومي نخشې په باب کي سر ته رسېدلی وي. همدغه د وسطي فعالیتونو مرکبه سلسله ده، چې د دې په اثر د تلکو تیارول، د ښکاره دپاره د وسلو جوړول او داسي نور ګرده سامانونه منځ ته راغله.

## افزارونه، فکر او بیان:

د افزارو او فکري جریان په څنګ کي نو د بیان سلسله هم را پیدا سوه. دغه درې سره شیان په لازمي ډول یو په بل پوري ذات البیني ارتباط لري. حیوان چې یو شی محسوس کړي، نو د خپل هیجان او یا عکس العمل د څرګندولو دپاره داسي نارې وهي، چې نور خبر کړي او د هغو ادراک د هغه آن دپاره را وپاڅوي. خو د انسان الفاظ هغه سمبولونه دي، چې پر شیانو او فعالیتو باندي عمومي دلالت کوي او په داسي حالاتو کي کار ځني اخیستل کېدلای سي، چې هلته یوازي د آني او سمدستي ادارک را پاڅېدو ته ضرورت نه وي، بلکي

یا تېر سـوي واقعات را بیانیږي او یا د آینده دپاره پلانونه سـنجول کیږي. په دې برخه کي نو هم لکه د افزارو د اسـتعمال په حصـه کي انساني نړۍ د حیواناتو له عالمه سره خورا ډېر توپیر لري. افزارونه خبري او بیان ایجابوي او بیان بیا په دې سـبب، چي لفظي سـمبولونه خپلي معناوي لري، څرګند مفهومونه او د منطقي تفکر سـلسـله وجود ته را ولي. افکار نو د علت او معلول حکمونه په داسـي عمومي اشـکـالو کي تمثیلوي، چي پـه بېلو بېلو زمینو کي کـار ځني اخیسـتل کېدلای سي.

دې عواملو دا ایجـاب کړه، چي د بیـان د قوې دپاره په دماغ کي یو خاص مرکز انکشاف وکړي. دا مرکز چي د ماغزو په قشر کي د تندي د را وتلي برخي کښتي خوا ته او د هغې په شـاوخوا کي واقع دئ، د هغو محرکو مرکزونو ادامه ده، چي د سـتوني او خولې فعالیتونه اداره کوي او نژدې ور سـره پراته دي. دغه د ستوني او خولې مرکزونه همدارنګه د لاسـو او خپړو محرکو مرکزو ته خورا نژدې واقع دئ.

بیان او خبري د معلوماتو مبادله ده، د هغو شرایطو په باب، چي د ژوند په مبارزه کي یو ډول اهمیـت ولري، خو د حیوانـاتو نارې تش یو رقم سـګنالونه دي. له دې سـګنالو څخه صـرف د سـګنالو یوه سلسله جوړېدلای سي، لاکن له بشري الفاظو څخه هغه جملې جوړېدلای سـي، چي د الفاظو تر مجموعې زیاته معنی ور کولای سـي. حیوانات جملې نه سي جوړولای، هغه کار چي د حیواني نارو په وسـیله سـر ته رسـیږي، یا دا وي چي د کوم وروسـتني عمل دپاره امادګي په وجود را ولي او یا خو د کوم جاري فعالیت په نسبت یوه داسي مرکبه لار معرفي کوي، چي دا هم بې‌لـه نوري لارښـووني څخـه پـه سـمـه توګه نه سـي اجراء

کېدلای. خو بیان او خبري بیا د راتلونکي عمل دپاره د تیاري نیولو په برخه کي د خورا مهمي وسیلې په شان کار ور کولای سي، ځکه د بیان په وسیله پر یو شي باندي غور کېدلای سي او تر استدلال لاندي څېړل کیږي او همدا وسیله ده، چي د فردي او شخصي تجربو په یو ځای کولو او سمبالولو کي کار ور کوي. بیان نو اوس د افکارو د مبادلې وسیله ده او د بشري ژوند یوه مخصوصه ځانګه تشکیلوي. له بیانه څخه نو داسي وسیله تیاریږي، چي د یوه فرد پوهنه ګرده ټولني ته رسوي او هم د اجتماعي پوهني تاریخي مجموعه د نوي نسل ټولو افرادو ته ور زده کوي.

بیان یو اجتماعي رکن دئ. د بیان په وسیله بشري همکاري سر ته رسیږي او همدا وسیله د انسانانو راز راز فعالیتونه تر انسجام لاندي را ولي او د ګډو مقاصدو د حصول دپاره یو د بل سره ارتباط او انتظام ور کوي. که ټولنه نه وای، نو بیان او خبري به هم هیڅ کله نه وای را پیدا سوي.

## د ټولني پیدایښت:

د افزارو استعمال او هم دغونه مهم د افزارو انکشاف پرته له ټولني څخه امکان نه درلودی. د افزارو د تیارولو او استعمالولو مهارت دا غواړي، چي نوی پښت ئې له زاړه څخه باید زده کړي. که افراد سره جلا جلا وای او ټولنه ئې نه درلودای، نو د هر فرد د زده کړي مهارتونه به د هغه د مرګه سره له مابینه وتلای. د دې خبري په اساس نو اجتماعي ټولنه دوامداره او غیرفاني ګڼل کیږي. د افزارو د تیارولو او استعمالولو پوهنه یوه اجتماعي پوهنه ده. هره اختراع او هر کمال په ټولنه کي هم ساتل کیږي او هم یوه څخه بل ته انتقالیږي. بشري ژوند

او پرمختګ هر کله د افزارو په انکشاف پوري اړه لري. د حیواناتو هر صنف د خپلو اختصاصي اعضاوو په سبب د ژوند د یو اختصاصي طرز دپاره خورا جوړ وي او هم د هغه اختصاصي ژوند سره د بشپړي موازنې خاوند وي. خو که شرایط تغیر وخوري، نو هغه صنف په دې سبب چي د اختصاصيتوب په نسبت تغیر نه سي کولای، بالکل له مابینه وځي. هر څه چي د انسان افزارونه دي، دا هم الیشیږي (بدلیږي)، هم ئې نیمګړتیاوي اصلاح کیږي او هم یو د بل په ځای کي استعمالیدلای سي. انسان هره خوا کولای سي او د ده کارونه په یوه اختصاصي ډول پوري محدود نه دي. کله چي شرایط تغیر وخوري، نو انسان له منځه نه ځي، لکه د ډایناسور او شمشېرغاښي ببریانو انواع، چي په خپل وخت کي له منځه ولاړل؛ بلکي په عوض کي تر وخت تېر افزارونه او زړې طریقې پریږدي او نوې تولنه په نوو سره الیشوي. دا خبره له هغه جمله حقایقو څخه یو مثال دئ، چي د انساني او حیواني تکامل تر منځ فرق را ښوولای سي.
د الاتو د استعمال په ساحه کي نو بادوامه او زیاتېدونکی انکشاف پرله پسې جریان لري او دې وسیله نو انسان پر طبیعت باندي حاکم کیږي او د ځمکي باداري لاس ته را ولي. په دې کارو کي نو دا خبري هم شاملي دي، چي روایات پښت پر پښت ادامه لري، تخنیکي میراثونه له یوه نسله بل نسل ته پاتیږي، له نوو افزارو او ماشینانو څخه د همکارۍ په اساس استفاده سر ته رسیږي او په هغو بشري تشکیلاتو کي چي دغه افزارونه تر استفادې لاندي را ولي، یو په بل پسي اصلاحات منځ ته را ځي.
د دې خبرو په رڼا کي نو ویل کېدلای سي، چي ټولنه د افرادو یوه اتفاقي او تصادفي مجموعه نه بلل کیږي. هغه اوسنۍ فلسفې چي د فرد په برخه کي ډېره

مبالغه کوي، اکثره دغه ټکی له نظره اچوي. اصـــلي خبره دا ده، چي په ابتدايي اولسونو کي جمعيت اوله درجه ګڼل کېدی او فرد دوهمي درجې ته وتلی وو. د جمعيت اهميت تر اوسه لا هم پر خپل ځای پاته دئ. دا ګومان بېهي غلط دئ، چي صـــرف هغـه فرد، چي د جمعيـت له اداري وتلی وي، يو نارمل او مطلوب شـخص ګڼل کيږي. که حيوانات دي او که انسـانان دي، دواړه د دې دپاره چي يو له بله سره وساتي او مرسته وکړي، اجتماعي ژوند ته اړ دي. جمعيت د خپلو غړو لـه تجربو څخـه ګټه اخلي او غړی بيا د جمعيت له يو ځای ســـوي تجربې څخه استفاده کوي. تر ټولو مهمه خبره خو لا دا ده، چي ځوان نسل وساتل سي او د جمعيـت پـه ســـاحه کي هر غړي ته پوره زمينه برابريږي، چي تر پاخه هډه ورســـيږي او نور هم وزيږوي. پـه دې ډول نو ټوله هغه صـــفات دايمي شـــکل اخلي، چي د ټولني د ژوند دپاره اساسي بلل کيږي.

## د يو ځايي ژوند زده کړه:

د اجتماعي سلوک ټوله پياوړي ډولونه که د اجتماعي غرائزو په اثر را پيدا سوي دي او کـه د اجتمـاعي تلقيناتو په اثر عادت ســـوي دي، ګرده د هغو ميراثو يوه برخه تشکيلوي، چي له يوه نسله بل ته پاتيږي او د بشري بقاء دپاره غټ اهميت لري. د سـلوک دا اقسـام نو د ټولني د ټينګېدو او هغې ته د شـکل ور کولو او د هغې د ســـاتني لوی عوامل دي. هر فرد په ډول دا ومنله، چي د ده موجوديت د خپـل جمعيـت لـه دوامه ســـره تړلی دئ، ځکه د تنازع‌للبقاء په ميدان کي ئې د خپل ځان د سـاتلو پرته له جمعيته بل امکان نه ليدی. په دې اسـاس نو د ځان د ســـاتني عميقي غريزې ارو مرو د جمعيتي احســـاس رنګ واخيســـتی. ټولنه يوه

فعاله هستي ده او د زوروروو اجتماعي قواوو په اثر ئې يو متحد شکل اخيستی دئ. په ټولنه کي گرده فعاليتونه د همکارۍ په اساس دي. بيان د همکارۍ وسيله ده او دا امکان برابروي، چي يو له بله تفاهم را سي، روابط پيدا سي، معلومات او تعليمات يو و بل ته سره ور کول سي، پر يو شي باندي غور وسي او نخشه ورته وسنجول سي. د بقاء دپاره د گډي مبارزې په ميدان کي همدا وسيله حتمي او لازمي گڼل کيږي. د يو له بله مرستي په اساس باندي د کار جيان، د افکارو او احساساتو تلقين، د هر ډول رواياتو او مذهبي مراسمو په شمول ټوله بدلي، مېلې او داسي نور کارونه ئې له بيان او خبرو څخه سر ته نه سي رسېدلای. بيان ټوله تجربې سره يو ځای کوي او د اجتماعي افکارو انکشاف او انسجام هم په دې وسيله اجراء کيږي. د همدې جريان په نتيجه کي نو د مؤثرو اقداماتو دپاره له پوهني څخه يو اساسي او عيني بنسټ تياريږي.

## د پوهني ميراث:

ټولنه د خپلو رواياتو او عنعناتو په ميراث پايي. که يو پر بل باندي پوهني او ساينس تاثير نه اچولای، نو د تخنيکي الاتو انکشاف ادامه نه سوای موندلای. له بيانه څخه د بشر د عالي پرمختگ وسيله تياره سوه او د يوې نوي تکاملي لاري زمينه ئې برابره کړه. ځکه د بيان له لاري پوهنه له يوه څخه بل ته انتقاليږي او تحولات پکښي را ځي او دغه راز جريانونه په لومړي سر کي د رواياتو په سلسله روان وه او بيا وروسته ئې چاپي کلماتو ځای ونيوی. همدا پوهنه په وار د واره کي له سرسري حقائقو او عادي تدابيرو څخه جوړه سوې وه، خورا وروسته ئې د علمي پوهني هغي مجموعې ځای ونيوی، چي تر اصولي تجربو او

ازموینو لاندي ثبوت ته رسیږي. نو اوس هغه څه چي د پوهني په برخه کي ثې موږ لرو، د توارث یو نوی مېکانیزم دئ، چي په هغه کي د اکتسابي تجربو انکشافي انتقال هم شامل دئ او دغه جریان د تکاملي تحولاتو په سلسله کي خورا چټک جریان ګڼل کیږي.

په بیالوجیکي ډول د اکتسابي خواصو توارث چنداني ثبوت ته نه دئ رسېدلی، خو د بشري پوهني په برخه کي چي کله یو حقیقت په لاس راوړل سي، نو بیا له منځه نه ځي؛ ځکه د دغسي یو حقیقت زده کړه د جرثومي پر پلازم باندي ځان نه چاپوي، بلکي پر ذهن باندي چاپیږي. اذهان ثې نو له یوه څخه بل ته رسوي او په دې ترتیب له یوه پښته بل ته پاتیږي. نو هغه څه چي د دماغ په ساحه کي له ارثي تغیراتو څخه استقلال لري، په ثابت ډول را غونډیږي او د پېړیو په وران کي د ښووني له لاري یو و بل ته انتقالیږي. د پوهني دوامداره او انتقالي سلسله په دغه ډول منځ ته راغلې ده او ورځ په ورځ پسي زیاتیږي.

## د پرمختګ اساس:

د حیواناتو په ټل کي انسان هغه یوازنی نوعه ده، چي د را پیدا کېدو له وخته په خپلو عاداتو او د ژوندون په طرز کي تر دایمي تغیر لاندي ده. په همدې ترتیب نو بشري طبیعت او ټولنه ساکن حالت نه لري او هر کله ثې په ثابت ډول پرمختګ کړی دئ.

دا خبره نو له دې سره تناقض نه پیدا کوي، چي ولي ځیني ټولني د ړنګېدو حالت ته رسېدلي او یا پر شا تللي دي او یا ځیني مدنیتونه پر یوه مخ ړنګ سوي دي؛ ځکه دا هغسي خبره ده، لکه د حیواني تکامل سلسله چي له دې سره

تناقض نه لري، چي ولي د ډايناسور او يا نورو طفيلي حيواناتو انواع ورک سوي دي.

حيواني نړۍ ته چي گورو، نو هر انکشـاف ئې هغه وخت سـر ته رسـېدلی دئ، چي نوي انواع منځ تـه راغلي دي او زاړه انواع يـا له منځه تللي دي او يا شـــا ته وهل ســوي دي. هره نوع چي وينو، هغه د خپل موجوديت په ټوله دوره کي پر يوه خيـال پـاتـه او بې‌تغيره ليـدل کيږي؛ له دې حيثه نو دغه انواع تاريخ نه لري. لاکن کله چي بيا انسـان ظهور وکړی، نو له ده سـره سم تاريخ هم را شروع سو، ځکه تاريخ د انسان له تغير او تحوله څخه عبارت دئ.

انســان تقريباً شــپږ څلوېښــت او يا پنځوس زره کاله دمخه په واقعي توگه دې ته شـــروع وکړه، چي پـه بريـالی توگـه افزارونه تيار کړي. دغه زمانه ښخي لږ ده او نسـبتاً پرون گڼل کيږي. «دغه وخت يو نوی شی؛ يعني افزار منځ ته را غی. دغه افزار يوه ډبره وه، چي د لاس د اسـتعمال دپاره په لاس تياره سـوه. همدغه زمانه يو نوی حيواني ږغ د خبرو د اوازو په شان منځ ته راغی[13].»

د يخي د زمانې د څلرمي او اخرنۍ دورې په وروستنيو مرحلو کي د هغه ابتداي کلتور پر ځـای بـانـدي، چي د مـاوس‌ټيري (Mousterian) پـه نـامه يادېږي، نـابوبره د ناتوړلي ډبري د لومړنۍ دورې کلتور منځ ته راغی. په دې دوره کي له يوه ځـايـه بـل تـه خورا ډېر مهـاجرتونه کېده او د کلتوري تکامل په حرکت کي زيـاتـه چټکي را پيـدا ســوه. د نوو روايـاتو او عنعنـاتو خـاونـدانو ډېر عجيـب اختراعات کول. دوی خورا زيات رقمونه اختصـاصـي افزارونه او وسـلې تياري

[13] د Sherrington له هغه اثر څخه، چي «دماغ او د هغه جهاز» نوميږي.

کړې او چیري چي لرګي لړ پیدا کېده، دې تـه ئې مخـه سـوه، چي له هډوکو
څخه د شـیانو د جوړولو په کار کي استادان سي. ځینو ئې د جمال او ښکلا په
برخه کي هم کامل فکر پیدا کړی وو او داسـي هنري مهارتونه ئې ښکاره کول،
چي حتی د وروسـتنیو دورو مهارتونه هم تر هغو چنداني نه دي اوښـتي. دغه د
نـاتوړلي ډبري د زمـانې کلتوري انکشـافات وه، چي د مغارو د جوړولو فن ئې
هغي عالي سویې ته ورساوه، چي نمونې ئې د هسپانیې په التامیرا (Altamira)
او د فرانسـې په لسکاکس (Lascaux) نومو ځایو کي لیدل کیږي. د دې مغارو
اکثره تصویرونه د حیواناتو شکلونه دي او غالباً په دې فکر رسم سوي دي، چي
په دغه رسـمېدو سـره نو دوی پر دغو حیواناتو باندي یو ډول سـاحرانه تصـرف
پیدا کړی دئ. دې خلګو خپل بدنونه په ګېڼو ښـایسـته کول او خپل مړي ئې په
مراسـمو ښخوله. د همدې دورې خبره ده، چي د اروپا په هغو سیمو کي، چي د
اهاکو ډبري پیدا کیږي، د اقلیم د سـختو شـرایطو د توافق په سـلسـله د مغارو
اوسـېده یو عام رواج وګرځېدی. د دغه وخت له کلتوري اقسـامو څخه بېخي
پخوانی نمونه د اریګنه‌شین (Aurignacian) کلتور دئ. د دوی امتیاز دا دئ،
چي د شـیـانو د جوړولو دپـاره ئې د هـډوکو او ښـکرانو د ماتولو، اره کولو او
سـولولو لاري را وایسـتلې. د هډوکو په صـنعت کي ئې دا هم شـامله وه، چي
ښـوی مېخونه او نیرې ئې ځني جوړولې. همدارنګه ئې د اورتېک د ډبري تېغو
ته د هډوکي او یا لرګي لاستي ور تیاروله. په وروسته زمانه کي ئې لا دا هم پسي
وینو، چي د هډوکو الات ئې په هندسـي اشـکالو سـره ښکلي کوله او یا د ښځو
کوچنۍ مجسـمې ئې له هډوکو او عاج څخه جوړولې. دې خلګو د سـر لباس
هم درلودی او داسـي امېلونـه ئې پـه غاړه کول، چي د حیواناتو له غاښـو او یا

سوري کړي گوجيانو څخه به جوړ سوي ول. دغه نو د اساسي تحول پايلامه وه، ځکه د هغه ورو ورو بيالوجيکي انکشاف پر ځای، چي د نوو انواعو د تدريجي ظهور په سلسله سر ته رسېدی، اوس نو يو چټک انکشاف منځ ته راغی او د هري تاريخي دورې له راتلو سره ئې د تحول درجه مخ پر زياتوب وه. دا انکشاف چي نن تر هري ورځي چابک دئ، له لومړي سره څخه تر اوسه د يوې ثابتي نوعي په ساحه کي سر ته رسيږي.

د بقای اصلح قانون نو اوس اساسي پارت ادا کوي، لاکن اصلح هغه څوک دئ، چي په ښه توگه مجهز وي. کوم څه چي د انتخاب د قانون له مخي اوس اهميت پيدا کوي، هغه آلات، افزار او د تشکيلاتو طريقه گڼل کيږي. په هغه زمان کي چي د حيوان الات د هغه د بدن اجزا وه، مثلاً لکه د يو حيوان پښې، غاښونه او نور، نو په دې وخت کي تغير او تحول ببخي سوکه وه. په همدغه زمان کي، چيري چي د ژوندانه مبارزې زور واخيستی او په دې جريان کي به نوي حيوانات د ښه مساعد ساختمانه سره منځ ته راغله، نو به ئې د پخوانو حيواناتو انواع پسي واخيستل او پر يوه مخ به هغه ورک سوه. مثال ئې تي لرونکي حيوانات دي، چي کله دوی را پيدا سوه، نو ځکېدونکي حيوانات ئې پسي واخيستل او د دوی ځای ئې ونيوی. خو د انسان په مورد کي بيا خبره داسي ده، چي د ده تجهيزات د ده افزارونه دي؛ په دې افزارو سره خپله مبارزه مخ ته وهي او پرله پسې خورا ښه افزارونه لاس ته راوړي. د انساني انکشاف چټکي د افزارو د اختراع او جوړېدو د انکشاف په اندازه ده. انساني په داسي حال کي چي انکشاف کوي، خو بدن او ماغزه ئې د کميت له پلوه پر يوه قرار پاته وي. د سوسياليستي هيوادو دغه ادعاء، چي دوی ډېر طاقت، بشري قوه، تعليمي

تسهیلات او نور منابع تخنیکي انکشافاتو ته متوجه کړي دي او په دې وسیله د صـنعتي ترقۍ په لار کي مخ ته ځي، البتاً یوه داسـي خبره ده، چي په مشـکله انکار ځني کېدلای سي.

## د بشري تحول چټکي:

د بشري تحول زیاتېدونکې چټکي په لاندي ډول ښوول کېدلای سي:

| | |
|---|---|
| د ناتوړلي ډبري کښتنۍ دوره: | ۱۰ په طاقت د ٦ کلونه |
| د ناتوړلي ډبري پورتنۍ دوره: | ۱۰ په طاقت د ۴ کلونه |
| تاریخي عصرونه: | ۱۰ په طاقت د ۲ کلونه |

زموږ په وخت کي بیا خبره داسي ده، چي په هر لس کاله کي یو ستر تحول منځ ته را ځي، د مثال دپاره دا لاندي اکتشـافات وګورئ، دوی په لږ وخت کي یو په بل پسي منځ ته راغلل او دلته هم دا اکتشافات په ترتیب کښل سوي دي:

د عکاسـۍ فن، د تکـامـل تیوري، د کېمیـاوي مرکبـاتو فن، د برقي مقنـاطیس تیوري، د نـاروغیو د جراثیمو تیوري، سـینمـا، هغـه انجن چي په خپل دننه کي احتراقي سیستم لري، راډیو اکټیویټي، بې‌سیم ټلویزیون، اټومي تجزیه...

انسـان اوس د هر راز اقلیمه سـره ځان تطبیقولای سـي او د هر ځای سـره برابر خپـل افزارونـه، فعـالیتونـه، لبـاس او د ژونـد عمومي طرز بـل ډول اړوي. دی پر حیواني نړۍ بشـپړ حاکمیت لري. دی حیوانان آموخته کولای سي او حتی نوي اقسـام ئې د نسـل د اداره کولو او روزلو له لاري په وجود را وستلای سـي. د ده ذهني قـدرت هر کلـه مخ په زیاتوب دئ. دغه قدرت ئې له تخنیکه سـره تړلی

دئ او همدارنگه په هغه اجتماعي تشــکیل پوري ارتباط لري، چي د ده معنوي ژوند اداره کوي.
د لیک له ایجاد ســره نو د ماقبل التاریخ دوره پای ته ورســېده، ځکه لیکنه هغه ږغونه ثبتوي، چي په هوا کي خورا ژر له مابینه وځي. دغه زمانه نو د لاسو دپاره نوې وظیفه را پیدا ســوه، چي د خط زده کول او لیکل دي. په دې کي شــک نه ستـه، چي دغه کار نو د ماغزو په قشـري ساحه کي نوي مرکزونه وغوښته، چي ږغونه او لیکلي ســمبولونه سره وتړي. اوس نو دا اړتیا ورکه سـوه، چي له ماغزو څخـه د پوهني د گـدام په حیث کار واخیســتل ســـي، ځکه دغه وظیفه کتابونه اجراء کوي. پـه دې کار کي د ماغزو تر هر ډول ظرفیت د کتابو ظرفیت بالا دئ او کتابونه نسـبت د وگړو تر شخصي حافظې شیان خورا ډېره زمانه ساتلای سي. د محسـوسو شیانو له پېژندلو او نوم ایښوولو څخه فکري جریان را پیدا سو. دغه جریان دې حال ته ورســېدی، چي عمومي مفاهیم ځني جوړ ســول. په همدې سلسله کي دې ځای ته خبري ترقي وکړه، چي په خپله د فکري جریاناتو په باره کي فکر کول منځ ته راغلل. له دې سـره سـم نو تیورۍ را پیدا سـوې. فلسفې او مذهبي سـیسـتمونه تدوین سـول او همدارنگه د فکري قوې دا خصـوصـیت را ســربېره ســو، چي د هغو عقایدو پر ځای، چي د تنقید له لاري څخه باطلیږي، بـایـد نور ښــه او تکړه نظریـات د نړۍ پـه بـاب کي منځ ته راوړي. نور نو فکر یوازي دا پوښـتنه نه کوي، چي زه باید څه وکړم؟ بلکي له داسي پوښتنو سره هم مخـامخ دئ، چي: زه څه شــي یم؟ حقیقت څه شــي دئ؟ د تیورۍ پوهنه نو د عملي ژونـد اســاس وگرځېـده او حتی په خپله د تاریخي جریان پوهېده هم په دې وسیله سر ته رسیږي.

## اوس نو د انسان تاریخ شروع کیږي:

دا جریان پر دغه ټکي نه دریږي، بلکي دا اوس ئې لومړی ابتداء ګڼل کیږي. دا خبره له شکه وتلې ده، چي تر دې وخته چي څه کارونه سوي دي، هغه ټوله د انســان د راتلونکي تاریخ صــرف یوه مقدمه بلل کیږي. د ماغزو اورګان لا نور زیات امکانات لري او اســتعداد ئې تر اوســه پوري پای ته نه دئ رســېدلی. په اوس وخت کي دې ته هیڅ ضرورت نه لیدل کیږي، چي باید ماغزه د انکشاف یوې بلي لوړي درجې تــه هم ورســیږي، ځکه هغه کارونه چي ماغزه ئې اجراء کولای سـي، د اوسـنی اجتماعي تیوری او د ټولني د پوهني په حدودو کي دننه دي. زموږ پـه عصــر کي چي کوم بحرانونـه روان دي، له خاصــیته څخه ئې دا څرګندیږي، چي دوی د بشریت د هغه جریان په لار کي آخرین تشنجات دي، چي غواړي یوې داســي جهاني ټولني ته انکشــاف وکړي، چي د خپل لاس تر شـعوري کنټرول لاندي به اداره کیږي. دا چي تر اوســه د یو ښــه تشـکیل دپاره استعداد نه سته او انسـان نه سـي کولای، خپلي قواوي د اجتماعي همکاری په دایره کي تر تصــرف او ادارې لانـدي را ولي؛ د داســي ټولو خبرو عامل، چي زموږ د زمـانې د ګردو ناکامیو مورینه ده، د ټولني په ســاحه کي موجود دئ. دا عامل د طبیعي علومو او تخنیک په وســیله له منځه نه وړل کیږي، بلکي یوازي ئې هغه قواوي له مابینه اخیتسلای سي، چي په خپله په ټولنه کي را پورته کیږي. دغـه قواوي همدا اوس قدرت لري او په ټوله نړی کي ئې فعالیت جاري دئ. **د دې قواوو اوسنی فعالیت هم د ایډیالوجی په احاطه کي روان دئ او هم**

**پـه دې ســـاحـه کي دوام لري، چي ټولي پخوانۍ طبقـاتي ټولني د يوه بنيادي تحول په اسـاس باندي يوه داســي اجتماعي نظام (سـوسياليزم) ته واړوي، چي له طبقاتو خلاص وي.**

# انسان اخلاقي حيوان دئ!

## يو نوی تکاملي نظام منځ ته راغی:

د دې نوي رقم تکـاملي پرمختـګ پـه بـاب کي، چي د اجتمـاعي انســـان لـه مشـخصـاتو څخه دئ، که ځوک غور کوي، نو تر بل هر شـي دا خبره د سـړي ذهن ډېر ړندوي، چي انسان او د ده اجتماعي روابط يوازي د بيالوجيکي تکامل تر مقولو لانـدي کتـل کيږي. د تېرو دوو يا درو زرو کلو په دوران کي چي کوم تغيرات پـه جســـمي شــکل او يا د ماغزو په ظرفيت کي راغلي دي، هغه بېخي جزيي او خورا لږ ګڼل کيږي. خو دې تحولاتو ته که تر حد بالا حسـاب وسـي او په ډېر اهميت ورته وکتل سي، نو موږ دې خوا ته رهي کوي، چي د اجتماعي تکامل ډېره مهمه عمليه مو له نظره ولويږي. دا بيان موږ ته را ښـيي، چي تکامل دوه سـيسـتمه لري؛ يو هغه سـيسـتم دئ، چي د جينيټيکي تحولاتو او تنوعاتو د انتخـاب په ســلســله ئې د انســان د ظهور تر زمانې پوري کار کړی دئ (او په حيواني نړۍ کي لا د څه نور وخت دپاره هم دوام لري)، بل بيا هغه سيسټم دئ، چي په جينيټيکي وسـايلو پوري اړه نه لري، بلکي هغو انساني فعاليتو ته منسوب دئ، چي د ټيکنالوجيکي پرمختک او تشکيلاتي ساختمانو په ساحه کي سر ته رسـيږي او هم د ايډيالوجي ګانو، د ژوند د نخشـو، د اخلاقي ارزښتونو او علمي تفکر د اساساتو په ايجاد کي په کار لويږي.

د بشــري نوعي تکنـالويجيکي تحولات تر جينيټيکي تحولاتو خورا ډېر مهم دي. دا تحولات له علمي پوهني څخه نشئت را کوي ، د علم او پوهني له لاري صــرف پـه پنځوس کـالـه کي دې نتيجې ته ورســېدو، چي په هوا ســو، خو د

بیالوجیکي تکامل پر لار باندي د جینیټیکي تنوعاتو په وسـیله دغه کار پس له پنځوس میلیونو کالو سر ته ورسېدی.

هغه بېل بېل اجتماعي نظامونه چي د زرو کلو په دوران کي یو په بل پسي راغلي دي او یـا ئې نن مورږ د دنیـا پـه بېلو بېلو برخو کي وینو، د دوی تر منځ فرق او توپیر کومو ارثي عواملو ته منسوب نه دئ. که ئې څوک منسوب وبولي، هغه په دې برخه کي د ثبوت هیڅ راز شـواهد نه لري. د دې نظامو تغیرات او تحولات چي کتـل کیږي، خورا چټـک او بېخي بنیـادي شـکـل لري او پـه هیڅ توګـه جینیټیکي تنوعـاتو تـه منسـوب کېدلای نه سـي. غه تغیرات چي نن په مترقي هیوادو کي روان دي، له جینیټیکي عواملو څخه نه دي را پیدا سـوي، بلکي په هغه کلتوري تحولاتو پوري اړه لري، چي تر انسـاني پوهي او ارادې لاندي سـر ته رسـیږي. د دې شـلو یا دېرشـو کلو په دوران کي د مانوس (Manus) اولس، چي د بحرالکاهل په سـیمه اوسـیږي، دې ته وجوغېدی، چي په خپل ژوند کي بشـپړ تحول را ولي، دوی نـه یوازي د خپل ژوند په طرز کي تحول را وسـتی، بلکي د سـلوک شـکلونـه، اخلاقي معیـارونه او ارزښـتونه ئې ټوله پر بل ډول واړول[١٤]. دغه تحول هم یو اجتماعي تحول وو، چي جینیټیکي نه بلل کیږي.

د تکاملي سـیستم په ذات کي دا پرته ده، چي باید په خپله هم تکامل وکړي. د دې خبري مثال مو وار د واره د بیالوجیکي تکامل په ساحه کي ولیدی. سربېره پر دې پـه خپلـه د تکـاملي پرمختـګ قـانون دا هم ایجابوي، چي پرمختګ‌والا نوع بـایـد نه یوازي د بیالوجیکي موفقیت (چي له محیطه څخه اسـتقلال او پر

---

[١٤] د «New Lives for old» Margarves Mead کتاب وګورئ.

هغه باندي کنټرول دئ) له معیارو سره مطابقت ولري، بلکي باید د خپل موفقیت په سبب له نور پرمختګه څخه هم را ګرځېدلی نه وي. دا نوع باید د دې استعداد هم ولري، چي نور تکامل ته ادامه پسي ور کړي. دغه راز استعداد په حیواني نړۍ کي نه لیدل کیږي، اما انسان ئې په تمامه معنی خاوند دئ. د دې دپاره چي دغه کار سر ته ورسوي، نو د انسان تکاملي جریان د جینیټیکي تنوع او طبیعي انتخاب له تصادفي او اتفاقي لاري څخه را ووتی او داسي خوا ته ئې انکشاف وکی، چي په شعوري او ارادي ډول اداره کیږي. په دې توګه نو د تنازع للبقاء او بقای‌اصلح پخوانۍ مقولې، چي د اجتماعي ډاروینیزم طرفدارانو د بشري ټولني په برخه کي هم کار ځني اخیستی، کاملاً بې‌مورده دي او د بشري تکامل د لاري او لوري په هر راز تشریح او تفسیر کي پر یوه مخ خطا کوي.

## اخلاق او ټولنه:

انسان د افزار له استعمالېدو سره د خپل ژوند په پراخېدو لاس پوري کړی او خپل دې استعداد ته ئې ورو ورو انکشاف ور کړی، چي روابط او تعلقات په توګه قایم کړي او په دې وسیله د ځان دپاره د امن زمینه برابره کړي. په لومړي سر کي د انسان او عالي بیزوګانو تر منځ فرق په ظاهره بېخي لږ وو، لاکن بالقوه د دې فرق فاصله لویه وه او انسان ته ئې دا مجال ور کی، چي تر هغه لومړنۍ بیزو-وزمه انسان، چي وار د واره ئې له بیزو څخه فرق را وکی، خورا ډېر دمخه سي. دا پرمختګ یوازي په تکنالوجیکي ساحه کي نه دئ، بلکي د اجتماعي ژوند او اخلاقي سلوک په برخه کي هم په سر رسېدلی دئ. د انسان بچی مثلاً

که د آس له کورنگي سره مقایسه سي، نو لیدل کیږي، چي کورنگی تر زوکړي وروسته سمدستي ځغستلای سي او د ژوند دپاره په خپله ډېر مستعد وي، لاکن د انسان بچی خورا ډېره زمانه د مور پاملرني او روزني ته اړ دئ او په همدې سبب نو د پرله پسې کوچنیانو د لویېدو دپاره یوه داسي کورنۍ غوښت غواړي، چي په دایمي توگه د کوچنیانو ساتنه او روزنه په غاړه ولري. کورنیاني بیا خپل تر منځ د یو ټینگ جمعیت په حیث ارتباط لري، چي د مشترک مسؤلیت او متقابل اجتماعي وضعیت او یو د بل په مقابل کي د وظائفو او حقوقو په سلسله ئې محکم روابط پیدا کړي دي، لکه د کورنۍ واحد، چي د بقاء په منظور ډېر اهمیت لري. دغه راز د نژدې همکارۍ په اساس باندي جوړه سوې ټولنه د بقاء په لحاظ خورا زیات ارزښتونه لري. که دغسي یو د بله مرسته او کومک په منځ کي نه وای، نو بشري نوعي به د فنا خوا ته مخ نیولی وای.

د تنازع جریانو نو په ټولنه کي پای ته ورسېدی. دلته د کار تقسیم زور واخیستی. دا تقسیم وار د واره د نر او ښځي په کار کي راغی، وروسته بیا کسبونه سره جلا سوه او بیا نو ځیني د کارو لارښوونکي او ځیني کارکوونکي سوه. بالآخره نو لکه څنگه چي به ژر درته څرگنده سي، ټولني دا مسؤلیت پیدا کړی، چي باید عنعنوي پوهنه او فن ذخیره کړي، نوی نسل ذخیره کړي، نوی نسل وروزي، رسومات او مذهبي دودونه او اخلاقي اصول، چي هر نسل د صادقانه همکارۍ دپاره تربیه کوي، وپالي.

## د محیط اداره:

اوس نو ټولنه یوازي دا جنبه نه لري، چي ځان د طبیعي محیط سره برابر ساتي، بلکي په خپله هم یو ټولنیز محیط منځ ته را ولي. دغه کار وګړي نه سوای کولای، بلکي یوازي د ټولنو له خوا څخه سر ته رسیږي.

د اجتماعي همکارۍ په وسیله او د هغو فعالیتو په اندازه، چي په دې لار کي اجراء کیږي، د ټولني محیط د تحول دپاره مستعد ګرځي. د همدې استعداد په اثر د تکامل ګرده اخلاقي خصوصیت تبدیلیږي. د محیط تحول د اجتماعي تشکیل د بریالیتوب نخښه ده او همداسي یو تحول د ټولني د هر غړي د ژوند په تقویه او تأمین کي ډېر لوی عامل ګڼل کیږي. دلته موږ د بشري ټولني د انکشاف او ثبات په مسئله کي د کلاوې سر پیدا کولای سو. په حیواني نړۍ کي هم د هغو انواعو بریالیتوب نه سو په برخه، چي صرف غوښه خوړونکي حیوانات ځني جوړ سول او یا ئې په غښتلو دفاعي وسایلو له ځانه دفاع کوله، ځکه دا دواړه کاره د تکامل هغه راز نقطې دي، چي مخ ته نور انکشاف نه سي کولای. په دائمي توګه له جنګه کار اخیستل د همکارۍ زمینه له منځه وړي. انسان دې ته اړ دئ، چي د دوستانو یو محیط ولري. دا خبري نو موږ ته روښانه کوي، چي د شخړو او دښمنیو تعلیمات، چي د جنګ او اشغال د عاملانو له خوا ئې طرفداري کیږي، د بشري ټولني له ماهیته سره مباین دي.

## د همکارۍ اخلاق:

کله چې د ناتوړلي ډبري په وروستنۍ دوره کې هوموسپینز (عاقل انسان) منځ ته راغی، نو د ده د ماغزو اندازه داوسـني انسان له هغې سره برابره وه. د ده د دورې خلگ په تخنیک او د مغارو په فن کې خورا لوړې مرحلې ته ورسـېدل. له دغه وختـه څخـه بیا تر هغې زمانې پورې، چې د (۴۰۰۰ق.م.) په حدودو کې د لویو رودو په شـېوه سیمو کې زراعت کشفېدی او انکشاف ئې کاوه، موږ کوم داسې شـواهد نه لرو، چې د انسـانانو تر منځ دې مخاصـمانه روابط را وښیي. څه رنگه چې پـه هغـه وخت کې بالابود محصــولات نه کېده، نو اســتثمار هم امکان نه درلودی. داسـې ښـکارې چې دغه زمانه انسان په داسې ټولنو ژوند کاوه، چې د نژدې همکارۍ په اسـاس جوړې سوې وې او کټ مټ داسې ژوند ئې وو، لکه چې په هغو ســاده ټولنو کې لیدل کیږي، چې صــرف د غذا د را غونډولو دپاره جوړې سوې او هم تر دې وخته ئې نمونې لا پاته دي.

د توړلي ډبري تر دورې دمخه داسـې ارکیالوجیکي شـواهد نه سـته، چې وسلې دې په جنگ کې استعمال سوې وې. د ناتوړلي ډبري په پورتنۍ دوره کې، چې پر پرښـو باندې په ختیځه هسـپانیه کې تصـویرونه رسـم سـوي دي، په هغو کې داسې رسمونه سته، چې د نېزه‌بارانو تر منځ د جنگ حالت تصویروي، خو دا بیا یوازې د وروسـتنۍ زمانې شـواهد او مدارک دي، چې پر دې دلالت کوي، چې د وسـلو او سـنگربندیو په شـکل د قبیلو تر منځ جنگونه پېښ سوي دي. دا باید وویل سي، چې دغه جنگونه په هیڅ توگه عمومي او کُلي جنگونه نه معلومیږي. مالینوسکي (Malinowski) د دې نظریې پر خوا دئ، چې په ابتدایي اولسونو کې په هیڅ وجه جنگ په عام ډول خپور نه وو. «سر ارتر ایوانز» ( Sir Arther

Evans) دا تائیدوي، چې مینویي (Mionan) تمدن په عمومي توګه سـوله‌ییز نوعیت درلودی. دا خبره صرف د مینویي او مسیني (Mycenaean) دورې په آواخرو؛ یعني د (۱۶۰۰ق.م.) پـه وختو پوري اړه لري، چې د نظـامي فعـالیتو شواهد او آثار لیدل کیږي.
پـه دغو لرغونو زمـانو کې چې انســان د خپـل اجتماعي ګروپ له غړو ســره د ذات‌البیني تفاعل او تعامل په اساس باندي ژوند کاوه، نو له دې څخه یو اخلاقي مخلوق جوړ سـو. انسـان ته ور معلومه سوه، چې همکاري او یو د بله سره تعلق تر هغه ډېر ارزښــت لري، چې یو پر بل تېری وي او هر وګړی کوښــښ کوي، چې یوازي په ځان پوره وي. اجتماعي استحکام چې پر هغه باندي د فرد بقاء او ارامي موقوفه ده او اخلاقي ډاډ، چې پر هغه باندي د شخصیت محکموالی ولاړ دئ، د هغو روابطو لـه ســاتني څخـه منځ تـه را ځي، چې انســان ئې د خپلو هم‌نوعاتو سره لري او یو و بل ته ئې ګټه رسیږي. په دې اساس نو د بقاء جریان تر هغې درجې پوري تـأمین کېدلای ســي، لکه څونه چې انســانان یو له بله په متوازن ډول خپـل روابط تنظیمولای ســي او تنظیموي ئې. پـه دې ترتیـب نو د بشـري انکشـاف لوړي درجې ته رسېده هغه وخت په سـر رسـېدلای سي، چې هدفونه او مقاصـد له اجتماعي احسـاساتو سره یو ځای سي او دا کار په تربیه او عاداتو کې نفوذ وکړي، څو په نتیجه کې یو داســي ســلوک منځ ته راوړي، چې هغه نه یوازي د فردي، بلکي د اجتماعي تأميناتو دپاره هم ګټور وي.

## د سوله‌ییز ژوند دایره پراخیږي:

کـه پـه لومړي سـر کي هري کوچنۍ ټولني یوازي پـه خپـل دننه کي اجتماعي یووالی درلودای او په همدې حال کي بیا د هري ټولني له بلي سـره دښـمني او خصـومتونه موجود وه، خو په وروسته کي ژر تر ژره د ګاونډي ګروپونو تر منځ د یو له بله ازدواج (اکسـوګامي exogamy) په سـلسـله روابط قایم سوه. داسي هم پېښه سوې ده، چي ازدواج به یوازي د خارجي ګروپ سره جواز درلودی او هغه کسـان چي د دې رواج په نسبت له ئې په خپلو کي ښځي نه سوای کولای، نو مجبوره وه، چي د نورو ټولنو پـه منځ کي مـاینې پیـدا کړي. کـه به هغه پردي ګروپ په دې لار کي خنډ اچاوه، نو دا پېښېده، چي په جنګ ور سره اخته سي. قومي روابط او ازدواجي روابط لاندي باندي سـره واخښـل سـوه او یوه داسـي منظمـه سـلسـلـه ئې پـه وجود را وسـته، چي خلګ ئې وادارہ کول، یو له بله همکاري وکړي، څو رواجي اصـول او جمعیتي بقاء وساتل سي. دغه جریان نو کفایت کاوه، چي د دوو ټولنو تر منځ سوله را ولي.

لـه همـدغي ابتـداء څخه د قبیلو او قومو تر منځ خورا رنګ په رنګ ذات البیني مشکلات منځ ته را ځي او د ټولو هدف دا دئ، چي د همکارۍ او سولي ساحه پراخـه کړي[15]. د دې ډول اتحـادیو پـه بـاب د نړۍ په هر ګوټ کي مهمي کتني سـوي دي او په زیاته بیا هغه کتني د یادوني وړ دي، چي د شـمالي امریکې د

---

[15] دغه بیان په (The Institution of Primitive Society) کتاب کي راغلی دئ، چي Evans، Pitchard او نورو لیکلی دئ.

هندیانو او د افریقا د قارې په اکثرو پراخو سیمو کي او د بحرالکاهل د جزیرو د اوسېدونکو په باره کي سر ته رسېدلې[16].

د ژونـدون د طرز ټوله ډولونه چي مطالعه ســوي دي، نو هلته لیدل کیږي، چي هم پـه یوه گروپ کي دننـه او هم د گروپونو تر منځ یو تر بلـه جـار وتلي روابط پیدا سـوي دي. مثلاً د کولا[17] د مبادلې سـیسـتم، چي د نیوگیني په شـاوخوا کي ئې یو شـمېر جزایر سـره تړلي وه[18]. یا لکه هغه زیات شمېر افریقایي قبیلې، چي د همدې ډول جار وتلو روابطو په اساس ئې د روغي او سـولي تر سایې لاندي پـه اتفـاق ژونـد کـاوه. په دغو تشـــکیلاتو او ترتیباتو کي د دې خبري پیش‌بیني موجوده وه، چي د یوه سـړي احتمالي دښــمنان، چي دا دښــمني ئېهخم په دې ســبب راغلې وي، چي دوی د مختلفو قبیلو غړي وي، کېدلای ســـي تر یوه بل نظام لاندي د ده ملا تړلي دوســـتان ســـي. د واکدارانو لویو مشــــرانو او مذهبي مؤســساتو د صـلاحیت او اقتدار سـیمه دونه پراخه وه، چي متعددي قبیلې به تر لاندي وي او هم په دې وسـعت پوري د دوی عمومي سـعادت تړلی وو. د دې جریـانـاتو پـه نتیجه کي نو یو اخلاقي نظام منځ ته راغی، چي په عمومي ډول د ټولني د ارامۍ او تنظیم وســیلـه وه. دې نظـام نو د فرقوي منـافعو پـه مقابل کي

---

[16] دغه بیان په دې کتابو کي وگورئ:

Social Anthropology of North American Tribes by Province African Political systems, Evan-pitchard.

Argonauts of the western pacific' by Malinowski.

[17] Kula

[18] دغه کتابونه وگورئ:

۱- Fortes, by Meyer.

۲- African Political system, by Evans-Pitchard

اخلاقي او قانوني حقوق منځ ته را وسته. سیاسي تشکیلاتو په خپله یو مقدس شکل واخیستی.

د دې دپاره چي بې‌نظمي، ناپایه قبیلوي جګړط او تجاوزي حرکتونه، چي تمدن ورانوي، ټوله له یوه سره ختم سي، نو ټولنه تل تر تله په دې تلاښ کي ولوېده، چي یووالی او سوله تأمین کړي او هم یو په بل یسي هغه مؤسسات منځ ته را ولي، چي دغه خبري سر ته رسولای سي. تر دې خبري پوري هغه جریانونه را په یادیږي، چي د سکندر لویي امپراطورۍ د یونان د هغو کوچنیو ښاري دولتو ځای ونیوی، چي ګرده عمر بـه خپل تر منځ په جنګو اخته وه. د همدې جریان مثالونه دي، چي بیا پاکس رومانا (Pax-romana) منځ ته راغله او بیا د فیوډالیزم موسسې او د مقدسي رومي امپراطورۍ سلسلې را پیدا سوې. د ایټالوي کمونو تر منځ تخریبي شخړي ډانتې (Dante) نومی شاعر دې ته وګماری، چي د ډي‌مانرکیا (de Monarchia) په نامه یو اثر ولیکي او د متحدي اروپا د لزوم په باره کي دلایل ووایي. ماکیاولي (Machiavelli) چي هم کله د شهزاده په نامه اثر کښي، دغه راز یو حل ئې په زړه کښي درلودی.

دا ګومان باید و نه سي، چي سوله او یووالی داسي اهداف وه، چي په اجتماعي لحاظ تر محوه کوونکو شخړو زیات مطلوب ګڼل کېده او نو په همدې سبب ټولنه مجبوره وه، چي یوازي د همدې اهدافو لاره تعقیب کړي او پر بله خوا ولاړه نه سي. داسي عالي قدرت نه سته، چي هغه زموږ اهداف را ټاکي او یا ئې زموږ د خوښي پر خلاف له منځه وړي. کټ مټ لکه د حیواني تکامل په سلسله کي چي خورا ډېر قهقرایي جریانونه او بې ثمره انکشاف لیدل سوی دئ او د دوی له منځه څخه ارتقایي ځانګي را وتلي او خپل فوقیت ئې څرګند کړی

دئ، دغه رنګه په اجتماعي تکامل کي انسانان که وغواړي، کولای سي جاهلانه سلوک غوره کړي. د دې خبري مثالونه هم ډېر ځله پېښ سوي دي. خو کله چي دوی دغه راز غلط کارونه کړي دي، نو اولسونه ئې د زوال پر خوا تللي او مدنيتونه ئې ړنګ سوي دي. د تاريخ جريان له ډېرو بشري ناکاميو څخه ډک دئ او نوري ډېري لا هم په پسې دي.

## طبقاتي مبارزه او اجتماعي پرمختګ:

د نيوليتيک (Neolithic)، يعني د ډبري د نوي دورې اقتصاد لا اوس هم ډېر کمزوری وو. خو سره له دې کمزورۍ ئې هم نسبت ټولو وحشي ټوليو ته د خپلي غذا پر تهيه او برابرولو باندي خورا زيات قدرت درلودی. دا اقتصاد لا اوس هم د سېل او کاختۍ له مرګکي خطرو څخه وتلی نه وو او ذخاير ئې دونه ډېر نه وه، چي د لويو افتو په وخت کي جواب وويلای سي. خو د هغو زرو کلو په دوران کي چي د (۳۰۰۰ق.م.) تر مخ زمانې ته نژدې وو، خورا زيات اختراعات او اکتشافات منځ ته راغله. له دې جملې څخه ډېر مهم او د يادولو وړ هغه زراعت وو، چي په لويو رودي سيمو او ناوو کي سر ته رسېدی. دغه زمانه نو د لومړي پلا دپاره انسان وکړای سوه، چي له مځکي څخه اضافي محصول لاس ته راوړي او هغه نوي اقتصادي طبقات په ماړه کړي، چي په ځرګند ډول ئې د خپلي غذا توليدولو ته لاس نه ور وړی.

اوس نو ورو ورو ښاري مدنيت منځ ته راغی. په دې دوره کي فلزات کشف سول، د څرخ جوړېده باب سوه او سفري کښتۍ را پيدا سوې. دلته وينو، چي د

کار په ساحه کي ډېر لوی تقسیم وجود ته راغی او خورا مهم حکومتي او اداري طبقات، لکه سوداګران، ملاحان، لښکریان او ملایان را پیدا سوه. په دې مرحله کي د جنګ ښکاره شواهد موجود دي، د مثال دپاره ئې هغه بدمرغه تغیرات شاهدي ور کوي، چي د کلتوري اشکالو په ارکیالوجیکي وضعیت لیدل کیږي او بې له شکه د فتوحاتو په سایقه منځ ته راغلي دي. عقیده داسي ده، چي نیول سوي خلګ نو اوس پر یوه مخ د مځکي له سره نه اخیستل کېدل، بلکي د سرفانو (Serfs) او غلامانو په ډول ساتل کېدل او په دې ډول نو د استثمار سوو کسانو یوه نوې طبقه موجوده سوه. د نوي اقتصاد په وسیله، چي اضافي محصول تولید کېدی، هغه نسبتاً د یوې کوچنۍ طبقې په لاسو کي متمرکز وو. دغه ترتیب د هغو ذخیرو د را غونډېدو دپاره یو لازمي شرط وو، چي پر مدني ټولنه باندي د لویو تحمیل سوو وظایفو د اجراء دپاره کفایت وکړي. اوس نو د ټولني طبقاتي تقسیماتو دې ته مخه وکړه، چي بزګران اضافه سي او هغه یوازي په دې ډول مځکه لاس ته را وړای سي، چي پر نورو سیمو تېری وکړي. په همدې زمان کي وینو، چي نوی غښتلی دولتي قدرت ظهور کوي. دا قدرت له یوې خوا نظامي وظیفې اجراء کوي او بل پلو طبقاتي شخړي تسکینوي او د یو نظم په دایره کي ئې محدودي ساتي. دولت چي دا کار کوي، نو خاص د دې دپاره نه دئ، چي د مطلق (نظم او قانون) غم اخیستی دئ، بلکي اصلاً د هغي ټولني نظم ساتي، چي په هغه کي یو طبقه داسي موقف لري، چي نوره ګرده ټولنه هم تر خپل حاکمیت لاندي ساتي او هم ئې استثماروي. په هره طبقاتي ټولنه کي هیڅ کله دولت د ټولي جامعې نماینده‌ګي نه کوي او نه هم د ده کار دا دئ، چي د ټولو طبقاتو تر منځ سمه موازنه وساتي او عادلانه رول ولوبوي.

بلکي دولت د واکمني طبقې يو اورګان دئ، چي خپل اقتدار د دغي طبقې په ګټه استعمالوي. سره له دغه کاره، ټولنه هم پر له پورې ساتي. دولت د نظم دپاره لازمي عامل دئ، ځکه که نظم نه وي، نو ګډوډي منځ ته را ځي او ټولنه سره پاشل کيږي، خو کله چي د اجتماعي انکشاف په دوران کي د ټولني موجود شکل تر وخت تېر سي او نوره استفاده نه سي کېدلای، نو په دغسي مرحله کي هغه نظم، چي واکمنه طبقه ئې ساتي، نور نو د ټولني د سعادت دپاره تهديد ګرځي. په دغسي انتقالي دورو کي نو بې‌نظمي هغه لاره ده، چي د نظم يو عالي شکل ته ور وځي او د همدې لاري په وسيله يوه نوې طبقه را پورته کيږي، چي د اقتدار واګي په لاس کي اخلي.

همدغه دليل دئ، چي کله بابيلي (Babylon) يوناني او رومي مدنيتو ته را ځو، نو وينو چي هلته د پيسې د کشف او استعمال په نتيجه کي زيات اقتصادي انکشاف منځ ته راغی او همدې جريان د تجارتي سرمايې‌دارانو د يوې نوي طبقې په را پيدا کېدو کي غټ رول ولوباوه. د دې نوي طبقې منافعو هر کله د زميندارو او هم کوچنيو مؤلدينو د منافعو سره تضاد درلودی. هم د يونان او هم د روم طبقاتي مبارزات که وکتل سي، نو پي‌سيستراتوس (Pisistratus) او کليس‌تينيس (Cleisthenes) چي د مستبدينو په نامه ياد سوي دي، په يونان کي ئې زوړ اشرافي نظام پای ته ورساوه او هم بيا ګراچي (Gracchi) او ميريوس (Marius) هغه مبارزات رهنمايي کوله، چي د روم د سنا او بډايو طبقاتو په مقابل کي روان وه. دغه پېښي د بېلو بېلو طبقاتو هغه اساسي تصادم را ښيي، چي د دوی د منافعو تر منځ موجود دئ او له هغي زمانې راهيسي د ټولني

له مشـخصاتو څخه ګرځېدلي دي، چي ټولنه استثمارونکو او استثمار سوو ډلو ته وېشل سوې ده.
يوازي دا نـه ده، چي د پېړيو پېړيو اســتثمـار او طبقـاتي حـاکميت په اجتماعي انکشاف کي ستر رول لوبولی دئ، بلکي کله چي يوه داسي طبقه را پورته سوې ده او سـوبه ئې کړې ده، چي پخوا به ئې اقتصادي او سياسي اقتدار نه درلودی، نو دې جريان هم هر وخت د توليدي روابطو يو داســـي نوی شـــکل منځ ته را وسـتلی دئ، چي د ډېرېدونکو توليدي قواوو سـره به ئې پوره تناسـب درلودی. دغـه راز مبـارزاتو هم د ټولني د پرمختـګ په برخه کي لوی لاس درلودلی دئ.
مارکس دا خبره ښوولې ده، چي طبقاتي مبارزاتو د اروپا د بورژوازي طبقې د را پيدا کېدو په مورد کي څه ډول دغسي يو رول لوبولی دئ.
په دې سبب چي انسانان ضرور اخلاقي قوانين را باسي او دا قوانين ئې نه يوازي په عمومي صورت کي د ټولني په ګټه وي، بلکي د خپلي طبقې ګټي هم مدنظر پکښي نيسي او هم په دې سبب چي انسانان دا تلاښ کوي، د غلامۍ اخلاق پر خپلو ســرفانو او مريانو باندي تحميل کړي، نو ځکه د اجتماعي ژوند اســاســي اصــول، چي بايد د همکارۍ، شــريفانه ګذارې، د کمزورو ســره د مرســتي او د بشـــري ژوند د ســـپېڅلتوب په باره کي ارو مرو ټينګار وکړي. هغه د باداري او اســتثمار د طبقاتي افکارو تر ســلطې لاندي منحرف ســوي دي او د کاره وتلي دي. سـره له دې هم هيڅ ټولنه د اجتماعي ژوند د اساسي لوازمو په پرته ژوندۍ نه سي پاته کېدلای. خو کله چي د دې اساسي لوازمو ځای وحشيګري ونيسي، نو هلته ټولنه ړنګيږي.

## ولي جنګ؟

جنګ د سوله‌ییزي همکارۍ ضد دئ، خو سره له دې ئې هم په تاریخ کي یو لوی پارټ لوبولی دئ. د شاهي کورنیو را پیدا کېده، د متحدو سیمه‌ییزو دولتو جوړېده، د نفوسو ورځ په ورځ زیاتېده، د اقتصادي ذخائرو ډېرېده، د پراخو حاصل کوونکو مځکو اشغالېده، د نادرو خامو موادو (مثلاً لکه مس) دپاره اړېده، د دریابي لارو او تجارتي بندرو څخه د ګټې اخیسته او بالآخره د نیول سوو خلګو اقتصادي ارزښت، چي یا به د مریانو او یا به د استثمار وړ بزګرانو په توګه استعمالېده؛ دا ټوله هغه عوامل وه، چي هم ئې د تمدن په راتلو کي او هم ئې د ښځړو د امکاناتو په زیاتېدو کي خورا ډېر کار کړی دئ. هر څونه چي بډایو سیمو ترقي کوله، هغونه ئې دا هڅه زیاتېده، چي له خوارو سیمو څخه ځان را پرې کړي. همداسې د پرمختللو ټولنو دا خاصه او د خامو موادو په منابعو پسې لاسونه وغځوي. په دې ډول نو جنګ د تمدن په تکاملي جریان کي دوه اړخیزه رول لوبولی دئ، ځکه له یوې خوا د کلتوري پرمختګ معلول او له بله پلوه د کلتوري پرمختګ علت دئ. تخنیکي تفوق پرله پسې د فتوحاتو دپاره وسایل تهیه کول او همدارنګه ئې د سوله‌ییز انکشاف دپاره وسایل برابرول.

په پخوانیو زمانو کي چي سره پاشلي او لیري لیري خپلواک او رقیب مملکتونه وجود ته راغلل، نو که څه هم د دوی تر منځ جنګونه حتمي وه، اما له دې جنګو څخه په عین زمان کي ګټور نتایج هم را پیدا سوه، ځکه دا جنګونه هغه بیه وه، چي انسان د خپلي ځوانۍ په دوره کي وښندله او په بدل کي ئې دا مهم

سبق واخیستی، چي د کامیابه اجتماعي ژوند زده‌کړه له اساسي خبرو څخه ګڼل کیږي.

## ولي غلامي؟

غلامي د جنګ نتیجه ده او د غلامانو د لاس ته راوړو ارزو د جنګ سبب ګڼل کیږي. غلامي چي په اصــل کي د اجباري کار یوه نوعه ده، د هر څه بې‌رحمیو او بې‌عدالتیو سره سره هغه وسیله ده، چي ستر مدنیتونه ئې ایجاد کړي دي او د هغو په انکشاف او ساتنه کي ئې ډېر کارونه سر ته رسولي دي.

غلامي د طبقاتي استثمار د پخوانیو اشکالو د انکشاف او پراختیا په نتیجه کي منځ ته راغله. دا طبقاتي استثمار له هغه وخته را وښتی، چي قبایلي مشــرانو او لارښــوونکو ته دا امتیاز ور په برخه ســو، چي د عمومي ښـېګڼو ساتنه به دوی کوي او د متضادو ګټو اداره به د دوی تر واک لاندي وي. د داسي مشریو دپاره خورا اسانه وه، چي میراثي شکل واخلي او د یوې مخصوصي وظیفې پر ځای باندي یو مخصــوص حق د ځان دپاره تأمین کړي. په هر حال دې مشــریو تر کومه وخته چي خپل ضروري خدمت اجراء کولای سوای (مثلاً لکه په مصر او بین‌النهرین کي چي ئې د اوبو لګولو ســاتنه په غاړه درلوده)، تر هغو ئې خپله لار مخ ته وهله. په دې برخه کي لکه په نورو خواو کي حتی یو بد حکومت هم تر نه حکومت ښه ګڼل کیږي.

هغه وخت چي په کار کي دا توان پیدا ســي، چي اضــافي تولید وکړي، نو د ممتازي طبقې دپاره د دې امکانات برابر ســوه، چي نور اســتثمار وکړي. د دې وضعیت له انکشافه سره نو دا خبره منځ ته راغله، چي د استثمارولو دپاره بېخي مناسب کار (لیبر)، چي په اسانۍ لاس ته راوړل کېدی، هغه د جنګ د بندیانو

کار وو. به دمخه وختو کي چي د استثمار امکانات نه وه برابر سوي، نو د جنگ بنديان به وژل کېدله، لاکن اوس خبره په دې واوښته، چي فاتحينو به د دوی له کاره څخه استفاده کوله.

غلامۍ د دې امکانات سربښته کړه، چي د زراعتي او صنعتي کار په منځ کي ويش راغی او د همدې جريان په نتيجه کي اقتصاد او تمدن خورا ډېر پراخ سو. د غلامۍ په وسيله يو زيات شمېر خلګ دې ته فارغه سوه، چي حکومتي او هنري فعاليتونه سر ته ورسوي. که څه هم د پخوانيو مدنيو په منځ کي غلامي د اجتماعي بربادیو له غټو عواملو څخه وه، خو سربېره پر دې ټولو خبرو، د غلامۍ را پيدا کېده په هغه زمانه کي يو لوی ګام وو، چي مخ ته واخيستل سو.

اينګلس په خپل يو اثر کي وايي: «ټوله تاريخي خصومتونه چي له لومړي سره څخه بيا تر نن ورځي د استثماروونکي او استثمار سوي، د حاکمو او محکومو طبقاتو تر منځ وجود لري، له دې پلوه پوره تشريح کېدلای سي، چي لومړی سبب ئې د کار د توليدي ظرفيت عدم انکشاف دئ، ځکه څونه چي کارکوونکي خلګ په خپلو ضروري کارو ډېر اخته وه او دې ته ئې وخت نه درلودی، چي د ټولني په ګډو چارو پسي سر وګرځوي، يعني د کارو اداره، دولتي چاري، قانوني مسئلې، هنري، علمي او نوري خبري سمبال کړي، نو هغونه دا لازمه وه، چي بايد يوه داسي مخصوصه طبقه وجود ولري، چي له عملي کاره څخه وزګاره وي او د دغو چارو انتظام ئې په غاړه وي. دې مخصوصي طبقې نو وکړای سوه، چي د خپل منفعت دپاره پر کارکوونکو طبقاتو باندي د کار ډېر درانه بارونه تحميل کړي. خو توليدي قواوي چي د صنايعو د پراخ انکشاف په وسيله خورا زياتي سوې، نو د دې امکانات ئې برابر

کړه، چي کار بې‌له استثناء څخه د ټولني پر ټولو غړو تقسیم سي او په همدې سبب د هر فرد د کار وخت تر دې اندازې محدود سي، چي هغه کافي وخت پیدا کړي او د ټولني په عمومي؛ یعني هم په فکري او هم په عملي چارو کي برخه واخلي، نو ځکه یوازي هم دا اوس د دې خبري شرایط برابر سوه، چي هر راز حاکمه او استثماري طبقه یو طفیلي او اضافي شی ده او د اجتماعي انکشاف و مخ ته خنډېږي. همدارنگه یوازي په دې اوس وخت کي دا کېدلای سي، چي دا طبقه به، که څه هم مستقیماً ئې ډېر قدرت په لاس کي دئ، په تشدد سره پای ته ورسول سي[19].»

په دې ډول نو هر څنگه بې‌عدالتي او ظلمونه چي پر انسانانو تېر سوه، خو په نتیجه کي ئې بشریت یوه گټه واخیسته. که څه هم پخوانی وضعیت پر دغه لایزار وو، خو البته دا یو تخنیکي او اقتصادي پرمختگ وو، چي د غلامۍ د نظام ابتکاري موجودیت ئې منځ ته را وستی. د غلامۍ د نظام په سلسله نور پراخ او بهترین تشکیلات را پیدا سوه، له منابعو څخه زیاته اقتصادي استفاده په سر ورسېده او ځیني وختونه لا په لویو سیمو کي بادوامه سوله قایمه سوه. دا ټوله هغه پرمختگونه وه، چي عملاً ئې د تمدن له انکشافه سره مرسته وکړه.

## د ټولني ړنگېده:

خو جگړې او غلامۍ یو بل اړخ هم درلودی او هغه دا چي اکثره ئې د خود بخوده ماتي او ناکامۍ عوامل هم برابرول، ځکه د جگړې او غلامۍ سره تړلي فسادونه دې اندازې ته رسېده، چي لاس ته راغلي ښېگڼي مغلوبي کړي او بشپړ

[19] Anti-During' by Engels.

مدنیتونه تر خپل حد واړوي او په ګډوډۍ، خرابۍ او اقتصـادي بربادۍ سـره د ړنګېدو حال ته ورسـېږي. په لرغونې زمانه کې یونان او روم او په اوسـنۍ زمانه کې فرانسه او جرمنی په دغه سرنوشت اخته سوي دي.

د یونان د ښـاري دولتو بشـپړ مدنیت د پیلوپونیسـیا (Peloponnesian) په جنګ سـره د ړنګېدو حال ته ورسـېدی. د روم زوال د پونیکي جګړو په نتیجه کې منځ تـه راغی. دې جنګو په دننه هیواد کې د کرهنې چاري ویجاړې کړې، چې د هغـه پـه اثر د ایـالت په نامه هغه مالیاتي نظام له منځه ولاړی، چې د روم ټوله عیاشـۍ او بې کارۍ په چلېدلې. دا خبره باید یاده سـي، چې کله د مریانو د کرهنې سیسټم، چې لاټیفونډیا (Latifundia) نومېده، ډېره وده وکړه، نو د نېرو (Nero) په عصـر کې د افریقې نیم الیت د شـپږو کسـو په تملیک کې راغی. د غلامۍ او امپریـالیسـتي تجـاوزاتو زوړ نظـام، چې زر کـاله تر طبقاتي تقسـیم وروسته له کاره وتلی وو، پر یوه مخ ړنګ سو.

پـه دې اوضـاعو کې اوس دېره تبـدیلي راغلې ده، ځکـه پـه نن وخـت کې لـه تجاوزي جګړو سـره تر داسې اندازې کامیابانه مقاومتونه کیږي، چې په پخوانیو زمـانو کې چا پېژنده لا نه. حتی موږ په خپلو سـترګو وینو، چې د لویو او پراخو تجاوزاتو پوره مخ نیول کیږي. د موانعو له سـببو څخه ئې یو هم دا دئ، چې د تخریب قوې په هغه اندازه چټک انکشاف کړی دئ، لکه څونه چې د اجتماعي ښـېګڼو د تأمین دپاره تخنیکي وسایل زیات سوي دي. نو دا خبره ورځ په ورځ روښانه کیږي، چې انسان یوازې له شعوري او ارادي لاري څخه د تکنالوجۍ د کنټرول په وسیله دا کولای سي، چې مدنیت له یومخیزه ړنګېدو څخه وساتي او دا کنټرول باید سـراسـر د هغو مؤسساتو له خوا څخه وي، چې هدف ئې د ټولو

د سعادت تأمین وي. ځیني کسان داسي استدلال کوي، چي جنگ خورا زیات بیالوجیکي مزیتونه لري. لږ کلونه دمخه «سر ارتر کیت» (Sir Arthur Keith) د ابردین (Aberdeen) پـه پوهنتون کي یوې ټولني تـه وویـل، چي جنـگ «د طبیعت د پوجۍ آله ده» او په دې برخه کي ئې مرسته کړې ده، چي د بشر تکړه صـنف باقي پاته سـي. دا خبره ټیک نه ده، ځکه جنگ د یو اولس د شـخصیت ډېري ښـېگڼي خرابي کړي دي؛ رنځونه ئې خپاره کړي دي، مصیبتونه، لوږي او اقتصـــادي بربـادۍ ئې پر پراخو ســـیمو بـاندي غوړولي دي او په نتیجه کي ئې زورور او هم کمزوره دواړه له منځه وړي دي. جنگ خورا ډېر منابع ضایع کړي دي او تعمیري فعـالیتونـه ئې یـا له لاري اړولي دي او یا ئې له کاره اچولي دي. که د یوه هیواد یا یوې قارې ټولي قواوي صـرف په دې لار کي په کار ولویږي، چي یوازي خپلـه بقـاء تـأمین کړي، نو پـه داســـي حال کي خو به لږ تر لږه ټوله داسي نوي اقدامات، چي د جنگ سره ارتباط و نه لري، له منځه ولاړ سي. نو له یوې خوا کـه د یو ملـت ټولي قواوي پـه دې لار کي په کار لویږي، چي ځان له فنـا څخـه را وگرځوي او لـه بلي خوا د اولســـونو تر منځ عمومي مناســـبات په ذاتالبیني دښمنیو او یرغلو بدل سي، نو په دې وضعیت کي د یوې آزادي نړۍ ازرو، چي د ټولو دپاره د پوره ژوند زمینه برابره کړي، په ناامیدۍ تبدیلیږي.

بشـري اخلاق او طبقاتي اخلاق: موږ وینو چي اخلاق یو سیستم نه لري، بلکي دوه ډولـه لیـدل کیږي؛ یوه پلو تـه هغه اخلاق دي، چي لینن د دوی په باب کي داســـي وایي: «د اجتماعي ژوند هغه اســاســـي اصــول دي، چي د پېړیو پېړیو راهیسـي پېژندل سـوي دي». دا راز اصـول په دې سبب را پیدا کیږي، چي د هر ډول اجتمـاعي ژونـد دپـاره لازم او ضـــروري گڼـل کیږي. بـل پلو تـه بیا هغه د

باداري او غلامۍ اخلاق دي، چي پـه يوه طبقـاتي ټولنـه کي منځ تـه را ځي. له دې اخلاقو سـره نو دا مهمه پوښـتنه را پيدا کيږي، چي: آيا د يوې طبقاتي ټولني اخلاق صـرف هغـه اخلاق دي، چي پر ټولنـه بـانـدي تپـل سـوي دي، څو د واکـدارانو گټي خونـدي کړي او د دوی امتيازات حق وبرېښـوي همدا رنگه د دې اخلاقو پـه مقـابـل کي محکوم طبقات خپل اخلاق را وړاندي کوي، چي د دوی هغه گټي انعکاسوي، چي د واکدارانو له هغې سره تضاد لري.
البتـه اصــلي خبره دا ده، چي يوه برخـه اخلاقي قواعـد دا راز دي، چي دايمي شــکـل لري او د اجتمـاعي نظـام پـه ټولو ابتـدايي، فيوډالي، ســرمـايه‌داري او ســوســياليســتي اشــکالو کي ليدل کيږي. اينگلس د طبقاتي اخلاقو د څېړني په ترڅ کي يو ځای داســي ســوال کوي، چي «کوم ډول اخلاق نو هغه قواعد ډېر لري، چي دايمي پاته کيږي؟» او دا خبره ئې د دې دليل دئ، چي په ټولو اقسامو کي يو څـه دوامـداره قواعـد موجود دي. مـارکس او اينگلس همدارنگه د يوې حقيقي بشــري ټولني پـه بـاره کي رږغيږي، چي هغه طبقاتي شــخړو او طبقاتي آثـارو پورتـه مقـام لري. مـارکس په څرگند ډول بيانوي، چي د دې راز بشــري ټولني اخلاقي اصـول کوم دي. دی د يوې جامعې په باره کي رږغيږي، چي هلته د وگړي آزادانه انکشاف د ټولو د آزادانه انکشاف اساسي شرط دئ.
د هغو گردو روابطو او شــرايطو ســره خپـل مخالفت اعلانوي، چي په هغو کي انسان يو عاجزه، غلام او سپک مخلوق وي. دغه راز اخلاق نو طبقاتي او فرقوي نـه دي، بلکي کُلي او عمومي اخلاق دي، چي لـه يوه مخـه پـه ســتايل ســوي اجتماعي انسان پوري اړه لري. اوسنۍ شوروي فلسفه همدارنگه د هغو مقاصدو

او دقیقو قواعـدو او اصـــولو پـه بـاب بیـانونه لري، چي د ټولني له عملي پوهني څخه را وتلي دي[۲۰].

د دې خبري زده کړه مهمه ده، چي د اخلاقو دغه کُلي اســاســات له یو مافوق نظـام څخـه نـه دي راغلي، بلکي لـه بشـــري تجربو څخه را پیدا ســـوي دي. دا اســاســات د ســلوک هغه قواعد او عادات دي، چي لزوماً را پیدا ســـوي او د اجتماعي میراثو جز ګرځېدلي دي او د ښـووني، رواج او دود په وسیله پښت پر پښـت را رسـېدلي دي. دا اسـاسات موږ ته په داسي قوت تلقین سوي دي، چي وجدان او یا مســتقل بالذات ایډیل له نافذو احکامو څخه را معلومیږي. موږ ته دغه اسـاسـات داسـي ایسي، چي هلته ټوله ارزښتونه په بالکل اصلي حالت کي دي او د تجربې څه اسـتقلال لري؛ یعني په دې اساساتو کي د ښو او بدو د تمیز دپـاره عمومي، ثـابت او واقعي معیارونه موجود دي. اوس نو د دې اســاســاتو واقعي نفوذ البتـه پـه دې پوري ارتبـاط لري، چي لـه دوی څخـه څونه اســتفاده کیږي. رشـــتیـا هم دا یو حقیقـت دئ، چي حتی پـه یوه طبقـاتي ټولنـه کي هم انسـانان د اجتماعي ژوند د ځینو عمومي اساساتو او اصولو په پرته ګذاره نه سي کولای.

دا چي موږ د اســـتثمـار ټولـه نظـامونـه غنـدو، یوازي لـه دې ســببـه نـه، چي د کارکوونکو طبقاتو له منافعو سـره مخالفت لري، بلکي له دې سـببه هم ده، چي دغه نظامونه د عمومي ټولني له سعادته سره مباین دي. زموږ هدف دا دئ، چي بشریت په مجموعي توګه له دغو شرایطو څخه نجات پیدا کړي، چي بېچارګی،

---

[۲۰] دغه کتاب وګورئ: Voprasy FiLosoFii, by Shiskin (فصل: Rhe Decay of Anglo-American (Ethics

بې‌اتفاقۍ، خپل په منځ کې ګوندي او طبقاتي غلامۍ پکښــې دي، لکه دا اوس چې انسان ځان پکښې ويني.

د انســان له ظهوره ســره يو ځای دا خبره هم منځ ته راغله، چې د ســم اجتماعي ژوند اســاســات خپل ځان په اجتماعي مؤســســاتو او عاداتو کې ور ننباســي. دا اســاســات البته له کومې لوړې خوا څخه نه دي راغلي، بلکې صــرف د هغســې ټولني عملي لوازم او احتياجات دي، چې انســان په ښــه توګه خپل ژوند پکښــې کولای ســي. دوی په هره ټولنه کې د بشري جامعې د يو واقعي ارتباط د وسايلو په شــان پاته سوي دي. دوی انکشاف کوي او ډېرېږي، خو د اجتماعي ژوند له دې قديمو اصولو څخه خورا ډېره برخه، چې تر اوسه پاته ده، مثالونه ئې دا دي: د متقابل وضــعيت اصــل؛ يعني هغه څه چې يو ســړی ئې له نورو ســره کوي، نو دوی ئې بيا له ده ســره کوي. د ژوند د شــرافت ســاتل؛ د يو ځای کېدو وظيفه، چې يو و بل ته کمک ورسـول ســي. جنسي مقررات؛ په مقرراتو کې له صداقته څخه کار اخيستل او داسې نور.

پرته له داســې اصــولو هيڅ ټولنه خپل موجوديت ته ادامه نه ســي کولای، د ټولو طبقاتو خلګ د دې اصــــولو اعتبار مني او تصــــديق ئې کوي او هم هغه څوک غندي، چې دغه اصــول نه عملي کوي. **موږ د سرمايه‌داري نظام او د استعمار سيستم په دې سبب غندو، چې غيرانساني او غيربشري ګڼل کيږي او د هغه اخلاقي معيارو سره، چې په خپله سرمايه‌داران ئې مني، هم مطابقت نه سي کولای.** د ســـرمـايـه‌داري او اســـتعمار نظامونه په خپله د دې پر ځای چې دغه اصــــول رد کړي او يـا انکار ځني وکړي، په دې پســــې هڅه کوي، چې دا ثابته کړي، چې د دوی کارونه له دغو اصولو سره برابر دي.

له بلي خوا بيا په خپله دغه ثابت قواعد او ځيني اصـول زياتره د اسـتثماروونكو ډلو په ګټه تاويلات او تحريفات پکښي کيږي. خو سره له دې هم دا خبره مهمه ده، چي دغه ډلي هر کله يو مجبوريت احسـاسـوي، چي لا اقل د دې اصـولو شـفاهي رعايت وکړي. دغه سـبب دئ، چي د خير غوښتني او يو د بل په مقابل کي د وجـايبو د پر ځـای کولو عمومي حکمونـه، چي هر ځونـه اعلانيږي، خو چنـداني فـايـده نـه پر بنـاء کيږي. دا حکمونـه د دې دپـاره تفسـيريږي او اسـتخـداميږي، چي د طبقـاتي اسـتثمار کارونه او عملونه ښـه‌ترا تقويه کړي. عمومي حقايق هر کله مستقيماً په ضد مفهوم او معنی سره تفسير کېدلای سي.

همـدارنګـه امتيـازوالا طبقات د دې دپاره چي خپلي ګټې وسـاتي، مثلاً لکه دا چي د تمليـک لـه حقوقو څخه دفاع وکړي او يا د غلامۍ نظام حق ثابت کړي، نو د دغه هدف دپاره مخصـوص اخلاقي اسـاسـات را باسي. اوس نو ځکه موږ داسي اخلاقي اصول هم وينو، چي هغه د اجتماعي ژوند له عمومي قواعدو سره سـمون نه خوري، که څه هم خلګ زيار باسي، چي دغه خاص طبقاتي اخلاق په داسـي ډول ثبوت ته ورسوي، چي د دوی د عمومي منفعت دپاره ګټور دئ. سـربېره پر دې تر دغسـي شـرايطو لاندي څه رنګه چي «د هري پېړۍ حاکم نظريـات اکثره د حاکمي طبقې نظريات دي»، نو هغه اخلاق چي خواري طبقې ته غاړه ايښـوول او عاجزي تلقينوي او د بډايي طبقې امتيازات حق ورته ثابتوي، هر کله په اجباري ډول ورته تدريس کيږي او تر ډېري اندازې په استثمار سوې طبقه منل کيږي. يوازي د اولسـي انقلاب په وختو کي خوار طبقات له دغه راز اخلاقي حکمو او اصولو څخه غاړه پېچلای سي.

د هغو عمومي اخلاقي نظرياتو په څنګ کي، چي ټوله ئې مني او هم د هغو طبقاتي اخلاقو په اړخ کي، چي په ممتازه طبقه اړه لريو همدارنګه تل تر تله دريم ډول اخلاق منځ ته را ځي، چي د مظلومو او باغي طبقاتو سره تعلق لري. دا ډول اخلاق د دې مظلومو او ياغي طبقاتو له هغو منافعو څخه نمايندګي کوي، چي د دوی د بادارانو له هغې سره منافات لري. دغه راز اخلاق د محکومو او ياغي طبقاتو مبارزو ته اخلاقي اهميت ور کوي او د دوی فداکاريو او قهرمانيو ته، چي په دې مبارزاتو کي پېښيږي، په لوړه درجه قايليږي. دا اخلاق د اخلاقي اصولو له هغو تحريفاتو سره مبارزه کوي، چي حاکمه طبقه د هغو په وسيله ځان پر حقه بولي او هم د هغو اخلاقي افکارو سره مجادله کوي، چي د طبقاتي او يا نژادي استثمار پر خوا وي.

حتی په يوه طبقاتي ټولنه کي، چي هلته متضاد اخلاق يو د بله سره ښکر په ښکر وي، بيا هم د اجتماعي ژوند د اساسي اشکالو د رعايت په پرته ژوند دوام نه سي کولای. هلته بايد يو راز د ژوند ساتنه موجوده وي، د غلا مخه نيول سوې وي، پر جنسي اوضاعو باندي يوه نوع کنټرول پروت وي، د شرافت او تساند اساسات يو څه پالل کيږي، د بشري حقوقو او وظايفو يو ادراک او احساس موجود وي. که څه هم دغه اصول تر ډېره ځايه تر پښو لاندي کيږي او يا تحريف کيږي، خو سره له دې څه رنګه چي په شفاهي ډول د خلګو په خولو کي موجود وي، نو دونه قدر ارو مرو عملي کيږي، چي د ژوند د چلاو دپاره پوره کفايت وکړي. دغه اخلاقي اصول په بشپړه توګه د هغو اخلاقو په وسيله له منځه نه سي اخيستل کېدلای، چي صرف يو فرقوي او طبقاتي منفعت ساتي او نورو پر حقوقو تجاوزونه بد نه ورته ايسي.

د محکومو خلګو اخلاق په حقیقت کي تر طبقاتي مفاد پورته مقام لري، ځکه د دې اخلاقو هدف د طبقاتي استثمار په ختمېدو کي یوازي دا نه دئ، چي د محکومو خلګو ګټي تأمین کړي، بلکي په دې کار سره بشریت یوې لوړې مرحلې ته رسوي، چي هلته د ټولو منافع پوره کېدلای سي. سربېره پر دې دغه اخلاق اعلاموي، چي طبقاتي ټولنه په عملي توګه د بشر د عمومي ګټو د تأمین په لار کي خنډنه اچوي او په دې لار کي ئې ټولي ادعاوي تشي خبري دي او باید په دې خبره اعتراف وکړي، چي خپل اخلاق نه سي عملي کولای. لاکن د محکومي طبقې بریالیتوب به د لومړي پلا دپاره دا عملي کړي، چي دغه منل سوي اهداف او ارمانونه سر ته ورسوي. څه رنګه چي د محکومي طبقې د اخلاقو هدف تر طبقاتي منفعت لوړ دئ، نو له دې څخه ښکاره ده، چي د یوې طبقاتي ټولني ګرده اخلاق داسي نه ګڼل کیږي، چي هغه له یوه مخه د اخلاقي اساساتو تر پوښ لاندي طبقاتي ګټي ساتي، ځکه همدغه د محکومانو اخلاق طبقاتي ټولنه په دې نسبت غندي، چي اخلاقي اساسات نه سي عملي کولای او هم خپل هدف دا بولي، چي دې اساساتو ته عملي رنګ ور کړي.

تر هغه وخته چي ټولنه طبقاتو ته وېشلې وي او د اساس له مخي متضاد منافع پکښې وي، دا خبره امکان نه سي پیدا کولای، چي حقیقي انساني اخلاق عملي سي او د هغه چا اخلاقي ارمانونه تر سره سي، چي په تصوري شکل دا احساس کوي، چي باید انسان څنګه ژوند وکړي. په یوه طبقاتي ټولنه کي د اخلاقي ارزوګانو په باب تشه موعظه، چي په خورا ښه توګه هم عملي سي، نو نتیجه ئې لکه مارکس چي وایي: «خورا بې‌ارزښه تقوا» وي. د اخلاقو وظیفه دا نه ده، چي سړی په هغو شرایطو کي له ګناه سره غیږ وباسي، چي تر هغو لاندي د ګناه

موجودیت حتمي وي، بلکي دا ده، چي خپل زیار د دغه ډول شــرایطو ختمولو تـه متوجـه کړي او یوه بې‌طبقې ټولنـه منځ تـه را ولي، چي پـه هغې کي بالآخره اخلاقي سـلوک امکانات پیدا کولای ســي. خبره داســي نه ده، چي کوم وخت اجتماعي نظام تبدیل ســي، نو خودبخوده داســي اخلاقي تحولات په یوه ګړي کي منځ ته راتلای سي، بلکي د مطلب ټکی دا دئ، چي له دغسـي تحوله سره نو د اخلاقي روزني او اخلاقي ښـووني کارونه بالآخره دا قوت پیدا کولای ســي، چي اصــلي نتایج لاس ته راوړي. البته د نړیوالو اخلاقو دپاره هم دا شــرایط په کار دي، چي تخاصــمات نه یوازي باید د یوې ټولني په منځ کي نه وي، بلکي بـایـد د ملتونو تر منځ هم نـه وي او د دې نیمګړو اخلاقو پر ځای، چي خپل په مابین کي ورورولي لري او د نورو اولسو سره دښمني کوي، داسي اخلاق را پیدا سي، چي نتیجه ئې بین‌المللي همکاري او دوستي وي.
آیـا پـه خپله طبقاتي مبارزه تر کومه ځایه اخلاقي حیثیت لري؟ دا خبره ښکاره ده، چي دغه مبارزه د سـوله‌ییزي همکارۍ او دوسـتانه احسـاسـاتو مقابل قطب ګڼل کیږي، لاکن ســره له دې هم ضــروري ده او هم پر حقه ده. رشــتیا هم له مقـابلي طبقې ســره مرســتـه او د مفاســدو په مقابل کي دوســتانه اغماض یو غیراخلاقي کار دئ، خو د جنګ اخلاق بیا د بشــر په تاریخ کي له یوې انتقالي مرحلې سـره اړه لري. کله چي طبقاتي تخاصـمات پای ته ورسـیږي، نو دغه راز جنګي اخلاق هم منسـوخ کیږي. یوازي هغه زمان به نو داسـي اوضاع منځ ته را سي، چي له دښمنیو، تشدد او تـخریبي فعالیتو څخه چاره وسي او د پوره اخلاقي وضعیت دپاره امکانات برابر سي.

## د اخلاقو علم او اجتماعي پرمختګ:

د تکـامل جریان نه یوازي دا چي بشـــري ټولنه ئې ایجاد کړه او هم ئې د دې د انکشاف په سلسله علمي اکتشافات، ادبي، هنري او لوی معماري موفقیتونه منځ ته را وسته، بلکي «بشري ارزښتونه» ئې هم را پیدا کړه. دا ارزښتونه په بیالوجیکي تکامل کي رول نه لوبوي، بلکي د انساني چارو سره لازم ګڼل کیږي.

انسان همدارنګه خپل جهاني نظریات او خپلي لارښوونکي فلسفې تیاري کړې. پ هغو کي د ده ارزښـــتونه ارو مرو یو قاطع رول لوبوي، ځکه همدا نظریات او فلسـفې هغه څه اعلاموي، چي عالي ښـېګڼې بلل کیږي. دغسـي فلسـفې چي د بشـري روح له خورا سـترو ایجاداتو څخه ګڼل کیږي، له دې بابه مهمي پوښتني ئې منځ ته راوړي دي: انســان څه شــي دئ؟ هغه نړۍ چي انســان ځان پکښــي ویني، څه شـي ده؟ له دغه نړۍ سـره د انسـان رابطه څنګه ده؟ د ده آینده څنګه ده؟ انسانان یوې داسي کُلې نظریې ته اړ دي، چي دغو سترو پوښتنو ته جوابونه ووایي او بې‌لـه دغســـي نظریې څخـه د ژوند لار په ســـمه توګه مخ ته نه ســـي وهلای.

د دې پوښـتنو جوابونه د پوهني، د سـاینس او مخصـوصـاً بیا د بشـري تکامل په باب د علمي پوهني له انکشـافه سره اړه لري. دغه راز انکشاف نو انسان ته توان ور کوي، چي خپل سـرنوشـت مشاهده کړي او په دې وپوهیږي، چي د مځکي پر کُره بـانـدي یوازي دی دئ، چي د نور تکاملي پرمختګ خلیفه او خورا مؤثر عامل ګڼل کیږي.

## د اخلاقي قانون ظهور:

د اخلاقي عقيدې منشاء په اجتماعي روابطو کي دننه ده او داسي نه ګڼل کيږي، چي اخلاقي عقيده لـه طبيعي نړۍ څخه دباندي يو کيفيت دئ او انســان ئې درک کړی دئ. اخلاق هغه وخت را شــروع کيږي، چي فرد مجبوره ســي، هغه نهي تـه غاړه کښــيږدي، چي غيراجتماعي حرکت ئې منعه کړی وي. دا نهي نه يوازي د هغه چا له خوا وضـعه سـوې وي، چي واک ئې په لاس کي وي، بلکي د هغـه چـا لـه خوا هم وي، چي دغـه فرد په درنه ســترګه ورته ګوري. کله چي منهيات او د همکارۍ وظايف وضعه کيږي او د دوی ګټي د نتايجو له مخي په پراخه توګه اثبات ته رسيږي، نو په دې وسيله اخلاق انکشاف کوي او پر عمق ئې زياتيږي. دا جريان نه يوازي د واکمن او مقتدر سړي په نسبت احترام را پيدا کوي، بلکي يو د بله سره هم د رعايتونو سلسله منځ ته راوړي.

اخلاقي نظـام د کـار او وظيفې له مخي د هغو ســلوکي تشــکيلاتو معادل ګڼل کيږي، لکه په کښتو پراميټ حيواناتو کي چي د اجتماعي عمل د تقويې دپاره د وســايلو پـه حيـث کـار ور کوي. حتی د کښــتو حيوانـاتو پـه منځ کي (مثلاً په مچمچيـانو کي) ســلوکي لاري اتومات شــکل لري او دا خبره ئې د بقاء دپاره لازمي ده او پر همدې اســاس ئې ثبات او اســتقرار ولاړ دئ. ډاروين وايي، که مچمچی فکر کولای، نو ئې د احســاس له مخي خپلي ټاکلي وظيفې د وجدان په غوښـتنه پالّلای. د انسان په مورد کي چي دلته د عمل لاره د تجربې پر اساس پيدا کيږي او غوره کيږي، نو د ده وظايف په عقلي لحاظ مدلل کېدلای ســي او په شعوري توګه منل کيږي. د دې خبري معنی دا نه ده، چي فرد يوازي هغه څه مني، چي دی ئې فکر کوي او هغه څه غوره کوي، چي د ده خوښه ويږ بلکي د

یو بشـري موجود په حيث دی اسـاسـاً یو شـخص دئ، چي له ډېرو شيانو څخه تعليم اخلي. د دې دپـاره چي يو فرد انســـان مقـام تـه ورسـيـږي، لازمـه ده، د کوچنيوالي په دوره کي د خپلي نوعي تکنالوجيکي پانگه په مغزو واخلي او د هغو ذخيره‌سـوو تجربو لويـه مجموعـه ومني، چي لـه يوې پېړۍ څخـه بلي تـه پاتيږي. نو ځکه دی بايد په کوچنيوالي کي لا د زده‌کړي دپاره مسـتعد وي او د شيانو د منلو قابليت ولري. همدارنگه بايد د خپلو ښوونکو نفوذ ته په رښتيا قايل وي او هغه هم ومني.

په دې اسـاس نو د انسـان په مشـخصـاتو کي دا هم شـامله ده، چي دی په خپل ذهن کي دننه يو نظام تشکيلوي، چي پر ده باندي حاکميت لري؛ يعني د مجبور دئ، د هغو شـيانو د منلو او قبلولو عادت ته انکشاف ور کړي، چي پر ده باندي ئې تسلط قايم کړی وي. کله چي دغه سلسله وده وکړي او اخلاقي اصول ځني جوړ سـي، نو انسـان د دې اخلاقي نظام حاکميت ته غاړه ايږدي او رعايت ئې کوي. خو په هغو شـرايطو کي چي اجتماعي تحول را سـي يا طبقاتي اسـتثمار چالان وي او يا خانداني اسـتبداد موجود وي، نو په داسـي حالاتو کي بيا فرد په اسـانۍ کولای سـي، له اخلاقي سـلطې څخه غاړه وپېچي، لاکن دا کار ئې د اخلاقي اصولو اعتبار له منځه نه وړي[21].

پـه دې ترتيب نو نه يوازي دا چي اخلاقي اصـول او عنعنوي ارزښـتونه منځ ته راغله، بلکي د بشـري تکامل طرز هم را ښـکاره سـو. دغه نو له دې لاري سر ته

---

[21] دغه بيان په زيات تفصيل د ليکونکي په هغه مقاله کي راغلی دئ، چي د «مارکسيزم او اخلاقي قانون» تر عنوان لاندي په هغه مجله کي خپره سوې ده، چي نوم ئې Marxism today دئ؛ لومړۍ گڼه، د فبرورۍ مياشت، کال: ۱۹۵۸م.

رسېدی، چي معلومات له يوه څخه بل ته انتقالېده او هم ور سره د طرزالعملونو، تخنيکي چارو، عملي پوهني، عرفي تعاملاتو او قوانينو، رواياتو، حکاياتو، مذهبي دودونو، اساساتو او اخلاقي اصولو حاکميت ته غاړه ايښوول کېده او منل کېدله. سربېره پر ټولو خبرو دا لازمه وه، چي يو ډول حاکميت لرونکی نظام بايد هم د هغه چا په ذهني ساختمان کي تشکيل سي، چي اجتماعي ميراثونه را رسوي او هم د هغه چا چي اجتماعي ميراثونه اخلي.

نو انسان نه يوازي دا چي د يو ارثي غريزي نظامه سره زړيږي (د انسان غريزي ميراث خورا لږ هم دئ)، بلکي په يو داسي مرکب اجتماعي ساختمان کي منځ ته را ځي، چي هلته د واکمنو کسانو مؤسسات او واکداري قايمي وي او هم د هغه اجتماعي نظام عادتونه او روايات چليږي. انســان د ټولو لازمي تحولاتو او نوو ساختمانو له ايجاده سره بيا هم يو عنعنه‌پرست مخلوق دئ او هم بايد وي. انسان ارو مرو په دې خبرو متصف دئ، چي د هغه ژوندون لاري به مني، چي د همکارئ په اساس چليږي او سره له دې چي دغه کار د يو حتميت له مخي کوي، خو په عين زمان کي ئې په شعوري توگه سر ته رسوي؛ ځکه په دې برخه کي انسان د زده کړي او اختيار له جريانه څخه کار اخلي او داسي نه ده، چي د يو باطني سايقې په اثر ئې کوي، لکه په ځينو حيواناتو کي چي د اجتماعي غرايزو په وسيله ځيني دغسي کارونه کيږي.

«د اجتماعي سيستم ساختمانونه د هغو خلگو د سلوک په سبب، چي د دغو ساختمانو غړي وي، ټاکلي شکلونه پيدا کوي. په دې ساختمانو کي هر سړی د نورو په نسبت خپل حقوق او وجايب لري. په عين زمان کي داسي اجتماعي

نظامونه هم سته، چي پر ښو کارو مکافات ور کوي او هغه څوک چي بيا په خپلو وجايبو کي غفلت کوي، د همدې نظامو له خوا څخه مجازات کيږي[22]».

هغه شيان چي په لومړي سر کي د يوې منلي عنعنې په حيث قبول سوي دي، بالآخره د تحول او اصلاح دپاره قابليت پيدا کوي او په دې ترتيب نو اجتماعي تکامل سر ته رسيږي. له دې جملې څخه هر تحول، چي خپل ارزښت څرگندوي، هغه سلسله پر سلسله راتلونکو نسلو ته پاتيږي او همدارنگه له يوې ټولني څخه نورو ته انتقاليږي. چايلډي (Childe) وايي: د اجتماعي تکامل په عواملو کي ډېر مهم عامل د کلتور خپريده گڼل کيږي. د دې عامل په سبب تاريخي جريان دونه تحول کړی دئ، چي بيالوجيکي تکامل او اجتماعي تکامل د شباهت په اساس باندي ښخي يو له بله سره نه مقايسه کيږي[23].

## د اکتسابي صفاتو توارث:

اوس نو دلته د توارث يو نوی طرز وينو، چي اساساً ئې لامارکي توارث بللای سو. نه جينيټيکي؛ ځکه لامارک پر دې خبره ولاړ وو، چي «کله يوه نوعه په کوم ټاکلي محيط کي زياته واوسي، نو په طبيعي ډول هلته ځيني اکتسابي خاصيتونه پيدا کړي، نو په نتيجه کي بيا دغه خاصيتونه د کومي اختصاصي عضوي وظيفه گرځي. داسي گرده اکتسابي صفتونه او خاصيتونه نو د تناسل له لاري نوو افرادو ته انتقال کوي او په دې توگه ساتل کيږي. خو دغه انتقال دا

---

[22] دغه کتاب وگورئ: Darwinism and the study of society, by Much and Banton.

[23] دغه کتاب وگورئ: Social Revolution, by Gordon.

شــرط غواړي، چي بـایـد اکتســابي تحولات د یو فرد په مور و پلار دواړو کي موجود وي.» دا نظر پـه هغـه شــکـل چي لامـارک ویلی دئ، ثبوت تـه نه دئ رسېدلی، لاکن د اجتماعي تکامل په ساحه کي بیا درسته ده، ځکه په دې ځای کي همدا اکتســابي خصــوصــیات دي، چي د تکاملي تحولاتو مرحلې په جلا کیږي او رشــتیـا هم دوی دي، چي لـه یوه پښــتـه بـل تـه پـاتیږي. دا اجتماعي مکتسبات البته په عضوي ډول نه انتقالیږي، بلکي په اجتماعي ډول له یوه څخه بـل تـه پـاتیږي. د اجتمـاعي تحول عنـاصــر، نوي اختراعات، نوي مفکورې او نظریات، د تشـکیلاتو طرزونه او نور داسـي ټوله شیان د ژوند په هره مرحله کي له هري خوا څخه انسـانانو ته را رسـېدلای سـي او یوازي داسـي محدوده لار نه لري، چي باید خاص د تناسـل له لاري څخه ورته را سـي. بشریت د جینیټیکي انتقالاتو له حاکمیته څخه آزادي لري.

یو آهنگر د خپلو لاسو غټې سوي عضلات او یا اکتسابي عادات خپلو اولادو ته نه انتقالوي، بلکي دی خپل کسـب ور ښـوولای سي. د دې دپاره چي پر محیط او د هغـه پر تغیراتو بـاندي پوره کنټرول را وســتل ســي، نو په کار ده، چي یوه سـلسـله زده سـوي او کسـب سـوي مشخصات په منځ کي موجود وي. دغه راز زده کړي او مکتسبات په لومړي سره کي د روایاتو او عنعناتو په وسیله را رسېدله، خو اوس ئې ځای کتابو او پوهنتونو نیولی دئ.

دغه نو رشتیا هم د اکتسابي مشخصاتو توارث ګنګل کیږي. خو که دغه د اکتسابي مشـخصـاتو توارث صـرف په بیالوجیکي مفهوم ومنل سـي، نو بیا غیراجتماعي تعبیرونه پر بناء کیږي، چي دغه کار ډېر ځله سـوی هم دئ؛ ځکه زیاتره پر دې خبره دلایل ویل کیږي، چي د چټلو کوڅو د اوسـېدونکو معیوب بدني ترکیبونه

او ناوړه عادتونه د دوی اولادو ته انتقالیږي او د توارث په سـلسـله ټینګیږي. په دې اساس نو د دغسـي ځایو اوسېدونکي کسان په نسلي او ارثي توګه بد ګڼل کیږي او که څه هم له دې خرابو ټاټوبو څخه یو محیط ته وایستل سي، خو څو پښتـه پـر خـپلو پخوانیو عـاداتو پـاتیږي. جې.بي.ایس. هـالـډین ( J.B.S. Haldane) وایي: «لامـارکیزم اوس د ارتجـاع د تقویې دپـاره اسـتعمالیږي. یو برتـانوی بیـالوجي‌پوه چي هغه دغه راز عقیده لري، اوس داسـي نظریه وړاندي کوي، چي هغو خلګو ته مسـتقل حکومت په لاس ور کول، چي نیکه ګانو ئې ډېره زمـانـه تر سـلطې لانـدي ژونـد کړی وي، منـاسـب کار نه دئ او نه هم د بې‌سـوادو خلګو اولادې تـه تعلیم ور کول یو ښـه کار بلل کیږي. دا یوه چټي توقع ده، چي د لاسي کارګرو اولاده کتابونه زده‌کولای سي[٢٤]». هالډین زیاتوي، چي «لابراتواري ازموینو د اجتماعي تجربو سـره یو ځای د دغي تیورۍ غلطي ثابته کړې ده.

په لومړي جهاني جنګ کي له ټیټانو څخه په لنکاشایر (Lancashire) کي یو غونډ جوړ سـو، چي د سـوازواري چرګـانو غونـډ ئې بـالـه. د دې خلګو د ګردي‌والي او کوچنیوالي سـبب دا وو، چي پښـت پر پښـت سـمه غذا نه وه ور رسـېدلې. لاکن په دوهم عمومي جنګ کي بیا دا ټیټان بېخي نه وه او اکتسـابي مشخصات ئې د توارث په سلسله نه وه پاته سوي.

څـه رنګـه چي جسـم بیرتـه خپـل بایللی حالت را ګرځولای سـي او د توارث مېکانېزم د جسـم د عوارضـو له ناوړه تاثیراتو څخه نسبتاً استقلال لري، نو له دې

---

[٢٤] دغه کتاب وګورئ: Science and everyday life, by Haldane.

اصله څخه داسي نتيجه را وځي، چي د اجتماعي اصلاحاتو د کاميابيو سره پوره مطابقت کوي او دا اميدواري منځ ته را ولي، چي د شـرايطو له سمېدو سره ډېره ناوړه عوارض ورکېدلای ســـي. دا په خپله د انســـان او د ده د مخصــوص طرز تکامل وظيفه او مسؤليت دئ، چي هغه محيطي شرايط واړوي، چي بشري ژوند محدود سـاتي او يا تاوان ور رسـوي. د بشري انکشاف په ټوله دوره کي همدغه کار د انسان پر لاس اجراء سوی دئ، ځکه دغه کار د ده په وس پوره دئ او هم د بهبود د را وسـتلو دپاره فوق العاده چابکه وسـيله ګڼل کيږي. انسـان دې ته نه دئ مجبوره، چي د بهبود د راوســتلو دپـاره د ارثي جريان تدريجي تحولاتو ته لاس تر زنه کښــېني، ځکه دا جريان بېخي کرار دئ او حتی په ډېرو مواردو کي لا داسي هم پېښېدلای سي، چي ناوړه محيطي شرايط يوه نوعه تر هغه دمخه له منځه يوسي، چي د اساسي جينيټيکي تغير د راتلو دپاره امکان پيدا کيږي.
دا خبره بـايـد پـه نظر کي وســاتـل ســـي، چي هم د تنـازع للبقاء خبره او هم د لامارکيزم اصـــول دواړه د ايډيالوجيکي وســـلو په شـــان د موجود وضــعيت د تاييدولو دپاره استعماليږي او هم د اجتماعي بهبود د امکاناتو په دې برخه کي د شـــک را پيـدا کولو دپـاره اســـتخداميږي. لاکن هغه څوک چي له دې انقلابي تيوريو څخـه زموږ پـه مقـابل کي کار اخلي، منشـــاء ئې اکثره يو خباثت دئ. د دوی ســـاينس منحرف دئ، ځکه دوی د دې خبري له ســـپينېدو ســـره چنداني علاقـه نه لري، چي اجتماعي تکامل په واقعي توګه څنګه جريان لري، بلکي په دې پســـي ګرځي، چي لـه يوې تکاملي تيورۍ څخه څه راز انحرافي تغيرات را وباسي او د طبقاتي امتياز او طبقاتي استثمار په ګټه کار ځني واخلي.

# انسان او طبیعت

## د محدودیت غلطي:

د علم او پوهنې په هره څانگه کې دا خورا غټه اشتباه ده، چې سړی د خپل خاص یو ترتیب په مقولو کې ځان محدود ساتي. علم چې د افکارو او نظریاتو په ساحه کې له محدودیته نه وي وتلی، چنداني گټه نه لري. په ۱۸ پېړۍ کې مېکانیکي افکار د زیات پرمختگ او انکشاف مانع وه او په ۱۹ پېړۍ کې بیالوجیکي افکارو بیا دغه وظیفه ادا کوله. انسان هم تر فزیکي او هم تر بیالوجیکي قوانینو لاندې دئ. دی بالذات یو حیوان دئ، خو کله چې له ده څخه متفکر حیوان جوړ سو، نو د دې جریان معنی دا نه ده، چې ده ته ذهني مواد له دباندي څخه ور پېچکاري سوه، بلکې معنی ئې دا ده، چې بشري وجود دا خصوصیت کسب کړ، چې د فکر وظیفه اجراء کړي. انسان نو د یو متفکر حیوان په حیث تر بیالوجیکي مقولو پورته ځای ونیوی. ماغزه دمخه داسې عضوه وه، چې د حسي معلوماتو او حافظې په اساس باندې ئې اصلاً د فعالیتو اتوارن او لارښوونه اداره کوله، خو اوس ئې پر دغو لومړنیو فعالیتو باندې سربېره، دا وظیفه هم اضافه سوه، چې د شیانو تر مقایسه وکړي، سنجش په سر ورسوي او د څو شیانو په جمله کې ښه شی انتخاب کړلای سي. دغه گرده کارونه او وظیفې د استدلال او تېرو تجربو په رڼا کې سر ته رسوي.

د دې خبرو په دلیل نو دا یوه کامله غلطي ده، چې د بشري ژوند پدیدو ته په دې سترگه وکتل سي، چې دوی یوازې د بیالوجیکي اصولو له مخې څخه پوره تشریح کېدلای سي. که څه هم د دې پدیدو اساس خو بیالوجیکي او

فیزیولوجیکي دئ، لاکن د دې معنی دا نه ده، چي بشري فعالیتونه تر بیالوجیکي مقولو لاندي محدود وګڼل سي. که څه هم ځیني خلګ خو دغه راز نظریه لري او اجتماعي ډاروینیستان رښتیا هم په دغه فکر دي. د ډاډ وړ خبره دا ده، چي متفکر حیوان د بیالوجیکي مقولو له محدودیته را وځي او نه سي کېدلای، چي د ده د ژوندانه جریانونه تش د کېمیا، فزیک او فزیولوجۍ په ساحو کي تشریح سي.

## پوهنه د اجتماعي میراث په حیث:

دمخه مو ولیدل، چي د فکر نوو قواوو د هغو لاسو په ملګرۍ، چي د شیانو د ټینګولو او نیولو استعداد ئې درلودی، د افزارو او نورو مربوطو شیانو ایجاد منځ ته را وستی، خو د افزارو استعمال چي پیدا سو او هم د بشري کار هغه تشکیلات منځ ته راغله، چي له دغو افزارو څخه استفاده پر سرښته برابره کړي، نو له دې جریانه سره سم د پوهني را غونډېده او یو و بل ته انتقالېده وار د واره د روایاتو په شکل را پیدا سوه.

د دې جریان اهمیت د تکامل له مخي دا دئ، چي پوهنه حقیقتاً د توارث یوه نوې طریقه ده او کله چي موږ د اجتماعي تکامل ساحې ته را داخلیږو، نو دلته د جینیټیکي توارث ځای نیسي. دغه نوی توارث د تکاملي انتقال تر نورو اقسامو (مثلاً لکه انتخاب او د مناسبو انواعو بقاء) خورا ډېر چټک او زیات مؤثر دئ.

## پوهه د تکامل پیدا ده!

د بدن غړي د استفادې په اساس موجودیت لري، په تېره بیا د تي‌لرونکي ژوي بدن د غړو د ذات البیني تعلقاتو او بشپړ توارت په نسبت خورا عجب ساختمان دئ، ځکه دا ساختمان په زیاتو داسي نظامو مجهز دئ، چي د داخلي جریاناتو د دایمي ساتني دپاره ناپایه موازنې برابروي او په همدې وسیله د وینو پرله پسې دوران، د اوکسېجن تهیه او انساجو ته د بورې د رسېدو وظایف اجراء کوي. دا تکامل دئ، چي ورو ورو ئې دغه راز غړي منځ ته را وستل او د تکامل حد ته ئې ورسوله او همدارنګه ئې دغه مېکانیزم تیار او تکمیل کړ، چي د ټولو مربوطو چارو انتظام سر ته رسوي. په دې ټوله ساختمان کي هیڅ داسي شی نه موندل کیږي، چي هغه دي په وظیفوي لحاظ بې‌ضرورته او د خپل کار په نسبت بې‌کفایته وي، ځکه غلط شیان پایښت نه کوي.

د دې غړو په ټل کي چي د ذکر سوي بیان په اساس منځ ته راغلی دئ، یو هم د تفکر مېکانیزم؛ یعني دماغ دئ. دماغ په خپله د تکامل مولود دئ او د دې دپاره تیار سوی دئ، چي د ده په وسیله له طبیعي نړۍ سره مقابله وسي. همدارنګه د دماغ په تشکیل کي دا استعداد موجود دئ، چي له شیانو سره د توافق وظیفه اجراء کړي.

انسان د زرو کلو په دوران کي د دماغ د فعالیت په وسیله د ډبري د زمانې او د فلز د زمانې لاري ووهلې. د دماغ په ذریعه بشر وکړای سول، چي د خپلو اړتیاوو د پوره کولو دپاره د طبیعت په جریاناتو کي د زور تصرفات شروع کړي او د دې انکشافاتو په سلسله ئې د صنعتي دورې ایجادات منځ ته را وسته. د دماغ په مرسته انسان پر دې وس پیدا کړ، چي د کرهنې سره اموخت ونیسي، د دریابو

سره شناخته سي او د طبيعت نړۍ د علم له لاري وپېژني او د خپلو همنوعانو سره د متشکلي ټولني په ساحه کي داخل سي.
نن ورځ انسان دې مقام ته رسېدلی دئ، چي د اقتصادي انقلابو، جنګو، تخنیکي عجایباتو او ملي نهضتو له جریاناتو سره مخامخ دئ. دا شیان هغه خام مواد دي، چي اوس پوهه ور سره مواجه ده او باید یوه سمه لار ورته پیدا کړي. دغه جریانات کټ مټ داسي مثال لري، لکه یو وخت چي پوهه د دې پرابلم سره مخامخ وه، چي څنګه د ډبري تبر جوړ کړي او د هغې زمانې لوی فیلان ووژني.

## د بشري پوهي ساحه:

ذهن څه ډول کارونه کولای سي؟ یو د بیالوجيپوه ښایي د اشتباه له مخي د ذهن د فعالیت ورشو ډېره محدوده وښیي، خو یو تخیلي فیلسوف بیا زیار باسي، هغسي فعالیتونه پوري وتړي، چي بالکل د ده له ساحې څخه وتلي وي. په فلاسفهوو کي لاک (Locke)، هیوم (Hume) او کانټ (Kant) پخوا دغسي کړي دي او هم په اوس وخت کي معاصر فیلسوفان سته، چي پر دغه لار رهي دي.
دا ضروري ده، چي د ذهن لازم وظایف وپېژندل سي، ځکه ده ته په کار ده، چي خپل وظایف په هغه ډول پوره کړي، لکه زړه او سږي، چي خپلي وظیفې سر ته رسوي. که څوک فکر نه سي کولای، نو دا کټ مټ داسي خطرناکه حادثه ده، لکه څوک چي مثلاً ساه نه سي کښلای. ذهني دستګاه د هغه جریان

په نتيجه کي منځ ته راغلې ده، چي غوښــته ئې دغه دســتگاه دې ته اماده کړي، چي د مخ ته راتلونکو اوضــاعو او ايجاباتو جواب وويلای ســـي. ذهن داســـي وظايف اجراء کوي، چي د افزارو تر جوړلو او د افزارو تر استعمالولو ئې ساحه ډېره پراخه ده، ځکه دا دســتگاه ســربېره پر خپلو مهارتو باندي د شــيانو دپاره نخشې سنجوي، د شيانو ارزښت ټاکي او د شيانو په باب قضاوتونه کوي. دغه دستگاه ځيني شيان خوښوي او ځيني غندي او نه يوازي دا چي وظايف ئې په عقلي او فکري اساس اجراء کيږي، بلکي د اخلاقي او فلسفي اساساتو رعايت هم پکښې کيږي. دغسي يو سيستم چي د تکامل جريان په وجود را وستلی دئ، بايد نه يوازي تخنيکي مسايل حل کړي، بلکي بايد د ژوند د ټولو عوارضو ســره د مقابلې په برخه کي کافي مؤثر وي. څه رنگه چي زموږ د ذهني قواوو د ساختمان او زموږ د محيط د ساختمان تر منځ شباهت موجود دئ، نو بايد دا خبره هېره نه کړو، چي زموږ په محيط کي نر، ښـځي، ســرمايه داران، مظلومان، راډيو او نور داسي ټوله د اوسنۍ نړۍ شيان شامل دي.

## انسان د يو فکر کوونکي په حيث:

دا خبره چي انسـان فکر کوونکی دئ، په وسيع مفهوم سره ئې معنی دا ده، چي دی فيلسوف دئ. له فيلسوفه څخه مقصد دا دئ، چي دی په خپل سرنوشت کي چورت وهي، د افکارو يو جامع نظام تياروي، اخلاقي اصـــول را باســـي او داسي هدفونه د ځان دپاره ټاکي، چي د سايقې قوې په حيث ئې احساسات په ښور را ولي؛ يعني لنډه ئې دا چي دی ايډيالوجۍ لري. پام دي وي، چي دلته د ايډيالوجۍ لفظ په وسيع مفهوم سره استعماليږي. انسان عقيده ايجادوي او پر

عقیـده دریږي، خو د دې معنی دا نـه ده، چې د ده عقاید به ارو مرو نامعقول او غیرعلمي وي. عقیده باید له استدلال او ساینس سره سمون ولري. یوه عقیده په دې نسبت، چې عقیده ده، لازمه نه ده، چې باید دوگماتیک شکل ولري، بلکې باید د علمي ثبوت له مخې د یقین او برخه کې د کمال حد ته ځان ورسوي.

## انسان او اخلاق:

اخلاقي اصــول او اســاســات د هغو اجتماعي فعالیتو له جملې څخه یوه مهمه برخه ده، چې په شـعوري توگه سـر ته رسـیږي او همدا اصـول یا اسـاسات دي، چې په انساني فلسفو کې د اجتماعي فعالیتو د ارزښت د ټاکلو معیار گڼل کیږي. د اخلاقي فلســفې له وظیفو څخه یوه هم دا ده، چې د بشــري تکامل جریان د درک او بصـیرت په اسـاس باندې د تاریخي انکشـاف پر لار برابر کړي. **په نن ورځ کې پرته له مارکسـیسـتي فلاسفه‌وو څخه دغسې یوه لاره څوک نه سي لیدلای او د مارکسیستي فلسفې تر ساحې دباندې موږ پر یوه مخ د اخلاقي گډوډۍ په دوره کې ژوند کوو.**

اخلاقي عقیـده دا نـه لازموي، چې ارو مرو بـه د ماوراءالطبیعه حقیقت له الهامه څخـه را پیـدا ســوې وي، بلکې بالعکس د دې عقیدې منشــاء اجتماعي ده او وظیفه ئې نفعي حیثیت لري. اخلاقي عقیده یو داسـې شی ده، چې له یوه پلوه د طبقاتي مفاد تر اســتدلال پورته مقام لري او له بله پلوه د هغو مجرداتو له جملې څخه هم نه ده، چې د انســان له عملي مســایلو ســره هیڅ اړه نه لري. انســان بې اخلاقو ژوند نه ســې کولای. که اخلاقي عقاید بې‌معنی وبلل ســې او له اعتباره

ولويږي، نو په دغســي وخت کې ذهن د اجتماعي تکامل د لاربنــوونکي په حیث په خپلو وظیفو کې پاتــه را ځي. خو دا خبره هم ډېره لیري نه ده، چې علمي فکر به زموږ ډېر بنیادي عقاید را باطل کړي. مېکانیکي (Mechanistic) یا انکاري (Nihilistic) فلسفه، چې دغه کار کوي، تر نورو فلسفو نه ده دمخه سوې او په بشري سویه ئې د انسان فکر تر خپل نفوذ لاندي نه دئ را وستلی.

## انسان او طبیعت:

دا خبره بالکل د اخلاقو له سواله سره اړه لري، چې ټي.ایچ. هکسلي ( T. H. Huxley) اعلام کړه، چې اخلاق له طبیعي جریاناتو سره تضاد لري او د همدې تعبیر په سبب ئې یو بسته پښت د زیات وخت دپاره پر غلطه لار باندي وساتی. ده عقیده درلوده، چې د طبیعت غابنــونه او منګولي سرې دي، لاکن انسان بیا برخلاف اخلاقي دئ او نو ځکه باید خپله لار د هغو قواوو پر ضد تعقیب کړي، چې دی ئې وجود ته را وستلی دئ.

دغه خبره په ذات کې د هغو ځنګلي او وحشي اخلاقو د اثبات دپاره یو فلسفي اساس دئ، چې هر کله په ټینګه له موږ څخه غوښــتل کیږي، چې د طبیعي اخلاقو په توګه ئې ومنو. که موږ داســي فکر لرو، چې ځنګلي اخلاق طبیعي اخلاق دي او انساني اخلاق د طبیعت پر ضد باندي د بشر له خوا څخه را وتلي دي، نو په دې صورت کې بشري اخلاقو ته چنداني اعتبار نه پاتیږي، ځکه دا اخلاق نو یوازي پر دې احساس ثابتیږي، چې عالي اخلاق تر طبیعي اخلاقو ډېر

ښه دي. د ځېرونکو پوهانو په نزد فلسفه د وخته لا دې ټکي ته رسېدلې ده، چي د حق او یا کوم ارزښت احساس یوازي په دې دلیل نه سي منل کېدلای، چي څوک ووایي، اهمیت ئې په خپله ښکاره دئ. داسي ترتیب هسي مثال لري، لکه څوک چي پر خپل ځان شاهدي ادا کوي. دا احساس تر دې پورته، چي موجود دئ، بل اهمیت نه لري. نن دا راز عجیب استدلال کورټ نه سي منل کېدلای، چي سړی ووایي، په دې سبب چي زه د حقیقت آرزو لرم، نو باید کامل حقیقت یو چیري موجود وي او یا دا چي زه د حقانیت آرزو لرم، نو نړۍ باید په خپل ذات کي پر حقانیت ولاړه وي.

دا چټي خبره ده، چي د خپلو باطني احساساتو د تایید دپاره طبیعي نړۍ پر خپل ذوق تفسیروو او په همدې استناد وایو، چي پلانی شی نو باید حقیقت ولري. برترند رسل (Bertrand Russell) په ډېر صراحت په دې باب ږغېدلی دئ. دی عقیده لري، چي طبیعت جلا یو شی دئ او زموږ ارزښتونه بالکل له هغه څخه بېل دي. دا ارزښتونه طبیعي منشاء نه لري او د وجود د نړۍ د نهایي ماهیت په باره کي موږ ته ډېر جزیي څرک هم په لاس نه را کوي. طبیعت زموږ له ارمانو، هیلو او ارزښتو څخه ناخبره دئ او بالآخره به موږ د دوی سره یو ځای د وجود له ساحې څخه جارو کړي. «د انسان د مؤفقیتونو ماڼۍ به ارو مرو د نړۍ تر کنډوالو لاندي د ورانۍ په حال کي ښخه سي. هره فلسفه چي دغه نظریه نه مني، د پایښت امید ئې نه سي کېدلای. یوازي د همدې حقایقو په احاطه کي د ډېري سختي ناامیدۍ پر پایه باندي د روح ټاټوبی جوړېدلای سي[٢٥].»

[٢٥] ("A free man's worship" in Mysticism and logic), by Russell.

## آیا طبیعت د انساني ارمانو دښمن دئ؟

که دغه خبري رشتیا وي، نو بیا د انسان هغه کوښښونه، چي غواړي خپل اخلاقي ارمانونه پر دې سرکښه او بدورده طبیعت تحمیل کړي، ټوله په ناکامۍ محکوم ګڼل کیږي. په دې صورت کي نو رشتیا هم داسي ټوله ارزوګاني او ارمانونه یوازي د دې خبري نمایندهګي کوي، چي بشر مخصوصه خودبیني او غرور لري او ځان هم یو شی بولي. ځکه نو د انسان دغه راز هوسونه به ټوله ارو مرو د زواله سره مخامخ سي. رسل دغه کار، چي انسان ځان یو شی ګڼی، د کایناتو په نړۍ کي یوه نافرماني بولي:

«یونانیان چي له هبرس (Hubris) څخه بېرېدل او حتی تر زیوس (Zeus) ئې جبر او قسمت ته ډېره عقیده درلوده، په خورا دقت ئې له داسي هره کاره څخه ځان ژغوری، چي په هغه کي به د کایناتو د نړۍ په نسبت کوم توهین موجود وو.» خو اوس بشري ذهن ډېر جرئت کوي او د دې پر ځای چي د کایناتو د نړۍ جریان ته غاړه کښېږدي، تر خپلو قوانینو لاندي ئې را ولي او د دې پر ځای چي د موجود جریان په مقابل کي یو تابع موقف غوره کړي، دې ته هڅه کوي، چي د نوي جریان د را پیدا کېدو دپاره پلانونه وتړي. داسي ټوله کارونه په نتیجه کي یو خطرناکه سزا او یوه حتمي بلا انسان ته را بولي.

داسي عقاید د هغه زاړه ډکترین نوی شکل دئ، چي ګناه د انسان په خټه کي اخښلې بولي. د دې ډکترین له مخي نو د انسان دپاره دا یو لوی جسارت دئ، چي زیار باسي خپل مقدرات په یو ټاکلې زمانه کي بشپړ کړي. انسان د خټو څلی او د حیواناتو له جملې څخه حیوان او په فطري ګناه بار دئ. د خدای بې

توفیقه کوم ښه کار نه سي کولای. «زموږ په ټولنه کي چي ټوله فسادونه منځ ته را ځي، د انسان د کړېږ ارادې څخه منشاء اخلي». له داسي ټولو خبرو څخه نو نه یوازي دا څرګندیږي، چي د انسان طبیعت له هغه حیواني طبیعت سره یو شی دئ، چي ګومان کیږي، ده په میراث ځني را اخیستی وي، بلکي دا هم څرګندیږي، چي د ده طبیعت هغو څېړونکو حیواناتو ته ورته دئ، چي په یقیني صورت ئې له هغو څخه تکامل نه دئ را کړی.

## د طبیعت یاغي زوی:

لي سلای پال (Le Slie Paul) په خپل یو تازه کتاب کي، چي «طبیعت په تاریخ کي» نومیږي، دغه فلسفه ئې په ډېرو څرګندو الفاظو کي را وړې ده، چي د وجود نړۍ ئې پر دوو خواوو وېشلې ده، چي یوه خوا ئې طبیعي او بله ئې اخلاقي ده. همدا ټکی بیانوي، چي اخلاقي خوا ئې ماوراءالطبیعه ګڼل کیږي.

د همدې فلسفې خبره ده، چي وایي انسان په اصل کي له طبیعت څخه منشاء اخیستې ده، خو په هر لحاظ له طبیعته جلا دئ. «هغه فاصله چي د طبیعت او روحاني نړۍ په منځ کي وجود لري، تر هغې فاصلې ډېره لویه ګڼل کیږي، چي د عضوي او غیرعضوي نړۍ په منځ کي واقع ده. همدا فلسفه عقیده لري، چي یو ماوراء الطبیعه عامل په بشري ژوند کي مداخله کړې ده او دا عامل د زمان او مکان له احاطې څخه وتلی دئ. که د دې عامل مداخله نه وای، نو د انسان دپاره دا امکان نه برابرېدی، چي تر هغو ابعادو ګام واړوي، چي د ده د روحانیت نخښې معلومیږي».

په دې اساس نو د ټولني واک او اختيار د بشري اړتياوو له مخي څخه منشاء نه اخلي، بلکي يو ماوراءالطبيعه قدرت ته منسوب ګڼل کيږي، چي هغه د کايناتو نړۍ او بشري چاري اداره کوي. دا واک نو د طبيعت له خوا څخه انسان ته نه دئ ور کول سوی، بلکي د خدای له جانبه د انسان دپاره مقدر سوی دئ. د ليسلای په عقيده دا نه سي کېدلای، چي تش د طبيعي اصولو له مخي د دې خبري درک وسي، چي ولي ابتدايي کورنۍ يا ټولۍ هغسي ټولنو ته انکشاف را وکی، چي پوره تشکيلات لري او خپل غړي تر پوره انضباط لاندي ساتي. په دې دليل نو انسان د طبيعت په مقابل کي ياغي دئ او د طبيعت ياغي زوی ګڼل کيږي. «ده ته دا وظيفه ور کول سوې ده، چي طبيعت پر بل مخ واړوي او شکل ئې ور بدل کړي او د يوې حکمي سايقې په اثر هغه انسان له منځه يوسي، چي خاص طبيعي بڼه ولري.»

## فطري ګناه:

دا عقيده، چي انسان په طبيعي صورت يو غيراجتماعي موجود دئ، د «فطري ګناه» په هغه ډکترين پوره روښانه سوې ده، چي په دې اوسنيو وختو کي ئې د ټي.اي. هيولمي (T. E. Hulme) او نورو ده غونډي ليکوالو له خوا څخه طرفداري کيږي. د هيولمي ارتجاعي فلسفه د هغه چا له ارزو سره پوره سمون خوري، چي په هر قيمت غواړي، بشري فطرت بدنامه کړي او په هغو کسانو ډرۍ ووهي، چي انسانانو ته ښه عقيده لري او د دې قابل ئې بولي، چي يوه ښه دنيا جوړولای سي. هيولمي د دې راز افکارو په مخالفت کي ولاړ دئ او د

«اجتماعي رومانتيزم» په نامه ئې بولي. دی وايي دغه رومانتيکي فلسفه د ايډيالي انسان په باره کي بړغيړي او هغه د اصلاح وړ بولي. د دې فلسفې په مقابل کي خپله مخالفه نظريه، چي «کلاسيکي تيوري» ئې بولي، را وړاندي کوي او وايي: انسان يو ناقص او محدود حيوان ګڼل کيږي، چي فطرت ئې بالکل معين او ثابت دئ. نو که انسان بد وي، سبب ئې دا نه دئ، چي اجتماعي شرايطو له ده څخه بد جوړ کړی دئ؛ ځکه دی فطرتاً بد دئ، يوازي د انضباط په وسيله تر انتظام باندي ساتل کېدلای سي او يوازي د عنعناتو قوت دئ، چي ژوند ئې په هغه توګه ور اداره کوي، چي دی په خوښ نه دئ.

رينهولډ نيبور (Reinhold Niebuhr) چي مشهور پروټستانټ مذهبي فيلسوف دئ، کټ مټ دغه شان نظريات لري. د ده په عقيده انسان تر هغه ځايه چي په طبيعي نظام اړه لري، يو ګناه‌کاره حيوان دئ او نو په همدې سبب د خدای بې‌توقيفه ښه کارونه نه سي کولای. دی واي دا خبره هم بايد پټه پاته نه سي، چي دغه د خدای توفيق چي د انسان د ادارې دپاره يوازنی قدرت دئ، متأسفانه تر اوسه پوري په دې خپل کار کي نه دئ بريالی سوی.

پاريټو (Pareto) چي ايټالوی فيلسوف دئ او د ده نظرياتو د فاشيزم د ايډيالوجۍ په انکشاف کي ستر رول ولوباوه، هم په دې عقيده وو، چي اخلاقيات کوم عقلي او علمي اعتبار نه لري، بلکي يوازي پر احساساتو باندي ولاړ دي. نو په دې اساس ټولنه داسي ذاتي قوانين نه لري، چي له عقلي او علمي مبدا څخه نشئت را کوي. انسان د هغو غيرعقلي سايقو په اثر حرکت کوي، چي تر کنټرول لاندي نه را ځي، نو ځکه دا چټي کار دئ، چي د يو معقول اجتماعي نظام دپاره پلانونه ټړل کيږي. ړانده غرايز هر کله زموږ

کوښښونه را ناکامه کوي. سربېره پر دې څه رنګه چې اخلاقي احساسات تر عقلي انتقاد لاندې نه را ځي، نو د حاکمو اقلیتو دپاره دا یو عبث امر دئ، چې د خپلو ګټو د ساتنې په لار کې ځینې وختونه د کوم کار د کولو په نسبت په اخلاقي تردد کې وي او یا ئې د اخلاقي ثبوت په تلاښ کې وخت ضایع کوي. څه رنګه چې زموږ د تقاضاوي تخیلي رنګ لري، نو نامعقولي دي او د منظمي عقلي نړۍ جز نه ګڼل کیږي، په دې نسبت چې زموږ له خودپسندۍ څخه را ولاړ ي سوي دي او صرف په وچ زور به ئې تطبیقوو، نو د دې دپاره دلیل نه سته، چې د نه منلو او منع کولو په برخه کې ئې وڕغیږو.

## د انسان فنا کېده:

دلته موږ یوازې له هغه پخواني «اجتماعي ډاروینیزم» سره نه یو مخامخ، چې په نونسمه پېړۍ کې خپور سو او اوس هم وجود لري، بلکې د هغه له یوه نوي او معاصر شکله سره مخامخ یو، چې خورا په شدت را روان دئ. دا شکل چې ډېره بدبیني تلقینوي، له زیاتي سفسطې څخه ډک دئ او حتی ډېر خطرناکه ګڼل کیږي. پخوانیو اجتماعي ډاروینیستانو خو دې ته یو څه عقیده درلوده، چې د حیا او عدالت په برخه کې انساني اخلاق اهمیت لري او همدا اخلاق دي، چې د انسان د طبیعي خودخواهۍ پر ضد کار کوي. لاکن هر څه چې اوسنۍ تیوري ده، هغه بشري طبیعت له خپلو ذاتي اخلاقي صفاتو څخه را باسي او یا لکه نیبور غوندي له دغو اخلاقي صفاتو څخه یو بې‌اثره او بې‌سیکه شی جوړوي. آیا دا د ټولني د فساد مظاهر نه دیو چې په زیاتېدونکي ډول ضد اجتماعي سلوک ته پرورښت ور کوي او پر له پسې هغه حالات منځ ته را ولي،

چي تجاوز او ځانځانی ته په لوړه سترګه ګوري او د شرافت او بې‌غرضه همکارۍ اهمیت را کښته کوي؟ سربېره پر دې پخوانیو فردیونو په شرافتمندانه توګه دا عقیده درلوده، چي د افرادو تر منځ رقابتي مبارزه به بالآخره یوه ښه ټولنه منځ ته را ولي. دوی فکر کاوه، چي یو غیرمریي لاس به د انفرادي خودخواهیو له لاري زیاتي اجتماعي ښېګڼي سر ته ورسوي. خو د دې نظریې، چي انسان یو ځیرونکی حیوان بولي، اوسني پالونکي دغه راز یو امید لا هم نه لري.

## آیا انسان د طبیعت سره مغایرت لري؟

دغه تعبیرونه چي بیان سوه، ټوله په واقعي او دقیقه توګه غیرعلمي ګڼل کیږي. د تکامل اوسني نظریات دغه راز بیانونه او تعبیرونه نه منیږ. د انسان اخلاقي سلوک له طبیعته سره مغایرت نه لري، اما د سلوک تر هغو ټولو اقسامو لوړ شکل دئ، چي د معقول او اجتماعي انسان له ساحې څخه په پرته بل چیري نه موندل کیږي؛ ځکه دغه رقم انسان خو په طبیعي نړۍ کي کاملاً د نوو طریقو له لاري څخه تصرفات کوي، خو د انسان دا تفرق نو دا معنی نه لري، چي دغه اخلاقي سلوک ئې غیرطبیعي او یا ماوراءالطبیعي دئ، بلکي په خپله د طبیعي جریاناتو یو نوی شکل دئ. دغه کټ مټ داسي مثال لري، چي بیالوجیکي جریان چي نسبت بې‌ژونده شیانو ته ډېر پورته جریان دئ او مخصوص قوانین لري، آما د ګردو خبرو سره بیا هم له هره پلوه د طبیعت محصول دئ.

په همدې اساس انسان د طبیعت یو جز دئ او د طبیعي قواوو په وسیله دې لاري ته برابر سوی دئ، چي د پوهي او فکر کارونه سر ته ورسوي. انسان په خپله طبیعت دئ، خو په داسي مرحله کي چي دا طبیعت د خپل انکشاف په

جریاناتو پوهیږي او د ځان په باب کي ئې شعور پیدا کړی دئ. څوک نه سي کولای، چي انسان له طبیعته پیل کړي، ځکه انسان له یوه مخه د طبیعت له موادو څخه د طبیعت په کارخانه کي جوړ سوی دئ. انسان د نړۍ په نسبت تش یو کتونکی او مبصر نه ګڼل کیږي، بلکي د یو داسي جریان عالي مثال دئ، چي په هغه کي طبیعت د خپل ځان اندازه لګوي. نو د انسان بیانونه په ذات کي د طبیعت خپل بیانونه دي، د خپل ځان په باره کي. سربېره پر دې د طبیعي نړۍ هغه موجودات، چي تر انسان ئې موقف کښته دئ، تر بشري کنټرول لاندي راغلي دي او انسان د لوړ ژوند د برابرولو او ساتلو په لار کي له دې موجوداتو څخه کار اخلي. همدا شیان دي، چي د ټولو کلتوري موفقیتونو په سرښته کي پوره او لازمه ګټه ځني اخیستل کیږي.

## طبیعت د انسان په مرحله کي:

انسان، افزارونه، خبري، عقل او فکر، متشکله ټولنه، اجتماعي اخلاق، مرتب او منظم سلوک، پیش‌بیني او بصیرت، اقتصادي تشکیلات او داسي نور ټوله شیان د طبیعت هغه پیداوار دي، چي د انسان په مرحله کي ئې ظهور کړی دئ. انسان او د ده ټوله موجودیت او فعالیتونه په خپله طبیعت دئ، چي په ژوندي شکل ئې د انکشاف په یوه فعاله مرحله کي ځان ښکاره کړی دئ. د انسان په مورد کي طبیعت د شعور خاوند ګرځېدلی دئ او د خپل انکشاف واګي ئې په خپل لاس کي نیولي دي.

د طبیعت او انسان په منځ کي اساسي جلاوالی نه سته. انسان طبیعي نړۍ پېژني، له هغې سره ذات البیني روابط لري، خو دا پېژندنه نو دا مفهوم نه لري، چي

انســـان لـه طبيعتـه څخـه يو بېـل موجود دئ او د خپل جلاوالي په نســبت نو د طبيعت نظاره او مشـاهده کولای سي؛ بلکي خبره داسي ده، چي د خارجي نړۍ طبيعي قواوو انسان دې حد ته را ورساوه، چي د دې نړۍ په باره کي د فکر کولو اسـتعداد پيدا کړي او هم په دې نړۍ کي داسـي تصـرفات وکړي، چي د حياتي فعاليتو د اجراء دپاره مناسب وي. بشري طبيعت او د ده اخلاق د تکامل له لاري منځ ته راغله. انسان د يو اجتماعي مخلوق په حيث دا استعداد ښکاره کی، چي نړۍ وپېژني، تصـرفات پکښي وکړي او د اجتماعي ژوند بقاء تأمين کړي. انسان چي هم د طبيعته سـره او هم د خپلي نوعي په منځ کي د ضـــرورت په اســـاس لاندي يوه ســلســـله تفاعلات په بريالیتوب تعقيبوله او په همدې جريان کي ئې سـر و صورت پيدا کی، نو ئې په نتيجه کي د حيواني ژوند تر نړۍ پورته د عقلي ژوند نړۍ ودانه کړه او تمدن ئې را وايستی.

«دا د مـاغزو نـابوبره طوفـان او د بيـالوجيکي تســـلط لـه لاري راغلي نوي ډول حيوان، چي ورو ورو ئې نور ټولـه ژونـدي موجودات د ځـان تابع گرځوله او دا مخ ته ايله انکشـاف، چي په مؤســســاتو او کارخانو کي روان دئ، دا ټوله د دې دليـل گڼل کيږي، چي پر مځکه يو تـحول ســـته او دا تـحول د مځکي د کُرې په ســـويه موجود دئ.[26]» دا گرده جريان نه له طبيعت څخه جلا دئ، نه پر طبيعت مافوق دئ او نه د طبيعت ســره مغايرت لري، ځکه انســان او د ده ټوله کارونه د تکامل پيداوار دي. د انســان په مورد کي تکامل په خپل ځان خبر ســوی دئ او په نتيجه کي يو داسـي جريان ځني جوړ سوی دئ، چي انسان ئې په خپل لاس

[26] د Chardin کتاب، چي «The phenomenon of Man» نوميږي.

اداره کوي، ځکه د ټيکنالوجۍ او تشکيلاتو په ساحه کي هر ستر پرمختګ د انساني ټولني يو نوی او عالي شکل په وجود را ولي.

## ساينس د انسان په خدمت کي:

که څه هم انسان په هر وخت کي يو عاقل حيوان وو، خو د افکارو سلسله ئې هر کله پر علمي اساس نه وه برابره. د انسان په انکشافي دوران کي دغه کار، چی افکار ئې پر علمي سرښته برابر سي، صرف دا درې سوه کاله کيږي، چي را شروع سوی دئ.

د علمي اسلوب کشفېده رشتيا هم د عاقل انسان يو خورا ستر مؤفقيت ګڼل کيږي. د اجتماعي تکامل په لار کي د علمي اسلوب را وتل د يو نوي اورګان حيثيت لري او کټ مټ داسي يو انکشاف ګڼل کيږي، لکه تي‌لرونکو چي د خپل تکامل په دوران کي د تنفس يو کامیابه جهاز حاصل کړ. د بشري تفکار پخوانۍ طريقې زياتره د ذهني او تخيلي اساساتو تابع وي، لاکن د اوس زمانې علمي اسلوب په دې سبب ډېر تکړه او مؤثر دئ، چي عملي شواهدو ته يو له بله سر ور کوي، له فرضيو څخه فارمولونه را باسي او د نورو واقعي مشاهداتو او دقيقو آلاتو په وسيله کوښښ کوي، چي صحيحي فرضيې له غلطو څخه را جلا کړي. په دې ترتيب نو د ټاکلو حدودو په ساحه کي د زيات يقين په اساس د پوهني د تنظيم او انکشاف دپاره له اسلوب څخه د يوې سالمي طريقې په توګه کار اخيستل کيږي. علمي اسلوب تجربوي پلټنو ته زيات اهميت ور کوي او له همدې لاري څخه د يوې علمي موضوع په باب کي د پوهني ساحه پراخوي او د علمي روش قدرت او کفايت زياتوي. که د ساينس څېړني اجتماعي

روحيات، د ټولني چاري او بشـري ماهيت په خپله سـاحه کي را شامل نه کړي، نو به د ټولني د تکامل په برخه کي د عمده وســـيلې په حيث کار ور نه کړي او ځان به بې‌کفايته ثابت کړي. خو دا خبره بايد وسي، چي د ساينس په ساحه کي د دې موضـوعاتو له را کښېايستو سره اوس يو خورا شديد مقاومت روان دئ او د فلسفي او مذهبي ابهاماتو په بېلو بېلو اشکالو سره د دې کار مخ نيول کيږي. **د دغي خبري سبب دا دئ، چي کله د ټولني د راتلونکي انکشاف په باره کي ســـاينســـي قوانين په کار واچول ســـي، نو ارو مرو دا نتيجه راوړي، چي طبقاتي ټولنه او اقتصادي امتيازات پای ته رسيږي او سوسياليزم منځ ته را ځي.**

# تکړه پاینښت کوي (بقای اصلح)!

د طبیعي انتخاب د اصل په مقابل کي چي هر څه وویل سي، خو بیا هم په دې کي شک نه سته، چي دغه اصل په بشري ټولنه کي جاري دئ، څکه زورور هر کله کمزوي وژلي دي او تر خپله وسه ئې له منځه ایستلي دي. د نړۍ په هر گوټ کي هغه څوک چي زور لري، کوښښ کوي پر دا نورو غالب سي او هم هغه څوک چي غښتلس وي، ښه او بهتر گڼل کېدلای سي[٢٧]. (باگیهوات (Bagehot

دغه بیان نسبتاً په ښه توگه د هغي عمومي نظریې خُلاصه گڼل کېدلای سي، چي تنازع‌للبقاء او بقای اصلح د تکامل یوازنی طریقې بولي. په همدې لړ کي سپینگلر چي یو جرمنی فیلسوف دئ، دا خبره ئې کړې ده، چي «انسان یو ښکاري حیوان دئ». همداراز نور ډېر کسان سته، چي خبره ئې دغسي نه ده، لاکن عقیده ئې دغه ده، څکه دوی وایي، انسان که د ځنگله قوانین و نه مني، نو نه بریالی کېدلای سي او نه خپل موجودیت ساتلای سي.

اوس نو پوښتنه دا ده، چي آیا دغه نظریه د تکامل د تیورۍ بشپړه تیوري بلل کېدلای سي؟ د دې دپاره چي دغي پوښتني ته ځواب وویل سي، لازمه ده، په کُلي توگه دا خبره وڅېړل سي، چي ارثي تحولات څه ډول انتخابیږي او څنگه ډېرښت پیدا کوي او ولي یو ټینگ شکل د ځان دپاره نیسي؟

د طبیعي انتخاب مېکانیزم: د ډاروین نظریه څلور قضیې او درې نتیجې لري، چي په لاندي ډول خُلاصه کېدلای سي:

---

[٢٧] طبعیات او ساینس (Physics and politics).

۱- ژوندي موجودات د تولید مثل دپاره زیات شمېر حجرې تولیدوي او د دې حجرو شمېر تر هغو افرادو ډېر بالا وي، چي د پوره رشد حالت ته رسیږي.
۲- د یوې نوعي د افرادو شمېر لږ یا ډېر پر ثابت حال پاتیږي.
۳- نو ځکه د فنا کېدو اندازه باید ډېره جگه وي.
۴- د یوې نوعي افراد ټوله پر یوه راز نه دي، بلکي په گردو خصوصیاتو کي ئې تفاوت لیدل کیږي.
له دې خبرو څخه نو موږ د ډاروین د نظریې دې نتایجو ته رسیږو، چي:
۵- ځیني هغه افراد چي له نورو سره توپیر لري، کېدلای سي، چي د تنازع للبقاء په میدان کي تر نورو زیات بریالي سي او نسل ئې هم د شمېر له پلوه ډېر سي. نور نسلونه یا د خپل محیط د شرایطو سره د لږ توافق په نسبت نه پاتیږي او یا ئې ژوند له موانعو سره مخامخ کیږي.
٦- دغه تفاوتونه او بدلونونه چي موږ پر ږغیږو او تر کتني مو لاندي دي، په ارثي شکل اوړي.
۷- نو هغه نسلونه چي د دې جریاناتو په نتیجه کي را وځي، دې خوا ته متمایل وي، چي یو نوی او اوښتی شکل منځ ته راوړي.
اوس په دې برخه کي زموږ معلومات، چي ارثي تحولات له کومو جریاناتو سره اړه لري، تر ډاروین ډېر سوي دي. هغه بیالوجي پوهان چي خورا ژوري څېړني کوي، د دې جریان پوره اندازه ئې لگولې ده، چي په څونه چټکی یو داسي متحول صنف منځ ته را ځي، چي تر نورو صنفونو بالا ښېگڼې او خصوصیات ولري. د دې ټولو پرمختگونو سره بیا هم د انتخابي جریان اهمیت په هغه اندازه پاته دئ، لکه ډاروین چي ورته کتله.

خو اوس موږ نور خورا قیمتي معلومات هم لاس ته را وستلي دي او دا معلومات د هغو لارو په باره کي دي، چي د انتخاب جریان سر ته پکښي رسیږي. انتخاب له یوې خوا په ځانګړو ګروپونو کي او له بلي خوا په ټوله نوعه کي په عمومي سویه روان وي. دغه په ځانګړي ډول انتخاب چي بیالوجیکي انزوا ورته وایي او په دې اوسو وختو کي موږ معلومات پکښي حاصل کړي دي، د هغه تحول او بدلون له لازمي شرایطو څخه ګڼل کیږي، چي په نتیجه کي ئې نوي انواع او عالي صنفونه را پیدا کیږي. همدغه انزوايي انتخاب وو، چي لومړی سر ئې د انسان په نوعه کي دننه د بېلو بېلو نژادو او کوچنیو تکومو د تشکیل دپاره زمینه برابره کړه. خو څه رنګه چي انسانان اوس سره نژدې کیږي او بشري انزوا مخ پر ورکېدو ده، نو ځکه د نژادي اصنافو تر منځ فرقونه او تفاوتونه هم مخ پر زائلېدو دي.

د رقابت په میدان کي د برترئ درې ډولونه: البته دا آسانه ده، چي سړی د بقای اصلح په عمومي خبره قناعت وکړي او نور نو په دې پسي سر و نه ګرځوي، چي څه ډول تحول د دې عامل ګرځي، چي یو صنف ته برتري ور کوي او یا حتی په دې کي چورت هم و نه وهي، چي د قوت او یا شدت ځیني خاصیتونه د دې سبب ګرځي، چي د طبیعي جګړې او یا مستقیمي رقابتي تنازع په میدان کي بری را ولي. دغسي یو نظر خورا محدود ګڼل کیږي، ځکه د مثال دپاره تاسي وګورئ، اوښ دا استعداد لري، چي غذا او اوبه په ځان کي ذخیره کړي او خوله ئې د دې دپاره مستعده ده، چي هر ډول زیږه او زوزانو والا واښه په وخوري او څپړي ئې د رېګي دښتو د سفر دپاره خورا ښې جوړې سوي دي، لاکن سره له دې خصوصیاتو نه ښکاري حیوان دئ او نه هم نور حیوانات د ژوند له صحنې څخه باسي. د ژوند بقاء په هیڅ وجه یوازي د وحشت او قوت سره ارتباط نه لري. اکثره

حیوانات بې‌له دې چې غاښونه او چمبې ئې قوي وي، په زیاتو خصوصیاتو کي د برترۍ خاوندان وي.
د بقاء دپاره دا لاندي څلور خاصیتونه د پاملرني وړ دي:
۱- د طبیعي شرایطو سره ښه توافق، لکه اوښ چي ئې مثال دئ.
۲- په ښکار کي مهارت، لکه پړانگ او باز چي ئې لري.
۳- په تېښته کي مهارت، لکه هوسۍ، سنجاب او سوی چي ئې لري او یا هغه حیوانات چي ډېر ښه ځان پټولای سي.
۴- د گډي همکارۍ او یا د کار د تقسیم د بېلو بېلو شکلو له لاري هم بقاء تأمینیږي. دغه طریقه البته د انسان په مورد کي خاص اهمیت لري، لاکن که مو پام وسي، تر انسان کښته په نورو ژویو کي ئې هم مثالونه لیدل کیږي.

## د ژوند بقاء د همکارۍ له لاري:

دا فکر، چي طبیعت د سرو غاښو او سرو چمبو یو مظهر گڼي او د همدې نظریې له مخي ټوله حیوانات یو له بله د جنگ په حالت کي بولي، بالکل یو اړخیزه او غلط گڼل کیږي. د ډاروینیزم په لومړیو ورځو کي دا نظریه، چي طبیعي انتخاب د رقابت له لاري سر ته رسیږي، یوه غالبه نظریه وه، چي د بیالوجي‌پوهانو او اجتماعي مفکرینو افکار ئې داسي تر تاثیر لاندي را وستلي وه، چي د همکارۍ د سلوک موجودیت او اهمیت ئې گردسره نه لیدی، خو اوس موږ پوهیږو، چي د ژوندیو گروپونو د بقاء دپاره د همکارۍ سلوک یو مهم عامل بلل کیږي. رشتیا هم کله چي د تعاون او نوع‌پرستۍ تمایلات د خودخواهۍ او دښمنۍ له تمایلاتو سره پرتله سي، نو دا نتیجه را وځي، چي همکاري او نوع‌پرستي د بقاء دپاره څرگندي ښېگڼي لري. د دې دپاره چي گروپي فعالیتونه په بریالیتوب سر ته

ورسول سي، نو په دې لار کي همکاري هغه عامل دئ، چي استحکام او ارتباط ښه ساتي او يو داسي محيط ايجادوي، چي په هغه کي د گروپ غړي پوره فعاليتونه کولای سي او د حياتي بقاء اندازه ئې بې حده ډېريږي. دا هم د همکارۍ له جملې څخه ده، چي افراد په ښه ډول تشکيل سوي وي او تر منځ ئې بشپړه هم‌آهنگي موجوده وي. تشکيل او هم‌آهنگي دواړه د حياتي بقاء په تأمين کي پوره مرسته کوي، په دې اساس نو هغه گروپونه چي په شعوري صورت او د زده کړي له مخي له تخريبي رقابته څخه ځان را گرځوي، د مزيت او ښېگڼي خاوندان بلل کيږي. د انسان د تکامل په ساحه کي دا خصوصيت هم سته، چي انتخابي عواملو ئې هر کله د تعاوني صفاتو د انکشاف په برخه کي ډېر تاثير وارد کړی دئ.

دا عقيده کورټ غلطه ده، چي انسان په طبيعي ډول متجاوز او رقابت کوونکی دئ او اجتماعي تقواوي د طبيعت سره د يو تش اخلاقي مخالفت په سلسله منځ ته راغلي دي، ځکه انسان په ذات کي يو تعاوني حيوان دئ او هغه عوامل، چي له اجتماعي فشاره څخه را پيدا کيږي او د تعاون پر خلاف منځ ته را ځي، د انسان درجه ډېره کښته بيايي.

د هغو څلور لويو شيانو په جمله کي، چي د حياتي بقاء د عواملو په حيث تر مخ بيان سوه، يوازي آخر ډول ئې، چي تعاوني بقاء ده، اساسي او مثبت موافقيت گڼل کېدلای سي. هغه حيوانات چي دفاعي او يا تعرضي وي، د دوی تر منځ روابط داسي وي، چي يو و بل ليري سره ساتي. موجوده حيوانات چي دغه شان خواص لري، بايد په ناکامۍ او ورکېدو محکوم موجودات وگڼل سي، چي د تکامل د جريان په پای کي واقع دي، لکه لي گروس کلارک (Le Gros Clark)

چي وايي: «د تي‌لرونکو ژويو خورا ډېر انواع او اجناس له منځه تللي دي او دوی د تکاملي تجربو هغه مثالونه دي، چي په آخر کي له ناکامۍ سره مخامخ سوي دي.» د پرمختګ والا تکامل دپاره دا په کار وه، چي يو ډول نوي تعاوني روابط را پيدا سي او د هغو له لاري هغه انواع منځ ته را سي، چي يو د بله سره نه دفع کوي، بلکي په مجموعي توګه نوي استعدادونه ولري.
د تخصص ټوله شکلونه چي پرته له انسانه په نورو ټولو تي‌لرونکو ژويو کي ليدل کيږي، په داسي موقف ولاړ دي، چي ارو مرو ئې د نور انکشاف مخه بنده ده. دوی د هغه بيالوجيکي تکامل مثالونه دي، چي يوې خوا ته ئې انکشاف کړی دئ، اما حقيقي پرمختګ خو دا دئ، چي تکامل کُلي شکل ولري او د نور انکشاف دپاره هم مستعد وي. «د دريمي (Tertiary) دورې په زمانه کي يو زيات شمېر تي‌لرونکي ژوي له هغي لاري څخه واوښته، چي د نهايي پرمختګ امکانات پکښي موجود وه، ځکه دوی د تخصصي جريان خوا ته مخ ونيوی. مثلاً آس يا زمری د پرمختګ په مقابل کي مجهز دئ او نور انکشاف نه سي کولای، ځکه د دوی اندامونه، غاښونه او د بوی احساس خورا پوره کار کوي او له دوی څخه هر يو د عضوي ماشين يو محدوده دستګاه ګڼل کيږي. خو هغه وروستنی ګام چي د تکاملي پرمختګ په لار کي اخيستل سوی دئ او هم د تکاملي آيندې په ساحه کي د ناپايه يا زيات پرمختګ زيری هم ور کوي، هغه دا دئ، چي د پوهي او په فکر په درجه کي زياتوب راغلی دئ. د پوهي او فکر تر نامه لاندي د خبرو انکشاف او ټوله فکري ادراکات شامل ګڼل کيږي. دا پوهي او فکر يوازي په انسان کي وجود لري. د حيواناتو دا نور ټوله پېژندل سوي اقسام پرته د انسان له اجدادي سلسلې څخه له دغه حکمه وتلي دي. ادراکات

يوازي په انسان پوري خاص نه دي، لاکن د ادراکاتو د تکامل او انکشاف جريان د مځکي پر مخ باندي بې‌له انسانه څخه په بل چا کي نه ليدل کيږي. تکامل داسي مثال لري، لکه بندي کوڅې چي ځيني خورا لنډي او نوري بيا اوږدې دي، لاکن ټوله سره يو ځای د نهايت خالي او وچ دېواله ته دريږي.[۲۸]» ځکه هغه تي‌لرونکي ژوي چي پلای‌اوسين نوميږي او درې ميليونه کاله دمخه ئې سلسله ودرېده، د خپل واقعي انکشاف نهايت ئې ښووی او تر هغي نېټې را په هيسته صرف ځيني اصناف را پيدا سوه، لاکن نوي اجناس ئې منځ ته را نه غله.

## مالتوس:

دا خبره چي ډاروين د خپلي تيورۍ اساسي عنصر د مالتوس له هغه اثره څخه واخيستی، چي د نفوسو په باره کي ئې کښلی دئ، دې نظريې ته ئې هم قوت او جرئت ور کړی دئ، چي تکامل له دې لاري څخه سر ته رسيږي، چي د محدود منابعو په تلاښ کي د رقابتي فعاليتو په سلسله کمزوره له مابينه وځي. مالتوس عقيده درلوده، چي وګړي نسبت خوراکي موادو ته په زياته چټکۍ ډېريږي، لاکن د کاختۍ، جنګ او رنځ مثبت موانع د دوی د ډېرېدو مخه نيسي او هم ځيني اخلاقي بنديزونه په دې مخنيوي کي تاثير لري. د ده تيوري نو دا دوې خبري سره جلا کوي، چي يوې خوا ته طبيعي عوامل د وګړو د زېږولو په زياتوب کي لاس لري او هم ډېر ځني وژني، خو بلي خوا ته بيا د زوکړي د مخنيوي دپاره اخلاقي لاري هم سنجول کيږي. ډاروين بې‌له دې څخه چي استثنايي عوامل په نظر کي ونيسي، يوازه هغه خبره، چي طبيعي عوامل د وګړو په انکشاف کي مؤثر

[۲۸] J. S. Huxely, Evolution; the modern synthesis.

دي، ښه ترا څېړي او نور بيانونه پر زياتوي. ډاروين بې له دې خبري څخه د هغي فرضيې اساس جوړوي، چي نه يوازي د حيواني او نباسي افردو نفوس په نورمال حالت کي پر يوه قرار بولي، بلکي د بېلو بېلو انواعو د فنأ او يا بقاء سببونه هم را ښيي. ډاروين ليکلي دي: «د مالتوس نظريه په ډېر قوت سره د ټولي حيواني او نباتي نړۍ په باره کي په کار اچول سوې ده.» ډاروين په دې سلسله کي يوه داسي خبره منځ ته راوړه، چي هغو کسانو هر وخت هېره کړې وه، چي د مالتوس له نظريې څخه به ئې د بدبينۍ د فلسفې په اساس بد نتايج را ايستل، ځکه ډاروين ويلي دي: «که د مالتوس نظريه اساس وګڼل سي، نو د کرهڼي د اصلاح او پراخوالي په وسيله په مصنوعي ډول غذا نه سي ډېرېدلای او نه هم د نسل مخنيوی په سر رسېدلای سي. خو دا خبره صحيح نه ده، ځکه په بشري ټولنو کي هم د کرهني منابع ډېرښت کوي او هم د نسل مخنيوی عملي کيږي.»
که څه هم په خپله له مالتوس څخه زياتره وخت په دې برخه کي دفاع کيږي، چي د اجتماعي بدبينۍ له توره څخه ئې خلاص کړي، لاکن هغه څوک چي وايي، د مالتوس دکترين د اجتماعي ترقي پر امکاناتو باندي شکونه را پاځولي دي، د خپلي خبري د ټينګېدو دپاره په خپله د مالتوس ډېر اظهارات پيدا کولای سي. د مثال دپاره مالتوس وايي: «انسان چي نړۍ ته را ځي، نو تر مخه لا په نړۍ کي د خپلي برخي خاوند دئ. نو که دی له خپل مور و پلاره څخه خوراکه نه سي لاس ته را وستلای او يا ټولنه د ده کار ته اړه نه وي، نو دغسي څوک حق نه لري، چي د کوچنۍ ګولې غوښتنه وکړي. په هغه ځای کي چي دی اوسي، د هيڅ کاروبار څښتن نه ګڼل کيږي. د طبيعت په زوروره مهمانۍ کي د ده د ساتني

دپاره ځای نه سته. طبیعت ده ته وایي، چې څه ولاړ سه او ژر تر ژره خپل امرونه پر چلوي.»

مالتوس د «خوارانو د حمایې د نوي قانون» له موادو سره کلک مخالف وو، ده وویل: «خواران د طبیعت د مجازاتو په اساس باید د سختي لوږي او اړتیا مجازاتو ته پرېښوول سي... ټوله خیراتي مرستي باید په ټینګګي پر بندي سي.»

عمومي فکر داسي فکر کېدی، چې ډاروینیزم د مالتوس نظریه ډېره قوي کړې ده، ځکه ډاروینیزم دا خبره منځ ته راوړه، چې د کاختی جنګ او رنځ مثبت موانع نه یوازي د نفوسو د زیاتوب مخه نیسي، بلکي پر نسل هم یو ګټور تاثیر اچوي، ولي چې په دې صورت کي له هره نسله څخه د بقاء دپاره مناسب او تکړه افراد د طبیعي انتخاب په اساس ژوندي پاتیږي. وروسته بیا دا نظریه د هربرټ سپنسر (Herbert Spencer) له خوا په ډېر قوت سره تائید سوه. ده د خوارانو د حمایې قانون، دولتي تعلیم، د روغتیا او کورو د تنظیم په باره کي دولتي مؤسسات نامناسب شیان وبلل. ده اعلام کړه: «که انسانان په کافي اندازه د ژوند دپاره په ځان پوره او مستعد وي، نو خو ژوند ته ادامه ور کولای سي، لاکن که دغسي نه وي، نو له مابینه وځي او مري او هم دغه ښه خبره ده، چې باید مړه سي.» سپنسر همدارنګه د لامارک دې نظریې ته عقیده درلوده، چې اکتسابي خواص ارثي شکل اخلي او له یوه نسله بل ته انتقالیږي. د همدې عقیدې په اساس نو هغه څوک چې تکړه او غښتلی وي، د ژوندون مطلوب شرایې په ځان پوري اختصاصوي (او باید اختصاص ئې هم کړي). نو کوم صفات او خصوصیات چې تر دغسي مساعدو شرایطو لاندي په لاس راوړي، هغه بیا خپل اولاد ته په میراث انتقالوي او نو ځکه اولاد ئې نور هم تکړه کیږي، چې د ځانو دپاره زیات

شیان اختصاص کړي. له بلي خوا بیا هغه څوک چي د ژوند دپاره پوره مساعد نه وي، نو خپلي کمزورۍ، چي د محیطي جریاناتو په سلسله ئې کسب کړې وي، خپل اولاد ته ئې په ارث پریږدي او په همدې سبب ئې اولادونه د رقابت په میدان کي نور هم کمزوري کیږي.

## اجتماعي ډاروینیزم:

کله چي د مالتوس ډکترین له طبیعي انتخابه سره یو ځای سو او د لیسه‌فر (Laissez Faire) د علمي ثبوت دپاره په نونسمه پېړۍ کي په کار واچول سو، نو اجتماعي ډاروینیزم منځ ته راغی. خلګو زیار ایستی، یو د بل په سیالي د اجتماعي ګروپونو انکشاف د تنازع للبقاء، طبیعي انتخاب او بقای اصلح پر اصولو برابر تشریح او تفسیر کړي. اجتماي ډاروینستیانو (چي په دغه نامه یاد سوي دي) ټوله هغه شخړي، چي د نژادي، طبیعي او اجتماعي ګروپونو تر منځ پېښیږي، یوازي ئې د بیالوجیکي عواملو له مخي بللې او هم ئې جنګ او رقابت د اجتماعي تکامل اصلي وسیله ګڼله.

دوی داسي فکر کاوه، چي د تمدن او لوړو کلتوري اشکالو مبداء له ډله‌ییزو او ګروپي مبارزو څخه را پیدا سوې ده. هم نژادي او هم اقتصادي ګروپونه دواړه ارو مرو متضادي ګټي لري او د دوی د مبارزاتو او منازعاتو په نتیجه کي، هغه چي زورور او تکړه وي، کمزوري له مابینه اخلي. هر چیري دغسي منازعات دې نتیجې ته ځان رسوي، چي په اقتصادي لحاظ غښتلی اقلیت هغه اکثریت تابع کوي، چي له اقتصادي پلوه کمزوري وي. دې ډول نظریې ته اجتماعي ډاروینیزم ویل کیږي.

دغه نظریه چي له سوسیالوجۍ څخه ئې منشاء اخیستې وه، په لومړي سر کي بیالوجۍ ته انتقال سوه، خو اوس بیا داسي معلومیږي، لکه د بیالوجیکي تیوریو نتیجه چي وي او د ټولني په باره کي په کار اچول کیږي. په دې اساس نو آزاد تجارتي رقابت ته په دې سترګه کتل کېده، لکه د طبیعي انتخاب یو شکل چي وي او د دې دپاره ښه زمینه برابروي، چي تکړه او مساعد کسان پر میدان پاته سي، نو ځکه داسي فکر کېدی، چي هر څونه رقابت شدید وي، په هغه اندازه پرمختګ چټک وي.

که د تکامل هدف دا وي، چي د انواعو نیمګړتیاوي ایسته سي، نو باید نامناسبه او غیرمساعد افراد له مابینه ووځي. که د تکامل چټکي ښه ګڼل کیږي، نو باید د غیرمساعدو افردو په ورکېدو کي مرسته یو نېک کار وبلل سي. څه رنګه چي غیرمساعد افراد او ګروپونه کښته ګڼل کیږي، نو د دوی تصفیه ضروري ده. دا هغه قیمت دئ، چي موږ ئې باید د پرمختګ او ترقيدارو د را وستلو دپاره تادیه کړو.

له دې خبرو څخه نو د تجارت په نړۍ کي داسي نتائج را ووتل:

الف: هغه څوک چي په تجارتي چارو کي برۍ مومي، نو په تکاملي لحاظ تر خپل حریف مخ ته بلل کیږي.

ب: اقتصادي بریالیتوب او بیالوجیکي بریالیتوب یو له بله سمون خوري، نو ځکه هغه کسان چي ثروت، حیثیت او قدرت په لاس راوړي، په بیالوجیکي لحاظ تکړه او مساعد ګڼل کیږي.

ج: طبیعي انتخاب چي په سرمایهداري ټولنه کي روان دئ او د تجارتي رقابت شکل ئې اخیستی دئ، د بشریت د تکمیل وسیله ده، ځکه دغه جریان له یوې

خوا مساعد کسان دې ته اماده کوي، چې مخ ته ولاړ سي او زياتوب وکړي او له بلي خوا نامساعد کسان له منځه باسي. **اجتماعي ډاروينيزم چې په خورا حرارت استقبال سو، لوی سبب ئې دا وو، چې دې نظريې سياسي اهميت درلودی او همدا اهميت ئې تر علمي حيثيت خورا ډېر وو. د دې نظريې په استناد هغه چا زښت قدرت پيدا کړ، چې د اجتماعي اصلاحاتو مخالف وو او د هغي زمانې د سوسياليزم له انکشافه سره ئې مقابله کوله. دې نظريې رشتيا هم د هغو خبرو د ترديد په باره کي مباحثې منځ ته را وستلې، چې د ټولني د اشتراکي نظام په باب کي موجودي وې او هم د خصوصي تمليک په دفاع کي، چې د اجتماعي ماڼۍ اساس گڼل کېدی، کار ځني واخيستل سو.** د هغي زمانې مزاج دې ته پوره اماده وو، چې د هغسي نظرياتو په باره کي د بدبينۍ فکر واخلي، چې د بشري ماهيت په باب را وتلي دي او د هغو خپرېده داسي معلومېده، چې اجتماعي نظام به تهديد کړي. د انگليسي ټولني ممتاز طبقات، چې ډېري مځکي ئې په لاس کي وې، د خواري وهلي صنعتي مزدورانو په منځ کي ئې د عياشۍ ژوند کاوه، دا وخت د اتلس سوه او شپېتو کلونو زمانه وه. په دې زمانه کي ممتازو طبقاتو دغه نظريه په خورا ډېره خوښه واخيستله، ځکه دوی ئې له هغه ټوله مسؤليته خلاصول، چې د هغي زمانې د بدو اجتماعي شرايطو له پلوه موجود وه.

## د سرمایه‌داري نظام اخلاق د غالبو اخلاقو په حیث:

په دې زمانه کې د اجتماعي ډاروینیزم کلکه طرفداري په جرمني کې مخ پر غوړېدو وه. په کال ۱۸۸۶ کې نیچه (Nietzsche) یو کتاب خپور کړ، چې نوم ئې «د ښو او بدو تر شا[۲۹]» وو. په هغه کتاب کې ئې دا خبره را میدان ته کړه، چې د نړۍ ټوله اخلاق تر دوو عنوانو لاندې راتلای سي؛ باداري اخلاق او غلامي اخلاق.

د ټوله بشري موجودیت سایقه قوه، هغه اراده ده، چې غواړي قدرت په لاس راوړي. نو داسې ګرده معیارونه او فعالیتونه، چې د یو شخص قدرت ئې ور زیاتاوه، هغه ښه ګڼل کېده. دلته نو زیات بې‌قوته، کوټه‌ذهنه، سوټیان خلګ موجود وه او هیڅ ئې نه سوای کولای، چې د قابل او تکړه اقلیت سره رقابت وکړي. دې ډېرو خلګو نو خپل موجودیت یوازې په دې توګه ساتلای سوای، چې د هغو لږو خلګو په تابعیت کې ژوند وکړي او هغو ته ګټه ور ورسوي. د دغه جریان په سبب نو د اخلاقي طرز العمل دپاره دوه معیاره په وجود راغله؛ یوې خوا ته باداري اخلاق را پیدا سوه، چې په شتمنه او واکمنه طبقه، یعني په محدودو څو اشرافو پوري ئې ارتباط درلودی؛ خو بلې خوا ته هغه غلامانه اخلاق منځ ته راغله، چې د کښتو خلګو په لوی اکثریت پوري ئې اختصاص درلودی. د باداري په اخلاقو کې دې کار ته په سپکه کتل کېږي، څوک تر نفسي خواهشاتو تېر سي او د خاکسارۍ لار ونیسي، خو له بله پلوه بیا د کښتو طبقاتو دپاره دا خورا ښه اخلاق ګڼل کېږي، چې تر لاس لاندې عاجزه وي، په خپل

---

[۲۹] Beyond Good and Evil.

نصیب ئې سر کښته کړی وي، له خواهشاتو څخه بېزاره وي او پر بدو هر چا ته ور تېرېږي.

په دې ډول نو هم د نیچه اخلاقیاتو او هم د اجتماعي ډاروینیزم مسلک دا خبره ټینګه کړه، چي عالي افراد او لوړ طبقات خورا ډېر ارزښت لري

خو البته هر څوک دې ته تسلیم نه سول، چي دغه د رقابتي مبارزې اخلاق وستايي. رشتیا هم هلته د داسي نظریاتو پر خلاف یو شدید عکس‌العمل را وپارېدی، چي مخصوصاً اخلاقي‌پوهانو او شاعرانو زیاته برخه پکښې درلوده. روسکین (Ruskin)، کارلایل (Carlyle) او ټې‌ني‌سن (Tennyson) په ښکاره ډول د دې راز نظریاتو سره مبارزه وکړه، چي «د طبیعت غاښونه او منګولي سرې بولي». لاکن د هغو کسانو په جمله کي، چي اخلاق ئې د تکاملي جریان په سلسله تشریح کوله، یو هم ټي. ایچ. هکسلي (T. H. Huxley) وو. ده د دې خبري په تردید کي، چي د قدرت غوښتني اراده اساس ګڼل کیږي، داسي اظهارت منځ ته را وسته، چي اخلاقي اصول له طبیعي قوانینو سره مباینت لري.

له دې خبري څخه نو بیا دا نتیجه اخیستل کېده، چي انسان یوازي په دې وجه د یو اخلاقي موجود په توګه منځ ته راغی، چي د تکامل د قانون د شدیدي مبارزې په مخ کي ودرېدی او د کازمیکي جریاناتو سره ئې مقاومت شروع کړی.

دغي نظریې نو دغه بیانونه او بحثونه پر غلطه لار واچوله، ځکه دې نظریې دا نه سوای کولای، چي د بشري پرمختګ شکلونه هغه راز ومني، لکه موږ چي بیان پکښې کوو. ولي زموږ څېړنه پر دې اساس بناء ده، چي دا شکلونه، که څه هم له حیواني نړۍ څخه دباندي دي، لاکن سره له دې هم د طبیعت په ساحه کي شامل

دي؛ ځکه انسان او د ده د ژوند طرزونه ټوله د طبیعت په احاطه کي داخل ګڼل کیږي.

## اوسنی اجتماعي ډاروینیزم:

ښایي منور خلګ به نو دا فکر کوي، چي دغسي یو غیراجتماعي ډکټرین به نو اوس ارو مرو له موډه لوېدلی وي؛ لاکن خبره داسي نه ده، ځکه اجتماعي ډاروینیزم په څلورو شکلو کي تر اوسه لا چلیږي او مخ ته ځي:

۱- دا خبره موږ زیاتره اورو، چي ځیني کسان وایي: د هغو خلګو د ژوند د پایښت دپاره تلاښونه، چي د ناجوړه کېدلو دپاره مستعد وي، ښایي د صحت عمومي سویه را کښته کړي؛ ځکه په دې صورت کي خو یو نامساعد موجود ژوندی ساتل کیږي او زمینه ورته برابریږي، چي د ځان په رنګ خپل نسل ډېر کړي.

۲- په عین زمان کي پر دې خبره هم دلایل ویل کیږي، چي د خوارانو دا چټک زیاتېده، چي د پوهي په لحاظ دوی د اولس ټیټه طبقه ده، ارو مرو به د پوهي عمومي سویه په اولس کي را کښته کړي.

۳- نه یوازي دا چي کوټه‌ذهنه او کم‌فکره کسان د ډېروالي زمینه پیدا کوي، بلکي په عمومي سویه د ټولني ډېر مؤثر غړي، د متوسطو او کښتو کسانو په هجوم کي لاندي کیږي. نو د تنازع للبقاء په اثر د ښو ګروپو واکمني ساتلې نه سي پاتېدلای. مثلاً که احمد هر څونه ښه وي، خو پر موږ به د هغو ډېرو حکم چلیږي، چي ابسین (Ibsen) د «لعنتي اکثریت» په نامه بللي دي او د پوهي منځنۍ سویه ئې د پیاوړي اقلیت تر سویې ډېره کښته ده. اجتماعي ډاروینیزم نو له همدې لاري څخه پر ډیموکراسۍ حمله کوي او د تکړه اقلیتو حکومت غواړي.

۴- د مالتوس ډکترین په خورا زور اوس بیا را ژوندی سوی دئ او د بدبینۍ په اساس دې خوا ته پام اړوي، چي د روغتیا د خدمتونو په سلسله په کم انکشافه هیواد کي نفوس بې‌سده ډېرېږي او له دې سره د کاختۍ او د نورو پر مځکو د تجاوزي جنګو خطرونه تړلي دي.

اجتماعي ډاروینیزم د هغو سیاسي او اجتماعي مفکرینو د انحرافاتو مظهر دئ، چي دوی لا اوس هم د ټولني په باب کي د نونسمي پېړۍ په شان فکر کوي. هر څه ټینګار چي په دې برخه کي کیږي، پرته له دې چي د اجتماعي پرمختګ او جهاني سولي مخه ونیسي، بله غایه نه لري. دغه ډکترین د هغو نظریاتو دپاره یوه بیالوجیکي پایه ور پیدا کړې ده، چي نژادي تفوق او طبقاتي تفوق ثابت بولي او په داسي دلایلو پسي ګرځي، چي هغه ټوله کوښښونه رد کړي، چي د شخړو په کمېدو پسي کیږي؛ ځکه د دې نظریاتو په اساس خو دغه راز کوښښونه د هغو طبیعي قوانینو خلاف ګڼل کیږي، چي په اتومات ډول خراب عناصر له منځه باسي او ښه تکړه افراد سر ته را ولي. په جرمني کي یو شمېر فیلسوفانو او اجتماعي پوهانو له دې نظریاتو څخه دا کار واخیستی، چي د نازي نژاد تفوق به ثابت کړي او په همدې استناد د جنګ فلسفه او د پیاوړو افرادو حقوق مدلل وبرېښوي. د دې خبري په نتیجه کي نو د بشري مساوات فلسفه له یوه مخه رد سوه او د انسانیت له هدفو څخه انکار منځ ته راغی.

د دوهم عمومي جنګ په جنایاتو او غیرانساني معاملاتو کي دا خبره ډېره د کرکي وړ ده، چي دې ګردو جنایاتو او مظالمو له یوې ستري علمي تیورۍ څخه الهام اخیستی او د هغې په استناد کېدله. له ښه مرغه کله چي د تکامل تیوري پوره روښانه سوه او په عمیق ډول وڅېړل سوه او په تېره بیا د ټولني په برخه کي د

تطبیق له پلوه تر غور لاندي ونیول سوه، نو ئې دغسي غلط تغیرات له یوه مخه تردید کړل. د دې څېړنو په نتیجه کي نو دا نظریه ومنل سوه، چي د اجتماعي تحولاتو عوامل جینیتیکي نه دي، بلکي له هغو تحولاتو څخه نشئت را کوي، چي د تکنالوجۍ، تشکیلاتو، پوهني او عقایدو په ساحه کي وجود ته را ځي.
نن ورځ په اجتماعي پوهانو کي داسي څوک خورا لږ دي او یا نه سته، چي هغه دي د اجتماعي ډاروینیزم مسلک ته منسوب وي. همدارنګه په جینیتیکي پوهانو کي داسي څوک کم دي او یا نه پیدا کیږي، چي دغه موقف ولري، مګر څه رنګه چي دا یو خورا غټ انحراف وو، نو دمخه تر هغه چي له اعتباره ولویږي، ډېر تاوان ئې ورساوه. دغه نظریه اساساً هغو کسانو منلې وه، چي په بیالوجي کي ئې چنداني پوهه نه درلوده. په همدې دلیل نو دوی په خورا اسانۍ پر دې خوا ولاړه، چي کله د تکامل په باب نظریات د انسان په باره کي په کار واچول سي، نو دغه خبري ئې لازمي نتایج دي.
دا تیوري چي وار د واره تدوین سوه، تر ډېري اندازې ئې د خپل وخت په اجتماعي شرایطو پوري اړه درلوده او د هغو د اثبات دپاره را وتلې وه. فیلسوف وایټهیډ (A. N. Whitehead) دا خبره په ګوته کوي[٣٠]، چي تنازع للبقاء فلسفه د عداوت په فلسفه تعبیر سوه او په نتیجه کي د نونسمي پېړۍ شعارونه، رقابتونه، طبقاتي شخړي، د ملتو تر منځ تجارتي خصومتونه او نظامي جنګونه وه. د اروپا د اجتماعي پوهانو فکر په دې سبب له ابهامه سره مخامخ وو، چي یوازي ئې د منافعو شخړو ته توجه را ګرځېدلې وه، نو ځکه دې فکر غلبه پیدا کړې وه،

[٣٠] په «ساینس او اوسنۍ نړۍ» اثر کي.

چي د واقعيت له پلوه په هغو عواملو کي، چي د ټولني حرکت اداره کوي، بايد اخلاقي عوامل چنداني مؤثر و نه ګڼل سي. لاکن دا خبره ټيک نه وه، ځکه د اجتماعي تکامل معما دونه ساده شی نه ده او نه هم د تخيل قطعي حکمونه د اجتماعي ساينس آخرينۍ فيصلې بلل کيږي.

# اجتماعي ډاروينيزم او اجتماعي سعادت

د تکامل اوسنۍ تيوري دا نظريه کوربټ نه تائيدوي، چې رقابتي مبارزې له يوې خوا د ټولني بېکاره او کښته غړي له مابينه وړي يا ئې تر محکوميت باندي را ولي او له بلي خوا پياوړي او تکړه وګړي د بقاء په حالت کي ساتي او سر ته ئې را ولي.

**دا نامناسبه ده، چې دغسي افکار په ډاروين پوري وتړل سي، ځکه دی يو بشردوسته انسان وو او دغه راز ناوړه اجتماعي نتايج ئې له خپلي تيورۍ څخه نه دي را ايستلي.** دا خبره، چې بشري ژوند «د ټولو جنګ دئ د ټولو په مقابل کي»، په ذات کي هغه خبره ده، چې د هابس نظريې ته ځان رسوي، ځکه هابس ويلي دي: «يو انسان د بل انسان په مقابل کي لېوه دئ.» (۱٦۴۰م.)

همدې ته ورته يوه نظريه د برنارډ ډو منډيويل (Bernard de Mandeville) په هغه کتاب کي راغلې ده، چې «د مچمچيانو نکل» (۱۷۰۵م.) نوميږي. هلته وايي، چې اخلاق غيراجتماعي شی دئ او سړی د زوال خوا ته بيايي. فجايع او د انسانانو سراښي او جاه‌طلبي هغه شيان دي، چې د ژوند اربه چلوي. که حب الذات ورک سي، نو پرمختګ له منځه ځي، بلکي خبره لا دا ده، چې «شخصي فجايع عمومي منافع» بلل کيږي.

دغه راز افکار لا په اوس وخت کي هم سته. دوی زيار باسي، د طبيعي انتخاب او بقای اصلح نظريات د خپل مطلب د ثبوت دپاره په کار واچوي. ځيني کسان داسي استدلال کوي، چې د سعادت حال د دې کار مخه نيسي، چې نامساعد وګړي ورک سي او له منځه ووځي. نور کسان بيا دا شکايت لري، چې طبيعي

پوهه مخ پر زوال ده، ځکه کښته طبقات چي د پوهي او فکر برخه ئې تر لوړو خلگو لږ ده، د زيات اولاد خاوندان دي. د لوړ مقام څښتنان بيا کوښښ کوي، چي د خپلي طبقې د امتيازاتو او حقوقو د ثبوت دپاره له جينيتيکي اصولو څخه کار واخلي. دوی د ماغزو مقدارونه گوري او د پوهي درجې اندازه کويي، څو دا وښيي، چي دوی په فطري او طبيعي توگه لوړ پيدا سوي دي. د دې خبري په اثبات پسي خورا تلاښ کيږي، چي د امريکا او افريقا تور پوستان په فطري ډول تر سپين پوستو کښته دي او نو ځکه پوره مستعد نه دي، چي له تعليمه څخه گټه واخلي او يا د ديموکراسۍ حقوق ور کول سي. د همدې دلايلو په اساس نو ويل کيږي، چي دا تور پوستان په څرگنده توگه يوازي دې کار ته مناسب دي، چي د سپين پوستو درباريانو دپاره بودگان وي.

## سلوک او بقاء:

د تکامل اوسنۍ تيوري په هيڅ توگه دا خبره نه تائيدوي، چي په سرمايه‌داري ټولنه کي د بريالیتوب او يا بقاء دپاره رقابتونه بهترين ډول انسانان منځ ته را ولي او يا دا چي د سعادت په حال کي د کښتو طبقاتو صنفونه ډېريږي. لومړی بايد دا خبره له ذهنه وباسو، چي تکامل ته په دې سترگه گورو، چي يو مخصوص ډول داره‌مار انسان په وجود را ولي. انسان چي د خپل سلوک طرزونه تبديلوي، نو دا بدلون ئې هغسي نه دئ، لکه حيوانات چي له يوې نوعي څخه په بله نوعه اوړي او د هري نوعي عادات ئې په ختډ کي اخښل سوي وي. هغه صنفونه چي د رقابت او يا تعاون له لاري منځ ته را ځي، د جينيتيکي انواعو له قسمه څخه نه دي او نه هم د جينيتيکي عواملو په اثر پايښت کوي. دلته چي موږ سر و کار ور

سره لرو، هغه د سلوک د طرز د غوره کولو مسئله ده او ټوله انسانان له هره جینیټیکي ټله څخه چي وي، کولای سي، چي یو یا بل سلوکي طرز د ځان دپاره غوره کړي.
نو اساسي مسئله دا ده، که د سلوک یو طرز لوړ وي، باید د همدغه لوړوالي په سبب هغه غوره سي. د سلوک د لوړوالي څرګنده نخښه دا ده، چي هغه به په ځان کي انکشاف کوي او د ټولني د یو خاص شکله سره به مناسبت لري. په بله ټولنه کي بیا ښایي دغه سلوک و نه پایي او نه هم خپور سي. نو هغه خبره چي موږ ئې کولای سو، دا ده چي دغه سلوک تر مخصوصو شرایطو لاندي پایښت کولای سي. له دې سره نو دا سوال هم را پورته کيږي، چي آیا دغه پلانی سلوک ښه شی دئ او که بد ګڼل کيږي. د دې پوښتني په جواب کي ارو مرو لازمه ده، چي د اجتماعي ارزښت د معیارو د پیدا کولو دپاره خاص شرایط، ټاکلې ټولنه او هغه مخصوص صنف انسان په نظر کي ونیول سي، چي د کوم مسلک سره په مجموعي توګه مناسبت ولري. په دې ډول سنجش کي که د یو نظام مجموعي شکل کښته او ناکاره ثابته سو، نو په هغه کي پایښت او موفقیت د اجتماعي ښه‌والي دلیل نه دئ او نه هم دغه راز موفقیت د غلو او داړه‌مارانو تر موفقیت بالا ګڼل کيږي.

## داړه‌مار صنفونه مخ پر ورکېدو دي!

دمخه مو دا ولیده، چي د ښکاري او داړه‌مارو موجوداتو تکاملي انکشاف درېدلی دئ. داړه‌ماري ټولني د تاریخ له ساحې څخه وځي. نن ورځ پر همدې جریان د استعماریانو او هغو کسانو تر منځ مجادلې رواني دي، چي نژادي

مساوات ته قایل دي. **استعماریان چي د داړيماری د ایډیالوجی پوره مثالونه دي، دونه له اعتباره لوېدلي دي، چي حتی هغه استعماري هیوادونه، چي اوس لا هم استعمار ته دوام ور کوي، داسي ځان ښکاره کوي، چي د عقیدې له پلوه د استعمار مخالف دي. همدا راز د رقابتي ګډ ژوندون په ساحه کي د سرمایه‌داري نظام او سوسیالیزم تر منځ مجادلې رواني دي او د سرمایه‌داري نظام دا حیثیت، چي په ځان ډاډه یو نظام بلل کیږي، ښه وختي لا ټکاني سوی دئ. دا ګومان، چي سرمایه‌داري نظام تر سوسیالیزم لوړ دئ، له زورور تردیده سره مخامخ دئ.** په دې اساس نو بریالی سرمایه‌دار داسي نه ګڼل کیږي، چي دی یو کامیابه انسان او بالکل پوره مساعد ډول بشر دئ.

**بقای افسد:**

د مساعدوالي له پلوه داسي ډېر صنفونه منځ ته راغلي دي، چي دوی تر مخصوصو شرایطو لاندي مساعد وه، لاکن د زمانې په اوږدوالي کي نامساعده ختلي دي. اختصاصي حیوانات تقریباً ټوله تر دغه حکم لاندي را ځي. واګو د هغه محیط دپاره چي ژوند پکښي کوي، خورا مناسب او د پایښت له پلوه زیات مساعد ګڼل کیږي. کوږ بیا د دې دپاره پوره مساعد دئ، چي د لویو غوښو خوړونکو حیواناتو پاته ښکارونه وخیري او یا ئې وخوري. همدا رنګه د دې کار دپاره جوړ دئ، چي تازه مړي له ګوره را وباسي[٣١]، خو بې‌زړه توب ئې هم په

[٣١] Encyclopedia Britannica, Article Hyenas

متلو کي استعماليږي. د کاږه دغه خصوصيات د ده د پايښت عوامل دي او همدارنگه د ده د مساعدوالي علامې بلل کيږي. ټوله پرازيت، لکه کدو سري چنجيان يا د اينې چنجيان د بقاء او پايښت دپاره پوره جوړ دي، لاکن دوی په قهقرايي لار روان دي، نه ارتقايي.

د تکامل په غټو خصوصياتو کي يو دا دئ، چي هغه شرايط چي يوه مساعده نوعه انتخابوي، اکثره بې‌دوامه وي. نو د انتخاب په نتيجه کي هغه نوعه داسي لاري ته سوقيږي، چي غيرمفيد توافق ته جوغيږي او دغه توافق ئې دونه بې فايدې وي، چي دغه نوعه يوې داسي بندي لاري ته هدايت کوي، چي بيا نه سي ځني را وتلای. د دغه راز انواعو سرنوشت نو په فنا سره پای ته رسيږي.

د اجتماعي نظامو په باره کي همدغه خبره درسته ده، چي دوی زېږيږي او له کاره وځي. که ئې زوړ د نوي په عوض کي پرې نه ښوول سي، نو د دې زاړه نظام هغه ډېر لوړ خلگ به د ده له چپه کېدو سره خورا ځوړ سي او له منځه به ووځي. د حيواناتو په برخه کي چي چي دغسي تبديلي را سي، نو په فنا محکوم کيږي، خو انسان يا لا اقل د پوهني خاوند انسان دا استعداد لري، چي هغه زوړ اجتماعي توافق پريږدي، چي په درد ئې نه خوري او په بدل کي نوی راز ښه توافق غوره کړي.

## متحول شرايط او متحول انسانان:

د حيواني تکامل په جريان کي خو داسي ده، چي کله شرايط تحول وکړي، نو هغه انواع له منځه وړي، چي په ډېر مؤفق ډول ئې د زاړه محيط سره ټينگ توافق کړی وي. په اجتماعي تکامل کي بيا د اقتصادي نظام برياليتوب شرايطو ته تحول

ور کوي او د نظام تغیر لازمي گرځوي. د سرمایه‌داري نظام بریالیتوب او انکشاف هغه راز تضادونه او مسایل را ایجاد کړه، چې دا ئې ایجاب کړه، چې دغه سرمایه‌داري نظام د اجتماعي تملیک په نظام الیش سي؛ ځکه یوازي د اجتماعي تملیک نظام د متوازن اقتصادي انکشاف او اجتماعي ترقۍ دپاره زمینه برابرولای سي.

هغه انسان چې د ده وضعیت د نونسمي صنعتي پېړۍ سره مناسب وو، د هغسي ټولني دپاره، چې اوس ضرورت ورته سته، یو مطلوب قسم وضعیت نه بلل کیږي. که څوک دا گومان کوي، چې دغه قسم وضعیت په مطلق ډول عالي وضعیت گڼل کیږي او د ټولو زمانو په چارو کي ښه چلیږي، ښایي بشري نسل د تکامل یوې بندي لاري ته بوځي. زموږ په غربي تمدن کي داسي اصناف سته، چې دوی هغه راز صنفو ته ډېر ور نژدې دي، چې د سباني نظام دپاره پوره مناسب وي. علماء، پوهان، اداري کسان او تخنیک پوهان تاجران غوندي خلگ نه دي. دوی بېل هدفونه لري او داسي سلوک کوي، چې د تجارتي امرانو تر سلوک خورا زیات گټور لیدل کیږي.

که بقاء په خپله په دې پوري اړه ولري، چې انفرادي او نژادي جریانونه له منځه وایستل سي، نو د انسان په مخ کي تکاملي آینده بیا یوازي په هغه دوستانه تعاون کي په سر رسېدلای سي، چې د ټولو انسانانو تر منځ قایمه سي. پخواني سلوکونه که په نن کي پالل کیږي، ډېري خطرناکه نتیجې لري او هغه صنف چې دغه راز سلوکونه پکښې وي، نو که څه هم په خپله مسابقه کي بریالی وي، خو بیا ئې هم موجودیت په خطر کي گڼل کیږي.

تعاون د بقاء دپاره اوس په څرګنده توګه یو لازمي امر دئ. د بشري ارزښتونو طلايي اصول، د يووالي احساسات هغسي چټل او باطل ارمانونه نه ګڼل کيږي، لکه پاريټوس (Paretos) چي ډرئ په وهي او نه هم د هغو غلامي اخلاقو په جمله کي را ځي، چي نيچه په سپکه سترګه ورته ګوري. د دې دپاره چي زموږ موجوده تمدن وساتل سي او د هغه رشتيانيو بشري اهدافو ته ورسيږو، نو دغه شيان ئې ضروري وسايل بلل کيږي.

## د سعادت په حال کي تکړه‌والی:

څه رنګه چي په تجارتي کاروبار کي بريالي کسان داسي ګڼل کېده، چي دوی د بشري موجوداتو په ټل کي واقعي تکړه صنف معرفي کوي، نو بالعکس بيا هغه ځوک کښته او لوېدلي صنفونه بلل کېده، چي زموږ په رقابتي نړۍ کي به تر شا پاتېدله؛ په تېره بيا هغه کسان ډېر ناکاره تصور کېدله، چي د خپل ناقابل‌والي په سبب له ئې اجتماعي مرستو ته اړي پيدا کوله. هغه زمان چي دغه اجتماعي مرستي پر سرښته برابرېدلې او د عصري دواوو منابع په پراخ او هم وړيا ډول تهيه کېده، نو د دغي پورتنۍ عقيدې په اساس رشتيا هم په دې صورت کي د نامساعده افرادو بقاء تأمين کېدله. هغه نامساعده افراد چي بايد تر دې چي ژوندي پاته سي او خپل ناکاره نسل ډېر کړي، ښه دا وه، چي د مرګ له لاري ور ټول سي. د همدغه عقيدې له مخي نو استدلال کيږي، چي ناکاره او نامساعده کسان چي له هره پله د سړو په جمله کي را ځي، ولي بايد ژوندي وساتل سي او بقاء ئې تأمين سي؟

تاسي وګورئ چي دا یو خورا ښه مثال دئ، چي څنګه علمي تیورۍ د طبقاتي مقاصدو دپاره تحریف کیږي. دغه عقیده چي بیان سوه، په جینیتیک پوهنه کي یا د تکامل د تیورۍ په ساحه کي کوم بنیاد نه لري او نه هم تکړه پوهان، کوم چیري د دې خبري پر خوا دي.

دا استدلال چي د دواوو او صحت ساتني په ساحه کي پرمختګونه د بشریت مجموعي تکړه‌والي ته زیان رسوي او دا چي د رنځو او لوږو سره مجادله یو طبیعي امر نه ګڼل کیږي، پر هغه عقیده بناء دي، چي وایي ناجوړۍ ته مستعدوالی یو ارثي خاصیت دئ او هغه څوک چي د ژوند په جګړه کي غوځاریږي، په فطري لحاظ ناتوانه او کمزوري بلل کیږي.

د همدې استدلال په لړ کي ویل کیږي، چي د انسولین او انتي‌بیوتیک دواوو له کشفېدو سره دا زمینه مساعده سوه، چي موږ د هغه چا ژوند ور اوږدوو او نسل ته ئې ادامه ور کوو، چي شل یا دېرش کاله پخوا باید مړه وای. «دغه استدلال دې نتیجې ته ځان رسوي، چي ګویا له دې لاري څخه موږ هغه څوک محافظه کوو، چي د جینیتیکي پلوه بې‌ډوله او په ارثي لحاظ کمزوری دئ. دوی نو د ازدواج په دایره کي را داخلیږي او نو ځکه د نورمالو انسانانو جوړښت ته زیان رسوي او د دې کار په نتیجه کي نو بشریت مخ پر کښته رهي کیږي[۳۲].»

---

[۳۲] دغه استدلال P. B. Medawar په هغو لکچرونو کي، چي «د انسان د مستقبل» په نامه ئې په کال ۱۹۵۹م. کي ایراد کړي وه، پوره څېړلی دئ. ده د خپلو ویناوو په دوران کي د دغه استدلال تردید هم ویلی دئ.

**رنځونه او د هغو مخنيوی:**

د دغه استدلال په سلسله دا هم ويل کيږي، چي کوم څوک [چي] په فطري توګه د ځيني رنځو په مقابل کي مقاومت ولري او يا مکروب نه په پوري کيږي، نو په عمومي مفهوم سره ئې دا د بدن د تکړه‌والي نخښه ده. مګر په اصل کي خبره دغه راز نه ده، ځکه د طبابت اقدامات د بېلو اصولو له لاري څخه اجراء کيږي. مثلاً که مور ولیده، چي کله وينه د داسي موجوداتو له خوا مسمومه کيږي، لکه سټريپټو کوکس (streptococcus)، نو په دې وخت کي دا زيار نه باسو، چي خلګ داسي وروزو، چي د دغو جراثيمو په مقابل کي ئې مقاومت زيات سي، بلکي تر ممکنه حده تلاښ کوو، چي کوم زخم ته دغه مکروب و نه رسيږي او د جراحي عمليات په داسي توګه سر ته رسوو، چي هلته د مکروب د مخنيوي ترتيبات مو نيولي وي. مور دا نه وايو، چي د کوچني تر زېږولو وروسته بايد ښځي نفاسي تبي ته پرېښوول سي، څو هغه له مابينه ووځي، چي په دې رنځ اخته کيږي؛ بلکي زيار باسو، چي د دغي تبي مخ ونيسو او په انټي بيوټيک سره ئې چاره وکړو.

لومړی دا خبره ښخي څرګنده ده، چي د ويني د مسمومېدو قابليت، هر راز چي وي، خو نه د عمومي تکړه‌والي او نه هم د نورو ښو صفاتو سره اړه لري. سربېره پر دې که چيري د مکروب د اخيستلو قابليت په نظر کي ونيسو، نو هغه په زياترو موادو کي کورنۍ په ارثي عواملو پوري اړه نه لري، بلکي سبب ئې هغه کمزوري وي، چي د کمي غذا، د ويټامينو د نېستۍ او د روغتيا د بد حالت څخه ور پېښي دي؛ چي داسي ګرده خبري خو نورو عواملو ته منسوبوي. هغه زمانه چي پر لنګون باندي د مندو مړينه زياته وه، نو خورا ډېري ښځي چي عمومي صحت به

ئې ښه وو او کوم ارثي عيبونه به ئې هم نه درلودل، پر دغه وخت به مړې کېدلې.
دغه وضعيت چې څو کاله پخوا موجود وو، د ټولني دپاره لويه خساره وه. همدغه زمانه وه، چي د جراحۍ له کوټو څخه به په سل کي شپېته مريضان مړه را وتل اود جنګ ټپيان به لکه مچان داسي مړه کېدله او ډېر مشهور جراحان به «د وينو د مسمومېدو[٣٣]» په مړينه له مابينه وتل.
په دې ځای کي خبري بالکل روښانه دي. را سئ يو بل مثال هم وګورو. د نونسمي پېړۍ هره بيوګرافي د نري رنځ (د مړه خوړ) په باره کي ډېر بيانونه لري. دا رنځ په هغه زمانه کي يو لاعلاجه رنځ وو. داسي نه، چي يوازي په عامو خلګو کي ئې علاج نه کېدی، بلکي په مشهورو کورنيو کي ئې هم ناورين رژولی وو. داسي نارينه او ښځي، چي غښتلي بدنونه به ئې درلودل او عمومي صحت به ئې هم خورا ښه وو، په دغه رنځ به مړه کېدل.
د «کوي» رنځ داسي نه وو، چي نامساعد خلګ ئې ټولوله، بلکي په سل کي لس ئې تکړه کسان وژل. کله چي غربي رنځونه وار د واره د بحر الکاهل سيمو ته ورسېدل، نو د پولينېشيا (Polynesia) او ميلانيزيا (Melanesia) اوسېدونکي د شري او نورو دغسي امراضو په سبب خورا زيات کړه کېدله.
د انسولين د دوا تر کشفېدو دمخه يو زيات شمېر تکړه نارينه او ښځي د شکري په رنځ فيصله کېدلې. ځيني خورا مشهور او په ټولنه کي مفيد غړي دېرش، څلوېښت کاله په دغه رنځ اخته وه. نو که دغه عيب ارثي وای (البته د دې دپار ه هيڅ دليل نه سته، چي ارثي وګڼل سي) او د نورو بدني عواملو سره ئې اړه نه

---

[٣٣] Septicemia

درلودای، نو به ئې د شرایطو له تحوله سره د ختمېدو په برخه کې هم پرمختګ نه وای راغلی.

## د سیکل (Sickle) ناروغي او ملاریا:

دا چې تکامل د طبیعي انتخاب له لارې هغه استعداد منځ ته را ولي، چې د مکروب له اخیستو سره مقاومت لري او هم پر دې خبره باندې نور مشکوک او غیریقیني نتائج بناء کیږي، خورا ښه مثال ئې د افریقایي تور پوستو په یوه صنف کې لیدل کیږي؛ ځکه په دې صنف کې د ملاریا د سرایت (چې د وینې یو پرازیت دئ) په مقابل کې یو مخصوص مقاومت انکشاف وکړ، خو دا راز مقاومت یوازې په هغه چا کې لیدل کیږي، چې د وینې د سرو کرویاتو په برخه کې د سیکل د ناروغۍ یو ارثي عامل ولري. که په مور و پلار دواړو کې دغه عامل موجود وي، نو د دوی د اولاد یوه [پر] څلرمه په دغه رنځ اخته وي. اوس نو چیرې چې ملاریا خپره وي، د سیکل د رنځ صنف هم ډېریږي او هم طبعاً د سیکل رنځ زیاتوالی د ملاریا پر ډېروالي تاثیر لري. نو په دې صورت کې د ملاریا په مخ کې مقاومت د عمومي تکړه‌والي نخښه نه ده، بلکې خبره لا سرچپه ګڼل کیږي. د صحت عمومي ښه‌والی دا ایجابوي، چې په خپله ملاریا له منځه یووړل سي. چیرې چې دغه کار سر ته رسیږي، نو هلته د سیکل د ناروغۍ مکروب انمیا (Anemia) هم کرار کرار ورکیږي.

په پخوا وختو کې غربي افریقا د سپین پوستکو خلګو هدیره نومېده، ځکه زیات شمېر انګرېزان د ملاریا په رنځ هلته مړه کېدله. دا انګرېزان به زیاتره د ښه صحت

او تکړه بدن خاوندان وه. اوس نو آیا دا د ټولني دپاره یوه ښېګڼه وه، چي دوی مړه سي؟ آیا دا به نه وای ښه، چي هلته هغه د ملاریا مکروب نه وای، چي دوی ئې وژل؟

خو البته د ځینو خاصو ناروغیو داسي نور ډېر مثالونه هم سته، چي هغه د بدن بوی یوې مخصوصي نقیصې ته منسوبوي او دا نقیصه ښایي په انفرادي توګه فطري هم وي، لاکن داسي نه ده، چي یوې عامي ذاتي نقیصې ته منسوب سي. سمه لار دا ده، چي د داسي خاصو رنځو علاج وسي، نه دا چي باید رنځوران ئې له منځه یووړل سي[٣٤]. که موږ د رنځونو علاج کاوه، نو د دې مفهوم دا نه دئ، چي په دې توګه موږ د بشري تکړهوالي سویه مخ پر کښته بیایو.

که ټولنه پرله پسې د «کوي»، «سِل»، د وینو د مسمومېدو او ملاریا په معرض کي واقع وای او د دې ناروغیو د مخنیوي دپاره هیڅ راز طبي اقدامات نه کېدلای، نو آیا دغه ټولنه به تر دې ټولني ډېره تکړه وای، چي په هغې کي له دغو رنځونو سره مجادله روانه ده او علاجونه پکښي کیږي؟

یوه بله مهمه خبره لا هم دا ده، چي څوک خپل پایښت او بقاء ته ادامه ور کړي، ضروري نه ده، چي ارو مرو به مساعد او تکړه وي. کېدلای سي چي دغسي کسان د رنځ له درکه په دایمي او سخت ډول مصاب وي، لاکن صرف لږ څه او قسماً ئې شفا موندلې وي. ملاریا او نور پرازیت والا رنځونه او سؤتغذیه هغه

---

[٣٤] مثلاً یو ډول دماغي رنځ دئ، چي د اینې د میتابولیزم د نیمګړتیا په سبب په کوچنیانو کي ښکاره کیږي او د دې رنځ عامل هم یو فطري غوندي بنه لري. خو کله چي په خپل وخت کي پر موقع برابر کشف سي او کشفېده ئې هم خورا آسانه کیږي، نو د یو ساده غذایي رژیم په وسیله له منځه وړل کېدلای سي او مخ ئې نیول کیږي.

عوامل دي، چي ناروغان نه وژني، لاکن په مليونو مليونو وګړي په دايمي توګه له ژونده باسي.
بالآخره دا هم بايد وويل سي، چي حتی ډېر کمزوره خلګ کولای سي، د فکري او هنري استعداد له پلوه د ټولني دپاره زيات ارزښت ولري، خو دا حتمي نه ده، چي د دوی کمزوري به ارثي شکل لري. د نړۍ په مشهورو پوهانو کي ډېر داسي کسان موندلای سو، چي دوی ناتوانه او رنځور خلګ وه. د مثال دپاره د ګارلايل، هربرت سپنسر، کيټس (Keats) او په خپله ډاروين نومونه يادولای سو.
په پای کي بايد دا وويل سي، چي د خاصو شرايطو سره توافق د عمومي تکړه‌والي دليل نه ګڼل کيږي، ځکه ښايي په نورو شرايطو کي بيا تر دغه زيات مطلوب او مقبول ډول صفات او خصوصيات منځ ته را سي. نو د دې دپاره چي د ښو صفاتو د انکشاف دپاره لار خلاصه وساتل سي، معقول کار دا دئ، چي هغه شرايط پای ته ورسول سي، چي موجود ور سره توافق نه سي کولای، نه دا چي د شرايطو د ساتني دپاره هغه موجود ته خاتمه ور کول سي[۳۵].

---

[۳۵] ښايي د لوستونکي خوښه سي، د دې بيان په ټينګښت کي نور مثالونه هم تصور کړي؛ مثلاً آيا دا به ښه وای، چي موږ د اوبش په شاني د اوبو د ضرورت په مقابل کي يو استعداد ته انکشاف ور کړی وای او که دا ښه ده، چي د اوبو د رسولو او تهيه کولو شبکې مو جوړې کړي دي.

# نژاد او نژادپرستي

اجتماعي ډاروینیزم اکثره غواړي، هغو تیوریو ته بیالوجیکي بنسـټ برابر کړي، چي نژادي او طبقاتي لوړوالی ثابت ګڼي. دا مسـلک زیار باسي د هغو نابرابریو د اثبات دپاره چي اوس سـمدسـتي وجود لري، د بیالوجۍ په علم کي یو علمي اساس ولټوي او همدارنګه هغه ټوله کوښښونه غندي، چي غواړي د ډلو په دننه کي او یو د بله د ډلو تر منځ ګرده شـخړي ارامي کړي، دغه رنګه کوښـښـونه د طبیعت په قوانینو کي لاس‌وهنه بولي.

## آیا لوړ نژادونه سته؟

د نژاد مسـئله په اوس وخت کي هم یوه خورا لویه مسـئله ګڼل کیږي. د نژادي تفوق ادعاء دري شـکلونه لري؛ د مثال دپاره داسـي سـپین پوسـتی نژاد، لکه جرمنی، دا ادعاء لري، چي دوی تر نورو ټولو نژادو؛ که سپین دي، که رنګه؛ ډېر لوړ بلل کیږي. بله بیا دا عمومي ادعاء ده، چي سـپین پوسـتي تر رنګه نژاد لوړ دي او یا حتی د شـمالي اروپا نژادونه د جنوبي اروپا تر نژادو تفوق لري. دریمه دا ادعاء ده، چي یو سـپین نژاد چي کومي بلي سـیمي ته ورغلی وي او هلته پر خلګو حکومت کوي، نو د هغه ځای تر اصلي‌رنګه خلګو علاوه دي. همدارنګه دا سـپین پوسـتی تر هغو رنګـه‌نژادو لوړ بلـل کیږي، چي د دوی سـیمي ته د غلامانو په توګه را وستل سوي دي او هلته د سپین پوستو په منځ کي ژوند کوي. دغسي نظریات وه، چي د یو ایډیالوجیکي سایق په توګه ئې د جرمني تجاوزاتو پـه مورد کي او هم ئې پر هند او نورو ځایو باندي د انګریزي حاکمیت په برخه کي سـتر رول بازي کاوه. اوس هم د اروپایانو په نژادي روابطو کي له عربو سره

يا د منځني ختيځ له خلګو سره يا له ټولو ختيځو اولسو سره خورا ستر رول بازي کوي. يو لـه خورا ناوړه شـــکلو څخه ئې هغه دئ، چي د ضـــدِ ســـامي نژادو د تحريـک پـه حيـث را وتلی دئ. دا کـار د دې دپـاره کيږي، چي د رنګـه‌نژادو اقتصـــادي اســـتثمار ځان ته را وبولي او په همدې دليل په ســـياســـي او حقوقي ساحو کي برابر حقونه ور نه کړي او له دوی سـره داسي سلوک جايز وشميري، چي د انسان تر درجې کښته وي.

زياتره داســـي ګومان کيږي، چي دغه نظريات به ښـايي د جينيټيکي او تکاملي تيوریٔ له خوا څخه ثبوت ته رسېدلي وي؛ همداسي ګومان کيږي، چي د نژادو په منځ کي لوړ او کښـته سـته او کښته نژاد لږ پوهي لري؛ اکثره ټنبل ګنل کيږي، تهذيب ئې هم لږ وي، ځان نه سـي کنټرولولای او شـخصيت ئې د فساد خوا ته متمايل وي.

دغســـي خبري او نظريـات لـه حقيقتـه څخـه ليري دي. پـه کال ۱۹۵۲م. کي د يونســـکو له خوا څخه د «بدني انتروپولوجیٔ» او «جينيټيکي چارو» د پوهانو يو کنفرانس جوړ سو. په دې کنفرانس کي چي د ټولي نړیٔ نوميالي علماء را غونډ ســـوي وه، د رايو په يوه ســـلا ئې دغه راز نظريات ترديد کړل. دوی يوه اعلاميه خپره کړه، چي دا لاندي ټکي پکښې وه:

۱- په موجوده علمي پوهنه کي د دې عقيدې دپاره هيڅ اســـناد نه ســـته، چي د فکري او هيجـاني انکشـــاف پـه برخـه کي د بشـــري ګروپو فطري او ذاتي استعدادونه يو له بله فرق سره لري.

۲- په یوه نژاد کي دننه د هغو وګړو تر مابین ځیني دونه لوی بیالوجیکي فرقونه پیدا کیږي، چي که د مقایسې له پلوه وکتل سي، نو کټ مټ دغه فرقونه د بېلو بېلو نژادو تر منځ لا په هغه اندازه غټ نه وي.
۳- د مځکي پر مخ ډېر اجتماعي تحولات پېښ سوي دي، چي کورټ د نژادي تفاوتونو سره ارتباط نه لري. د تاریخي او اجتماعي علومو کتني دا نظریه تائیدوي، چي جینیتیکي فرقونه په دې برخه کي چنداني اهمیت نه لري، چي د بېلو بېلو بشري ګروپونو تر منځ د اجتماعي او کلتوري فرقو سببونه وښيي.
۴- د دې خبري دپاره هیڅ شواهد نه سته، چي د نژادو ګډېده له بیالوجیکي نقطه‌نظره بد وګڼل سي. د مخلوط نژادو اجتماعي نتایج که ښه وي که بد وي، خو هغه پرته له اجتماعي عواملو څخه په بل شي پوري اړه نه لریږ
دغه ټکي په هغه اعلامیه کي تائید سوي دي، چي هلته د دې موضوع پر ټولو اړخو باندي کتنه سوې ده. موږ یوازي هغه خبري ځني را نقل کړې، چي دلته ئې د موضوع سره اړه درلوده.
اکثره انسان‌پېژندونکي پوهان ذهني او فکري خصوصیات، چي په یوه واحد نژاد کي په سر رسېدلي وي، دا خبره ښکاره سوې ده، چي هم په فطري استعداد او هم په محیطي زمینه پوري هغه نتایج اړه پیدا کوي، چي د پوهي او مزاج په باب له ازموینو څخه لاس ته را ځي. خو البته په دې خبره کي د نظر اختلاف موجود دئ، چي ځیني فطري استعداد او ځیني محیطي زمینې ته ډېر اهمیت ور کوي.
«که دوه ګروپه د کوچني‌والي له وخته څخه په یوه محیط کي وروزل سي، نو د دوی تر منځ چنداني غټ فرقونه نه پیدا کیږي. سربېره پر دې دا هم بېخي

ځرګنده ده، چي که یو شـــان زمینې چا ته برابري وي، نو د یوه نژاد او بل تر منځ د اوسـط حد په معیار (یعني د هغه چا په معیار، چي تر دونه کسانو پیاوړی وي، لکه تر ځونه کســانو چي پاته وي) د دوی په فعالیتو او نورو خصــوصــیاتو کي چنداني غټ توپیر نه لیدل کیږي.

زیاتره پښنیږي، چي یو اولس داسي ایسي، لکه هغه چي د خاصو سیکالوجیکي خصـوصـیاتو څښـتن وي. د سرسري کتني له مخي دغسي بېلوالی سم‌دستي د هغه له نژادي خصـوصـیاتو څخه بلل کیږي، خو په علمي صـورت کي موږ دې حقیقت ته رسیږو، چي هر عمومي سیکالوجیکي خاصیت ډېر امکان لري، چي یوې عمومي تاریخي او اجتماعي سـایقې ته منسوب وي. دغسي نسبتونه ښایي دا حقیقت له نظره پټ وساتي، چي د مختلفو اولسو په دننه کي، چي له بېلو بېلو نژادو څخه جوړ سـوي وي، سـړي تقریباً متشـابه او یو راز ذکاوتونه او مزاجونه پیدا کولای سي.

هغه علمي مواد چي اوس زموږ په لاس کي ســته، دا شـــی نه ثابتوي، چي ارثي جینیتیکي فرقونـه د دې خبري غـټ عـامـل دي، چي د مختلفو اولســـونو او توکمونو کلتوري بریالیتوبونه یو له بله فرق سره لري. دا مواد موږ ته را ښیي، چي د دغسي فرقو په تشریح کي لوی عامل هغه کلتوري جریان ګڼل کیږي، چي هر ګروپ پکښې واقع دئ. اساسي ټکی دا دئ، چي بشري ګروپ پر داسي ښاخو نه دئ جلا سـوی، چي په بیالوجیکي لحاظ بېل بېل انواع وګڼل سـي. بشـر یوه نوع ده، کـه څه هم جلا جلا صـــنفونه ډېر پکښـــي موجود دي، دا صـــنفونه او رقمونه د پوست د رنګ، د وېښتانو د شکل، او د کوټي د اندازې له مخي پکښي لیدل کیږي. دا شـیان چنداني مهم نه دي (پرته له دې چي رنګه پوست د لمر په

مقابل کي یوه اندازه ساتلی وي) او نه هم د پوهي یا اخلاقي صفاتو سره کوم ذاتي ارتباط لري. البته د خلګو تر منځ په عاداتو او سلوک کي خورا ډېر فرقونه سته، خو دا ناممکنه ده، چي دغه فرقونه له کلتوري عنعنې، خارجي شرایطو، د ژوندون د طرز او طبیعي محیط په پرته بل شي ته منسوب وښوول سي.

**انساني نژادونه:**

نژاد داسي تعریف کیږي، چي هغه ګروپ دئ، چي د غړو تر منځ ئې یو شمېر ټاکلي طبیعي خصوصیات مشترک وي او په یوه ټاکلې سیمه کي یوه جغرافیایي مبداء ولري. په دې ډول نو درې لوی نژادونه د ققفازیانو (Caucasoid)، منګولیانو (Mongoloid) او نیګرویانو (Negroid) په نامه سته او یو څه هم کوچني نژادونه لیدل کیږي. د دې نژادو مبداء داسي ده، چي دوی د نړۍ په بېلو بېلو ځایو کي له هغه نژاده څخه را پیدا سوه، چي اوس ئې بولګه نه سته. دا بېل بېل نژادي ښاخونه یو له بله ډېري پېړۍ په جلا سیمو کي اوسېدله. خو دغه نژادي ښاخونه داسي نه وه، چي پر یوه مخ سوچه او بې ګډېدو پاته سوه. نننی انسان په دې اندازه د مبدا په لحاظ مخلوط دئ، چي حتی اوس داسي دورګه ډول پکښي نه سته، چي د حیواني دورګه اقسامو سره ئې مقایسه وسي. بشري اقسام لکه دورګه سپیان د تغیر دپاره خورا ډېر مساعد دي. د یو حقیقي او واقعي صنف ډېر نژدې مثال که چیري وي، نو هغه به یوه کوچنۍ ټولنه وي، لکه د اسکیمو قبیلې یا بوش‌مین، چي هغه په کامله توګه د پېړیو پېړیو راهسي جلا او ګوښي پاته سوي دي.

په نن زمان کي نه يوازي دا چي نژادونه تر هغه ډېر سره ګډ سوي دي، چي موږ ئې ګومان کوو (مثلاً ډېر امريکايي تور پوستي ځيني سپين پوستي اجداد لري او هم زيات شمېر سپين پوستي، چي په ټينګه د نسل د سوچه‌والي ادعاء هم کوي، نسبي مبداء ئې تور پوستو ته رسيږي)، بلکي دغه د ګډېدو جريان تر هر وخت زيات په چټکۍ روان دئ. هغسي ګوښه‌والی چي د يو سوچه غوندي نسل د تدريجي جوړښت دپاره لازم دئ، نه چيري سته او نه به پيدا سي. سربېره پر دغه هغه تحولات چي په موجوده وګړو کي له زمانو راهيسي را روان دي، يو زيات شمېر عواملو ته منسوب ګڼل کيږي. له دې عواملو څخه زياته برخه پټ دي او يو وخت او بل وخت د نوو اصنافو په بڼه ظاهريږي. په همدې اساس نو بدني اقسام تل تر تله تر تغير لاندي دي. په ټوله اروپا، امريکا، افريقا او آسيا کي د نوو او متغيرو ترکيبونو جريان د زرو کالو په دوران کي را روان دئ؛ حتی په هغه وګړو کي، چي سربېرن ډول يو راز ليدل کيږي، بېل بېل جينيټيکي قسمونه هم خورا ډېر پکښي پيدا کيږي.

## د مشترکو صفاتو مسئله:

ځيني فرضي نژادونه خو ګردسره پيدا سوي هم نه دي، مثلاً لکه د ارين نژاد او د نورديک (Nordic) نژاد. ارين په لسانيانو پوري مربوط يوه کلمه ده، خو نورديک بيا يو داسي لفظ دئ، چي يو مخصوص جسمي صنف معرفي کوي. دا صنف په سکانديناويا (Scandinavia) کي خورا ډېر دئ او د جرمني په حصو کي هم يو څه سته، مثلاً کله چي د الپاين (Alpine) يا مديترانې خلګ په عمومي توګه تشريح کوو او وايو، چي دوی تور بخون، په ونه ګردي او هم

داسي نور دي، نو په دې وخت کي زموږ تصنيف يو مخيزه په خارجي بڼه پوري اړه لري، ځکه لومړی خو موږ د اروپا ټوله وګړي په دې تصنيف کي يو ځای را کښېباسو او دوهم بيا زموږ تصنيف کوم جينيټيکي صنف نه را ښيي او دريم دا چي له دغه څخه کومه صحيحه نتيجه هم نه را وځي.
دغسي تصنيف کټ مټ لکه د يوې تقريبي احصايې غونډي مثال لري، چي د اوسط حد له مخي يو حکم را وايستل سي. مثلاً سړی ووايي، چي د سکاټلېنډ په پلاني سيمه کي په سلو کي شل وګړي سره وېښتان لري او په ونه (پنځه فوټه او شپږ اينچه) جګ دي. بيا نو پر دغسي صنف باندي کولای سي، چي د خپلي خوښي سره سم يو نوم کښېږدي، مثلاً د ګراميپانو (Grampians) نوم. د دې کار مفهوم نو دا دئ، چي د سکاټلېنډ په نورو برخو کي بيا دغه تناسب بل راز دئ، ځکه هلته ښايي سورسري او د جګي وني خاوندان تر هغه دمخني شمېر زيات وي. دغه راز صنف صرف يو احصائيوي مفهوم لري.
فرض کړئ موږ د نورديک کلمه د يو داسي صنف دپاره استعمالوو، چي په ونه جګ، وېښتان ئې صاف او سترګي ئې شنې وي. د دې صنف زياته فيصدي په سويډن کي سته (نه په جرمني کي)، خو دلته هم چي جلبي عسکر کتل کيږي، يوازي په سل کي پنځلس له دغه تعريفه سره برابريږي.
دا خبره داسي هم کېدلای سي، چې هر ډول صفات که موږ په نظر کي ونيسو، نو هغه په مشترک ډول د ډېرو خلګو تر منځ پيدا کيږي. مثلاً خُرمايي ايټالويان او توربخون سويډنيان په زياته اندازه وجود لري او په هر اولس کي که د افرادو تر منځ فرقونه وکتل سي، نو هغه د منځني حد په حساب تر هغو فرقو ډېر وي، چي د يوه او بل اولس په منځ کي پيدا کيږي. مثلاً که د الپاين د سيمي يو

ځوک د بل چا سره مقابله سي، نو ښايي د احصاييي امکاناتو له مخي دی د الپاين د سیمي و نه ګڼل سي.

## نژادي فرقونه بې اهمیته دي!

دا خبره ده، چي د نوعي ذرو (جینز) له مجموعي شمېره څخه یوازي په سل کي یو د دې سبب کیږي، چي د موجودو نژادو تر منځ فرق را ولي او دغه راز عوامل هم صرف سطحي فرقونه، لکه د پوست رنګ او داسي نور منځ ته را ولي.

دا عوامل په هيڅ توګه دا نه سي ښکاره کولای، چي په سل کي له پاته ۹۹ نوعي ذرو څخه چي د انسان د اساسي مخصصاتو منشاء ګڼل کیږي، څه راز فرقونه یا باید او یا نه باید منځ ته را سي.

دغه بیان نو موږ د مسئلې اساسي ټکي ته را ولي، ځکه هغه شی چي زموږ بحث ایجابوي، د وېښتانو ډول یا د پزي شکل او داسي نور شیان نه دي، بلکي هغه مشخصات دي، چي له نژاده سره اړه نه لري. موږ ته په عملي توګه د مزاج او شخصیت ارثي ډولونه هيڅ نه را معلومیږي او نه هم د دې ډولو ځرګندونکی ارتباط له خارجي بڼې او صورته سره چیري پیدا کېدلای سي. دلیل دا دی، چي بشر صرف یو صنف دئ او د تش په نامه نژادو تر منځ شباهت (لکه د طبقاتو تر منځ) د دوی تر فرق او جلاوالی زیات دئ. دلته بیا یو پلا بیا هم دا اصل ثابتیږي، چي فردي فرقونه، چي د یوه صنف په دننه کي را پیدا کیږي، تر هغو فرقو ډېر دي، چي د یوه صنف او بل صنف په منځ کي لیدل کیږي. د ذهني استعداد په مورد کي چي هغه اندازه کېدلای سي، خبره پر دې اساس ولاړه ده، چي د پوهي ډېوالی یا لږوالی په کومه نژادي مبداء پوري اړه نه لري.

## طبیعت یا تربیت:

ذهني، مزاجي او کرکټري مشخصات داسي شی نه دي، چي را پيل سي او بالذات تر اندازه کېدو لاندي ونيول سي، ځکه د اجتماعي عنعناتو نفوذ د زوکړي له ورځي څخه را نيولې، هغه بيالوجيکي جريانونه تر تغير لاندي نيسي، چي په ارثي توګه را پيدا سوي وي. وراثت او محيط داسي شيان دي، چي يو له بله نه جلا کېږي او هغه څه چي زموږ خبري پر بِناء دي، په دواړو پوري اړه لري. زموږ بالقوه استعدادونه زموږ په خپل مخصوص محيط او اجتماعي عنعناتو کي عملي شکلونه اخلي. په همدې دليل نو دا ناممکنه ده، چي کله مزاج او کرکټر تر کتني لاندي نيسو، نو هغه را بېل کړو او د ارثي عواملو په باب کي ئې وږغيږو.

## اجتماعي تحول په تاريخي زمانو کي:

پخوا لا په کال ۱۸۹۳م. کي توماس هنري هسکلي په خپل يو بيان کي دا خبره کړې ده، چي «د تمدن ارتقايي تحولات چي د ټولني د تکامل په نامه يادېږي، په حقيقت کي يو داسي جريان دئ، چي اساساً له هغه جريانه څخه فرق لري، چي د طبيعت په ساحه کي د انواعو تکامل منځ ته را وستلی دئ او هم له هغه جريانه څخه جلا دئ، چي بيالوجيکي صنفونه وجود ته را ولي.»

همدا راز هکسلي ويلي دي، چي د تودور (Tudors) له زماني راهيسي د انګرېزي ټولني په ساختمان او تمدن کي خورا پراخ تحولات راغلي دي. دا

هیڅ امکان نه لري، چې دغو تحولاتو دي له داسې فطري تغیراتو څخه منشاء اخیستې وي، چې د دغې زمانې د انګرېزانو په جسمي او ذهني ساحه کې دي موجود سوي وي. ډنمارکیان یو وخت دریابي غله وه، خو اوس بیا دوی آرام بزګران دي. دغسې تحول په هیڅ توګه نوعي ذرې ته منسوب ارثي او فطري تحول نه بلل کیږي. د تېرو دوو زرو کلو په دوران کې هغه ملتونه، چې یو وخت پر نورو مسلط وه او حکومت ئې پر کاوه، لکه رومیان، عربیان او ازتیکایان (Aztecs) له برمه ولوېده او زوال ئې راغی. همدارنګه بیا داسې اولسونه لکه موږ په خپله، چې عربو د فطرت له مخې کوټهذهنه او تر شا پاته بللو، را پورته سوو او تسلط مو قایم سو.

داسې تاریخ پوهان لکه تاینبي (Toynbee) د مدنیتو د ارتقاء او زوال هغه عوامل پلټي، چې جینیټیکي جنبه نه لري. هیڅوک هم له دوی څخه نه غواړي، چې دوی دي د جینیټیکي پلوه دغه جریانونه وڅېړي او حتی په خپله جینیټیکي پوهان هم دغسې تقاضا نه کوي، ځکه دوی ښه پوهیږي، چې د جینیټیکي تحولاتو ساحه بېخي محدوده ده او د تاریخي تحولاتو سره کوږټ سر نه خوري.

نن ورځ په افریقا کې د سر په سترګو سره لیدلای سو، چې هلته لوړ تعلیمیافته او لایق ملي مشران را پیدا کیږي. دوی په مطبوعاتو او تلویزیون کې مرکې کوي او په رسمي کنفرانسو کې خپل خیالات په ښه توګه پوره ښکاره کولای سي. دوی البته د هغو یو څو خلګو مثال ګڼل کیږي، چې د تعلیم موقع ورته برابره سوې ده او هم دوی دي، چې د را ویښې سوي قارې د مخ خلګ بلل کیږي.

## ولي ځيني ملتونه تر شا پاته دي؟

دلته دا پوښتنه منځ ته را ځي، چي ولي افريقايان او اسکيمويان او نور اولسونه دونه ډېر تر شا پاته دي او صرف اوس ئې دې ته مخه کړې ده، چي ځان ورسوي؟ البته دا تر شا پاته کېده په دې اساس پوره تشريح کېدلای سي، چي د دوی د موقعيت او محيط فرقونه په نظر کي ونيول سي. طبيعي شرايطو په حاصل‌خېزه ځايو کي (چي هلته هغه وخت صرف په نړۍ کي يوازي غنم او اوربشي پيدا کېدلې) او د مصر او فرات په لويو رودي ناوو کي ئې خلګ ډېر مخ ته بوتله. که د دوی شرايط د اسکيمويانو او يا د افريقا د جنوبي صحراوو د اوسېدونکو سره مقايسه سي، نو څرګنديږي، چي دا خلګ د تاريخي او يا جغرافيايي تصادف په سبب د کلتوري انکشاف له جريانه څخه وتلي وه او نه ئې سوای کولای، چي مخ ته ولاړ سي. دلته نژادي ريښه کومه موضوع نه تشکيلوي.

انکشاف داسي حتمي جريان نه لري، چي د هغه په سلسله به ارو مرو هر چيري بې‌له شرايطو څخه انسان تر يو شان متوالي مرحلو را تېريږي. اولسونه له مترقي ګاونډيانو څخه اقتباس کوي او په همدې وسيله له يوه راز اجتماعي نظام او اخلاقي سيرته څخه په خورا چټکۍ بل راز اجتماعي نظام او بل ډول اخلاقي سيرت ته انتقال کوي. په دې تبديلي کي کومه د ډار خبره نه سته او نه هم دا تبديلي کوم شي ته ځنډ واقع کيږي. دا خبره بايد زموږ په ياد وي، چي دلته موږ د چوغکو يا کوترو يا ګلانو له نسله سره سر و کار نه لرو، چي د هغو مهم خصوصيات هغه دي، چي د نوعي ذرې له فرقه سره ئې اړه لري. د انسان جينيتيکي ترکيب بنيادي او کُلي دئ او د مستند تاريخ په تېرو ۲۰۰ نسلو کي

ئې کوم تغیر نه دئ کړی، د ډېري زماني راهیسي د اساسي تغیر کومه نخښه په انسان کي نه لیدل کیږي. هغه څه چي د انسان په مورد کي فرقونه لري، پرله پسې تغیر کوي او له یوه عصره تر بله لوی تحولات پکښي لیدل کیږي او د یوه هیواد او بل تر منځ بېلوالی ښکاره کوي؛ هغه کلتوري شکلونه، دودونه، سلوک او د پوهني ورځ په ورځ زیاتېدونکې تاریخي ذخیره ده.

## جینیټیکي عوامل اجتماعي نظامونه نه ټاکي!

د اروپا او هند په منځ کي د اجتماعي نظامو فرقونه کوم فطري او ذاتي فرق ته منسوب نه ګڼل کیږي، ځکه د دغسي خبري د ثبوت دپاره هیڅ شواهد نه سته او نه ئې هم چا د اظهار جرئت کړی دئ. بشري اولسونه په خپلو کلتوري شکلو کي داسي چټک تحولات را ولي، چي په هیڅ توګه د نوعي ذرې (جین) تبدیلۍ ته منسوب کېدلای نه سي. رشتیا هم کوم تحول چي په کلتوري نظام کي را ځي، تر هغه تحول، چي په جینیټیکي نظام را ځي، خورا ډېر مهم دئ. د تېرو شپېتو کلو په دوران کي چي کوم تحولات په روسیه کي راغلي دي او یا هغه تغیرات، چي همدا اوس په نورو سوسیالیستي هیوادو کي روان دي، کوم جینیټیکي تحول ته منسوب نه دي[۳۶]. د جینیټیکي چارو قوانین د اجتماعي انکشاف په ساحه کي نه چلیږي.

حقیقت دا دئ، چي انسان یوې داسي ساحې ته داخل سوی دئ، چي په هغې کي بل راز قوانین چلیږي. دلته د ثابتو حیواني اصنافو سره سر و کار نه لرو،

---

[۳۶] د C. H. Waddington هغه کتاب وګورئ، چي «اخلاقي حیوان» نومیږي.

بلکي يو متغير او متحرک انساني سلوک زموږ تر کتني لاندي دئ. يوازي انسان تر دغه راز موانعو را تېر سـو او داسـي نوي نړۍ ته راغی، چي په هغې کي مهم پرمختگونه يوازي د بشـري انکشـاف په سـاحه کي امکان لري. دلته جينيټيکي سـاختمـان انکشــاف نـه کوي، بلکي کلتور، تاريخ او ټولنه تر تکاملي جريان لانـدي مخ تـه ځي. نور نو ټوله حيوانات په هغو جينيټيکي تحولاتو پوري مفيد دي، چي د تاريخي زمانې په نسبت خورا کرار جريان گنډل کيږي. سربېره پر دې هر حيوان چي د اختصــاصــيت خوا ته نژدې ســوی دئ او يو ثابت جينيټيکي شـکل ئې اخيستی دئ، نو جينيټيکي تحولات ئې هم بېخي په زياته اندازه کرار سـوي دي. د موجودو اصــنافو اجداد، چي ډېر اختصــاصــي حالت ته نه وه را رســېدلي، زيـات تغير ئې کاوه. (خو دغه تغير هم د حيواناتو په مورد کي چي کتل کيږي، نو معلوميږي چي بنيادي تحولاتو ميليونونه کاله غوښـته، چي په سر ورسـيږي. په داسـي حال کي چي د انسـان تاريخ صـرف يو څو زره کاله نيولي دي.)

**انسان څه راز تحول کوي؟**

انســان په خپله د يو بيالوجيکي موحود په حيث د يو نســبتي اثبات او اســتقرار حالت ته را رســېدلی دئ. بشــري موجودات له جينيټيکي پلوه هم يو څه تغير کولای سـي، آما د ده په مخ کي خورا نوي امکانات برابر سـوي دي او داسـي چټک اسـاسـي تحولات کولای سي، چي هغه د جينيټيکي ساحې په دايره کي ممکن نه دي. دغه راز تحولات په ارثي جهاز کي کوم تغيرات نه غواړي. انسان چي په شــعوري توگه په خپلو اســبابو او تخنيکي فعاليتو کي تحول را ولي او د نوي اجتماعي تنظيم دپاره سـنجشونه کوي او د ده فعاليتونه پر دې اساس اجراء

کیږي، چې د تحول دپاره معقول ضرورت حسوي او په ډېر مهارت سره وسایل اختراع کوي، نو ئې ځکه د تحولاتو او بدلون دپاره یوه داسې لویه زمینه ځان ته برابره کړې ده، چې پرته له ده څخه نور حیوانات لاړ نه ورته لري. دغه اړتیاوې او ضــرورتونه چې تحول ایجابوي، یو و بل ته ســرایت کوي او د نژدېوالي په سبب د یو و بل د تحریک عامل گرځي. رشتیا هم د بشر د تکاملي جریان له غټو خصوصیاتو څخه یو دا دئ، چې بېل بېل کلتوري عناصر د یوه کلتور جزژ گرځولای سي.

په دې ترتیب نو په یوه گام تر ډېرو پړاوو غورځېدلای ســي او هغه مرحلې پرېږدي، چې انسان په تېره زمانه کې په خورا زحمتو وهلې وي. خو په دې ځای کې همدارنگه ډېر اتفاقات، تصادفات، د مواقعو خطاوي، ځیني وخت د معقول قیادت نیســتيوالی او کله کله بیا د هغه موجودیت وي، چې په نتیجه کې یوه ټولنه انزوایي حالت، ناکامۍ او د پسمانۍ کډهل ته واچوي او د ډېري زمانې دپاره ئې پرمختگ وځنډیږي. کټ مټ لکه په عضــوي تکامل کې چې د طفیلي ژویو موجودیت او نهایي اختصاصیت د پرمختگ سره متافات نه لري.

دغه رنگه د ټولني د پرمختگ په لوی جریان کې اړخو او بغلو ته هغه ناکاره قومونه پاتیږي، چې لاړ ئې خطا کړې وي. دوی نو هغه بدبخته او ناکامه وگړي وي، چې د پرمختگ له لاري څخه اوښتي وي. موږ د دوی د ناکامیو عوامل په دې کې نه لټوو، چې د دوی په بشري خټه کې نیمگړتیاوي موجودي دي، ځکه بشــپړه پلټنه دا ښــکاره کوي، چې اســاســي علتونه بېخي په معلومداره ډول د تاریخي حقایقو په څېړنه کې پیدا کیږي. محیطي شــرایط او کله بیا حتی خاص تصادفي عوامل د داسې ناکامیو او پسمانیو سبب وي.

## تمدن چیري شروع سو؟

د هغه تصــادف په ســبب، چي وچي قارې ئې د مځکي پر مخ غوړولي دي او بېل بېل موقعیتونه ئې په وجود را وســتلي دي، مثلاً لکه لویي صــحرا، چي ټوله مرکزي او جنوبي افریقا د مدیتراني له تمدنه څخه پرې کړې وه. ځیني سـیمي د دې دپاره مسـاعدي وې، چي هلته زراعتي پرمختگونه را سي او بېل بېل اولسونه له خپلو تکمیلي وسـایلو او اسـتعدادو سره یو ځای سي او گټوري ټولني جوړي کړي، ځکه نو په دغســـي ځایو کي د را ټولېدو او تنظیمېدو یو شـــمېر مرکزونه منځ تـه راغلـل، چي د یو نوي او عالي تمدن زیری ئې ور کاوه او د هغه مقدمه وه. له بلي خوا بیا د تمدن داسي مثالونه هم لرو، لکه په مرکزي امریکا کي د مایا (Maya) تمدن، په چین کي د ژړ رود سیمه، په هند کي د گنگا ناوې او بالآخره د نیـل وادي او د بین النهرین پـه ســیمـه کي مصــري او ســومري مدنیتونه. دا مدنیتونه تر ډېري اندازې یو له بله جلا او گوښي وه. د مایا مرکز بېخي گوښه وو او نو له منځه ووتی. چین بیا د یونان له گټور نفوذ څخه منزوي پاته وو، خو هند بیا د خپلو مذهبي عقاید او موهوماتو په سبب له حرکته لوېدلی وو؛ ځکه د هند دینیـاتو او مـذهبي تعلیمـاتو هغـه فرقوي نظـام په ایډیالوجیکي لحاظ ډېر تقویه کړی وو، چي د نړۍ تر هر ځای ئې دلته ډېر کلک او بشــپړ شــکل درلودی. په داســـي حال کي چي طبیعي پدیدې ئې یو توهم (مایا) گڼه او د پدیدو تر منځ روابط ئې د قسمت ځنځیر (کرما – Karma) باله، نو په دې ډکټرینو کي به څه طاقت پاته وو، چي بشري پرمختگ ته ژوند ور کړي او پر لار ئې برابر کړي؟

خو د مدیترانې په شاوخوا کي بیا کشمکشونه یو په بل کي حلول په بېړه چالان وه. ورو ورو دا جریانات د نړۍ غربي منطقو ته را نژدې کېدله؛ یعني فرات، نیل او مدیترانې ته را ورسېدله. دلته نو د بېلو بېلو ځایو او خلګو دغه استثنایي اختلاط او یو له بله ګډېدو د ځو زرو کلو په دوران کي یوه داسي ټولنه منځ ته را وستله، چي په هغې کي عقل کولای سوای، له حقایقو سره ډېر شناخته سي او په بشري فعالیتو کي د مذهب نفوذ پای ته ورسوي. دلته له یو شمېر موانعو سره ډېري عالي او منظمي تخنیکي زده کړي، چي د نړۍ په باب یوه ډېره روښانه پوهنه هم ور سره وه، له یوه نسله څخه بل نسل ته پاتېدلې. په دې ډول نو مدیترانه پوره شپږ زره کاله د دې کُرې پر مخ باندي د بشري موجودیت او ترقۍ یوه نامي سیمه وه.

## نامتوازن اجتماعي او اقتصادي انکشاف:

داسي نه ده چي نامتوازن اجتماعي او اقتصادي انکشاف یوه استثنایي پېښه ده او تشریح ئې نه سي کېدلای، بلکي د دې شي ظهور یوه حتمي او لازمي خبره ده. دا حادثه په صنعتي عصر کي هم موږ وینو. برتانیه په صنعتي فعالیتو کي ډېر کلونه دمخه وه، خو بیا جرمنی ډېر تر دمخه سو، چي جاپان او اتازوني په پسې وه. د همدې اساسي عامل له مخي اوسنی امپریالیزم پوره تشریح کېدلای سي.
نن ورځ بیا د دې جریان مثال د شوروي اتحاد د اقتصادي انکشاف په سرعت کي لیدل کیږي، ځکه دغه سرعت د اتازوني تر هغې خورا ډېر دئ. همدارنګه هغه ستر ګامونه، چي نور سوسیالیستي هیوادونه ئې مخ ته اخلي، د دې جریان یو ښه مثال بلل کیږي.

«د سرمایه‌داري نظام انکشاف بالکل په غیرمتوازن ډول سر ته رسېدلی دئ. یو پلا بـه یو هیواد او بیا به بل هیواد تر خپل حریف دمخه ســو، بېل بېل تخنیکي، تاریخي، اقتصادي او سیاسي علتونه د دې سبب کېدل، چې دغه عدم توازن حتمي وګرځوي[۳۷].»

## انسان متحول دئ او تربیه اخلي!

دغه بېل بېل ډولونه چې د ترقۍ په سرعت کي لیدل کیږي او هغه فرقونه، چې د اولســونو او مدنیتونو تر منځ له یوه عصــره تر بله وینو، دونه لوی او چټک دي، چې په هیڅ توګه د چا فطري مشخصاتو ته منسوب نه سي ګڼل کېدلای، ځکه که د دغه جریاناتو علت فطري مشخصات وای، نو به ئې شکلونه یو راز وای او ثابت حالت به ئې درلودای. انســان یو ثابت او پر یوه قرار موجود نه دئ، بلکي غیرمشــخص، د توافق دپاره تیار او په ناپایه ډول تحول ته اماده دئ. دی د ټولو حیواناتو په جمله کي بېخي ډېره تربیه اخلي او تغیر کولای سي. انسان دئ چي د نوو طریقو، نوو فنونو او نوو افکارو له زده‌کړي سره تحول کوي.

د دې سبب دا دئ، چي انسان هغسي دماغ لري، چي زده کړه کولای سي، د انتظام سرښته برابرولای سي، نوي طریقې غوره کولای سي، بې فایدې شیان پرېښوولای سي او په چټکۍ سره تحول کولای سي. د دې امکاناتو دلیل دا دئ، چي انسان یو اختصاصي صنف لکه آس او زرافه غوندي نه دئ، بلکي یو سوچه استعداد دئ، چي ثابت او مشخص شکل نه لري. د انسان کلتور، سجیه او تمدن د یو داسي معین شي محصول نه بلل کیږي، چي هغه د ده په خټه کي

---

[۳۷] د John Eaton هغه کتاب، چي یو مارکسیستي درسي کتاب دئ او Political Economy نومیږي.

اخښلي وي، بلکي دغه راز ټوله شیان د زده کولو او د خوښولو د لارې څخه اخلي؛ دا شیان ئې هم اصلاح کیږي او هم له یوه حاله بل ته اوړي. دې خبرې ټولـه نژادي تیوري ګاني بـالکل چټي او غیرعلمي ثابتې کړې، ځکه دغه شـان تیوري ګاني خو له دې نظریې څخه را وتلي وې، چي بشري ماهیت ثابت اقسام لري او یا دا چي کلتوري فرقونه جینیټیکي فرقونو ته منسوب ګڼل کیږي.

## نژادپرستي او استدلال:

ځیني کسان دې خبرې ته چنداني اهمیت نه ور کوي، چي نژادپرستي هیڅ راز علمي بنیاد نه لري، ځکه کله چي یو بسته اولس د ځان په باره کي په دې عقیده سي، چي دی بادار اولس دئ، نو په دې صورت کي عقل او استدلال ته څه نه ور پاتیږي. دغه راز نظر یوازي له تعصباتو او د محافظه کارۍ له مسلکه سره اړه پیدا کوي. دغه شـان یو منحرف نظر د خپلو قوي هیجاناتو او احساساتي اظهاراتو سـره د اجتماعي تبعیض د لویي مسـئلې یو جز دئ، چي طبقاتي تبعیضونه لاس پکښي لري او هم هر کله په داسي ځای کي کار ځني اخیستل کیږي، چي د کوم جمعیت د امتیاز موقف ټینګ وساتي. د دغه نظر اثبات په ذات کي دا مفهوم لري، چي غواړي استثمار پر عقلي دلایلو ودروي او د دې دپاره چي خلګ د غلامۍ په حالت او سیاسي محکومیت او اقتصادي استثمار کي وساتي، یو لړ څه استناد پیدا کړي. همدغه دلیل دئ، چي په نتیجه کي یو لړ خطاوي او بې‌دلیله تمایلات منځ ته راغلي دي. دا طبیعت نه دئ، بلکي ټولنه ده، چي انسان ئې لوړو او کښتو نژادو ته وېشلی دئ؛ دا لوړ او کښته په حقیقت کي وجود نه لري، بلکي صرف موږ را ایستلي دي.

د دې تعصباتو او تمايلاتو بشپړ نامعقوليت هغه وخت ښه معلومېږي، چې په ځينو مواقعو کې د دوی تر تاثير لاندې خلګ له دې اعترافه سره، چې وايي که څه هم په زياترو مواردو کې د فرق او تفوق نخښې نه ليدل کيږي، خو بيا هم دا فيصله کوي، چې بايد ځيني وګړي په دې سبب له ټله وايستل سي، چې د دوی په خټه کې نژادي ارجل‌والی موجود دئ. دغه راز نو يو انسان په دې دليل، چې خاصې نخښې او فرقونه لري، په کوم قطار کې نه دروي، بلکې صرف په دې سبب ئې را ولي، چې تصنيف ئې دغه شان سوی وي.

## ملامت اوزګړی:

نژادي تعصبات او تمايلات اکثره د ملامت اوزګړي شکل اخلي. کله چې د وګړو آرامي او يا د جمعيت يو ځای والی په خطر کې ولويږي، نو بايد ملامت اوزګړی ورته پيدا سي. بېکاري زياتره دغه جريان منځ ته را ولي، مثلاً موږ انګرېزان، غربي هنديان (West Indies) او په لايم‌هوز (Limehouse) کې چينايان يا ټوله خارجي اوسېدونکي د خپلو اقتصادي مشکلاتو سبب بولو. يو اقليت يا يو کمزوری محکوم اکثريت نو هر کله د اجتماعي تېري دپاره په مجموعي صورت هدف واقع کيږي.
موږ خپله بې‌امني او يا شخصي ناکامي په دې سره جبيره کوو، چې پر يو منفور جمعيت باندې ملامتيا واړوو. زموږ اجتماعي سروې دا ښکاره کوي، چې له هغو وګړو څخه چې ځانونه په اجتماعي ساحه کې ناکامه احساسوي، په سلو کې ۳۸ ضدِ سامي حرکات هم صادروي. خو په داسې حال کې چې د همدې جمعيت

د هغو کسانو له جملې څخه، چې خپل موقف ته خوش‌بینه وي، صرف په سلو کې ۱٦ د دغه راز منفي افکارو خاوندان لیدل کیږي.

د اوسني ژوند مواقع د دې دپاره کافي دي، چې زیات شمېر مرموز او غیرشعوري تعصبات وزیږوي. هغه څوک چې له تور پوستو او ناملموسو څخه بد وړي، دغه رنګه له نورو خارجیانو څخه ئې هم ښه نه را ځي. دغه ډله هر راز اجتماعي تحولات، چې هر څونه ضروري هم وي، ښه ئې نه ایسي. دا خبري په غریزي ډول منځ ته راغلي دي او هغو سیاسي کسانو پوره استفاده څني کړې ده، چې دوی زیاته علاقه لري، د موجود اجتماي نظام د مفاسدو د پټولو دپاره ملامت اوزګړي پیدا کړي او هم هغه چا کار څني اخیستی دئ، چې غواړي تر دې تکالیفو لاندي خلګ بېلو بېلو ډلو ته ووېشي او په جنګ ئې واچوي.

دا خبره هم باید ومنل سي، چې کله خلګ له حقوقو څخه محروم سي، په ګښته سترګه ورته کیږي، مجبوره سي، چې تر بدو شرایطو لاندي ژوند وکړي او د حیواناتو په شان رفتار ور سره کیږي، نو ضرور په هغو کي خورا ناوړه خویونه را پیدا کیږي. هغه څوک چې دغسي خلګ استثماروي، نو هغه نتایج چې د دوی د استثماري سلوک په اثر منځ ته راغلي وي، د خپل دې عمل دپاره ئې د دلیل په توګه هم استعمالوي، چې ولي دوی غواړي دغسي وګړي په کښته حیثیت او سپک حالت کي وساتل سي. موږ له تعلیمه څخه خلګ محروم ساتو او بیا نو شکایت لرو، چې دوی بې‌سواده دي. موږ دوی دغه بد او کښته حالت ته را رسولي دي او بیا نو وایو، چې آیا دا څنګه کېدلای سي، چې دغسي کښته وګړي له ځانه سره برابر وبولو.

## نژادپرستي او استثمار:

همدارنگه د نژادپرستۍ یو بل مظهر هغه مظالم دي، چي د واکمنو د تفوق دپاره پر اقلیتو باندي تېرېږي. د دې دپاره چي د دغو مظالمو او عذابونو واقعي ماهیت وپېژنو، لازمه ده، چي د اجتماعي او طبقاتي شــخړو پر جریان علم را ولو، نه دا چي د نژاد پلټنه شــرو کړو. د ډلو، طبقاتو او اولســونو په منځ کي چي اجتماعي شخړي پېښېږي، ټوله ژور علتونه لري. کله چي یو جمعیت؛ که صنعتي کارگران وي او یـا یو نژادي اقلیـت وي؛ د تبعیض په موقف کي را ســي، نو هلته هر کله زورور منـافع لاس لري. یوازي د اقتصــادي امتیازاتو له نهایي ختمېدو ســره دا امکان پیدا کېدلای سي، چي مساوات منځ ته را سي. شخړي هغه وخت پای ته رسېدلای سي، چي انسانان د گډو او عمومي گټو دپاره یو ځای کار کوي او په گډه صورت ئې لاس ته راوړي. د شخړو او ناآرامیو له ورکېدو سره نو بیا عقل او استدلال خپله موقع پیدا کولای سي.

## عقلي استدلال او نژادي تعصبات:

د دې خبرو پر اســاس نو موږ دا هیلـه نه ســو درلودلای، چي ممتاز خلگ دي استدلال ته غوږ ونیسي. دوی دې شي ته چنداني اعتناء نه کوي، چي نژادپرستي علمي اسـاس نه لري او د یو ضـد علمي مسلک په حیث رسوا ته وتلی دئ. کله چي دوی زیار باسي، پر نژادپرستۍ دلایل ووایي، نو رښتیا هم خپلي سفسطې په خپلـه ور معلومېږي او ځـان نه خطا باســي. دوی پوهېږي، چي دلایل ئې چټي دي، لاکن صـرف د ســاتېري دپاره ئې وایي. دوی حتی غواړي، په دلایلو بازۍ

وکړي او د مسخرو په استدلال د هغه جدي مسلک اعتبار ور کم کړي، چې د ضدِ نژادي فکر طرف‌داره وي. د دوی په نظر کې مهمه خبره دا نه ده، چې په دلایلو څوک را جذب کړي، بلکې دا ده، چې په سپکاوي سره دلایل رد کړي او انتقاد کوونکی تهدید کړي او صرف د خپل استثمار په ګټه ټینګار وکړي.

«خورا ښه پخوانی قانون او مقدس پلان دئ
هغه څوک به ئې استعمالوي، چې واک لري
څوک چې کولای سي، و به ئې ساتي.»

که پر دوی باندې په رښتیا فشار راوړل سي، نو ژر دلایل دروي او وایي، موږ په دې سبب بحث نه ختموو، چې له تسلیمېدو څخه بېرېږو، بلکې په دې سبب چې موږ له سره څخه جدي دلایل نه ویله او نه مو جدي بحث کاوه. دوی دا غوره کړې ده، چې د استدلال په مقابل کې مقاومت وساتي او تاثیر ئې ځان ته پرې نه ږدي. خو سره له دې هم باید استدلال ته ادامه ور کول سي، درواغ باید رسوا سي او د ممتازو کسانو پلمې باید میدان ته را وایستل سي، ځکه کله چې اقتدار او حاکمیت له هغه سیاسي، اخلاقي او فلسفي نظریاتو له ځلېدونکې زغري څخه را وایستل سي، چې ځان پکښې ساتي، نو به بې له زغري څخه جنګ کوي او په دې حالت کې به ښه واری پر موښلې او مخالفین به ئې په قوت کې پر غښتلي سي.

# څوک لوړ دئ؟

## د پیاوړو کسانو د حکومت تیوري:

افلاطون په خپل کتاب کي، چي جمهوریت نومیږي، دا تیوري را وړاندي کړې ده، چي دولت به تر هغو نه سي کامیابه او استحکام به و نه ساتي، تر څو چي د لوړو کسانو له خوا اداره نه سي. دا کسان باید په فطري لحاظ پیاوړي وي او مخصوصاً د دې دپاره وټاکل سي او وروزل سي، چي حکومت وکړي. د دې دپاره چي وګړي دغه راز یو نظام ته غاړه کښېږدي، باید هغه څه وویل سي، چي افلاطون ئې «شریف» درواغ بولي. مطلب ئې له دې خبري څخه پروپاګنډي افسانې دي؛ له دې جملې شریفو درواغو څخه نو یوه د ده هغه افسانه ده، چي د «ویني او خاوري» په نامه ئې لیکلې ده. په دې افسانه کي ماهرانه درواغ د دې دپاره وایي، چي د ښارو وګړي دې ته ترغیب کړي، چي د پیاوړو کسانو حکومت ومني. هغه افسانه داسي ده:

«خدای سره زر هغه چا ته ور کړي دي، چي د حکومت استعداد لري، سپین زر ئې هغه چا ته ور کړي دي، چي کارونه ئې په لاس کي دي، مس او اوسپنه ئې بزګرانو او نورو مؤلده طبقاتو ته ور کړي دي. یوازي د سرو زرو خلګو ته باید اجازه ور کول سي، چي حکومت وکړي.»

د ده د جمهوریت په کتاب کي مهمه موضوع «عدالت» ده، خو د ده عدالت داسي یو شی نه دئ، چي موږ د لفظ له مخي پېژندلای سو. دی عدالت یوازي د دولت په برخه کي استعمالوي او هغه په دې مفهوم، چي باید هر سړی ټیک خپل ټاکلی مقام وساتي؛ کارګر باید کار وکړي، په فکري مسایلو او حکومتي

خبرو کي لاس و نه وهي. د پاچهی ورځ خلګ باید حکومت وکړي او کښته وګړي د ده په کارو کي ګوتي و نه وهي. د هغسي دولت دپاره چي عدالت وچلوي، دا لازمه ده، چي د کښتني طبقې خلګ ئې د لوړو او واکمنو کسانو امرونو ته په خوښه غاړه کښیږدي.

خلګو ته باید دا وښوول سي، چي «نابرابري» عدالت دئ او واکمن طبقات چي هر راز اخلاق ولري، خو د خوارانو دپاره مهم خوی قناعت دئ. خواران باید په خپله نصیبه قانع او راضي وي.

## تکامل او لوړ سړی:

د تنازع للبقاء او بقای اصلح تیوري‌ګاني نه یوازي په نژادي مسایلو کي استخدامیږي، بلکي په اولسو کي دننه د طبقاتي وېشونو په برخه کي هم کار ځني اخیستل کیږي. نو هغه څوک چي ځان د عالي نژاد سره برابر بولي او ورو نژادو ته په سپکه ګوري، دا خبره هېروي، چي نژادپرستي هر کله په یوه اولس کي دننه هم تبعیضي نتایج په وجود را ولي. ممتازي طبقې له دغو تیوري‌ګانو څخه، چي لوړ توکمونه ثابتوي، د خپلو داخلي اجتماعي کشمکشو په برخه کي هم کار اخلي. مثلاً کله چي دا استدلال کیږي، چي جرمنیان تر لاتینانو لوړ دي، نو په دې لړ کي دا هم را ولي، چي په خپله د جرمني واکمن طبقات تر جرمني کارګرو هم لوړ دي. همدغسي انګرېزان چي بیا تر خارجیانو او رنګه نژادو لوړ ګڼي، نو د دې په نتیجه کي واکمن طبقات ئې هم تر کښتنو خلګو لوړ ګڼل کیږي. د دغه جریان مثال په نازي جرمني کي ښه ولیدل سو، چي د ډیموکراسۍ اساسات په

لغته ووهل سوه او ځای ئې فيوغر پرنزيپ بادار ته د اطاعت پرنسيپ ( Furhrer Prinzip) ونيوی.
هلته دا فلسفه منځ ته راغله، چې د مشرانو منل او قبلول په يوه سالمه ټولنه کې اساسي امر دئ او د دې خبرې مطلب دا وو، چې د مشر خپل ځان ته مسؤل دئ او په ده پسې خلګ بله وظيفه نه لري، بې‌له دې څخه چې د مشر متابعت به کوي او تر ځان علاوه خلګو ته به تسليم وي.
هغه څوک چې د خپل جمعيت د لوړوالي په عقيده وه، اکثره خپل ځانونه د دغه جمعيت د ممتازو غړو سره برابروي. دې ته نه ګوري، چې آيا دوی هغسي عالي صفات لري او که نه. مثلاً هغه خلګ چې له بدني پلوه کمزوري وي، د خپل ښار يا سيمې يا هيواد د ورزشکارانو په زړه‌ورتوب وياړي او داسي غاړه نيسي، لکه په سپورټي بريالیتوب کي چې ئې ده برخه اخيستې وي. يو سړی ښايي په حقيقت کي ډېر بې‌زړه وي، خو که د ده د ملک عسکر په نړۍ کي دلاوره وي، نو په دې ئې خورا طبيعت سم وي. د زياترو وګړو سره داسي رفتار کيږي، لکه دوی چې د پوهې په لحاظ کښته وي او دوهمه درجه ارزښت لري؛ د دې وضعيت دليل هم دا دئ، چې د لوړو طبقاتو پوهه د اوسط حد له مخې د کارګرو تر پوهې زياته او لوړه ده. که د ساتېري دپاره دا منو، چې دغه خبره رښتيا هم حقيقت لري، نو په دې صورت کي د ايټون (Eton) د مکتب يو ډېر کوټه ذهنه شاګرد به پر دې اعتراض کولای سي، چې بايد د کارګرو طبقاتو اولاد ته تعليم ور نه کول سي او د دې خبرې د اثبات دپاره به دا دليل وايي، چې کارګران په مجموعي توګه ښه پوهه نه لري. دا شاګرد به په خپله دې ته نه ګوري، چې د ده پوهه د کارګرو د اولاد د منځني حد تر اندازې لا ډېره کښته ده.

## د پوه انتخاب:

هغه څوک چې غواړي د خپل جمعيت موقف په دلايلو ثابت کړي، نو په دې کار کې مقياسو ته مراجعه کوي او په زياته بيا د ماغزو او پوهيې اندازې ستجوي، ځکه دوی په دې گومان دي، چې مقابل او حريف جمعيتونه ئې د فطرت او طبيعت له مخې کښته دي. دوی غواړي دا ثابته کړي، چې طبيعت په خپله دوی د هغه مقام دپاره را انتخاب کړي دي، چې دوی اشغال کړی دئ؛ ځکه که دغسې نه وای، نو دوی به د هغو پلرو او کورنيو پر ځای نه وای راغلي، چې ضرور پوهان وه. د هغو د پوهې نخښه خو دا وه، چې واک ئې درلودی او په همدې دليل نو بايد اولاد ئې هم پوهان وي.

## د ماغزو اندازه:

کومه نتيجه چې د مغزو له اندازې څخه لاس ته را ځي، چنداني مفهوم نه لري. تر اوسه چې څه ماغزه اندازه سوي دي، نو په دې ريکارډ کې هغه څوک چې د ماغزو مقدار ئې تر هر چا ډېر دئ، د پوهې په لحاظ يو کوټهذهنه تثبيت سوی دئ.

ليبنيز (Leibniz) چې يو جامع نابغه، فيلسوف او رياضي‌دان وو، د ده ماغزه صرف (۱۲۵۷) گرامه ختلي دي. دغه وزن تر هغه لږ دئ، چې د انسان د پخواني

فوسیل له مخي اندازه سوي دي. د بسمارک ماغزه (۱۸٦۷) گرامه وه، خو آیا دی تر ټولو هوښیار وو؟[۳۸]

## د پوهي درجې:

هغه دلالتونه چي د پوهي او ذکاوت له ازموینو څخه لاس ته را ځي، په یو څه غور ارزي. پر دغو دلالتو باندي دا ادعا بنا کیږي، چي دوی د امتیازاتو مستحق دي او د دې استعداد لري، چي هم د صنایعو او هم د سیاسیاتو په صحنه کي د حکومت او مسؤلیت چاري دوی ته سپارلي وي. «ښار به وران سي، که حکومت د اوسیني او په ژړو په لاس ور سي![۳۹]» یعني خدای دي نو زموږ پر وطن فضل کوي، که واک د چپي ډلي په لاس ور سي!

اوس خبره دا ده، چي د پوهي په ازموینه کي مطلقه پوهه تر امتحان لاندي نه نیول کیږي، بلکي د پوهي درجه په مقایسوي محیطو کي کتل کیږي. که محیط بېل وي، نو نتیجه هم بېله لاس ته را ځي، مثلاً که دوه غبرگولیان په جلا محیطو کي وروزل سي، نو له ۸ تر ۱۰ درجو پوري ئې فرق څرگندیږي. انکشافي محیط د پوهي پر انکشاف باندي اغېزې اچوي او ډېر تاثیر پر لري.

دا پوښتنه، چي آیا د پوهي ازموینه په خپله «پوهه» اندازه کوي؟ په خپله یوه داسي مسئله ده، چي باید دلایل پر وویل سي. خو دا خبره، چي دغه ازموینې د مقایسې یو اساس تهیه کوي، آیا دا مفهوم لري، چي سپین خلگ نو مثلاً تر تور پوستو

---

[۳۸] د منځني حد په حساب د انسان د کلې ظرفیت (۱۴۰۰سي.سي.) دئ.

[۳۹] د افلاطون «جمهوریت»

هوښياران دي او نو ځکه بايد پر دوی واکداري وکړي او دا حق لري، چي د دوی سياسي او اقتصادي چانسونه محدود کړي. هر ډول ارقام چي په دې برخه کي د جرياناتو په توګه برابر سوي دي، خو دغه راز نتيجه نه ځني را وځي .دغه شان ازمويني دا ښيي، چي د لوړو استعدادو کوچنيان په ټولو خلګو کي موندل کيږي. يو امريکايي تور پوستی کوچنی د پوهي ۲۰۰ درجې لري[٤٠]. تور پوستي کوچنيان بيا په «تي‌ني‌سي» (Tennessee) د منځني حد په حساب ۵۸ درجې لري او هغه بيا چي په لاس‌انجلس کي اوسي، ۱۰۵ درجې لري. له دې څخه څرګنديږي، چي د پوهي درجې د نژادي استعداد له مخي نه ټاکل کيږي. د باسواده تورپوستو د پوهي درجه تر هغو باسواده سپين‌پوستو لوړه ده، چي په جنوبي ايالتو کي اوسي. ټوله خبري په اقتصادي او تعليمي وړانديوالي پوري تعلق نيسي او هم په دې پوري ارتباط پيدا کوي، چي د مقام او حيثيت په برخه کي څونه اندازه مساوات جاري دي. که دا دليل وويل سي، چي د هغو ځايو د پوهي لوړه درجه، چي تعليمي اسانتياوي پکښي موجودي دي، پرته له دې بل شي ته منسوب نه ګڼل کيږي، چي هلته هوښيار تور پوستان ورته را نقليږي. نو د دې خبري جواب دا دئ، چي هغه کوچنيان چي په دې توګه هغو ځايو ته راغله، کله چي د راتګ په لومړيو وختو کي د پوهني تر ازمويښو لاندي وکتل سوه، نو پوهه ئې لوړه نه وه. له دې بيانو څخه دا را وځي، چي د پوهي د ازموينو نتايج دا نه ثابتوي، چي بايد د کوم نژاد په مقابل کي اجتماعي تبعيض ودرلودل سي. هغه پوهنه چي موږ ئې لرو، دا خبره اثبات ته رسوي، چي په ټولو نژادو کي د مستعدو

---

[٤٠] د ذکاوت درجه چي ئې تر ۲۵ کښته وي، په کوټه‌ذهنو او باوله کسانو کي ګڼل کيږي. تر ۱۵۰ پورته درجه د نابغه خلګو ده. د عادي ذکاوت درجه د ۹۰ او ۱۱۰ په منځ کي ده.

کسانو را پیدا کېدل، یو ممکن کار دئ. دا نو فرق نه لري، که هغه ممتاز او یا غیرممتاز نژادونه وي. ضروري شی دا دئ، چي د تعلیمي او اجتماعي زمینې په برخه کي سمون را سي او هر څوک د استفادې مجال ولري.

کله چي موږ د محیطي زمینو او شرایطو په باره کي غوږ کوو، باید دلته د صحت مسئله هم له یاده و نه باسو. آیا په یوه نژاد کي دننه د هغو کسانو پوهه، چي په مزمنه ملاریا اخته وي او لږ غذا ور رسیږي، د هغو کسانو سره مقایسه کېدلای سي، چي تر نورمال صحي شرایطو لاندي ژوند کوي؟

پوهه خاص یوه بیالوجیکي مسئله نه ده، بلکي د یو شمېر فعالیتو له مخې تر ازمویني لاندي نیول کیږي. د ازمویني نتایج صرف بیالوجیکي استعداد نه را ښیي، بلکي د دې استعداد هغه اندازې معلوموي، چي انکشاف ئې کړی وي او هغه لاره ښیي، چي د دغه استعداد انکشاف پکښي سر ته رسېدلی وي.

په اتازوني کي تور پوستي او سپین پوستي که څه هم یوه اقتصادي سویه ولري، خو د تورانو محیطي ښېګڼې له سپینو سره نه دي برابري او نو ځکه توران د منځني حد په حساب په پوهه کي لږ څه کښته درجه اخلي. خو هر چیري چي ئې د محیطي شرایطو تر منځ شباهت ډېر وي، هلته د تورانو د پوهې د درجې کښته‌والی هم ورکیږي[٤١]. له دې حقایقو څخه باید دا نتیجه واخلو، چي محیطي عواملو دا امکان له منځه وړی دئ، چي د پوهې د ازموینو له لاري د خلګو ذاتي استعدادونه اټکل سي. دا ناممکنه ده، چي د محیط او وراثت تاثیرات یو له بله جلا سي.

[٤١] د (Ruth Benedic) په هغه اثر کي، چي «نژاد او نژادپرستي» نومیږي، د احصائیوي معلوماتو په اساس یوه ښه څېړنه وګورئ.

**پوهه او طبقاتي وېشونه:**

لکه دمخه چي مو بيان پکښي وکړی، په هر ملت کي دننه هم يوه برخه جمعيتونه او طبقات پر نورو باندي ځان په فطري او ذاتي لحاظ لوړ بولي. د دې خبري په تائيد کي البته شواهد پيدا کيږي، چي د تخصص والا طبقاتو د اولادې د پوهي درجه د منځني حد په حساب د کارگرو تر اولادې لږ څه لوړه وي، خو په تخصصي طبقاتو کي داسي کسان هم موږ موندلای سو، چي د پوهي تر عمومي اوسط ئې سويه ډېره کښته وي. اما دوی د هغه دمخني اساس په استناد دا گومان کوي، چي که څه هم دوی خورا کوتهذهنه وي، لاکن د کارگرو د طبقې تر هر غړي بايد هوښيار وگڼل سي. دوی دې ته نه گوري، چي د کارگرو له طبقې څخه هم په سل کي ۷۵ ډېر ځيرکان او پوهان دي. دغه د بېلو بېلو ډلو او ټوليو تر منځ د مشترکو صفاتو مسئله لومړی درجه اهميت لري، خو دا خبره هر کله له نظره اچول کيږي او د لوړو طبقاتو او نژادو په گټه په کُلي توگه پرېښوول کيږي. دلته دا قضيه، چي نر پر ښځه ځان لوړ بولي، هم بايد ياده کړو. ځيني کوتهذهنه او ناپوه نارينه يوازي په دې غره وي، چي دی له هغه جنسه څخه دئ، چي د پوهي منځنی حد ئې د ده په گومان تر ښځو لوړ دئ[٤٢]. او نو ځکه تر هغو ښځو هم ځان لوړ گڼي، چي په څرگند ډول ده ته معلومه وي، چي ذکاوت ئې تر ده ډېر بالا دئ. په هر صورت دغه د نر او ښځي توپير (که دغه يو باوري معيار هم وگڼل سي، که څه هم دا مسئله خو پوره لا له شکه نه ده وتلې) بېخي لږ دئ، که جنس،

---

[٤٢] پر دغه خبره که څه هم ډېر زيات وگړي عقيده لري، خو علمي اساس نه لري.

نژاد یا طبقه موږ تر کتنې لاندې نيسو او منځنی حد ئې معلوموو، دا کار هيڅ راز نتيجه موږ ته نه را کوي، ځکه هغه فرقونه چې زموږ پام ور اوړي، په فرد يا افرادو کې ليدل کيږي او په جنس، نژاد يا طبقه پورې اړه نه لري. جمعيتونه مشترک صفات لري.

البته په يوه نژاد يا جمعيت کې د ډېرو ځيرکو کسانو شمېر لږ څه لوړ پيدا کيږي، خو کېدای شي د دغې سويې ځيرک کسان په ټولو جمعيتو او نژادو کې هم پيدا کېدلای سي او د دواړو جمعيتو غټ شمېر د پوهې او ذکاوت يوه سويه لري. داسي يو ټګي هيڅ چيري نه سته، چي د جمعيت په ګټه استناد وسي. که حقيقت داسي وای، چي يوه جمعيت کورټ هغسي مهم صفات نه درلودلای، چي په بل يوه کي پيدا کېدلای، مثلاً لکه بيزوګان چي هغه صفات نه لري، چي انسان ئې خاوند دئ؛ نو به دغسي يوه مسئله منځ ته راغلې وای. پر دې حقيقت (که چيري رښتيا حقيقت وي او تر اثبات لاندي هم را سي)، چي د ايسلنډ د اوسېدونکو د ذکاوت او پوهي د درجې اوسط د لويي برتانيې د اوسېدونکو تر هغې ښځه درجې لوړ دئ، هيڅ راز نتيجه نه بناء کيږي او نه هم د ايسلنډ د اوسېدونکو دا حق ثابتوي، چي بايد موږ برتانويان له سياسي او اقتصادي حقوقو څخه محروم کړي او پر موږ باداران سي!

دغه خبره د طبقاتي فرقونو په مورد کي هم ويل کېدلای سي. تاسي داسي وبولئ، چي دغه غيريقيني فرق په واقعي صورت رښتيا هم موجود دئ. اوس نو د دغه فرق موجوديت دا مفهوم نه لري، چي کومه طبقه چي اوسط ئې لوړ دئ، دا حق لري، پر هغه طبقه باداري وکړي، چي اوسط ئې لږ څه کښته دئ. بلکي دې خو لا بايد داسي مفهوم درلودلای، چي د ټولو طبقاتو زيات ځيرک کسان دې ته

مستعد دي، چې هغه مسؤلیتونه او د وظائفو اجراآت په غاړه واخلي، چې د ټولو طبقاتو د کوټه‌ذهنه وګړو سد نه په رسیږي. خو هغه څوک چې د طبقاتي لوړوالي په اثابت دلیلونه وایي، دغه شان کوم فکر په سر کې نه لري.

## آیا نژادي پوهه مخ پر ځوړه ځي؟

دا دلایل هم ویل کیږي، چې د ځیراکت له خوا پاته خلګ تر ځیرکو کسانو په تولید مثل کې چټک دي او د دې جریان حتمي نتیجه خو دا ده، چې د یو نژاد د ځیراکت او پوهې اوسط مخ پر کښته را ځي. د دې استدلال بدبختي وهو چې هغه دوې سروې‌ګانې چې په عمومي سویه د سکاټلېنډ د مکتبیانو په باره کې اجراء سوي، د پورته نظریې خلاف حقایق ئې څرګند کړه، ځکه د دغو مکتبیانو ځیراکت د څو کلو په دوران کې زیات سوی وو.

د پورته نظریې پر ګومان خو نو دا ویل کېدلای سي، چې دغه د ځیراکت د کمېدو جریان چې زیاته کلونه دوام کړی دئ، نو اوس خو باید د ملت عمومي ځیراکت د غباوت درجې ته رسېدلای وای. په دې اساس خو نو اوس باید هغه لوړي سویې په ملت کې نه موندل کېدلای سي، چې زموږ موفقیتونه ئې څرګند شواهد دي.

ایډیالوجي‌ګاني او طبقاتي پلمې د غیرعلمي، ضد ډیموکراټیک نژادي او طبقاتي سیاستونو ټینګه پالنه داسي کار دئ، چې یوازي فکري خط ئې عامل نه ګڼل کیږي. بلکې د دې کار منشاء دا ده، چې امتیازاتو ته د عقلي اثبات لاره پیدا کړي او یا دا بېره ده، چې د امتیازاتو ګټې له لایه څخه وځي. دغه راز بېره په هغه چا

کي موندل کيږي، چي له نژادي او قومي تفرقو څخه گټې اخلي او يا له طبقاتي استثماره څخه فايدې کښوي.
موږ دمخه ووېل، هغه څوک چي د دغو خبرو په ساحه کي فکر کوي، کوږتې د عقلي استدلال اورېدو ته مستعد نه دي او نه هم دا شی چنداني اغېزه پر کوي، چي د دوی د نظرياتو بطلان د علمي او منطقي اسنادو په سلسله رسوا ته را وايستل سي؛ ځکه دا يوه ايډيالوجي ده او هغه هم طبقاتي ايډيالوجي. دا ايډيالوجي لکه د هټلر د ضد سامي نژاد عقيده، کوم عقلي او منطقي اساس نه لري. که څه هم نازيانو خو عقلي تنقيدونه په توهيني ډول ردوله، اما سره له دې مجبوره سوه، چي ارو مرو به د تاريخ فتوا ته غاړه کښېږدي. نن ورځ همدغسي سخت درسونه د هغو ځايو واکمنو طبقاتو ته ور کول کيږي، چي پر ځان ئې د «آزادي نړی» رشخندي نوم ايښی دئ.
نن افريقايان دې ته نه گوري، چي ته ودرېږه، د دوی باداران د تگ اجازه ور کوي او که نه؛ بلکي مخ ته ځي او خپله لار وهي. دا فيصله نن د دوی په بادارانو اړه نه لري، بلکي په خپل لاس کي ئې ده، چي دوی بايد د انسانانو په توگه آزاد وي. د نژادي تبعيض مدافعين لکه جنوبي افريقا، برتانيه او يا امريکا ښايي په دې نه وي قانع، چي د افريقايانو د حريت وخت رسېدلی دئ، خو افريقا دې ته نه گوري، چي ته ودرېږه د دوی قناعت حاصليږي، چي د آزادۍ وخت را رسېدلی دئ، بلکي لکه هند غوندي مخ ته ځي او خپله آزادي گټي. موږ ته زياتره ويل کيږي، چي هند ته د خپلواک حکومت ور کول د لوړ همت يوه نخښه وه، مگر روښانه حقيقت خو دا دئ، چي موږ يو کال نور هم هند تر خپلي ادارې لاندي نه سواى ساتلاى؛ نو ځکه په سمه وجه ځني را ووتلو. په اوس وخت کي موږ او

بلجیم والا او هسپانویان او پرتگالیان او امریکایان یا را ایستل کیږو او یا یوازې پاته کېده لوی زړه‌ورتوب گڼو.

## د طبقاتي تبعیض نتائج:

موږ په خپل هیواد انگلستان کې هم له دغسې طوفانه سره مخامخ یو. نن ورځ لایق صنعتي کسان، سیاستمداران، د معارف منسوبین او ساینس پوهان، ټوله چې زموږ تکنالوجیکي او فني پس‌مانیو ته گوري، نو بېره ور لویږي. که شوروي اتحاد ته پام وکړو، نو هلته په هر کال کې د روزل سویو میخانیکانو شمېر اوه چنده زیاتیږي او صنعتي فعالیتونه را داخلیږي. په داسې حال کې چې موږ په دې برخه کې ډېره کمې لرو «او حتی د ساینس ښوونکي او استادان نه سو پیدا کولای، چې زموږ په ښوونځیو او پوهنځیو کې درسونه ور کړي. دا ولې؟ دا په دې سبب، چې موږ لا اوس هم په سل کې ۲۰ شاگردانو ته منځنې تعلیمات او په سل کې ۵ شاگردانو ته د پوهنتون په سویه تعلیم ور کوو[٤٣]. ولې موږ خپل وگړي له دغو تعلیمي اسانتیاوو څخه محروم ساتو؟ د دې سبب دا دئ، چې موږ ته دا عقیده تلقین سوې ده، چې په سل کې اتیا نفره له کښته نسله څخه دي او د پوهې ازموینو دا ښوولې ده، چې دوی له تعلیمه څخه گټه نه سي اخیستلای. دا عقیده هم را کول سوې ده، چې د تنازع للبقاء په میدان کې تکړه او مساعد کسان حکومت کوي او هغه څوک چې په فکري لحاظ پاته وي او یا دوی د خپلو مشخصاتو په سبب دې ته مساعد نه وي، چې وظایف ور وسپارل سي، نو باید

[٤٣] خپاره سوي احصائیوي ارقام دا ښکاره کوي، چې په شوروي اتحاد کې په ۱٦۳ کسانو کې یو تن او په برتانیه کې په ٦۰۰ نفرو کې یو تن د پوهنتون او لوړو مسلکي تحصیلاتو څخه استفاده کوي.

نور حکومت پر وکړي او دوی ئې امرونو ته غاړه کښېږدي. د برتانيې د خلګو په باره کي دا يو وطني فکر نه دئ، ځکه که دوی د جرمني، اتازوني او شوروي سره مقايسه سي، نو هلته د وګړو زيات شمېر لوړ تحصيلات سر ته رسوي. ما په برتانيه کي داسي استدلال نه دئ اورېدلی، چي هغه کسان چي په دغو هيوادو کي لوړ تحصيلاتو کوي، په حقيقت کي دې ته مستعد نه دي، چي له تحصيلاتو څخه ګټه واخلي. آيا موږ د ي، ملت په حيث د ځيراکت او استعداد په سويه کي تر دغو هيوادو ډېر کښته يو؟ سپينه خبره دا ده، چي زموږ د طبقاتي امتيازاتو سيستم او هم هغه ايډيالوجي، چي دغه سيستم تاظيدوي، د دې عامل ګڼل کيږي، چي د بشري استعدادو يوه لويه برخه بې حاصله او بې تعليمه پريږدي. بې‌له دغو استعدادو څخه به موږ هم په هغو رقابتي مبارزو کي، چي زياته عقيده هم ورته لرو، ډېر تر شا پاته يو.

موږ ګرده د بقای اصلح پر خبره زور اچوو او ټينګ پر ولاړ يو. ډېر ښه، اوس چي په برتانيه کي طبقاتي تعليم روان دئ او په سوسياليستي نړۍ کي بيا د تعليم او تربيت دروازه د هر هغه چا پر مخ باندي خلاصه ده، چي استفاده ځني کولای سي، نو د دې جريان په نتيجه کي به څوک وي، چي د ګډ ژوند د اقتصادي رقابت په ميدان کي تکړه او مساعد وخېژي؟

# جګړه او د وګړو د ډېربښت مسئله

## په محیط کي تحول را وستل:

دا سمه نه ده، چي اجتماعي تکامل هغه جریان ته پرېښوول سي، چي موږ ئې په غلط ډول د طبیعت په نامه یادوو او له هغه څخه مطلب د ځنګله قانون دئ. زموږ لاري او مقصدونه باید پر دې ګومان نه وي، بنا چي طبیعت تر موږ ښه پوهیږي او موږ د طبیعي قوانینو په اختیار کي یو او د دوی بې احترامي زموږ په تاوان تمامیږي. ټیک خبره دا ده، چي طبیعت ښه نه پوهیږي، بلکي موږ ډېر ښه پوهیږو. د دې پر ځای چي محیط سر ته ایله وي او داسي څوک انتخابوي، چي په بدني لحاظ ئې خورا ښه توافق کړی وي، آیا همدا محیط دا نه را ښیي، چي څه باید وکړو؟ آیا د علمي پلټنو له لاري موږ نه سو معلومولای، چي محیط باید څنګه کنټرول کړو او تحول پکښي را ولو؟ انسان دې ته نه دئ اړ، چي بدن او غړي ئې باید د طبیعي محیط تر فشار باندي د توافق دپاره تغیر وخوري، بلکي دی په بې ساري ډول د تعلیم استعداد لري او دا زده کولای سي، چي څه ډول خپل محیط ته تحول ور کړي، څو د ده اړتیاوي پکښي پوره سي او خپل مقاصد سر ته ورسوي. دی هغه یوازنی نوعه ده، چي په نوموړې توګه تکامل کوي او داسي نه ده، چي تکامل ئې د جینیټیکي بدلون له لاري سر ته رسیږي.

دا مسئله له یوې خوا داسي طرحه کیږي، چي محیط ثابت شکل لري او ژوندي موجودات له هغه سره ځان تطبیقوي. دا هغه خوا ده، چي په صنائعو کي د رقابت د عقیدې طرفداران تمسک په کوي. د محیط استقرار او ثابتوالی نو هر شی (مثلاً د غذائي موادو محدودیت) تر خپل اثر لاندي ساتي او نو ځکه په دې

ميدان کي آخرينه فيصله د تنازع للبقاء او طبيعي انتخاب جريان ته پاتيږي. په دې لړ کي نو دا مفکوره هم منځ ته راغلې ده، چي دا کار پر يو خاص اساسي واقعيت بنا دئ، چي اخلاقي رعايتونه اهميت نه ور کول کيږي او په ځرګند ډول د تجارتي نړۍ او اقتصادي رقابتو بې‌رحمانه او وحشيانه عملونه خوښيږي او ګرده کوښښ کوي، چي يو د بل پر اوږو باندي خيژي او لوړ سر ته ځان رسوي.

لاکن انسان په خپله د ځان محيط جوړولای سي. خو البته دا کار صرف د نورو سره د تعاون له لاري اجراء کيږي. «خو د دغسي تعاون په وسيله او د هغو کوښښو په اندازه، چي په دې لار کي سر ته رسيږي. يو محيط کولای سي، چي له يوه حاله بل ته تغير وکړي او د تکامل په تړوله اخلاقي جنبه کي ئې تحول را سي[٤٤].» او په دې توګه نو د بشر پر مخ يوه لويه آينده پرانيستل سي. زموږ پايښت اوس په دې کي ليدل کيږي، چي خپل محيط ته تحول ور کړو، چي يو و بل ته مرسته ورسولای سو او ګډي ښېګڼي زياتي کړو.

## مالتوس يوپلابيا:

د مالتوس نوي پيروان بيا بل راز فکر کوي؛ دوی شک لري، چي آيا دا به ممکنه وي، چي د غذا توليد له هغه زياتوالي سره متوازن پاته سي، چي د نړۍ په وګړو کي را روان دي. ويليم وګټ وايي[٤٥]: د نړۍ وګړي خورا ډېر دي او غذائي منابع دونه نه دي، چي د لوړي سويې ژوند برابر کړي. له دې خبرو څخه نو دا نتيجه

---

[٤٤] د Whitehead هغه اثر، چي «ساينس او اوسنۍ نړۍ» نوميږي.

[٤٥] د William Vogt اثر، چي «د بقاء لاره» نوميږي.

را باسي، چي ځيني هيوادونه د نړۍ سولي ته يو خطر دئ، ځکه دوی ارو مرو بايد پر ګاونډي هيوادو تېری وکړي، څو هلته د خپلو اضافه وګړو دپاره يو ځای پيدا کړي.

پروفيسر اې. وي. هيل (A. V. Hill) د خپلو علمي مقالو په يوه تازه خپرونه کي دغه د نفوسو مسئله «د ساينس مشکله» بولي. دی وايي ساينس د رنځو سره مجادله کوي، خو د ساينس دغه ښه کار بد نتائج منځ ته راوړي، ځکه وګړي تر اندازه بالا زياتيږي. سر چارلس ډاروين همدغه راز نظريه درلوده، يوه ورځ به موږ دې فکر ته ورسيږو، چي په حقيقي ډول د نېکمرغۍ او خوشالۍ کلونه لا هغه د نولسمي پېړۍ کلونه وه. موږ په دې زمانه کي مخ پر ځوړه رهي يو. دې ته اميد نه سته، چي بشري سرنوشت بهبود پيدا کړي، بلکي ورځ په ورځ بدتر کيږي «او ډېر وګړي په داسي حالت کي ليدل کيږي، چي د پايښت توان نه لري[٤٦]».

د مالتوس د نظريې په پيروۍ دغه تاريکي پيش‌ګوياني د ډاروين تر هغي خبري نظر اړوي، چي ويلي ئې دي؛ انسان د نورو حيواناتو په شان نه دئ، ځکه دی غذائي ذخيرې او توښې ډېرولای سي. ډاروين چي د مالتوس تيوري استعمالوله، مطلب ئې د دې خبري ښوونه وه، چي په کښتو حيواناتو کي يو داسي جريان سته، چي نفوس ئې زياتيږي او تر موجودي غذا تجاوز کوي، خو دا کورټ ترديدوي، چي د مالتوس تيوري د انسان په باره کي د تطبيق وړ بلل کيږي.

کله چي موږ دا را په زړه کړو، چي د مځکي خاورينه سطحه په سل کي پنځوس د کرهني قابليت لري او له دې جملې څخه اوس صرف په سل کي لس تر

---

[٤٦] Sir Charles Darwin, The next million years.

استفادې لاندې نیول کیږي، نو سم‌دستي زموږ په دې خبره سر رسیږي، چې دا د ساینس مشکله نه ده، بلکي دا د زراعتي انتظام او تخنیک مشکله ده او بالآخره زموږ د اوسني اقتصادي نظام مشکله ده، چې د زراعتي پرمختګ مسایل په کم انکشافه هیوادو کي په بریالیتوب سره نه سي حل کولای.

دا خبره رښتیا نه ده، چې د وګړو زیاتوب په روسیه او چین کي پرېشاني را وستلې ده او داسي تقاضا ئې منځ ته راوړې ده، چې خپلي خاوري ته توسعه ور کړي، بلکي د دینس (Denis) او انامتیو (Anna Matt hews) په ریپورټ کي، چې د ګارډین (Guardian) اخبار د مې پر ۲۵، په کال ۱۹۶۱م. کي خپور کړی دئ، دا لیکل سوي دي، چې د نفوسو د مسئلې په باره کي د چین مقامات هیڅ پرېشاني نه لري، ځکه د دوی په نظر کي د دې مسئلې طرحه داسي نه ده، چې خولې ببخي ډېري او مځکه خورا لږ ده. «چینایان دې مسئلې ته له بېل نقطهٔ‌نظره څخه ګوري او هغه دا چې د هري خولې سره دوه لاسونه ملګري دي او دا لاسونه کولای سي، چې په کار کي برخه واخلي او د ملت اقتصادي توان پیاوړی کړي. کله چې اقتصادي قوي کیږي، نو د غذایي مسئلې مشکل هم کمیږي».

## آیا د وګړو د ډېرښت پرابلم وجود لري؟

دا باید څرګنده سي، چې د وګړو د زیاتوب پرابلم نه یوازي د زېږولو په اندازه او «د مړه کېدلو په اندازه» پوري اړه لري، بلکي زموږ له دې فعالیته سره سم تعلق نیسي، چې څونه له خپلو منابعو څخه پوره استفاده کولای سو. دا پرابلم موږ په خپله ځان ته پیدا کوو، ځکه هر کله چې اقتصادي بحران را سي، نو درې میلیون وګړي بېکاره او اضافه سي. په کال ۱۹۳۱م. کي زیاترو کسانو داسي فکر کاوه،

چي د نفوسو کمېده د وتلو له لاري څخه کيږي او نو ځکه مهاجرتونه ئې د يو حل په حيث پيشنهادوله. اوس دا حقيقت څرگند دئ، چي د ۱۹۳۱م. کال بحران له دې څخه نه وو پيښ سوی، چي د زياتو نفوسو د خوراک دپاره د کافي غذا توليد چا نه سوای کولای، بلکي داسي بحران وو، چي مسکنت د زيات توليد په سبب منځ ته راغلی وو. هغه بحران په اصل کي يو پرابلم وو، چي د رانيولو قوه خلگو ته سمه نه توزيع کېده، څو وکړلای سي، خپل محصولات رانيسي او استهلاک ئې کړي. د غنمو او نورو محصولاتو زيات مقدارونه په دې سبب له منځه وړل کېدل، چي خرڅولای ئې نه سوای.

دا پرابلم په دې سره نه حليږي، چي يوازي د نفوسو په باب پلټنه کيږي او له نورو عواملو څخه نظر اوښتی وي. اوس هغه منابع چي پر جنگي موادو ضايع کيږي، که دې خوا ته را وگرځول سي، چي د زراعت په ميکانيزه کولو کي، د اوبو لگولو په چارو کي، د کيمياوي سري په توليدولو کي، د تعليم په خپرولو کي په کار ولويږي، نو د نفوسو پرابلم بيا بېخي بل شکل اخلي. تر دغو څرگندو اړتياوو علاوه نور ضروري مسايل هم سته او هغه دا چي هم زراعت او هم صنعت بايد د انتظام او وسايلو په لحاظ پر سرښته برابر سي، څو زموږ له منابعو څخه بشپړه استفاده سر ته ورسيږي. سربېره پر دې لا دا لويه مسئله هم وجود لري، چي زراعتي وگړي بايد له سياسي او ايډيالوجيکي آزادۍ څخه برخورداره سي.

دا خبره، چي روسيه او چين د نفوسو پرابلم چنداني مهم نه گڼي، سبب ئې دا نه دئ، چي دوی له دې مسئله څخه بې‌خبره دي او يا ئې سد نه په رسيږي، همدا رنگه دوی په دې فکر نه دي، چي دغه پرابلم د نورو د مځکو په نيولو سره حليږي؛ ځکه دوی ئې په خپله خاوره کي دننه حل پيدا کړی دئ. جې.ډي. برنل

(J. D. Bernal) وايي: «د موجودو وګړو دپاره د پوره غذا تهيه كه د يو تخنيكي پرابلم په حيث وكتل سي، نو دا يو داسي سوال دئ، چي ژر حل كېدلای سي. همدارنګه وګړي كه تر لس ميليونه پوري ورسيږي، لا هم په تخنيكي لحاظ داسي مشكلات نه را ولي، چي د غذا برابرېده ئې يو نه حلېدونكی پرابلم وګڼل سي».

دا څرګنده ده، چي دغه پرابلم لكه څونه چي علمي او تخنيكي پرابلم دئ، په هغه اندازه يو سياسي او اقتصادي پرابلم هم دئ؛ كله چي موږ تخنيكي او تشكيلاتي لار نه وينو، نو سمدستي د تنازع للبقاء په سلسله فكر كوو، چي په دې جريان كي كمزوري له منځه ځي او تكړه وګړي باقي پاتيږي، د ژوندون زمينه په هر قيمت چي وي، بايد تامين سي؛ اضافه وګړي كه غواړي، چي ژوندي پاته سي، بايد د خپلو كم انكشافه ګاونډيانو پر خاوره تېرى وكړي.

البته د زوكړي مخنيوی هم د يوې چاري په حيث پيش‌نهاديږي. دغي چاري د مالتوس د ژوند په زمانه كي يو بل راز شكل درلودی؛ خو دې ته ټينګ اميد نه سته، چي دغه چاره دي د چين او هند د ميليونو وګړو دپاره عملي وي، نو ځكه موږ لكه واګټ او د ده امثال بيرته دې ته را ځو، چي يا خو جنګ او كاختي حتمي ده او يا خو دا امكان نه لري، چي د هغه چا د ژوند سويه دي لوړه سي، چي اوس د ژوندي پاته كېدو تر اندازې كښته ده.

زموږ نړۍ اوس په يو داسي حالت كي واقع ده، چي له ډېرو خطرو څخه ډكه ده؛ حتى صنعتي هيوادونه دونه وګړي لري، چي كار نه سي ورته برابرولای او هلته نو د لي‌بينس‌رام (Lebensraum) توسعه‌طلبۍ دپاره د جنګ هڅه وجود لري، لكه هټلر چي وموښلاوه. د هندي او افريقايي ګڼو اولسونو سخته خواري او

مسکنت به هيڅ کله ايسته نه سي او په حتمي صورت به د ښورښونو او بغاوتونو سبب وګرځي. سياسي مشران که د حل بله لاره و نه ويني، نو ښايي دغه ناآرامي تشديد کړي او د تجاوزاتو په مجرا کي ئې واچوي.

## جنګ او سوله:

داسي ايډيالوجي هم سته، چي انسان په طبيعي ډول جنګ ته مايل ګڼي او وايي، چي دی په فطري توګه تېری کوونکی دئ. بله ايډيالوجي بيا د تکامل په تيوري او د بقای اصلح په نظريه استناد کوي او انساني جريانونه داسي ګڼي، چي ګويا له دې لاري څخه تکړه او مساعد افراد د اقتصادي او سياسي قدرت مقامو ته را رسېدلي دي.

خو داسي خبري د بشري تکامل له جريانه سره سر نه خوري، ځکه دغه شان اظهارات نه يوازي دا چي انساني تکامل حيواني مرحلې ته تر شا بيايي، بلکي د حيواني تنازع کښتي سويې ته ئې را ټيټوي. درنده حيوانان يو د بل غوښي داسي نه سره خوري، لکه رقابتي حريفان چي ئې سره خوري.

پر دغه لار باندي د انسان په مخ کي تکاملي آينده نه سته، ځکه رقابتي تنازع به هيڅوک ژوندی پرې نهږدي. دا رقابتي تنازع که څه هم د اقتصادي سعادت په ساحه پوري محدوده ده، خو په نتيجه کي اجتماعي شخړي، د بېکارۍ بحرانونه او مالي مشکلات پر بنا کيږي او د دې مانع ګرځي، چي د نړۍ منابع په بشپړ او صحيح صورت تر استفادې لاندي ونيول سي.

دغه مشکلات پرته له دې څخه چي اجتماعي تمليک منځ ته را نه سي او استهلاکي توليدات تر پلان لاندي واقع نه سي، بله د حل لار نه لري. تر کومه

وخته چي دغه اوسني شرايط موجود وي، تر هغو به انسان تجاوزي احساس کوي او دې ته به تيار وي، چي خپل سعادت د نورو په قيمت وساتي او هم به تر هغو د دغسي شکمنو او وحشي تيوري‌گانو خوا ته ميلان ساتي.
خو د واقعي انسان ماهيت دغه راز نه دئ، ځکه دا د هغه انسان ماهيت دئ، چي تر بشري درجې کښته ګڼل کيږي. که انسان تر هغو واقعي بشري شرايطو لاندي واقع سي، چي د ټولو د سعادت او ښېګڼې دپاره جريان ولري، نو به د ده ماهيت ډېر بشري رنګ واخلي، د تعاون او اخلاقي احساس فعاليتونه به ئې زيات سي او آينده به ئې په پوره اطميناني ډول تامين سي. مګر که دغه کار سر ته و نه رسيږي، نو د ده سرنوشت به جنګ او وراني وي.

## د انسان تجاوزي غريزه:

ځيني فلاسفه او روحيات‌پوهانو دا تحميلي تيوري منځ ته راوړې ده، چي انسان ذاتي لحاظ متجاوز دئ او په خته کي ئې تېرى اخښلى دئ. دا تيوري له ډېرو خلګو څخه هغه اجتماعي او اقتصادي عوامل پټ ساتي، چي د انساني سلوک په جوړېدو کي تاثير لري. دغه راز خبري موږ ته هغه خپل غيرشعوري وحشي‌توب را په زړه کوي، چي په لومړي سر کي مو درلودى... هغه پخوانۍ غريزې را په يادوي، چي له قبيلوي نيکه‌ګانو څخه راغلي وې... هغه ټوله رقمونه تجاوزي سايقې را په زړه کوي، چي د خپلو شيانو د ساتلو او د بل د هغې د لاندي کولو دپاره سړي ته حرکت ور کوي او د وحشي‌توب له زمانې څخه پښت پر پښت د وراثت له لاري راغلي دي. دغسي نظريات بالکل د هابس له هغې نظريې سره سمون لري، چي ټولني ته د بدبينۍ په سترګه ګوري او وايي، چي

ټولنه د هغو بشري واحدونو يوه منفوره اتحاديه ده، چي لکه چيرګيان غوندي د ځان د تودولو او ساتلو دپاره غولي غولي کيږي.
د انتروپولوجۍ له مخي داسي شواهد نه سته، چي دا نظريه ثابته کړي، چي ابتدايي انسان ذاتاً جګړهمار او تېرې کوونکی دئ، بلکي انسان نسبت تر دې چي تېرې کوونکی وبلل سي، د تعاون او همکارۍ په برخه کي ډېر مظاهر لري. د فرويد (Freud) هغه روحياتي تيوري، چي د انسان په ذات کي نه ايسته کېدونکی تعرضي خاصيت پروت دئ، اوس چنداني اعتبار نه لري. دا خوی، چي هر ډول بشري سلوک ارو مرو يوې خاصي غريزې ته منسوب ګڼل کيږي او د هغه د تشريح دپاره يوه غريزه په انسان کي لټول کيږي، سړی د حقيقي علتونو او سببونو له کشفېدو څخه را ګرځوي. د دې فکر په اساس نو انسان دغه يا هغه سلوک ته د خپلو غرايزو په سبب تحريک کيږي. نو که دی له خپلو ملګرو سره ځي، دا ئې «اجتماعي غريزه» ده، چي دغه کار ته ئې واداره کوي. که بيا يوازي ګرځي، نو دا ئې بيا «ضدِ اجتماعي غريزه» ګڼل کيږي. که جنګ کوي، نو دا ئې د جګړهمارۍ غريزې ته منسوب بلل کيږي، خو که دی نورو ته په درنه سترګه ګوري، نو دا کار بيا د شخصي تواضع په غريزه کوي. په همدې لړ کي نو که سر ګروي، دا ئې د سر ګرولو غريزه ده او که ئې نه ګروي، هغه ئې د نه ګرولو غريزې ته منسوب ګڼل کيږي. په دې ترتيب نو د ده هر کار د يوه لغت په استعمالولو سره خورا آسانه تشريح کيږي. دغسي تش لفظي ترکيبونه په واقعي توګه کوم حقيقت تشريح کولای نه سي.
دغه نظريه، چي د انسان ماهيت يو ثابت شی ګڼي، تر ډېرو شديدو انتقادو لاندي راغلې ده؛ لومړی دا لکه موږ چي دمخه وويل، د دې دپاره هيڅ دليل نه سته،

چي انسان له غريزي سوايقو څخه يو جوړ سوی حيوان وبلل سي. د انسان ماهيت په اصل کي د هغه ذات البيني فعل او انفعال نتيجه ده، چي د بيالوجيکي او اجتماعي ميراثونو په منځ کي جريان لري او په همدې دليل نو له يو حاله بل ته اوړي او تغير کوي.
اساسي شيان هغه بيالوجيکي «نه غريزي» اړتياوي دي، چي غذا، د استوګني ځای، تودوالی او داسي نورو ته پېښيږي. د دغو اړتياوو د پوره کولو دپاره راز راز هڅي را ولاړيږي. دغه هڅي په هغو اجتماعي اوضاعو پوري تعلق نيسي، چي انسان ئې احاطه کړی وي او د دوی په ساحه کي لاس او پښې وهي، چي خپلي اړتياوي پوره کړي. تعرض په اصل کي له دې څخه منشاء اخلي، چي کوم حياتي ضرورت په خطر کي ولويږي. په دغسي حالاتو او شرايطو کي تعرض يوه قوي هڅه او محرک بلل کيږي او کوم غريزي حيثيت نه لري، ځکه په هغه صورت کي چي د احتياجاتو عادي پوراينه کيږي، نو دغه کارګر د سره منځ ته نه را ځي. خو يوه غريزه ده، چي د انسان د ارثي ترکيب يوه برخه وي، نو بايد په ټولو حالتو او شرايطو کي ځان څرګند کړي.
انسان کوم داسي طبيعي حالت نه لري، چي تر ټولني دمخه وي، خو فرويد د هابس په تقليد دغه راز يو ګومان کوي او د انسان دپاره يو داسي غيرتاريخي او تخيلي حالت فرضوي، چي د ده په خيال که له انسانه څخه ځيني دغه يا هغه صفات، چي هر وخت ئې ابرازوي، وغورځول سي، نو دی به هغه حالت ته رجوع وکړي. د انسان په مورد کي پرته له دې چي د يو اجتماعي موجود په سترګه وکتل سي، بل هر حالت غيرطبيعي دئ. په هغه اوږده تاريخ کي چي بيالوجي او انتروپولوجي د انسان دپاره ښوولی دئ، د کوم داسي مجرد طبيعي

انسان مفهوم نه سته، چي هغه له تاریخي او اجتماعي خصوصیاتو څخه پر یوه مخ خلاص وي. تر ټولني دمخه طبیعي حالت او یا دا راز طبیعي حالت، چي د بشر ټوله اجتماعي موفقیتونه د هغه په خلاف په سر رسېدلي وي، یو ډول د ګېډي خبري دي، چي هیڅ اساس نه لري. د مقصد خبره له دې ټکي څخه را شروع کیږي، چي بشري موجود له هغه وخته څخه بشري حیثیت لري، چي دی د خپلو وظایفو سره د توافق جریان ته لوېدلی دئ. د انساني نوعي ټوله وګړي په ارثي او فطري لحاظ اجتماعي دي او له همدې فطرته څخه اجتماعي احساس را پورته کیږي، (چي هغه بالکل له جنسي رابطې څخه مستقل دئ). تعرض، د اقتدار غوښتنه او داسي نوري هڅي هغه ثانوي عکس‌العملونه دي، چي د بشري احتیاجاتو له نه پوره کېدو څخه را پاڅي. په ټولنه کي د افرادو تر منځ اساسي ارتباط پر هغه دوستۍ بنا دئ، چي یو له بله او ذات البیني احتیاج ئې د را پیدا کېدو عامل دئ. دا ارتباط البته د کار له لاري منځ ته را ځي او کار ضرور د وګړو تر منځ تعاون غواړي.

داسي نه ده، چي د انسان ماهیت او فطرت د ده د اجتماعي تنظیم او یا بې‌انتظامۍ مسؤل دئ، بلکي دا د ټولني بې‌نظمي وي، چي د انسان د شخصیت په انحرافاتو کي ځان ښکاره کوي. خو مقابله نظریه، چي انسان په فطري ډول متعرض ګڼي، د هغو کسانو موقف تمثیلوي، چي د ټولني د نوي اساسي تنظیم تصور نه سي کولای او د ارتجاع اجتماعي سیاستونه ټینګوي او هغه چا ته برائت ور کوي، چي د بدو شرایطو مسؤل وي. دا نظریه نو د هغو اوضاعو په دوام او پایښت کي مرسته کوي، چي د جنګ او تعرض زمینه ئې پر خلګو تحمیل کړې وي.

## د تعرض علاج باید څنګه وسي؟

فروید او ده غوندي نور کسان هر شی د غریزې، لاشعوري سایقې، بې روحه ارزو او جنسي تمایلاتو له مخې تشریح کوي؛ په دې اساس نو یوازنی علاج که چیري علاج هم وي، په دې وسیله سر ته رسېدلای سي، چي په روحي او باطني جریاناتو کي تصرف وسي، یعني علاج باید په دننه کي وپلټل سي، نه په دباندي کي. په دې ډول نو زموږ افکار، احساسات او سلوک ټوله داسي معلومیږي، چي دوی ګرده له باطنه څخه نشئت را کوي. موږ نو د ځینو مرموزو باطني سایقو او قواوو په ذریعه حرکت کوو، چي د هغو له مخي هر شی تشریح کیږي، نو ځکه د ټولو شخړو علت شخصي نقیصې، د اعصابو اختلال او حساسیتونه دي. دا معایب او نیمګړتیاوي نو که په موږ کي او که په نورو کي وي، خو دوی د پېښو سبب ګڼل کیږي.

د دغه مسلک په اساس نو د روحیاتو عالم آخر دې نتیجې ته رسیږي، چي انسان د نجات لار نه لري، ځکه په غرایزو محکوم دئ، د شهوت په برخه کي د سادیم (Sadism) تمایلات لري، په باطن کي سفاک دئ او یو نه اصلاح کېدونکی خبیث موجود دئ، چي حماقت او عصبانیت هم ور سره ملګری دئ. دی په فطري ډول دې ته مساعد نه دئ، چي د کمال حد ته ورسیږي او نه هم خپل ذهن له ابتدایي حالته څخه آزادولای سي. دی چي د ژوندپه کړۍ کي لوېدلی دئ، په ابدي بدبختۍ محکوم دئ او هیڅ ډول معلوم علاج نه لري.

فروید چي انسان حیواني سایقو ته را ټیټوي (که څه هم دغه سایقې خو د وجدان د واقعي پرنسیپ له خوا څخه اداره کیږي)، نو دی هغه خصوصیات له نظره اچوي، چي په واقعي توګه بشري صفات ګڼل کیږي او له دې ټکي څخه بې

خبره تېرېږي، چې انسان د تعاون پر اساس ژوند کوي او اجتماعي مکلفيتونه مني؛ سربېره پر دې کله چې دی د تعرض خاصيت څېړي، نو د انسان خارجي روابط نه گوري او يا ئې د منحرف باطن ضروري نتيجه گڼي.
خو دا فرض کړئ چې تجاوز د سړي هغه عکس العمل تمثيلوي، چې د تېري کوونکي او رقابتي محيط په مقابل کي ځني صادرېږي. په دې صورت کي نو داسي علاج نه سته، چې سړی د چا د تعرض سره جوړه وکړي او هغه د ځان په خلاف ومني. دا نو بيا بله خبره ده، چې سړی دا علاج وبولي، چې يوه خوا به بل ته پوره ور تسليمېږي او يا به خپلي ټولي اخلاقي پابندۍ غورځوي او جنگجويۍ ته به ملا تړي. د اوسني وخت علاجونه او چاري چې وړاندي کېږي، زياتره ئې دغه راز هدفونه لري.
په يقيني توگه هغه ډېره سمه لار به دا وي، چې د انسانانو تر منځ روابط او تعلقات پر زياته همکارۍ او تعاون بناء سي. دا ئې لار نه ده، چې د سړي باطن ته وجوغېږي او غواړي په دې وسيله د مرموزو غريزي تحرکاتو سره مقابله وکدي، خو د بشري روابطو هغه شکلونه نه تحليلوي، چې متضادي گټي ئې منځ ته را وستلي دي. د روحيات‌پوهانو د ناکامۍ سبب دا دئ، چې دوی اجتماعي محيط په خپلو مطالعاتو کي نه را ولي، څو هغه تاثيرات ووينې، چې اجتماعي اقتصادي عوامل ئې د بشري احساساتو، سلوک او عکس العملونو په چارو کي لري. دوی دا ټکي نه ويني، چې اجتماعي مسايل له غرايزو څخه نه را پيدا کېږي، بلکي اجتماعي مسايل هغه شديد روحياتي عکس العملونه را پيدا کوي، چې موږ ئې د تعرضي غريزې په حيث تر څېړني لاندي نيسو او بيان پکښي کوو.

## علاج سم تشخیص غواړي!

موږ د فکر په وسیله د خارجي شرایطو سره د اجتماعي محیط په شمول د ځانو موازنه سموو او توافق ساتو. که موږ د نړۍ په پېښو نه پوهېدلای، نو به د خپل فکر له جریانه څخه هم کورټ بې‌خبره وای. په دغه صورت کي به یوازي له هغو تاثیراتو څخه خبرېدلای، چي موږ ته را پېښېدلای. البته سړی له دې څخه تکلیف ویني، چي په سرمایه‌داري ټولنه کي زیاتره د ده ګټې تر پښو لاندي کیږي او دا هم په دې سبب، چي دغه ګټې ئې له هغه جریانه سره سمون نه لري، چي ټولنه ئې له ده څخه غواړي. خو په دغسي صورت کي نو دا بېخي ناپوهي ده، چي له دې راز غیرعادي اجتماعي شرایطو څخه سترګي پټیږي او د پېښو علتونه د هغه سړي په دننه کي لټول کیږي او د همدې پلټني دپاره نو هغه سړی له محیطي فشارو او جنجالو څخه په تخیلي او افسانوي ډول را تجرید کیږي او بیانونه پر کیږي.

## آیا محیط تغیر نه خوري؟

البته د فروید د طرفدارانو او هم په عمومي توګه د اجتماعي ډاروینیسټیانو مشکل دا وو، چي دوی محیط دایمي ګاڼه او داسي ورته ایسېدی، چي تغیر نه سي خوړلای. که اوس موږ هم د موجوده ټولني ساختمان نهایي وبولو او د دې ټولني مقولې او قوانین مطلق وګڼو، نو زموږ په مخ کي پرته له ناامیدۍ او عصبي ناآرامۍ څخه بل شی نه را پاتیږي.

اډلر (Adler) چي د فرويد تيوري ترديد کړې ده، هغه د فرد او ټولني تر منځ رابطه په خورا ښه صورتويني. دی وايي: په يو داسي تمدن کي، چي هلته يو انسان د بل دښمن دئ، ځکه زموږ د ټوله صنعتي نظام هدف هم دغه جريان دئ، نو د اخلاقي فسادو ريښه نه کښل کيږي، ځکه فسادونه او جنايتونه د هغي تنازع للبقاء ملګري دي، چي زموږ په صنعتي تمدن کي جريان لري.
هغه د روحياتو پوه چي په پټو سترګو ئې خپل طبقاتي نظر منلی وي، له دې څخه ځان نه سي ګواښلای، چي ارو مرو به د خپل طبقاتي موقف د ساتني په نيت خپلي تيوري ګاني له اجتماعي جرياناتو څخه را جلا کوي. دی بايد ضرور په دې ګومان پوري تمسک وکړي، چي ټوله خبري د بشري فطرت په ذاتي نيمګړتياوو پوري اړه لري او بايد دا فرضيه په خپل خيال ثابته وبولي، چي تعرضي او تخريبي غرائز هغه اساسي شيان دي، چي د تمدن په هر راز روحياتو او فلسفو کي بايد بحثونه پر وسي.
له دې چټي ګردابه څخه لومړی ګام هغه وخت را ايستل کېدلای سي، چي سړی په دې وپوهيږي، چي انسان که د خپل محيط له رابطې څخه جلا او ليري تحليل سي، نو د ده په باره کي په څه نه سي پوهېدلای؛ ځکه دا کټ مټ داسي مثال لري، لکه ماهی چي د اوبو له رابطې څخه جلا تحليل کيږي او يا لکه د مرغه په تشريح کي چي د هغه رابطه له هوا سره په حساب کي نه نيول کيږي. که ټولنه خپل اوسنی ساختمان بادوامه وساتي، نو انسانان به هم متعرضانه او خودغرضانه اعمالو ته دوام ور کوي، ځکه دا کار چي زياتره د يوه په آبادۍ، د بل په خرابۍ سر ته رسيږي، په اصل کي د ټولني په ساختمان پوري اړه لري.

په نن وخت کي د ټولني دا موجود شکل داسي منل سوی دئ، لکه دا چي هغه یوازنی ممکن مشکل وي، چي د اقتصادي تنظیم بهترین شکلونه پکښي موجود دي او د آزادۍ اساس تشکیلوي. **خو موږ باید دا ووایو، تر څو چي د ټولني نظام پر دغه اوسني شکل پاته وي، تر هغو به انسانان له دې نظامه سره برابر خپل سلوک ټاکي او د دې ټولني د تضادونو او جنجالونو تکالیف به وړي.**

## آیا موږ د ټولني نظام ته تحول ور کولای سو؟

خو یوه داسي ټولنه چي د خپلو افرادو د ګټو مانع وي، د هغې په تشکیل کي غلطۍ سته او ارو مرو ړنګیږي.

آیا دا امکانات نه سته، چي ټولني ته تحول ور کول سي؟ غیرسوسیالیستي افکار په دې برخه کي له مایوسانه مشکلي سره مخامخ دي. د دې راز افکارو په اساس موږ باید وار د واره د انسان فکر ته تحول ور کړو. کله چي انسان سم سو، نو به دنیا سمه سي. خو انسانان چي په خپله د محیطي، اجتماعي او تبلیغاتي فشارونو محصول دي، نو څه رنګه کېدلای سي، چي د هغه انسان روح ته اغیر ور کول سي، چي محیط هغه راز جوړ کړی وي، لکه وي چي؟

لاکن اصلي خبره خو دا ده، چي ټوله ارو مرو تحول کوي. د دې له تحوله سره انسان هم تحول کوي. دا تحول څه راز دئ؟ آیا د انسان په تاریخ کي د داسي تحولاتو کوم مثال سته، چي هغه د ټولني تر تحول دمخه وي او صرف سبب ئې روحیاتي، اخلاقي او یا معنوي تحولات وي؟ جواب منفي دئ. بلکي انسانانو وار د واره کافي اندازه واقعي محرکات او سببونه د دې دپاره حس کړي دي، چي

اجتماعي ساختمان ته تحول ور کړي. کله چي ئې هغسي تحول په سر رسولی دئ، نو نوي ساختمان بیا دوی مجبوره کړي دي، چي په مؤسساتو، قوانینو، دین، هنر او ایډیالوجۍ کي تحولات را ولیږ دغو تحولاتو د نوو مؤسساتو په ګډه بیا ورو ورو د انسان په خصوصیاتو کي تغیر را وستلی دئ او دی ئې د قرون وسطایي او فیوډالي انسان له حالته د اوسني سرمایه‌داري انسان حال ته را رسولی دئ.

د دې بیان په لړ کي نو اوس موږ د معاصري ټولني د انقلابي پرابلم سره مخامخ یو. هغه امکانات او یا په حقیقت کي هغه ایجابات کوم دي، چي موږ له داسي فرصت او یا اصلاً ضرورت سره مخامخ کوي، چي د اجتماعي تکامل په لاره کي بل لوی ګام مخ ته واخلو؟ خبره اوس دې ټکي ته رسېدلې ده، چي باید انسان تصادف ته انتظار نه سي، بلکي وګوري، چي آیا د کوم تحول او تغیر له لاري داسي تدبیر را ایستلای سي، چي ده ته دا قدرت ور کړي، چي د دې پر ځای چي د نه بدلېدونکي او منافي محیط سره توافق کوي؛ دا کار وکړي، چي خپل محیط په طبیعي، تشکیلاتي او انتظامي ساحو کي تغیر ور کړي، څو د بشري ژوند اورشو پراخه کړي او د هغه ناوړه خنډونه له منځه وباسي او د زیات اجتماعي انکشاف دپاره لاره خلاصه کړي.

# انسان او تاریخ

حیوان تاریخ نه لري؛ د دوی د فعالیتو سر او پای د هر یوه د انفرادي ژوند په ساحه کي خاتمه پیدا کوي. دوی نه پوهیږي، چي تېره زمانه ئې څنګه وه او یا به ئې راتلونکې څه راز وي. دوی د مسلکي پوهني ذخیره نه لري. د ژوند د مقصد په باب کوم بصیرت نه لري او نه هم دغه راز بصیرت پکښي پیدا کیږي.

اجتماعي ډاروینیسټ، چي انسان یو داسي حیوان ګڼي، چي یوازي د خپلو شخصي اغراضو د تامین دپاره د فکر او پوهي په اساس فعالیتونه کوي؛ تاریخ ته صرف په دې سترګه ګوري، چي د بقاء دپاره د تنازع یو لوی او شدید جریان دئ، چي د جګړو شکل اخلي. په دې جګړو کي د رقیب ماتول او استثمارول او پر کمزوره باداري کول اساسي هدفونه دي. د دوی په نظر کي تاریخي جریان یو داسي جنګ دئ، چي د ټولو له خوا څخه د ټولو په مقابل کي روان دئ او په دې جنګ کي ملتونه، طبقات او وګړي یو له بله اخته دي. په دې محاذ کي زورور هغه څه کوي، چي کولای ئې سي او کمزوری هغه څه کوي، چي باید و ئې کړي. که موږ دا منو، چي دغه د دوی خبره صحیح ده او طبیعت رښتیا هم انسان دغه راز جوړ کړی دئ، لکه دوی چي وایي، نو بیا هغه ټولي خبري، چي موږ ئې د دغو چارو په مقابل کي کوو، صرف د هغو کسانو تخیلي خوبونه او اخلاقي ارمانونه ګڼل کیږي، چي غواړي د ژوند وحشي طرز یو ښه حال ته را وګرځوي. که خبره په حقیقت کي همدغسي وي، نو موږ د هغو کسانو د استهزاء او توهین هدف واقع کېدلای سو، چي طبیعت زموږ تر هغو کوښښو غښتلی بولي، چي موږ ئې تابع کېدو ته جوغېدلي یو. خو دا خبري د هغو کسانو جواب نه سي

کولای، چې انسان درنده حیوان بولي. موږ دې ته نه یو اړ، هغه چا ته ښوونه وکړو، چې دوی د طبیعت له مخې انسانان نه وي، بلکې پړانګان وي. د خبرو مخ یوازې باید انسانانو ته را واړوو.

رښتیا خو دا دي، چې په دې برخه کې ګردسره ښووني ته اړتیا نه سته، ځکه انسان د خپل طبیعت له مخې تعوان ته مایل او خپلو ملګرو ته اړ دئ. په هره اندازه چې انسانیت لري، هغونه اخلاقي هم دئ. حیوانان په خپل منځ کې یو د بل بقاء نه تامینوي، بلکې د بل په ختمېدو سره باید خپله بقاء برابره کړي.

**انسان د تمدن د ایجاد او انکشاف په وسیله بقاء لري او د تکامل جریان ته ادامه ور کوي. دغه جریان دئ، چې د بشري تاریخ په حیث لیدل کیږي. په دې جریان کې انسان ورو ورو پر طبیعت غلبه پیدا کوي او بشري قواوي انکشاف کوي. پر رنځونو، لوږې او هر مادي کمبود باندې ورځ په ورځ غلبه ډېرېږي، فراغت مخ پر زیاتېدو دئ او د هنرونو په ساحه کې موفقیتونه زیاتیږي. د دې جریان په وروستنیو مرحلو کې هغه دښمني ورکیږي، چې د جنګ او یا اقتصادي رقابت په سلسله منځ ته را ځي؛ دا زمانه نو د سولې نړۍ جوړیږي. په دې نړۍ کې زمینې ساحه پراخیږي او ټوله خلګ کولای سي، چې له ژونده خوند واخلي او خپلې ارزوګانې پوره کړي.**

دغه جریان د بشر تاریخ دئ. موږ دغه تاریخ په دوو مرحلو کې وینو؛ لومړۍ مرحله ئې دا ده، چې ټوله جریان پر دې لار رهي دئ، چې له جنګه څخه سولې ته او د اقتصادي رقابت او استثمار له حالته و غیرطبقاتي تعاون ته یوه سلسله تحولات په سر رسیږي. په دوهمه مرحله کې خبره تر دې اوړي، چې زموږ دي په خپلو حیاتي جریاناتو سد نه رسیږي، بلکې دلته یوه داسې مرحله را ځي، چې

بشري انکشاف تر شعوري اداري لاندي کيږي او انسان په خلاصو سترګو خپل تاريخ جوړوي. په دې وخت کې هر ګام د پوهې او ارادې په اساس مخ ته اخيستل کيږي.
د تاريخ په دغه جريان کي نو انسان نه يوازي د خپلې نړۍ سره توافق کوي، بلکي د ژوندون طرز ته د خپل استعداد او ارزوګانو سره توافق ور کوي. دلته نو د بدني تغير سوړ او کرار جريان بقاء نه تامينوي، بلکي د بقاء تامين د هغه فکر او دماغ په کُلي استفاده سر ته رسيږي، چي د تکنالوجيکي، تشکيلاتي او کلتوري پرمختګونو مسئلې حل کولای سي. سربېره پر دې په دغه جريان کي انسان محيطي فشارونو ته غاړه نه ايږدي، بلکي د خپل پرمختګ سره برابر خپل ارزښتونه او معيارونه را باسي او داسي محيط ايجادوي، چي د ده د هدفو سره کومک وکړي.

## اجتماعي تحول او بقاء:

د بيالوجيکي جريان لار داسي ده، چي هر کله د يو ژوندي موجود ساختمان د محيط ايجابات نه وي پوره کړي، نو يو نوی ډول ساختمان، چي د هغو ايجاباتو په پوره کولو کي موفق وي، ځان په وجود را وستلی دئ او له دې جريانه څخه نو يوه داسي نوعه را پيدا سوې ده، چي لازم وظايف په سمه توګه اجراء کړي. په دې ډول نو د مځکي پر مخ د اوسېدو دپاره مناسب غړي (لکه: سږی، قوي زړه او يو نوی سکلېټي نظام) په ذوحياتين حيواناتو کي منځ ته راغلل او نور انکشافات په ځکېدونکو او تي‌لرونکو حيوانو کي په زياتېدونکي ډول را پيدا سول.

حيواني شکلونه هر کله د وظايفو د ايجاب په سبب منځ ته راغلي دي. که کمو وخت يو حيواني ساختمان د حفاظت او حياتي فعاليتو په چارو کي پاته را سي، نو له هغه څخه لږ يا ډېر غيرمساعد موجود جوړيږي او که د ژوندي موجود او محيطي شرايطو په منځ کي توپير زيات سي، نو هغه موجود له منځه وځي او محوه کيږيږ.

د ټولني په انکشاف کي هم د نظام شکل د هغه د وظيفې له ايجاباتو سره مطابق ليدل کيږي. د ټولني په اقتصادي ژوند کي د توليدي قواوو او مؤسساتي اشکالو يا توليدي روابطو تر منځ يو فرق موجود دئ. له توليدي روابطو څخه زموږ مطلب هغه ترتيب دئ، چي انسانان د ده په اساس تشکيل سوي وي او د اقتصاد په ساحه کي يو له بله ارتباط لري، څو چي د ژوند هغه اړتياوي لاس ته را ولي، چي توليد ئې په سر رسېدلی دئ او بازار ته وړاندي سوي وي. اوسنی صنعتي نظام دغه چاري د سرمايې په کار اچولو، د مزدوری د کار په استخداملو، د عرضې او تقاضا تر قوانينو لاندي د بازار چلولو په سلسله سر ته رسوي. ځيني داسي فکر کوي، چي د ټوله اقتصادي جريان د لارښووني او ادارې ستر رکن ګټه ده؛ هغه ګټه چي د سرمايه اچونکي دپاره ګټه وي، د کارفرما دپاره ګټه وي، د عمده خرڅوونکي دپاره ګټه وي او بالآخره د چکنه خرڅوونکي دپاره ګټه وي. ګټه د دې جريان لاره ټاکي، چي څه بايد توليد سي، سرمايه کوم لوري ته سوق سي او په کومه بيه په کوم ځای کي مالونه خرڅ سي. دې نظام ډېر برياليتوبونه تر لاسه کړي دي، خو ناکامی هم لري. ناکامی ئې اقتصادي بحرانونه، تجارتي رکود، د بازار دپاره د مبارزې، د ټولو صنعتي او زراعتي مالو د ګټور خرڅلاو مسايل او داسي نور شيان دي.

اقتصادي ژ،ند تر يوې ټاکلي ټکنالوجيکي سطحي پوره انکشاف کوي او تر هغه وروسته نو د توليد او خرڅلاو هغه لاري او چاري، چي په دې منځ کي وجود ته راغلي وي، د دې جواب نه سي ويلای، چي د انسان ضرورتونه پوره کړي. کله چي دغسي ټکي ته خبره ورسيږي، نو يا د ټولني د ساختمان شکل له سره نوی کيږي او يا ټولنه له مشکلاتو سره مخامخ کيږي او اقتصادي نظام رکود کوي او مخ پر زوال رهي کيږي. پخواني اقتصادي او اجتماعي شکلونه چي د ساختمان له پلوه يو مخيزه نوي سوه، نو دغه صنعتي نظام ئې په نتيجه کي منځ ته راغی، چي اوس جريان لري؛ چيري چي شکل له وظيفې سره مطابق سو، لکه په برتانيه، امريکا او جرمني کي. نو هلته چټک اقتصادي پرمختگ سر ته ورسېدی، خو چيري چي بيا زاړه فيوډالي شکلونه ټينگ پاته سول، نو هلته بيا اقتصادي رکود او زوال روان وو، لکه د نونسمي پېړۍ په روسيه او هسپانيه کي.

د اوسنۍ نړۍ د صنعتي ټولنو په مخ کي اوس لويه پوښتنه دا ده، چي آيا د اوسني سرمايه‌داري نظام موسسات د پخوا په شان د دې وظيفې دپاره منساب دي، چي د نړۍ د وگړو اړتياوي پوره کړي او زياتېدونکي توليدات سر ته ورسوي. په اوس وخت کي يوازي څو ښکلي او مخ‌ته‌تللي هيوادونه په حساب کي نه را ځي، بلکي بايد ټوله جنوبي امريکا، افريقا او ختيځ په نظر کي ونيول سي.

د کمبريج (Cambridge) اقتصادپوهاندي مېرمن جون روبنسن (Mrs. Joan Robinson) دغه مسئله په دې تازه وختو کي «د منتلي ريويو» ( The Monthly Review) په مجله کي څېړلې ده. دې مېرمني تر هغه وروسته، چي د خپل نظر په اساس ئې دا اعلام کړی دئ، چي د سرمايه‌داري نظام په باره کي د کين (Keyns) او مارکس دواړو پېش‌بينۍ نه دي ختلي، نو ئې بيا دا ويلي دي:

«یو شی چي ښېخي ښکاره ایسي، هغه دا دئ چي شخصي تصدۍ نور نو یو داسي تشکیل او تنظیم نه سي بلل کېدلای، چي د اوسنۍ ټیکنالوجۍ له ښېګڼو څخه استفاده کولای سي؛ ځکه ضروري کار دا دئ، چي سرمایه‌ګذاري باید تر یو داسي پلان لاندي اجراء سي، چي د اتومات تولید جریان ته هغه متمده زمینه برابره کړي، چي دا پلان ضرورت ورته لري؛ تعلیم ته باید تر هر څه لومړۍ اهمیت ور کول سي، څو په نتیجه کي یو داسي نسل منځ ته را سي، چي هغه خپلو استعدادو ته انکشاف ور کولای سي؛ هر چا ته په مساوي ډول زمینه برابره سي، څو یوه ذره استعداد، چي د تربیې وړ وي، هدر ولاړ نه سي؛ د خرید قوه باید په کافي صورت توزیع سي، څو د تولیداتو استهلاک په سمه توګه جریان ولري؛ د فراغت وخت باید زیات سي، څو د کار له زیاتي قوې څخه استفاده په سر ورسیږي. دا ټوله هغه شیان دي، چي نوې ټیکنالوجي ئې غواړي او د سوسیالیستي اقتصاد له لاري برابرېدلای سي. سرمایه‌داري نظام په رښتیا هم تبدیل سوی دئ او نور نو د پخوا غوندي مؤثر او مقتدر اقتصادي نظام نه ګڼل کیږي.»

## اجتماعي پرمختګ او ډاروینیزم:

دې ټکي ته باید زموږ پام وي، چي د بیالوجۍ او اجتماعي تاریخ جریانونه خپل تر منځ ذاتي او اساسي فرقونه لري. په بیالوجیکي موجود کي چي تغیرات را ځي، نو نسبتاً په اسانه توګه د بدلون او وراثت له لاري سر ته رسیږي. دغسي جریان نو له دې سره په هیڅ توګه نه سي مقایسه کېدلای، چي په یوه صنعتي ټولنه کي واکمني ډلي منافع لري او دوی له همدې سببه، چي دا ئې خپل خورا ښه منافع

وي، هر کله تلاښ کوي يو داسي شکل بادوامه وساتي، چي هغه نور نو مفيد او ګټور شکل نه وي. اجتماعي تحول له بيالوجيکي تغيره سره ډېر فرق لري؛ تر زياتي اندازې د ټولني په داخلي شرايطو پوري اړه پيدا کوي. د ټولني په داخلي شرايطو کي ټيکنالوجي، د طبقاتو موجوديت، يوې معقولي لاري ته د انسانانو هڅه او داسي نور شيان ټوله شامل دي. دغه فرق البته هغه مميزه ده، چي انسان ئې له حيواناتو څخه را جلا کړی دئ. بيالوجيکي تغير يو عضوي حيثيت لري، اما ټولنه خو عضوي موجود نه ګڼل کيږي، که څه هم د دې موجوديت يوه داسي بشپړه هستي ده، چي د اقتصادي ژوند تر تاثير لاندي د خپل کلتور او ثقافت په هنداره کي ليدل کيږي. په دې دليل نو که څه هم دا خبره سته، چي د بيالوجيکي قوانينو په شان دلته هم د شکل او وظيفې تر منځ د انطباق مسئله اهميت لري او له همدې پلوه د نوع د پايښت دپاره د اساسي تحول ضرورت پيدا کيږي. خو سره له دې هم د بيالوجيکي او اجتماعي تحول تر منځ اساسي فرق موجود دئ او دا نه سي کېدلای، چي د حيواني تکامل قوانين او طريقې کټ مټ د بشر د اجتماعي پرمختګ په برخه کي هم په کار واچول سي.

تر هر څه دمخه خو بشري پوهه د دې خبري درک کوي، چي موجود اجتماعي شکلونه د زمانې له تېرېدو سره د انکشاف مخه نيسي او نو ځکه خلګ دې ټکي ته را بولي، چي زوړ نظام تر هغه دمخه چي تکاليف او خنډونه واچوي، بايد وختي لا له منځه يووړل سي. د هغه ارثي بدلون پر ځای چي په بيالوجيکي جرياناتو کي ليدل کيږي، دلته د اختياري خوښي په اساس د اقتصادي تشکيل نوي طريقې او شکلونه غوره کيږي.

## پرمختګ ارثي شی نه دئ!

بشري ټولني يوازي داسي جريان نه ګڼل کيږي، چي ورو ورو د خودکاره جينيټيکي تحولاتو په سلسله وده او تغير کوي، بلکي دوی په شعوري توګه د بشري کوښښ په وسيله له يوه حاله بل حال ته اوړي. خو البته د دې خبري مفهوم دا نه دئ، چي د دغو تحولاتو اجتماعي نتايج نو هر کله پېش‌بيني کېدلای سي او هغسي خېژي لکه تر مخه چي ئې تصور سوی وي. دغه خبره بېخي حقيقت لري، ځکه په تېرو پېړيو کي دا کورټ نه معلومېده او فکر ئې نه سوای کېدلای، چي د هغي زمانې د تحولاتو آخرينه نتيجه به څه وي، خو که ئې تصور سوی وو او که نه وو سوی، په نتيجه کي ټولني له فيوډاليزم څخه د سرمايه‌داری نظام ته انکشاف را وکړی او اوس بيا دې خوا ته لار سموي، چي سوسياليزم ته يو حتمي انتقال په سر ورسيږي. په دې ترتيب نو که څه هم انسانانو د خپلو تصميماتو په باب پېش‌بيني نه ده کړې، لاکن خپل تاريخ ئې په خپل لاس جوړ کړی دئ.

زموږ په وخت کي دا ممکنه سوه، چي د اجتماعي انکشاف دغه قوانين زده سي او دا معلومه سوه، چي د ټولني ساختمان د توليد د انکشافي قواوو سره بايد ارو مرو انطباق ولري. همدارنګه په دې خبره سد ورسېدی، چي سوسياليزم ته انتقال يو حتمي او قسري امر ګڼل کيږي. انسانان نو په دې مرحله کي خپل مقدرات په خپل لاس کي اخلي او د تاريخي انکشاف پسې مرحله (چي د سوسياليزم موفقيت دئ) په روښانه ډول دمخه ويني او په شعوري ډول ئې خپل هدف ټاکي.

په بيالوجيکي تکامل کي هغه صنفونه، چي پوره مساعد نه وه، د تنازع للبقاء په محاذ کي بېخي له مابينه ولاړل، اما د اجتماعي ژوند په جريان کي، چي نوي

شکلونه د زړو ځای نیسي، نو دغه د زړو شکلونو ورکېده ارو مرو دا نه لازموي، چي د دوی عاملین هم پر یوه مخ باندي ختم سي، ځکه په هغه صورت کي که دا امکان ولري، چي د زاړه شکل عاملین د نوي تحول په ضرورت او مقبولیت باندي د پوهني له لاري قانع سي، نو بیا له محوه کېدو څخه نجات مومي. چي خبره را لنډه کړو، نو باید ووایو، د تمدن انکشاف د تخنیکي او تشکیلاتي تحولاتو په ذریعه سر ته رسیږي او هم دغو وسایلو بشر ته دا واک ور کړی دئ، چي په خپل پرمختګ کي ئې ارثي شرایطو ته اړ نه دئ او نه ئې هم په دې لار کي د ټولني معیوب افراد په مخ کي خنډ بلل کیږي، چي باید ارو مرو ئې نسل ور کوره کړي.

## د اجتماعي تحولاتو چټکي:

اجتماعي تحولات که د عضوي تکامل له انکشافاتو سره مقایسه سي، نو نسبت هغو ته ډېره چټکي لري او له همدې کبله د تاریخ سرعت خورا زیات لیدل کیږي. په اجتماعي ساحه کي خبره داسي ده، چي د تحول په ضرورت سړی پوهیږي او که یوه مهمه اختراع منځ ته را سي، نو د هغې اهمیت سنجول کېدلای سي او د هغو موسساتو زوړوالی معلومیږي، چي نور نو د چلاو وړ نه ګڼل کیږي، نو ځکه په اقتصادي بنسټ کي تحولات او په طبقاتي ساختمان کي تغیرات د یو څو نسلونو په دوران کي را وستل کېدلای سي. اجتماعي تحولاتو له جینیټیکي تحولاتو څخه په دې برخه کي هم فرق لري، چي دوی د یو له بله تعاون له لاري سر ته رسیږي. انسانان د اختراعاتو په را ایستلو کي، د نوو تشکیلاتو په جوړولو

کي او سربېره پر ټولو خبرو د اجتماعي ساختمان په نوي کولو کي يو د بل سره مرسته کوي.

بالآخره په اجتماعي تحولاتو کي داسي يو عامل کار کوي، چي هغه په حيواني نړۍ کي کوربڼ وجود نه لري او دا عامل «هدف» دئ، چي انسان ئې د خپلو چارو د اجراء دپاره په ټاکلي شکل په نظر کي نيسي او غواړي ځان ور ورسوي. دې تحولاتو ته نخشې سنجول کيږي، د مباحثې او استدلال په سلسله غور پر کيږي او د هغه هدفي کوښښونو په وسيله سر ته رسيږي، چي ډېر يا لږ په روښانه صورت دمخه سنجول سوي او حساب ورته سوی وي. په اجتماعي تکامل کي فکر ستر رول لوبوي، خو دا عامل بيا په بيالوجيکي تکامل کي کار نه کوي. عضوي تکامل دا احساس نه غواړي، چي څه شي ته ضرورت موجود دئ او نه هم دا اراده غواړي، چي د تحول د شکل په منلو او را ايستلو کي تاثير ولري.

## ارومرو والی:

د عضوي تکامل په سلسله کي داسي ډېر غلط جريانونه او شکلونه منځ ته راغلي دي، چي هغه زياتره مخ پر بندو لارو رهي سوي او يا د قهقرايي حرکت پر خوا باندي تللي دي. آيا په اجتماعي تکامل کي هم دغه راز يو جريان موږ وينو؟ د لويو سرمايه‌داري هيوادو آينده اوس هم مجهوله ده. سوسياليزم اوس يو داسي تحميلي سرنوشت نه دئ، چي موږ ئې اتوماتيکي عوامل يو. موږ غواړو خپلي نننۍ دنيا ته د سنجش له مخي هغه نظام را ولو، چي د تاريخي جبر او يا اجتماعي ضرورت نوم ور باندي ايښوول کيږي. د تاريخ په جريان کي په خپله انسانان، د دوی فکرونه او تصميمونه تر هغه زيات مؤثر دي. مارکس بيا داسي وايي: «يا د

ټولني نوی انقلابي نظام په وجود را ځي او يا متخاصم طبقات دواړه محوه کيږي.» کله چي د يونان او روم غوندي سترو مدنيتو د خپلي زمانې غوښتني نه کړې پوره، نو دوی ولاړل، تېر سول او د پرمختگ او تنوير مشعل نورو په لاس کي واخيستی. زموږ او د هغو تر منځ فرق دا دئ، چي موږ د تاريخي انکشاف تيوري لرو او دا تيوري هم په داسي حال کي منځ ته راغلې ده، چي اقتصادي ساختمان پوره دې ته مساعد دئ، چي سوسياليزم ته انتقال په سر ورسيږي. بله خبره لا دا هم ده، چي په عين زمان کي د سرمايه‌داري نظام د کارگرانو يو شعوري طبقاتي نهضت را پيدا کړی دئ، چي هدف او ارزو ئې دا ده، چي د تاريخي د عاميلينو په حيث خپله وظيفه سر ته ورسوي. د سوسياليزم د راتلو په باره کي چي هر راز جبر او ارومرو والی موجود وي، خو خبره له دې ځايه څخه را پاڅي، چي انسان خپل ځان په يو داسي حالت کي ويني، چي د خپلو اړتياوو او تاريخي شرايطو فشارونه له ده څخه دا غواړي، چي د اجتماعي تحول د يو خاص شکل دپاره مبارزه وکړي. که يو سړای اور واخلي او د نجات لار هم موجوده وي، نو بايد له هغي لاري څخه استفاده وسي. دلته داسي جبر نه سته، چي سړی نو بايد لکه پتنې غوندي ارومرو ځان په دې اور کي مکوټ کړي، ځکه په دې مورد کي سړی پوهيږي، چي يو پلو ته محوه‌کېده دي او بلي خوا ته د نجات وسايل هم موجود دي. نو هغه لار چي نړی ئې غوره کوي، هم اختياري او هم جبري اړخ لري. را سئ دا مثال هم وگورئ! يو طبيب چي د خپل مريض حالت سم تشخيص کړي، نو ورته وايي، چي پلاني ډول هدايات عملي کړي او هغه مريض د دې دپاره چي ژوندی پاته سي، بايد د طبيب د خولې خبري ټکي په ټکي

عملي کړي. مارکسيستې هم کټ مټ يو طبيب غوندي دئ او عام اولس د يو رنځور حيثيت لري.

د دې خبرې په اساس، چې خلګ تر مرګ ژوند ته ترجيح ور کوي او د دې عقيدې په اساس، چې د اجتماعي بحرانو مايوسانه اوضاع د دوی د سمون دپاره نيمګړي علاجونه به ارومرو انسانانو ته دا فکر ور پيدا کړي، چې بنيادي اجتماعي تحولات ضروري دي، نو مارکسيستې په دې باور لري، چې د دغسې تحول د را وستلو فيصله د انسانانو له خوا يوه قطعي خبره ده او د دې نسخې او معالجې تطبيقېده يو حتمي کار ګڼل کيږي. ځونه چې د عيني موقعيت په باره کې ارومرو پوهنه زياتيږي او د هغه امکانات او اړتياوي تر درک لاندې را ځي، په هغه اندازه سوسياليزم حتمي ګرځي. نو که چيري مفکوره نه وي او شعوري هدفونه په يوه مثبته پاليسي کې ځان ښکاره نه کړي، نو هلته کوم مؤثر تاريخي نهضت نه سي راتلای؛ البته په دې کې شک نه سته، چې يوه دغسې مفکوره بې‌له دې څخه چې د يوه نهضت په سلسله عملي سي، بل ډول منځ ته نه سي راتللای. خو دا خبره هم حقيقت لري، چې يو کاميابه نهضت بې‌له يو صحيح مفکورې څخه، چې د آزادۍ خوا ته سمه لاره ښيي، وجود نه سي پيدا کولای.

د انساني انکشاف په دغه مرحله کې «نو د ژوند هغه شرايط چې د انسان محيط تشکيلوي او تر اوسه ئې پر انسان باندي حاکميت درلودی، په خپله د انسان د لاس تابع کيږي. اوس نو د لومړي پلا دپاره انسان په شعوري ډول پر طبيعت حاکم کيږي، ځکه چې د خپل اجتماعي تشکيل واګي په لاس کې نيسي. د انسان د اجتماعي فعاليت قوانين، چې پخوا د طبيعت د خارجي قوانينو په حيث د ده په مخ کې خنډ کېدله، اوس نو د انسان د پوهني پر اساس کار ځني اخيستل

کيږي او هم د ده تر تسلط او واک لاندي را ځي. د انسانانو خپل اجتماعي تشکيل، چې د طبيعت او تاريخ د تحميلي جبر په شان تر دې زمانې پوري د دوی په مخ کي د يو لوی مانع حيثيت درلودی، اوس په خپله د انسانانو د خوښې او اختيار تابع گرځي. سر له اوسه به نو هغه عيني او خارجي قواوي، چې تر دې آنه ئې د انسان پر تاريخ حاکميت درلودی، په خپله د انسانانو تر واک او اختيار لاندي را سي. له دې ټکي څخه نو هغه مرحله را شروع کيږي، چې انسانان بالکل په شعوري توگه د خپل تاريخ په جوړولو لاس پوري کړي[٤٧].»

[٤٧] د اينگلس هغه ليکنه، چې «تخيلي او علمي سوسياليزم» نوميږي.

# فرد او تکامل

## په اجتماعي انکشاف کي د فکر او پلان تاثیر:

که څوک دا گومان کوي، چي اجتماعي تکامل کټ مټ هغه راز یو غیرشعوري جریان دئ، لکه د حیوانانو په نړۍ کي چي لیدل کیږي، نو دا خورا غټه اشتباه ده، ځکه اجتماعي تکامل چي را ځي، نو دماغ، افکار او هدفونه ټوله کار پکښي کوي او بې‌له دغو عواملو څخه نه سي راتللای. خو لکه څنگه چي بیالوجیکي انکشاف په دې مفهوم کوم هدفي شکل نه لري، چي یوه بله قوه ئې لارښوونه کوي، څو یو ټاکلي ټکي ته ئې ورسوي او له همدې لاري څخه هغه تکاملي حیوان ته داسي شکل ور کړي، چي د بدن ساختمان او غړي ئې د هغه د ژوند له طرز سره توافق وکړي. دغه رنگه اجتماعي انکشاف داسي نه دئ، چي د یو ماوراء الطبیعه هدف او مقصد له پلوه څخه کنټرولیږي؛ ځکه هدف په خپله د انسان په فکر کي دئ او بل چیري وجود نه لري. که د ډبري تبر جوړېدی، که کښتۍ تیارېده، که کنې درول کېدې، که کارخانه تشکیلېده، که د زراعتي ژوند دپاره اجتماعي شکل را ایستل کېدی؛ په داسي ټولو کارو کي د فکر، پلان او هدف عواملو لاس درلودی. همدا عوامل وه، چي نور ډېر انکشافات ئې هم منځ ته را وستل، ځکه کله چي انسان افزارونه تکمیلوله، کرهڼه ئې ورځ په ورځ سموله، صنایعو ته ئې وده ور کوله او د چارو د چلاو دپاره ئې دلي او گروپونه تشکیلوله، نو په دې لړ کي د اجتماعي ژوند خورا مرکب او پرله پېچلي شکلونه هم پرله پسې را څرگندېدله او په نتیجه کي ځیني حکومتي او اداري نظامونه منځ

ته راغله، چي د لوېدونكي ټولني له زياتېدونكو فعاليتو سره د سمون او همآهنگۍ په ايجاب را پيدا سوه.
په دې لړ كي نو د نظرياتو سيستم منځ ته راغی، چي مذهبي، افسانوي، جادويي، اخلاقي او حقوقي خيالات او مقررات ئې كښې ايستله او دې سيستم د ټولني د اقتصادي ساختمان له بنسټ سره مناسبت درلودی. دغه د افكارو سيستم نو په اصل كي يوه ايډيالوجي وه، چي د اجتماعي ژوند او د هغه د موسساتو سره مطابقه وه او هم د توليد طرز، چي په هر ډول وو، خو د ټيكنالوجۍ سويې، كرهڼي، مالدارۍ، ماهي نيولو او ښكار له چارو سره ئې پوره سمون خوړئ. د انسان د اجتماعي ژوند د دې درو اړخونو تر منځ، چي د توليد طرز، د ټولني ساختمان او د افكار سيستم دئ، يوه ډېره فعاله رابطه موجوده ده. دغه رابطه د دوی تر منځ د مناسبت او مطابقت رابطه ده او هم هر كله په دايمي ډول تغير خوري.

## د نظرياتو رول:

را سئ دا خبره وگورو، چي نظريات د متشكلي ټولني په هر شكل كي څه راز وظيفه پر غاړه لري. څرگنده ده چي نظريات له هغو افكارو څخه جوړيږي، چي د عملي او واقعي ژوند په باره كي جريان لري. نظريات له آسمانه څخه نه را كښته كيږي. دوی د ورځني ژوند له عملي مسايلو سره پيوند وي، نو ځكه د نظرياتو حدود بالكل د حياتي انكشاف د مرحلې له پلوه څخه ټاكل كيږي. خو دا هم په نظرياتو اړه لري، چي انسانان مثلاً د كرهڼي، صنايعو او كښتۍ چلولو په چارو كي سمون او اصلاحات را ولي. انسانان د اجتماعي تشكيل نوي او اصلاح

سوي شکلونه تیاروي، چي هغه د تولید د نوو طریقو په سبب ضروري ګرځېدلي وي. سربېره پر دې څه رنګه چي د ژوند ترکیبونه زیاتیږي، نو له هغه سره سم د ذهني ژوند شکلونه په مذهبي، فلسفي، حقوقي، اخلاقي او هنري ساحو کي هم لوړیږي.

دغه جریان په هره پېړۍ او زمانه کي سته او حتی په ډېرو پرمختللو مدنیبو کي هم لیدل کیږي. هغه لار چي انسانو د تولید دپاره پکښي تشکیلیږي، هر کله که د غلامۍ د کان کښلو یا کرهڼي په زمانه کي وه، یا که د فیوډالي مانور (Manor) په وختو کي وه او یا که د اوسنۍ کارخانه‌دارۍ په عصر کي ده، باید له تولیدي جریانه سره سمون ولري او هم هر کله ایډیالوجي باید د تشکیل له نوعیته سره مطابقه وي، څو چي هغه تشکیل تائید کړي، په چلَوَنه کي ئې اسانتیاوي برابري کړي، تقویه ئې کړي او و ئې روزي.

## ایډیالوجیکي شخړي:

لکه څنګه چي موږ ته را ښکاره سوه، نظریات یوازي موجود ساختمانونه نه تمثیلوي، بلکي دا کار هم کوي، چي کله نیمګړتیاوي او بې‌کفایتي ویني، نو زیار باسي، چي اصلاحات را ولي. پوهیږو چي سره له دې هم څونه چي موجودي طریقې د جاري نظریاتو له خوا څخه تائیدیږي، همدغه شان دغه نظریات په خپله د هغو فني طریقو او موسساتو له پلوه، چي د همدې نظریاتو په وسیله ټینګ ساتل کیږي، تر پرله پسې انتقادو لاندي کیږي. په دې ډول نو هر اجتماعي پرمختګ یوازي په نوو اختراعاتو او نوو تشکیلاتو پوري اړه نه لري،

بلکي نوي نظريات هم پکښې زيات مؤثر دي. دغه خبره د ماکس ويبر ( Max Weber) او آر. ايچ. تاوني (R. H. Tawney) له خوا څخه په هغه بيان کي، چي اوسني سرمايه‌داري نظام ته د انتقال عوامل څيړي، خورا ښه روښانه سوې ده. ويبر دغه انتقال يوه اندازه ديني عقايدو ته منسوب بولي او هم د اخلاقي سلوک په نسبت هغه عملي ادراکات پکښې مؤثر ګڼي، چي د پروټستانيزم[٤٨] له مسلک سره ارتباط لري.

په اجتماعي شکل کي چي تحول را ځي، نو دا غواړي چي ايډيالوجيکي مبارزې منځ ته را سي. د تيوريګانو تيارېده، د انتقاداتو جريانونه او نظري مباحثې ټوله د اجتماعي پرمختګ لوازم دي او بې‌له دوی څخه اجتماعي پرمختګ وجود نه لري. د نظرياتو ضرورت يوازي د دې دپاره نه دئ، چي د بخار ماشين اختراع کړي، د اورګاډي او د اوسپني لاري جوړي کړي او کشوونکی ماشين ور واچوي؛ بلکي په دې ځای کي هم په کاريږي، چي زړې ايډيالوجی‌ګاني مغلوبه کړي او نوي تازه را وباسي. هر څونه چي اجتماعي تحول بشپړ وي، په هغه اندازه د نظرياتو، اخلاقو، دين، قانون او بل هر راز اجتماعي موسسې دوباره تنظيم، چي د ټولني نوی شکل ئې ايجابوي، هم پوره او کامل وي.

دا خيال بايد و نه سي، چي دغه راز تحول تحول چټک سر ته رسيږي، ځکه زاړه او تر وخت تېر نظريات او موسسات ډېره زمانه دوام کولای سي او نوی سيستم له سمه چلاوه څخه را ګرځوي او په مخ کي ئې خنډ واقع کيږي.

---

[٤٨] وګورئ:

د ماکس ويبر کتاب، چي «پروټيستاني اخلاق او د سرمايه‌داري نظام روحيه» نوميږي.

د تاوني کتاب، چي «دين او د سرمايه‌داري نظام ظهور» نوميږي.

موږ ته څرګنده سوه، چي اجتماعي تکامل کوم اتومات جریان نه دئ، بلکي ډېري فکري او نظري فعالیتونه غواړي، چي د طبیعت په باب پلټني وکړي او تر وخت تېري طریقې، موسسات، مذهبي او فلسفي افکار تر شدیدو انتقادو لاندي ونیسي. څه رنګه چي تفکر د وګړو انفرادي فعالیت دئ او مجموعي دماغ چیري وجود نه لري، نو ځکه پرمختګ د زیات شمېر وګړو په هغو انتقادي تفکراتو پوري ارتباط لري، چي ډېر ژور او زیات مؤثر وي.

## ایډیالوجي ګاني او طبقات:

ښېخي څرګنده ده، چي د اجتماعي پرمختګ د هر شکل په مخ کي ثابتي او برقراره ګټي مانع واقع کیږي. جتماعي تحول په دې ټکي کي له بیالوجیکي تحوله سره توپیر لري، چي دی خورا ډېر د ټولني په داخلي شرایطو پوري تعلق نیسي؛ یعني د طبقاتو او انساني سلوک په وضعیت پوري مربوط دئ. لاکن بیالوجیکي تحول خو تر ډېره ځایه د توافق د هغه غیرشعوري جریان نتیجه ده، چي د حیواناتو په نړۍ کي سر ته رسیږي. په بیالوجیکي تحول کي د اجتماعي تحول هغه خبري نه سته، چي د واکمني طبقې له ګټو سره باید سمون ولري او هغه شکلونه وساتي، چي د وخته لا بې‌فایدې ثابت سوي وي او ډېره شدیده مبارزه غواړي، چي د دوی د مقاومت پای ته ورسوي او که دا کار و نه سي، نو ټولنه د ړنګېدو سره مخامخ کیږي.

اجتماعي تحول یوازي هغه وخت کیږي، چي درستي طبقې ته د فوري تحول ضرورت ثابت سي او په دې وپوهیږي، چي د اجتماعي تحول امکانات برابر سوي دي. زموږ په زمانه کي دا باور نه سو کولای، چي موجود بډایان او واکمن

کسان دي د خپلو امتیازاتو او حقوقو تر ساتنې هاخوا ته بل شی ووینې او د اجتماعي تملیک ضرورت دي په سر ورسوي. خو د اقتصادي انکشاف په جریاناتو کي زیاتېدونکي موانع، خنډونه او ګډوډۍ په جبري ډول داسي یو ساختمان او شکل ایجابوي، چي د تولید له انکشافي قواوو سره تناسب ولري.
له بله پلوه بیا پر دې برخه خورا ډېر فشار واردیږي، چي په هغه چا باندي چي د ټولني له تملیکي مؤسساتو سره مخالف وي، مجبوره ئې کړي، چي دغه د اجتماعي تملیک حقیقت په ووینې. یو وخت د اټومي بم له ورانیو سره مخامخ کیږي، بل زمان بیا خارجي بازارونه او ګټې له لاسه ور کوي، بل وخت بیا نوی تېری کوونکی؛ المان او یا بل څوک را پورته کیږي او امن، صلح او سعادت ئې په خطر کي اچوي. **نو دغه عوامل به بالآخره دا په ووینې، چي د ژوندي پاته کېدو دپاره څه باید وسي؛ ځکه د ټولني پایښت یوازي په دې توګه تامین کېدلای سي، چي ټولنه سوسیالیستي شکل واخلي. بله لار نه سته؛ یا دغه سوسیالیستي شکل او یا ړنګېده دي!**
ځکه که ټولنه پایېده، نو دغه کار ورته ضروري دئ، خو د دې خبري مفهوم دا نه دئ، چي یو چیري مرموز قدرتونه سته او پر انسانانو باندي داسي کار کوي، لکه دوی چي د لاس ناوکیاني وي او یا دا چي دغه جریان بې له فهم او فکره څخه پېښیږي. خبره بالعکس ده، ځکه د عاقلانه او راسخو لارو ټاکنه او خوښونه د تاریخ هغه آخرنی عامل ګرځي، چي بشر د ترقۍ پر لوري سموي او مخ ته ئې بیایي.
نو ځکه منور افراد د اجتماعي تکامل دپاره دونه لازمي دي، لکه څونه چي پاخه شرایط په کار لري او یا لکه هغه فوري ایجاباتو غوندي، چي غواړي یو تشکیل

ته د هغي وظيفې له جريانه سره توافق ور کړي، چي سم‌دلاسه تغير کوي. په ښکاره ډول د دې خبري معنی دا هم نه ده، چي انسانان کولای سي د خپلو تخيلي خوبو سره مطابق يوې ټولني ته شکل ور کړي، خو دا چي ټولنه د تاريخي وضعيت په لوازمو او شرايطو پوري تعلق لري، کوم جزمي امر (ډيټرمينيزم) نه دئ، ځکه اغېزناک فعاليتونه په عاقلانه او مدبرانه فهم پوري اړه لري او همدغه د آزادۍ حقيقي معنی بلله کيږي.

## د شخصيت بشپړتوب:

هغه فرد چي زيار باسي ټولنه د زاړه اجتماعي نظام له ځنځيرانو څخه خلاصه کړي او هم د ژوند د وسايلو تمليک او اداره د هغې مالکي طبقې له ګوتو څخه وباسي، چي له هره پلوه يوازي په خپلو ګټو پسي ګرځي، نو دوی په يوه وخت کي هم د ځان او هم د نورو انسانانو دپاره داسي کار کوي، چي خورا ډېر ښه کار ګڼل کيږي. سربېره پر دې د دغه فرد حيثيت په دې سره بېخي ډېر زياتيږي، چي د بشري تاريخ په جوړولو کي د يو عامل په شان دنده اجراء کوي. د سوسياليزم دپاره چي څوک کار کوي، نو شعوري فعاليتونه غوښت ځني غواړي او داسي نه دئ لکه د ماشين ګرارۍ، چي بل څوک به ئې څرخوي. لاکن د سرمايه‌داري نظام په اقتصادي دستګاه کي خو وګړي لکه ړانده او بې‌شعوره غوندي موجودات، د جاري جريان په سېل کي رهي وي. د سوسياليزم په نظام کي د فرد شخصيت له منځه نه ځي، بلکي خبره بالعکس ده، ځکه انسان تر هغه وخته بشپړ انسان نه سي ګڼل کېدلای، چي په ټولنه کي خپل داسي موقف و نه نيسي، چي

هلته د هغو عمومي ښېګڼو دپاره خپلي قواوي په کار اچوي، چي دی په خپله هم پوره برخه پکښي لري.

## فرد او تکامل:

د اجتماعي ډاروينيزم له اشتباهاتو څخه يوه هم دا مفکوره وه، چي د فرد انکشاف په دې ډول سر ته رسېدلای سي، چي د خپلو هم‌نوعاتو سره د رقابت په ميدان کي ايله وي او خپلو حريفانو ته ماته ور کړي او له منځه ئې يوسي. دغه خبره د اساس له مخي درسته نه ده.

له عمومي ټولني څخه د ګوښه کېدو په وسيله ترقي په داسي حال کي، چي هم فردي او اجتماعي انانيت دواړه پر ځای وي، يو داسي تصوري خيال دئ، چي نن زمان ئې د ډېرو خلګو زړونه وړي دي. خو په حقيقت کي دغه لار د زوال او ړنګېدو لار ده، ځکه په روحياتي لحاظ دغه راز جريان هغه شديد روحي رنځ ته منجر کيږي، چي پرونيا (Para moia) نوميږي او له دې رنځه سره نو د شان او شوکت او غټ غټ ويلو تخيلاتو او توهمات ملګري وي. کله چي واکمني طبقې ړنګېدو ته ور نژدې کيږي، نو په دغه راز عوارضو خورا ډېر اخته کيږي. هغه روحي عارضه چي د ړنګېدونکي سرمايه‌داري نظام له اثره څخه را پيدا سوې ده، يو ډول د «روحي انحطاط عارضه» (Schizophreni) ده، چي بدګوماني، نفرت، ګوښه‌ګيري او د ورانۍ د راتلو ارزو هم ور سره ملګرې ده.

داسي يو تمدن چي هغه د بربريت ستاينه کوي، ويلای سو چي د تمدن حيثيت ئې له لاسه ور کړی دئ. سرمايه‌داري نظام نو په دې توګه د فرد انکشاف نه را

ولي، بلکي د فرد انحطاط را ولي. دغه نظام د فرد انکشاف له انفرادیت سره ګډ کړی دئ. انفرادیت چي د وګړو منافع له نورو وګړو څخه را جلا کوي، یو قهقرایي حرکت دئ، چي د شخصیت خرابېده را ولي. د دې دپاره چي موږ شخصیت پوره وروزو، دا په ګوښه‌ګیرۍ او انفرادیت کي نه کیږي، بلکي له نورو سره د یووالي په ساحه کي باید موږ مخ ته ولاړ سو. هدف داسي مطلق فردیت نه دئ، چي هغه شخص چي د اجتماعي راکړي ور کړي په جریان کي جوړ سوی وي، په انفرادي لحاظ پوره انکشاف وکړي. د دې دپاره چي څوک پوره د ځان او شخصیت خاوند سي، نو دا کار هغه وخت په کامله توګه سر ته رسیږي، چي ځانځاني او خودپرستي ورکه سي.

## نوي طریقې او نوي انسانان:

که سرمایه‌داري نظام رقابتونه او دښمنۍ را پیدا کوي او د دې جریان په نتیجه کي خپل غړي فاسدوي، نو په دې حال کي دا که ناممکنه نه وي، مشکله خو به ضرور وي، چي د سرمایه‌داري نظام په محیط کي روزل سوي انسانان یو اساسي اجتماعي تحول را ولي.

تر ډېره ځایه د انسان شخصیت ته د ټولني هغه ساختمان شکل ور کوي، چي دی پکښي اوسي. د ټولني په اقتصادي ساختمان کي (چي زموږ په زمانه کي رقابتي نوعیت لري) انسان ارومرو یوه دنده اجراء کوي او د همدې ارتباط په ساحه کي د دغه ساختمان تر شرایطو لاندي په لایتناهي ډول د انفرادیت خوښوونکو ډلو، معیارونو او ارزښتونو اغېزو ته معروض دئ. دا اغېزې د ښوونکو، مطبوعاتو، راډیو او نورو ټولو هغو وسایلو له خوا څخه پر ده واردیږي، چي د هر نسل د ذهنیت په جوړولو کي کار کوي.

دغسي څوک چي د انفرادیت پر روحیه روزل سوي وي، نو څنګه کولای سي چي د رقابتي تلاښ پر ځای د تعاوني عنصر په حیث خپله وظیفه اجراء کړي او هم دا څنګه کېدلای سي، چي دی د ټولني د نجات په اراده، چي په روانه لار کي ارومرو د ړنګېدو پر خوا ور رهي ده، دې خوا ته اقدام وکړي، چي د سوسیالیستي اساساتو پر بنسټ ئې له سره څخه دوباره تنظیم کړي؟
دا پوښتنه دونه مشکله نه ده، چي بېخي حل ناممکن وي. تاسي وګورئ سرمایه‌داري نظام داسي نه وو، چي سرمایه‌داري ټولني وجود ته را وستی، بلکي هغو کسانو را وستی، چي تر سرمایه‌دارۍ په دمخه نظام ئې اړه درلوده او د هغې زمانې په ایډیالوجۍ ډک وه. خو د دوی د اقتصادي انکشاف په دوران کي له داسي وظایفو او پرابلمو سره د دوی فکر مخامخ کېدی، چي د حل ټاکلي جوابونه ئې له دوی څخه غوښته. نو په دې سلسله کي دا لازمه سوه، چي د سرمایه‌داري نظام خوا ته تحولات په سر ورسیږي. عاجل ضرورت دوی واداره کړل، چي نوي نظریات غوره کړي او په نتیجه کي دغسي تحولات منځ ته را سي.
د دغه تحول امکانات څکه برابر سول، چي د اقتصادي انکشاف په وسیله د خلګو اتحادیې، تجارتي انجمنونه او کارګري ډلي منځ ته راغلې، چي په لومړي سر کي ئې لا د نوو طریقو نماینده‌ګي کوله او نوو عاداتو ته ئې وده ور کوله. دغو جریانونو دې لوري ته هدایت کاوه، چي ټولنه یو مخیزه له سره نوې تنظیم سي او په هغې کي د اتحادیو او کار نوي ډولونه او هم نوي نظریات یو عمومي شکل واخلي.

نوی نظام چي جوړ سو، نو سم‌دستي ئې هغه قواوي په کار واچولې، چي نوی بشريت ئې جوړ کړی. په دې لړ کي نو سرمايه‌دارانه او انفراديت خوښوونکي ايډيالوجي‌گاني موجودي سوې، اجتماعي ډاروينيستان منځ ته راغلل، د سپنسر د نظريې په اساس د تکاملي اصالت طرفداران را پيدا سول، د بمتيم (Bemtham) د نفعي فلسفي عقيدتمندان را وپاڅېدل او هم داسي نور بېل بېل مسلکونه او مکتبونه په وجود راغلل، چي گرده د يوې غوښتونکي ټولني د ذهنيت، ارزښتونو او ډلو په جوړولو لگيا ول او په همدې کار کي ئې برياليتوب په برخه سو.

را سئ چي اوس پر خپله ټولنه کتنه وکړو. دلته جاري او عيني شرايط په زياتېدونکي ډول پر موږ باندي د دې ضرورت فشار واردوي، چي بايد د خپلو مسايلو د حل دپاره هغه تدابير او چاري غوره کړو، چي سوسياليستي نوعيت ولري. د انحصاراتي ځانگو انکشاف په لوړ ږغ دې کار ته بلنه کوي، چي بايد لوی موسسات تر اجتماعي تمليک لاندي را سي، لکه لينن چي ويلي دي: «د سرمايه‌داري نظام له هري کړکۍ څخه سوسياليزم موږ ته سر را ايستلی دئ!». نو کوم وخت چي موږ تحول کوو، دا زموږ د فکري عواملو په سبب نه دئ، که څه هم دغه فکري عوامل خو ډېره مهمه برخه پکښې ادا کوي. فکري عوامل ضروري دي، لاکن کافي نه دي. يوازي اجتماعي او اقتصادي ضرورت، چي د انسان فکر ئې درک کوي، هغه اساسي او کافي عامل دئ، چي د اجتماعي تحول سبب کيږي، ځکه په دغسي حال کي که تحول را نه سي، نو وراني او بربادي منځ ته را ځي.

زموږ په سرمایه‌داري ټولنه کي هم اوس داسي جريانونه سته، چي د نوي نظام زیری ور کوي. مترقي ټولني، ایډیالوجیکي ډلي، هغه پوهان چي آینده ګوري، ډاکټران او ښوونکي، د اجتماعیاتو پوهان او د اجتماعي اصلاحاتو غوښتونکي، چي دوی سرمایه‌داري نظام را پیدا کړي دي، خو بیا هم دوی ټوله د سرمایه‌داري نظام سره تضاد لري، بد پر وایي، انتقادونه پر کوي او غواړي له منځه ئې یوسي. د دغو جریانو په جمله کي کارګري اتحادیې، سوسیالیستي او کمونیستي ګوندونه او نور اختصاصي جمعیتونه ټوله په هغو خنډونو پوره پوهیږي، چي سرمایه‌داري نظام په وجود را وستلي دي او هم د سرمایه‌داري نظام له فسادونو او آینده امیدونو څخه پوره باخبره دي.

په هر حال؛ اساسي ټکی د تحول ضرورت دئ او د تحول په لار کي مؤثره وسیله یوازي هغه اجتماعي طبقات کېدلای سي، چي هغه د چاري اوضاعو له خطرو او د راتلونکو امکاناتو له امیدواریو څخه باخبره وي، نو ځکه لومړی باید د تحول قطعي سبب موجود وي او ور پسې دا غواړي، چي تیاری نیول سوی وي، متشکلي ډلي موجودي وي، لارښوونه او قیادت په سمه توګه اجراء کیږي او د اصولي فکر په رڼا کي دا سنجول کیږي، چي څه باید وسي، څه به وسي، څه تر مخ سوي دي او څه په نن نړۍ کي روان دي.

کله چي دغه کارونه په سر ورسیږي، نو به نوي ساختمانونه وجود ته را سي، د قوانینو نوی نظام، نوي اخلاقي معیارونه او یوه نوې ایډیالوجي به نو دې جریان ته حرکت ور کړي، چي په ثابت ډول ورو ورو د انسان ذهنیت له سره څخه په نوي شکل تیار کړي. مارکس ویلي دي: «د بشري طبیعت او ماهیت دایمي تحول ته تاریخ ویل کیږي.» او تاریخ په همدې شان جریان درلودلی دئ؛ ځکه کله

چي د هغو مسايلو د حل دپاره، چي ټولنه ور سره مخامخ کیږي، د توليدي قواوو په وسيله مادي شرايط را پيدا سي او هم کله چي پوره ايډيالوجيکي او تشکيلاتي تياری ونيول سي، نو په دې وخت کي ټولنه د اجتماعي انقلاب دپاره آماده کیږي.

«بشر هر کله د ځان دپاره داسي وظايف ټاکي، چي د حل تر عهده ئې وتلای سي، ځکه که دا موضوع په غور وکتل سي، نو ليدل کیږي، چي دغه راز وظايف هغه وخت منځ ته را ځي، چي د دوی د حل دپاره مادي شرايط وختي لا را پيدا سوي وي او يا لا اقل د تنظيم او سربښته کېدو تر جريان لاندي وي.[٤٩]»

اجتماعي تحول نن د تاريخ په اجنډه کي لومړی مسئله ده. دا تحول په خپله په بشري طبيعت او ماهيت کي بدلون را ولي او د داسي امکاناتو او وظايفو لار خلاصوي، چي په خپله هم مخ پر لوړه حرکت کوي او له يوه حاله بل ته اوړي. دا خبره خورا ډېره اورېدل کیږي، چي خلګ ئې وايي: کشکي په دې پوهېدلای، چي زما ژوند يو هدف او مقصد لري! په نن وخت کي دا کېدلای سي، چي د سړي ژوند هدف او مقصد ولري، ځکه که څوک د سوسياليزم مرام خپل هدف وټاکي، نو دغه کار د هغه په شخصيت کي ډېر خلاق قدرتونه په وجود را ولي. برنارد شاو (Bernard Shaw) ډېر ښه وايي: «په ژوند کي حقيقي خوشالي دا ده، چي سړی د هغه هدف دپاره کار کوي، چي يو غښتلی هدف ئې بولي او په دې لار کي خپل انتهايي زيار وکاږي او د دې پر ځای چي د ناجوړيو او فريادونو يوه تبجنه او په ځان اخته اشا وي او کړی ورځ دا شکايت کوي، چي

[٤٩] د مارکس له هغه کتاب څخه، چي «د سياسي اقتصاد تنقيد» نوميږي.

دنیا د چا د خوښۍ دپاره هیڅ کار نه کوي، ښه دا دئ، چي انسان د طبیعت د یوې غښتلي قوې په حیث واوسي!»

# پای!